بسم الله الرحمن الرحيم

# افغانستان اونږۍ د بنسټپالنې په تورجال کې

ليکوال : محمد ابراهيم نعيمي

**Download from:aghalibrary.cm**

Download from:aghalibrary.cm

# لړلیک


ډالۍ ................................................ 14
تقریظ ................................................ 14
د بنسټ پالنې د کتاب په هکله د افغان ستاینه ........ 17
د ښاغلي عبدالقیوم معلم لنډه تبصره: ............ 18
د لیکوال سریزه: ........................................ 20
لومړی څپرکی ........................................ 23
د بنسټپالی په تړاو عمومي معلومات ............ 23
په نوی عصر کې د اسلامي بنسټپالي تاریخچه ........ 26
په مصر کې د الازهر مشهور پوهنتون: ............ 28
دوهم څپرکی ........................................ 29
د اسلامپالو ګوندونو د زیږیدو اصلي علتونه ........ 29
د برژنسکي سره د مرکې مهم ټکي: ............ 36
په افغانستان کې د مدرسو تاریخچه ............ 39
د امام ابو حنیفه (رح) مدرسه ............ 40
د مدرسو جوړولو لړی ............ 40
د افغانستان رسمی دارالحفاظ : ............ 42
په افغانستان کې مشهور دارالحفاظ: ............ 42
د دیوبند مدرسې په تړاو اضافي معلومات ............ 44
تر جهاد نه مخکې د اخوان المسلمین د ګوند د مهمو غړو بیوګرافي ... 46
غلام محمد نیازی: ............ 46
په افغانستان کې د اخوان المسلمین ګوند تاسیس: ............ 46
مسلمان ځوانان (جوانان مسلمان) ............ 48
د جهاد په وخت کې داسلامي ګوندونواو مشرانو په تړاو لنډ معلومات . 50
۸ ـ په ایران کې د اسلامی ګوندونو کړي ............ 52

Download from:aghalibrary.cm

حزب ارشاد ملی.......................................................53
حرکت اسلامی افغانستان.............................................54
حزب الاحرار ...............................................................54
د امام زمان نوې بنسټپاله ډله ...........................................56
دریم څپرکی .....................................................................58
د کابل خلقي حکومت او مجاهدين .....................................58
جهاد:................................................................................58
ایا د افغانستان د استقلال او شوروپانو د شړلو لپاره اړتیا وه چې جهادي مشران د بهرنیو خارګرو ادارو په لمن کې وروزل شي؟......65
د افغان جګړې لپاره په تخميني توګه لګښت: ............................68
څلرم څپرکی ....................................................................72
په افغانستان کې د مجاهدينو او طالبانو واکمني.........................72
۱ ـ د مجاهدينو واکمني ........................................................72
د مجاهدينو د واکدارۍ د دوران جنايتونه (۱۹۹۲ ـ ۱۹۹۶) زکلونه......73
پنځم څپرکی ....................................................................83
د سیاسي او عنعنوي اسلام تر مينځ توپير ................................83
عنعنوي اسلام.....................................................................83
سياسي اسلام ....................................................................85
د هند په نیمه وچه کې مولانا مودودي د سیاسي اسلام بنسټ اېښودونکي ....................................................................86
کابل ته د احمدشاه مسعود راتلل: ........................................93
د پيغلې ناهيد شهادت: .........................................................97
پر افشارو باندې برید ..........................................................102
د احمدشاه مسعود اړيکې د شورويانو سره ................................103
ارزونه ..............................................................................105
د جهاديانو او داعش توپير.....................................................106

Download from:aghalibrary.cm

شپږم څپرکی............................................................ 111
په نړۍ کې د مهمو بنسټپالو اسلامي ګوندونه لنډه پیژندنه ....... 111
د نړۍ مهمې اسلامي بنسټپالې ترهګریزې ډلې.................. 112
اسلامي دولت یا داعش......................................... 112
د داعش د جنایتونو یوه دردونکي بیلګه: ......................... 114
د هغه نجلۍ کیسه چې د ملل متحد سازمان یې وژړاو: ....... 114
حزب التحریر ....................................................... 123
د حزب التحرید د فعالیتونو پراخوالي ............................. 123
حزب التحریر په افغانستان کې ................................... 123
د جندالله ډله: ........................................................ 127
په برما (میانمار) کې د مسلمانانو په وړاندې تاو تریخوالی ......... 129
د هغو عمده وسلوالو ډلو لیست چې د افغان حکومت سره جګړه کوي
...................................................................... 130
د امریکا کرایي قاتلان ............................................. 133
د تامیل پړانګان.................................................. 138
(د خلکو نوی پوځ) ارتش نوین خلق.............................. 138
د داعش د نړیوالو ملاتړو لست افشاء شو ........................ 139
اووم څپرکی....................................................... 143
طالبان.............................................................. 143
۱ ـ دیني عالمان..................................................... 143
حضرتان، دیوبند، قادریه او نقشبندیه طریقې:....................... 145
شیخان او پیران:..................................................... 147
ولې طالبان را مینځته شوه؟ ......................................... 150
د پاکستان او طالبانو اړیکې:........................................ 153
د سراج الدین حقاني اړیکې د پاکستان سره:....................... 161
حقانیانو انس تر پاکستان جار کړ .................................. 161

Download from:aghalibrary.cm

د طالبانو او داعش اړیکې:.................................................. 164
طالبان او عصري زده کړې:................................................. 165
۱ ـ د ډاکټر نجیب الله اعدامول .............................................. 166
۲ ـ د ملا عمر وفات: ........................................................... 167
۳ ـ د بودا د مجسمې نړول: .................................................. 167
لیلې دښته د زرګونو ځوانانو هدیره ........................................ 176
اتم څپرکی ....................................................................... 187
د طالبانو د خولې څخه د جهادیانو جنایتونه.............................. 187
د جنایتونو څو بیلګې:...................................................... 187
د خلکو له خولې څو خاطرې: ............................................. 187
په جهاد کې د مشهورو دیني عالمانو رول ................................. 189
پر افغانستان د امریکا د برید عوامل ....................................... 190
ـ حامد کرزي او طالبان د سپټمبر تر پیښې مخکې...................... 191
ـ د اسامه بن لادن اړیکې د سیاف، برهان الدین رباني او طالبانو سره
.................................................................................... 193
نهم څپرکی ...................................................................... 196
د امریکا یرغل او د طالبانو سقوط ......................................... 196
ولې په افغانستان کې طالبان یو ځل بیا غښتلي شول؟........... 199
په اروپا کې پر ځوانانو د بنسټپالي اغیزې.................................. 204
لسم څپرکی ..................................................................... 208
د ځینو دوستانو سپارښتنې او نظریات.................................... 208
۱ ـ د ښاغلي مجید راغستاني ګټورې تبصرې.......................... 208
۲ ـ د بنسټ پالني دکتاب په هکله د افغان نظریې او سپارښتنې: 222
یولسم څپرکی.................................................................. 239
د کتاب وروستۍ ارزونه...................................................... 239
د اسلامپاله تندروه ډلو د پیاوړي کیدلو علتونه....................... 247

Download from:aghalibrary.cm


حقانی









د کتاب نوم: افغانستان او نړۍ د بنسټپالنې په تور جال کې
لیکوال: محمد ابراهیم نعیمي
د چاپ ځاي او نیټه: ډنمارک مارچ ۲۰۱۸ زکال
ډیزاین او کمپیوټري چارې: بسم الله اغاېګل

**غواړم کتاب په لاندې شعر پیل کړم:**

مونږ په کعبه کی درته کړی دی قران وطنه
څو چی ژوندی یو ته به یي همدسي وران وطنه
مونږ په کعبه کي قسم کړی چی وحدت نه منو
حق او ناحق هر څه چه وی نو بل حکو مت نه منو
مونږ مستحق یو موږ وژلي ډیر کسان وطنه
څو چی ژوندی یو ته به یي همدسی وران وطنه
مونږ پاکستان کی سره ګډه دا وعده کړی ده
د ورانولو مو ستا ټینګه ایراده کړي ده
درنه به جوړه کړو صوبه د پاکستان وطنه
څو چی ژوندی یو ته به یي همدسی وران وطنه
مونږ د جهاد په نوم وژلي مسلمان بچي ستا
اوس خو مونږ یو قهرمانان او اتلان بچي ستا
کله به پریږدو ستا چوکی ته بل انسان وطنه
څو چی ژوندی یو ته به یي همدسی وران وطنه
مونږ د چوکۍلپاره غټه قرباني ورکړی

چور چپاول ته مو دا ټوله زندګي ورکړی
له تا نه زيات دې په مونږ ګران امريکايان وطنه
ځو چی ژوندی يو ته به يي همدسی وران وطنه
مونږ پسي هسي دا خبری دی رښتيا ښکاريږی
مشاله سمه لاره مونږ ته اوس خطا ښکاريږی
مونږ په ډالرو چی بايللي خپل ايمان وطنه
ځو چی ژوندی يو ته به يي همدسی وران وطنه

## ډالۍ

دا کتاب زما زړه ته را نژدې د اوږدې مبارزې د لارې ملګري د ګلانو په څیر نرم مزاجه شاعر او د غره په څیر کلک او د ټینګ ایمان خاوند چې هر وخت یې د ظلم او بې عدالتي پر ضد چیغه کړې وه، ارواښاد شاه محمود حصین چې د ټینګ او ځلانده قلم خاوند و، ډالۍ کوم. ارواښاد شاه محمود حصین د (۱۳ /۲۰۱۷/۱۰ زکال) د جرمني په یو روغتون کې د اوږدې مودې ناروغۍ څخه وروسته زموږ څخه جلا او فاني نړۍ ته یې مخه ښه وکړه. موږ ته یې ډیرې په زړه پورې کتابونه او لیکنې په میراث پریښودلي چې هر وخت به زموږ د مبارزې لاره روښانه او ځلانده وساتي. ارواښاد شاه محمود حصین زموږ په زړونو کې د یو کلک مبارز په څیر ژوندي دي. فردوس جنت دې ځای او روح دې همیشه ښاد وي. انا لله و انا الیه راجعون

## تقریظ

د ښاغلي انجینر محمد ابراهیم نعیمي نوی کتاب چې« افغانستان اونړۍ د بنسټپالنې په تورجال کې» نومیږي تر ما راورسید .ښاغلي نعیمي غوښتنه کړی وه چې خپل نظر پر ولیکم .

کتاب نژدې په۲۵۰ مخونو کې لیکل سویدې. سربیره پر دې چې کتاب د حجم په لحاظ د موضوع په پرتله وړوکی ښکاري خو لیکوال هڅه کړیده چې د بنسټپالني او اخوانیزم ریښې او تاریخچه په نړۍ کې راوسپړي، د یادې ایډیالوژۍ لاملونه، مرکزونه ، موخې او ملاتړي سازمانونه په ګوته کړي . لیکوال همدا راز د یادې مفکورې تاریخچه او شالید زموږ په ګران افغانستان کې مطالعه کړي ، او تر ټولو مهمه دا چې لیکوال خپله تقریباً څه کم ۵۰ کلونو راهیسي د اسلامي بنسټپالو او اخوانیانو د کړو وړو شاهد دی . د کتاب منځپانګه په زړه پوري ده او ویل یې لوستونکو ته ډیر څه ورکولای سي هغه څه چې زما اخیستنه له یاد اثر نه وه په لاندي ډول یې وړاندي کوم :

- ایا دا ربښتیا د یو شمیر اسلامي علماوو مفکوره وه که یې مخترعین غیر مسلمان استخباراتي سازمانونه وو؟

- بنسټپالي او اخوانیزم هدف که وسیله وه؟

- په افغانستان کې د جګړې د پیل سره دا بنسټپالي د چا په ګټه او د چا په زیان د کومو موخو لپاره استعمال سوه؟

- او بیا تر اوسه له یادې پدیدې نه څوک ډېره ګټه اخلي او څوک یې د اور په لمبو کي سوځي؟

پورته اساسي پوښتنو ته په یاد کتاب کي مستند جوابونه ویل سویدي .

که په لنډه توګه ووایم د کتاب لیکوال دا ثابتوي چي دا د بهرنیو سوپر طاقتونو د استخباراتو خصوصآ د امریکا د متخصصینو ابتکار او طرح وه چه په لومړي ځل اسلام د شوروي د سیوسیالیزم پر ضد وکاروي، او په را وروسته کي د خپلو موخو لپاره تل د خپلو سیاسي، اقتصادي او پوځي غلیمانو پر ضد استعمال کړي .

اکثراً د ترهګرو او بنسټپالو سازمانونو جوړول کله، کله خپل ایجادونکی یا بادار ته خطر وي د هغه څه چي امریکایان او انګریزان ویره نه لري او په ډیرو منطقي دلایلو دا خطر ردوي توجه وکړئ د یادې مفکورې یو اساسي مبتکر جوابونو ته :

د برژنسکي سره د مرکې مهم ټکي :

پوښتنه :د اسلامي بنسټپالو د ملاتړ څخه هم پښیمانه نه یاست. تاسو د ترهګرو په واک کې معلومات او وسله ورکړه؟

برژنسکي: د نړۍ د تاریخ له پاره کوم څه ډېر ارزښت لري؟ طالبان او که د شوروي د امپراطوري سقوط؟ ځیني مسلمانان تحریک شول خو د اروپا ازادۍ او د سړې جګړې پای .

پوښتنه: ځیني مسلمانان تحریک شوی دي؟ خو په تکرار ویل کیږي چې اسلامي بنسټپالي د نړۍ له پاره ګواښ دي؟

برژنسکي: یوه پوچه خبره! ویل کیږي چې لویدیز د اسلام په وړاندې نړیوال سیاست درلودي. دا احمقانه ده. هیڅ سرتاسري اسلام شتون نه لري. اسلام ته باید په منطقي توګه وکتل شي پرته د خطا ایستنې او احساساتو څخه. اسلام د نړۍ لوی دین دی چې یو نیم میلیارد پیروان لري. د اسلامي هیوادونو لکه د سعودي عربستان بنسټپالي، منځلاري مراکش، پوځ غوښتونکي پاکستان، مصر، لویدیز ته متمایل او یا منځنی اسیا، سیکولاریستان شتون لري. بل هیڅ نشته پرته له دي چې د لویدیزو هیوادونو تر مینځ د وروري مزي ټینګ کړي.»

په یوه جمله کې هغوی پوهیږي چي یو سراسري اسلامي مفکوره نسته هر هیواد او ډله خپل تعبیر له اسلامه لري او دا غربي نړۍ ته د زیان پر ځای ډیرې ګټې لري .

زه نه غواړم د کتاب پر منځپانګه ډیر وږغیږم لوستونکي به د کتاب په لوستلو خپله قضاوت وکړي .

عبدالمجید راغستاني ډنمارک ـ د اغوس ښار جنوري ۲۰۱۸ زکال

## د بنسټ پالنې د کتاب په هکله د افغان ستاینه

پوهیزو چې هره ټولنه د خپل بقا او پرمختګ د پاره و پوهانو، ادیبانو، لیکوالانو او نورو فرهنګ پالو، د علم او پوهې خاوندانو ته ضرورت لري، ترڅنګ یې ځیریکو سیاست والو او وطن دوسته رهبرانو ته هم اړتیا لري، چې د خپلوخلکو په بیداری او فکري ودې کې فعاله ونډه واخلي. که د اروپا د رنسانس دورې او د اروپا و پرمختګ ته وګورو نو اصلي محریکین یې پورته ذکرسوي کسان دي. محمدابراهیم(نعیمي) هم په افغاني ټولنه کې د یادو پوهانو او لیکوالانو څخه دی.

محمد ابراهیم(نعیمي صاحب!) پرقلم دي برکت سه، چې د بنسټ پالنې په اړه دي قیمتي اثرلیکلی دی. دغه کتاب ما افغان ولوست په زړه پوري مطالب پکښې دي، خوند یې راکړ، نو ځان مي مجبور وباله چې پرمحتویاتو یې خپل نظرښکاره کړم. ځکه پرواقعیتونو بنا معتبراسناد دي د مختلفو باوری سرچینوڅخه راټول کړي دي په ښه مهارت دې یو په بل پسي پیودلي دي، یو خوندور زرین رنګه لاړ دي ځني جوړکړی دی. چې په پښتو ژبه تر اوسه پوري دې ته ورته بل داسې په زړه پوري اثر زما ترسترګو سوی نه دی. په پښتني ژبه شاباس درته وایم، چې د پښتو ژبې په اثارو کې دې د ځنځیر یو بله تاریخي کړۍ ور زیاته کړه. زه یقین لرم چې زموږ د سپیڅلو پښتنو او نورو ناخبره افغانانو د ذهني پراختیا د پاره به مؤثر تمام سي. په خاص ډول د ځوانې طبقې په تیره بیا د نوي نسل د پاره ګټورکتاب دی. پدي کتاب کي ډیر پیچلي سیاسي او استخباراتي معلومات راغونډ سوی دي. په پوره ډاډ سره ویلای سم چي د بنسټپالنې کتاب تاریخي ارزښت لري او په راتلونکي وخت کي و افغان ولس ته تاریخي خدمت کولای سي. ځکه ډیرې پُټې توطیې او دسیسې پکښې رسوا سوي دي. د ډیرو مجاهدنما کسانو د څیرو څخه نقاب اخیست سوی دی. ډیر ریاکاره مسلمانان یي هم رسوا کړي دي. یو تعداد کسانو چي د وطن او خلکو پرسر یي د پردو سره معامله کړي ده، په ګوته سوي دي. د زیاتو پردي مزدورانو د مخونو څخه ماسک ایسته سوی دی. د خورا مهمو پُټو رازونو څخه پرده پورته سوي ده. هغه هیوادونه دا که اسلامي وو او که غیراسلامي وو چي د افغانستان د دوستانو په نوم یي تظاهر کاوه، پیژندل سوي دي. باورلرم چي د بنسټ پالنې اثر به د ځوانانو د سیاسي شعورد ودې سره پوره مرسته وکړي. نه دا چې یوازي به د ځوانانو د سیاسي شعور په وده کې ګټور تمام سي، د نورو ډیرو پر وطن مینو او صادقو کسانو سره به هم مرسته وکړي چې تراوسه پوري بنسټ پالو او سیاسي معامله ګرو په قومي، سمتي، ژبنې، دیني، مذهبي او نورو ډول ډول نومونو

تیرایستلي وه او د خپلو شخصي ګټو د پاره يي په خپل صف کې درولي وه. چې پدي ډول ډيرى يي د هغوى د ناوړو هيلو قرباني هم سوه. موږ وليدل چي د شوروي يرغلګري قواوي د افغانانو د مټو اوسربښندنو په زور وشړل سوي، ور پسي د نجيب کمونست پلوه حکومت هم سقوط وکړ، جهاد ختم سو خو بنسټپالو د بهرني استعماري کړيو او د هغوى د استخباراتي ځانګو سره په تفاهم کي جګړو ته تر پخوا نورهم شدت ورکى.

موږ وينو چي دغو بنسټ پالو او سياسي سوداګرو د خپلو شهيدانو پرسرهرکله، هرچيري ، د هر چا سره او په هرځاى کې معامله وکړه. حتى وينو چي د شهيدانو وينې به لا وچي سوي نه وي چي ځينو تش په نوم رهبرانو د روسانو سره، ځينو د امريکايانوسره يا د سيمي د دښمنو هيوادونو سره معاملې وکړې. په هرصورت پدې کتاب کي پردغو مسايلو پراخ بحث سوى دي. که چيري د بنسټ پالنې اثرپه غور سره ولوستل سي نو لوستونکي ته به ځرګنده سي چي د بنسټ پالنې مقصد څه شی دى؟ تمدن که شا تګ، مدنيت که انسان وژنه، فرهنګ او د علم زده کړه که بربريت، ښوونه او روزنه که مطلق جهالت. په لنډو ټکو کي به وواېو چي دا هرڅه پدي قيمتي اثرکي بيان سوي دي ، چي بنسټ پال څه غواړي. په درنښت افغان ۲۰۱۸/۲/۷ زکال

**د ښاغلي عبدالقيوم معلم لنډه تبصره:**

دسلام په ويلو سره

ستاسي د کار او فعاليت ستاينه کوم په ربنتيا چي ډېر کار دي کړى دئ، د راتلونکي نسل د پوهاوي او خبرتيا لپاره دي مرسته کړېده، پر واقعيتو ولاړه ليکنه ده، خوښه مي سول، څو ځايه چي مي په رسره رنګ نښاني کړي دي و يې ګوره که دي خوښه سول ښه او که نه ليري يې کړه، مګر د حاجي بشر د پلار نوم حاجي رحمت الله وو، هغه يو له مخکنيو مشهورو قاچقبرانو څخه وو، ما له نژدې ليدلى وو. برياليتوب دي غواړم. په درنښت

عبدالقيوم معلم ۲۰۱۸/۲/۶ زکال

## د ليکوال سريزه:

د دغه کتاب د ليکلو هوډ مې ځکه وکړي چې په ګران هيواد افغانستان کې د تيرو ځلويښتو کلونو د غميزو يو اساسي عامل را په ګوته کړم. شک نشته چې د هيواد په ورانۍ کې به نور کورني او بهرني عوامل هم ډير وي، خو ډير مهم فکتور چې هيواد يې په اوږده جګړه کې ښکيل کړي دي او لا پای يې نه ښکاري، د همدغو تندروو، بنسټپالو او افراطي ايډيالوژيکانو ورادول وو، چې په شپيتمو لمريز ليږديز کلونو کې د پخوانيو وړو حلقو تر څنګ يې مخکښان يې غلام محمد نيازي، برهان الدين رباني او عبدالرب رسول سياف وو. وروسته ګلبدين حکمتيار او احمدشاه مسعود هم په لوړه کچه د پورته مشرانو سره يو ځای په ډيرو ځارګريزو لوبو کې د هيواد د ورانۍ لپاره پراخ ګډون درلودي.

دوهمه موخه مې دا وه چې زموږ نوي او راتلونکي نسل وپوهيږي چې د کابل او ولايتونو پر غونډيو د اتلانو قبرونه نه دي جوړ شوي بلکې د هيواد د لومړۍ درجه ورانونکو قبرونه جوړ شوي دي. دا هم بايد په ياد وساتل شي چې په دفترونو کې ځوړند شوي انځورونه د هيواد د اتلانو او واقعي شهيدانو نه دې دا يوازې د ولس د تير ايستلو لپاره چې په راتلونکې کې لکه د اوس په شان کورنۍ او ملاتړي سياسي تجارت ور باندې وکړي، ځوړند دي. د هيواد د ازادۍ د لارې د واقعي شهيدانو قبرونه نشته، کورنۍ او اولادونه يې ګدايي کوي، بلډنګونه نه لري، د يوې ګولۍ ډوډۍ لپاره د جهادي مافياء په بلډيګونو کې واړه ماشومان او کونډياني د خدمتګارانو په توګه د کار پيدا کول هم ځانونه ته معجزه ګڼي.

دريمه موخه مې دا وه چې د هيواد د تاريخ رښتينی انځور په پښتو ژبه هم د کتابتونونو د نورو علمي اثارو په څنګ کې شتون ولري. تر څو چې ژوندي يم په خپله مورنۍ خوږه ژبه پښتو به د خپل توان په کچه پر حقيقت ولاړې ليکنې وکړم. هيله ده چې دغه ارمان مې د سترګو تر پټولو پورې تر يوې کچې پوره شي.

بايد ووايم چې د کتاب د ليکلو څخه مې د اسلام مبارک دين ته چې په نړۍ کې وروستی بشپړ دين دي، په سپک نظر کتل موخه نه ده، يوازې غواړم چې د هغو کسانو څيرې بربنډې کړم چې د اسلام د مقدس دين په نامه د پرديو ځارګرو ادارو په چوپړ کې اسلام ته نه جبران کيدونکي نقصان رسوي. کتاب ډيرې پاڼې نه لري علت يې دا دي چې کتاب په لنډه توګه په افغانستان او په نړۍ کې د تندروو ډلو د نومونو او کړونو بيان په لنډ ډول کوي البته دا معلومات کيدای شي بشپړ نه وي خو ما هڅه کړي چې د خپل توان په کچه معلومات د لوستونکو په واک کې ور کړم. که د جهادي مافياء ټول جنايتونه را وسپړم ډيرې څيړنې ته اړتيا شته او د يو کتاب په

لیکلو د دوي ټول جنایتونه بیانول نه یوازې ستونزمنه چاره ده بلکې ممکن هم نه ښکاري.

د کتاب د لوستلو په وخت کې (ل: او معلومات) زما لیکوال له خوا دي. د کتابونو څخه اخیستنې په اعدادو باندې لیکل شوي د بیلګې په توګه (۱ـ توفان در افغانستان، جلد اول...) چې د کتاب په لاندنۍ برخه کې د لیکوال د کتاب په باب معلومات تر همدغې شمیرنې لاندې لیکل شوی دي.

ما خپل کتاب خپلو ښوو دوستانو ته ولیږي چې خپل سریزه یا تنقیظ ور باندې ولیکي او هم د خپلو تجربو څخه په ګټه اخیستنه معلومات ور باندې اضافه کړي.

۱ ـ ښاغلي عبدالمجید چې په پوځ کې اوږده موده خدمت کړي او د بهر څخه لوړې پوځي زده کړې لري. د هیواد په کړکیچنو حالاتو کې فعاله ونډه درلوده او ټولنیزې اړیکې ډیرې پراخې دي نو ځکه نظریات یې په بشپړه توګه د باور وړ دي. برسیره پر تنقیظ یې نظریات، تجربې او معلوماتونه د کتاب په لسم ځبرکۍ کې راغلي دې، چې لوستونکو ته د لومړي لاس معلومات په واک کې ورکوي.

۲ ـ زما ډیر نژدې دوست، لیکوال او تر ټولو مهمه دا ده چې په ټولو جګړو او کړکیچنو حالاتو کې د یو کارپوه اولیکوال په صفت په ښار او کلي کې د خپلو خلګو تر څنګ و، خپل سریزه لیکلي ده. البته تجربې او نظریات یې په لسم څپرکۍ کې راغلي دي. زما د دغه دوست د امنیتي ستونزو په خاطر د اصلي نوم د لیکلو څخه یې ډه ډه شوي. د دوست د غوښتنې له مخې نوم یې افغان ټاکل شوی دي.

۳ ـ عبدالقیوم معلم چې د ژوند ډیره برخه یې په ستونزو او زندانونو کې تیره کړي ده، لیکوال او د تجربو یو سمندر دي، کتاب یې لوستې ځینې سپارښتنې کړي خو په لنده توګه یې نظر په سریزه کې لوستلای شي. ما په کتاب کې د ښاغلي عبدالقیوم معلم ځینې نظریات لیکلي دي.

ما کوښښ کړي چې د نوموړو دوستانو سپارښتنې په نظر کې ونیسم، تر ډیرې کچې مې د دوي د سپارښتونو پر بنسټ په ښه شوي ځایونه اصلاح کړي دي.

په پای کې باید ووایم چې زما دوستانو برسیره پر سریزو خپل د سترګو لیدلي حال او پیښې په لسم څپرکۍ کې لیکلي چې په حقیقت کې زما د کتاب منځپانګه ډیره بډایه کړي ده. دوستانو ته اوږ عمر او بریالیتوبونه غواړم چې نور هم د هیواد او ولس په چوپړ کې خپلې هڅې و نه سپموي.

تر نورو خبرو تیریږم تاسو د کتاب لوستلو ته رابولم. د ټولو هغو دوستانو څخه چې جوړونکي نظریات، وړاندیزونه او نیوکې لري، ماته په ایمیل کې را ولیږي.

د ایمیل پته: e.b53@hotmail.om

د بریښنایي ویبپاڼې پته: www.nahimi.dk

پای

## لومړی څپرکی

**د بنسټپالی په تړاو عمومي معلومات**
بنیادگرایي، بنسټپالي، افراط او یا اکستریمیزم هغه پدیده ده چې د ژوند په مختلفو چارو کې تر سترگو کیږي. د ژوند او ټولنې سمون هغه وخت راځي چې د افراط او تفریط څخه مخنیوي وشي او منځني لار ونیول شي. افراط د ډوډۍ په خوړولو، مینه، سپورت، درس ویلو لنډه دا چې د ژوند په مختلفو اړخونو کې تر سترگو کیږي. زیاتره وختونه ایډیالوژیکي بنسټپالنه ډیره خطرناکه وي ځکه په ایډیالوژیکي افراط کې د نورو ولسونو عقاید، نظریات او غوښتنې مرتدد گڼل کیږي یوازې هغه ایډیالوژي چې ټاکلي گروپ وگړي ورته عقیده لري، بریالي او ښه گڼل کیږي. بیلگې یې په امریکایي کپیټالیزم (ډیموکراسۍ) او پخوانې شوروي اتحاد (کمونیزم) کې یادولای شو. که نړۍ ته نظر واچوو، د دواړو سیستمونو څخه د ولسونو د بسیا او ارام ژوند لپاره گټه اخیستل شوي نه ده، بلکې په لویه پیمانه د پراخ غوښتنې سیاست د بریالیتوب لپاره کارول شوي دي.

دا چې بنسټپاله مفکورې د ژوند په مختلفو اړخونو کې لیدل کیږي خو تاریخ دا هم ثابته کړې چې تر ټولو خطرناکه بنسټپاله عقاید (مذهبي بنسټپالي) ده چې انسانانو د خپلو شخصي گټو لپاره کارولي او دا لوبه اوس هم په مختلفو مذاهبو کې جریان لري.

بیلگې یې د امریکا د پخواني ولسمشر بوش سختدریځه عیسوي مذهبه تمایلات وو چې د اسلام پر ضد یې د جگړې اعلان وکړې او په میلیونونو مسلمانان همدا شیبه د امریکایي جگړو د اور په لمبو کې سوځي. بله بیلگه یې یهودي بنسټپالی ده چې اسراییل خپل مذهب او ځانونه تر ټولو نورو انسانانو غوره او مقدس گڼي. د یهود بنسټپال عقاید په نړۍ او په ځانگړې توگه په فلسطین کې د زرگونو مظلومو انسانانو د وژلو او ژوبل کیدلو سبب شوي دي.

په چاپان، امریکا او نورو هیوادونو کې ځینې مذهبي وړې ډلې رامینځته شوی چې خلک یې د قیامت د ورځې په هیله ډله ایزې ځان وژنې ته وهڅول. همدا اوس په

اروپاه کې د عیسویت څخه یوه بیله شوې ډله د (یهوس ویدنه) [1] په نوم کور په کور ګرځي چې خلک دغه نوي مذهب ته را وبولي. دا ډله ډیرې بنسټپالی عقیدې لري، د بیلګې په ډول که د کومې ناروغۍ په وجه مړ هم شي د خپل مذهب د عقایدو له مخې باید د بل چا وینه وانخلي.

په وروستیو کلونو کې د مختلفو دلایلو له مخې اسلامپاله تندروو ډلو هم زور اخیستی دی. دا ډلې په ځرګنده توګه د شوروي اتحاد د ماتولو لپاره د امریکا، لویدیزو هیوادونو او سعودي عربستان په مالي مرستو را مینځته شوي چې د افغانستان د خلکو مقدس جهاد یې د وحشت، وژونو، جنسي تیریو او نورو وحشیانه کړونو په کولو بدنام کړي.

د دغه کتاب د لیکلو موخه دا نه ده چې خدای مه کړه د هیواد نامتو غازیانو، پر هیواد مینو ولسونو او یا د هیواد د لوړو ګټو په خاطر زموږ ویاړلی شهیدانو ته سپکاوي وشي بلکې د هغو کسانو، هیوادونو او ډلو پیژندل دي چې د اسلام د مقدس نوم څخه د نړۍ په اسلامي هیوادونو کې ناوړه ګټه پورته کوي، او هره ورځ په سلګونو مسلمانان د دغو ډلو پواسطه په شهادت رسیږي، تاریخي مقدس ځایونه ورانیږي او ښارونه په کنډواله بدلیږي. تر ټولو بده دا ده چې د اسلامي تمدن ډیر مهم تاریخي اثار په بشپړه توګه د مینځه ځي. ولسونه فقر او بدبختي ته اړ ایستل کیږي، ځوانې نجونې د فقر او لوږې په وجه په نړۍ کې پلورل کیږي. که لنډ ووایم دغو تندروو اسلامپالو ډلو دومره پاک مسلمانان په شهادت رسولي دي چې په هیڅوجه د دوي د ادعا مطابق اصلي دښمنانو ته یې تاوان اوښتي نه دي. دا بنسټپاله ډلې د خپل ناوړه ژوند د پاینت لپاره د اسلام د تیرې تورې څخه کار اخلي. ژوندي بیلګه یې د مزار والي عطامحمد نور دي چې ولسمشر اشرف غني په کفر تورنوي ځکه نوموړي یې د ولایت د مقام څخه ګوښه کړي دي. ولې دا یې هیر دې چې د میلیونونو شهیدانو د وینو په بیه د افغانستان میلیونر او د جهادي مافیاء سرلاري دي. د جمعیت اسلامي ګوند د امریکا د اشغال په تیرو څه د پاسه شپاړلسو کلنو کې د افغان واحد ملت تر مینځ د بې اتفاقي ریښې دومره ژورې کړي چې ولسونه یې د خپل واک د پاینت لپاره د مخامخ جګړې لپاره سره تیار کړي دي. خپل عقاید یې دومره ورته تزریق کړي چې د اسلام تر نوم لاندې کفري ویناوي کوي. د ۲۰۱۷ زکال د فبوري د میاشتي په لومړیو کې د جمعیت اسلامي ګوند یو غړي ادعا وکړه، که د پیغمبرانو سلسله پای ته رسیدلي نه واي نو احمدشاه مسعود او عطا محمد نور به پیغمبران واي. دا په داسې حال کې ادعا کوي چې د فیسبوک پر پاڼه د کابل د

---

[1] - Jehovas vidner

ورانی انځورونه لا څه د پنجشیر په دره کې د لسګونو انسانانو مړي ښودل کیږي چې همدا احمدشاه مسعود یې مسول دي او هم د مزار د ولسونو عام قتل د امریکایي اشغال په پیل کې د هیریدلو نه دي.

ښاغلي اجمل ستانکزي د فیسبوک پر پاڼه جالب مطلب لیکي، ولولئ:« چې ورځ تیریږي پدې خبره مې نور هم یقین ډیریږي چې جنګسالار، لنډغر، طالب، او مذهبي افراطي به هیڅکله هم داسې څه ونکړي یا داسې څه ونه وایي چې د هیواد په ګټه وي.

که د ګلبدین خبرو ته وګورو، که د عطا، که د طالب او که د ډیرو دیني عالمانو نو له هیڅ یو به هم د هیواد په ګټه څه وانه وري. دوی به تل هغه څه کوي او وایي چې د افغانستان په تاوان وي. دوی ټول یوه مشترکه نقطه لري او هغه پاکستان دی چې په مستقیم او غیرمستقیم ډول ورته دغه ټول کار کوي.

نه پوهیږم چې لا هم دوی پسې ولې دومره خلک روان دي؟ چې دا دوی ډیر هوښیاران دي او که دا پلویان یې احمقان دي. او که د پیسو یا تعصب په وجه د دوی ملاتړ کوي. زه خو له داسې خلکو سره یو ځای ناسته هم خپل سپکاوی ګڼم. نه پوهیږم چې خلک څنګه ورپسې شاته روان وي یا یې لاسونه ښکلوي.»

په خواشینی باید ووایم چې د افغانستان ورځني واقعیت همدا دي چې ښاغلي اجمل ستانکزي په لنډو جملو کې بیان کړي دي خو ما د کتاب په جریان کې دا چې خلک یې ولې ملاتړ کوي، بیان کړي دي.

په نړۍ کې ډیر بحث پر اسلامپالو تندروو ډلو جریان لري چې د ډیرو کارپوهانو په آند د مجاهدینو، داعش او ورته ډلې د لویدیزو په مالي مرستو رامینځته شوي چې د اسلام مبارک دین د نړۍ د ولسونو په افکارو کې د وحشت او بربریت نمونه وګرځوي. که افغانستان ته را وګرځوو، د هیواد د ازادۍ لپاره د پردو په وړاندې مقاومت د هر افغان مشروع حق دي مګر اوسنۍ حالت چې د اشغال سره د مبارزې په پلمه مظلوم ولسونه په وینو کې ډوب دي، په هیڅ ډول یې مشروعیت توجیه کیدلای نه شي. د دښمن سره مبارزه د دې مانا نه لري چې خپل د هیواد اقتصادي بنسټونه وران کړه، روغتونونه او روغتیایي کلینیکونه وسوځوه، د ځوانانو پر مخ ښوونځي وتړه، په ځانمرګي بریدونو کې د یو دښمن په خاطر په سلګونو انسان په شهادت ورسوه. که دا سمه وي نو د امریکایي الوتکو د ړندو بمباریو او په اصطلاح د اسلام د ساتونکو یانې د هیواد د ازادي اخیستلو مدعیانو توپیر په څه کې دي؟

د پورته مطالبو د وړاندې کولو پر بنسټ زما د کتاب لویه برخه پر اسلامي تندروو، بنسټپالوو او افراطي ډلو باندې راګرځي.

تر ټولو خطرناکه لوبه د اسلامپالو تندروو ډلو دا ده چې د تمدن، ښوونځي، علم زده کولو او هر ډول پرمختګ سره کلک مخالفت لري او غواړي ولسونه همیشه په توره تیاره کې وساتي او پیړی پیړۍ یې شاته وغورځوي چې د نورو د ګدایي څخه د خلاصون لار و نه لري او د دوي عقاید پرته د دلیل څخه قبول کړي. که اسلامپاله تندروه ډلې په اوسنۍ عصر کې د نورو مذاهبو د تندروو ډلو سره پرتله شي، لوي توپیر په کښې لیدل کیږي. نورې تندروه ډلې لږ تر لږه د خپل ولس سره دښمنې نه لري، د پرمختګ مانع نه ګرځي خپل کور خپله نه ورانوي.

زموږ اوسنۍ بحث د مذهبي او دیني بنسټپالي په تړاو دي. د نړۍ په ټولو ادیانو کې دا پدیده څرګنده شوي د وخت په تیریدو سره یا کمرنګه شوي او یا خو په شدت مخ په وړاندې ځي. د عیسویت په تاریخ کې بنسټپالي په ډیر شدت شتون درلودي، د عیسویت د ځانګړو قوانینو څخه سرغړونه په ډیرو غیري انساني جزاو سره ټکول کیدل. د بیلګې په توګه تورن کسان په اور کې ژوندې سوځول کیدل، د وجود غړي یې په ژوندون پري کیدل او په سلګونو نورې سزاوي. کلیسا د دربار سره په همږغي پر ولسونو حکومت کولو او د هر غیري انساني عمل تر شاه به د کلیسا لاس و. کلیسا د جنت قبالي پلورلي او د ګناهونو د بخښولو لپاره باید د کلیسا کشیش ته پر ځنګنو شوی واي او د بخښني غوښتنه یې کړي واي چې دا دود تر اوسه پورې هم په یوه کچه شتون لري. تقریباً (۹) ځله وحشیانه صلیبي جګړې شوي دي چې د لکونو انسانانو د مرګ سبب شوي دي چې د بنسټپالي ښه نمونه یې ګڼلای شو. د وخت په تیریدو سره د دوي د کړونو بڼه بدله شوي ده نو ځکه هیوادونه یې د پرمختګ کاروان په بیړه پر مخ بیايي.

**په نوی عصر کې د اسلامي بنسټپالي تاریخچه**

عبدالحي مطمین په خپل کتاب کې لیکي:«له لومړیۍ نړیوالې جګړې وروسته، کله چې د ترکیې عثمانیانو په مشرۍ د اسلامي خلافت وروستی یادګار هم د لویدیزو قدرتونو د دسیسو ښکار شو، په اسلامي نړۍ کې د امت د یووالي اړتیا احساس شوه. د همدې اړتیا په لړ کې لومړی په هند کې د خلافت تحریک پیل شو چې مرکزي رول په کې د دیوبند علماوو ولوباوه. دغه تحریک د انګریزانو د ټکول کیدو سره سره د هند په وچه کې د مسلمانانو د بیدارۍ یو تلپاتې څپه وګرځیده.» ( ۱۶ ص ۳۹)

په معاصر تاریخ کې د دیني بنسټپالي دوهم خوځښت په مصر کې د اخوان المسلمین د ګوند د تأسیس څخه پیلیږي چې تر اوس پورې هم شتون لري، نو ځکه اړینه ده چې د نوموړي ګوند پر تاریخچه بحث پیل کړم:

په عربي ژبه کې الخوان المسلمونه ورته وايي. دا سياسي ګوند د سني مسلمانانو دي چې په مصر کې بنسټ اېښودل شوی دي چې د غړو شميره يې (۱۰۰۰۰۰ - ۶۰۰۰۰۰) اټکل شوی دي. انتروپولوګ سکاټ اترن [2] وايي چې تقريباً (۶۰۰۰۰۰) تنه د ګوند ونډه ورکوي او د دغې شميرې څخه داسې اټکل کيږي چې (۱۰۰۰۰۰) تنه وسلوال دي. د مصر د نفوسو (۲،۵) سلنه چې تقريباً دوه ميليونه تنه کيږي د اخوان المسلمين د ګوند څخه ملاتړ کوي. دغه ګوند د (۱۲) هيوادونو د استازو په عمومي غونډه کې جوړ شو. د نړۍ لوي اسلامپاله ګوند دي چې په (۷۲) هيوادونو کې فعاليت کوي. د اخوان المسلمين د ګوند بنسټ په (۱۹۲۸ زکال) د يو مصري ښوونکي، حسن البنا لخوا کښيښودل شو چې په اسلامپاله ډلو کې ډير پخواني ګوند دي. حسن البنا د مصر ډيرو برخو ته سفرونه وکړل او د ګوند دفترونه يې پرانيستل په دې ډول په لږ وخت کې د اخوان المسلمين ګوند په مصر کې سرتاسري شو. د حس البنا برسيره سيد قطب هم د نوموړي ګوند ايډيالوژيک مغز و.

د اخوان المسلمين د ګوند اساسي موخه دا ده چې په ټوله اسلامي نړۍ کې داسې دولتونه جوړ کړي چې اساسات يې پر شرعي قوانينو بناء وي. په ځانګړي توګه په پيل کې غواړي په مصر، کويټ، اردن او فلسطين کې سياسي، ټولنيز او اقتصادي بدلونونه راشي. د اخوان المسلمين په نظر اسلامي ټولنه ډيرې ځانګړنې لري ځکه نورې ټولنې د انسانانو د عقل محصول دې خو اسلامي ټولنې د خدای ج د احکامو په پايله کې رامينځته شوی دې.

د اخوان المسلمين ګوند په اسلامي هيوادونو کې هم د دولتونو د مخالفو ګوندونو سره خواخوږي لري دا ځکه چې دوي د بهرنيو هيوادونو د لاسوهنو سره سخت مخالفت لري. په ځانګړي ډول د اسراييلو او فلسطين تر مينځ لانجه دوی ته ډير اهميت لري نو ځکه د حماس د ګوند سره ډيرې نږدې اړيکې ساتي.

سيد قطب په ۱۹۶۶ زکال کې په دې تور چې د مصر د ولسمشر جمال عبدالناصر د وژلو پلان يې جوړ کړي و، اعدام شو. حسن البنا د ۱۹۴۹ زکال د فبوري پر (۱۲) مه نيټه په داسې حال کې چې ټکسي ته ولاړ و د دوو وسلوالو کسانو لخوا وويشتل شو او وروسته يې ساه ورکړه. داسې ويل کيدل چې د مصر د پاچا فاروق د ګارد د نفرو په واسطه وژل شوی دي.

---

[2] - antropolog Scott Atran

**په مصر کې د الازهر مشهور پوهنتون:**

د الازهر د پوهنتون په تړاو معلومات ځکه اړین ګڼم چې د همدغه پوهنتون څخه د افغانستان د رواني بدبختي پیل شوی دي. د نوموړي پوهنتون تاریخچه ډیره پخواني ده ځکه په پیل کې یو مسجد و چې تاریخ یې د محمد (ع) په لور بې بې فاطمې پورې تړلی ګڼي. کله چې د پوهنتون نوم ورباندې کښیښودل شو په ټولیزه توګه د اسلامي علومو مضامین تدریس کیدل. زما معلومات د هغه وخت څخه پیلیږي چې په یو عصري مشهوره پوهنتون بدل شو. د مصر د جمهور ریس جمال عبدالناصر په وخت کې (۱۹۶۱ زکال) د الازهر پوهنتون په درسي سیستم کې بنسټیزه بدلونونه راغلل. په پوهنتون کې پر اسلامي پوهنځیو برسیره د تجارت، اقتصاد، فارمسي، طب، تخنیکي او زراعتي پوهنځي رامینځته شوي. باید وویل شي چې تر پورته تاریخ مخکې دغه پوهنتون د مدرسې یا د اسلامي علومو دمرکز بڼه درلودل نو ځکه ویلای شو چې په ۱۹۶۱ زکال یې د یو واقعي پوهنتون بڼه خپله کړه.

## دوهم څپرکی

**د اسلامپالو ګوندونو د زیږیدو اصلي علتونه**

که موضوع ته ژور فکر وکړو د سیاسي اسلام او یا د اسلامپالو ډلو زیږیدون په نوی عصر کې د سړې جګړې پایله وه. کله چې د سوسیالیزم او کپټالیزم تر مینځ تضادونو دومره شدت پیدا کړ چې د ټکر مرحلې ته رسیدلي وو او د بلې خوا د سوسیالیزم د خپریدو لمن ورځ تر بلې پراخیدل نو د طبعي قوانینو پر بنسټ باید متناسب غبرګون ښودل شوی واي نو ځکه غواړم په پیل کې پر هغو اساسي ټکو لنډ مکث وکړم، کوم چې د امریکا له پاره یې دا ډول مساعد او د دوي د خوښي چاپیریال رامینځته کړ تره څو پر سوسیالیزم باندې د بري لپاره د اسلامپالو ډلو په مرسته چټک ګامونه پورته کړي.

دلته اساسي او اغیزناکه پدیده د اسلام او کمونیزم د مخامخ ټکر له پاره د شرایطو برابرول وو چې امریکا یې د خپلې بریا وروستۍ موخې ته ورسول. د شوروي اتحاد ملاتړي د ګوندونو او یا ټولنو په بڼه د دریمې نړۍ په بیوزلو هیوادونو کې د انساني ژوند د جوړولو تر شعار لاندې د پرمختګ په حال کې وو. په بیوزلو هیوادونو کې امریکا او لویدیز هیوادونه د وینه ځبیښونکو امپریالیستي هیوادونو په توګه پیژندل شوي وو. د دریمې نړۍ د ولسونو په آند د بسیا ژوند جوړولو له پاره د سوسیالیستي ټولنې جوړول یوازنۍ لار وه نو ځکه د دریمې نړۍ په هیوادونو کې د شوروي اتحاد ملاتړي د ډیریدو په حال کې وو او یو شمیر دولتونو په یو یا بل ډول همدا لار خپله کړې وه. د امریکا پالیسي جوړونکو د حالاتو د جاج اخیستلو څخه دې پایلې ته رسیدلي وو چې د اسلام او کمونیزم تر یو چتر لاندې اوسیدل ناشوني چاره ده او ژر به د یو او بل په وړاندې ټکر کوي په همدغه وجه د امریکا سیاستوالو زیاته پاملرنه اسلامي هیوادونو ته کول تر څو د اسلامي جنبشونو څخه د کمونیزم پر ضد ملاتړ وکړي. د همدي ملاتړ پایله به د اسلام او کمونیزم د ټکر باعث شي تر څو د لویدیزو وروستۍ ارمان پوره او کمونیزم پر ګونډو کړي.

دا چې اسلام باید د کمونیزم په وړاندې په انقلابي شکل سره د جګړې ډګر ته راووزي دا هغه تغیرات دی چې طرحه یې په لویدیځه نړۍ کې رامنځته شوی او ریښې یې د سید جماالدین افغاني د سیاسي تفکر څخه سرچینه اخلي، افغاني یو قوي شخص و، چې مسلمانانو ته یې د استعمار او امپریالیزم په وړاندې د یووالي لور ته بلنه ورکړه.

په کال ۱۸۸۴ زکال کې اسلام د لویدیځ استعمار لاندې ټوټه ټوټه او د بې اتفاقیو د غم نه ډکه فضاء کې د استعماري هیوادونو تر شکنجو او تسلط لاندې لاس او پښې وهلې او یا دا چې نن ورځ د ختیځ تر استعمار او ولکې لاندې راغلی، همدا وجه ده چې اسلام باید د یو قوي مذهبي قدرت په صفت بیا را ژوندي شي څکه چې لویدیځو پانګوالو هیوادونو تر پاملرنې لاندې راغلی، نو ضرور ده چې د یو فعال او محرک قوت په حیث خپل رول اداء کړي او کنه په یوه بله فتنه کې یې د راګیریدو امکان لیدل کیږي.

د پورته دلایلو پر بنسټ ویلای شم چې لویدیزو په سر کې د امریکا څارګره اداره لاس په کار شول چې په اسلامي هیوادونو کې پراخ تبلیغات وکړي چې له یوې خوا ملاتړې پیدا کړي او د بلې خوا په دې پلمه چې کمونیزم د کفر او الهاد خپرونکې ایدیالوژي ده، اسلامي روحانیون د منظمو ټولنو جوړولو ته وهڅوي. دا کیدلای شي چې په نیغه او یا هم په پټه همدغو څارګرو ادارو تبلیغات کړي وي چې بنسټپاله ډلې سره یو ځای شي.

عبدالحي مطمین لیکي:«د ظاهرشاه د واکمنۍ په پیل کې نور المشایخ فضل عمر مجددي د علماو د تنظیم او سیاسي بیدارۍ لپاره هلې ځلې پیل کړې چې تر ننه یې په هیواد کې اغیزه لیدل کیږي. هغه د ملا مشک عالم اندړ په علمي او جهادي ماحول د غزني په شلګر ولسوالی کې په ۱۸۹۸ زکال کې د نورالمدارس په نوم د سترې مدرسې بنسټ کښیښود. دغه مدرسه خورا منظمه او د دیني زده کړو تر څنګ یې د سیاسي بیدارۍ په اړه هم پروګرامونه لرل. که څه هم د دیني علومو استادان هغه درویش صفته علماء وو چې پرته د تدریس څخه د بل شی سره کار نه درلود خو ځیني استادان او منتظمین او په خپله د حضرتانو کورنۍ د عامه معلوماتو، سیاسي افکارو او اسلامي فکر په برخه کې منظم لیکچرونه او پروګرامونه لرل، چې له همدې امله دغې مدرسې د اسلامي فکر او جهاد په برخه کې ستر رجال پیدا کړل چې د هیواد پر ټولو اطرافو یې اغیزه وشینده. بلاخره یې د (خدام الفرقان) په نوم تنظیم تأسیس کړ، چې سیاسي او فکري مبارزه یې پیل کړل. دغه تنظیم د ندای حق په نامه جریده خپروله چې کله ناکله به د سیاسي نیوکو لامله حکومت بندیز پرې لګاوه. دغه تنظیم او نورالمدارس مدرسې په علمي ماحول کې د سیاسي ویښتیا تر څنګ دیني زده کړې هم منظمې کړې... د خدام الفرقان تنظیم د دیني حلقو تر څنګ د علومو عصري مرکزونو ته هم لاره پیدا کړه.» ( ۱۶ ص، ص ۳۷ ـ ۳۸ )

د پخوانیو فعالیتونو په دوام په افغانستان کې د سیاسي ګوندونو اوسنۍ تاریخ د ډموکراسۍ لسیزې ته ورګرځي. مخکې د کیڼ اړخو او اسلامپالو وړې حلقې وي

خو د سیاسي فعالیت ساحه یې دومره تنګه وه چې حتی په لویو ښارونو کې څرک نه لګیدي. زه به د نوموړو پټو اسلامپالو حلقو یادونه وروسته وکړم. کله چې ۱۹۶۵ زکال اساسي قانون تصویب شو، په پیل کې د افغانستان د خلق ډموکراتیک ګوند بنسټ کښیښودل شو. په قوي اټکل په ۱۹۶۸ زکال د مسلمانان جوان د سازمان بنسټ هم کښیښودل شو.

د ډموکراسۍ د لسیزې په وروستیو دوو کلونو کې چې د سیاسي ګوندونو د فعالیتونو د اوج کلونه وو زه هم د پوهنتون محصل وم چې هر څه مې په سترګو لیدلي دي. دا چې ویل کیږي چې د کیڼ اړخو ګوندونو څخه پخواني شوروي اتحاد او چین ملاتړ کولو، یو واقعیت دي خو باید هیره نه وې چې زه هغه وخت او اوس هم په دې عقیده یم چې د جوانان مسلمان (اخوانیانو) سره په ځانګړې توګه د امریکایانو اړیکې وي او هم د وخت د دولت لخوا تر یوې کچې ملاتړ ورڅخه کیدي. د وخت د دولت د ملاتړ اصلي دلیل دا دي چې د اخوانیانو د چاقو کښلو، د نجونو پر مخونو د تیزاب شیندولو او ورته نورو یرغلیزو چارو ته یې ډیر زغم کولو. د دې موضوع د اثبات لپاره د روحي په بریښنایي پاڼه کې داسې یو نوی خبر لولو:« محرم سند: د افغانستان اخوانیان د ظاهر شاه له مهاله له امریکا سره اړیکې لري. د دغه سرلیک لاندې لولو: منهاج الدین ګهیځ چې د ګهیځ د جریدې چلوونکي او مسول مدیر و د محمد ظاهرشاه په واکمنۍ کې ترور شو. ګهیځ د جوانان مسلمان د ډلې سره ټینګې اړیکې درلودي. ځینې لاسوندونه داسې ښیي چې په افغانستان کې د اخوان المسلمین رهبران او باندونه د روسانو سره د جګړې پر مهال د امریکا او سي آی ای پښو ته لویدلي وو.

په کابل کې د امریکا سفارت لاسوندونه چې اوس محرمیت ترې پورته شوی دي، سند د اخوان المسلمین د مشرانو څخه د منهاج الدین نوم یادوي چې په ۱۹۷۲ زکال د ظاهرشاه د واکمنۍ پر مهال په کابل کې د امریکا د سفارت سره اړیکې نیولې دي او د (کمونیزم پر ضد د ګټو هڅو) په نامه ترې مالي مرسته غوښتې ده. په دې څلور مخیزه سند کې د منهاج الدین سره د لیدنو خبره شوی ده، چې د ۱۳۵۰ لمریز کال د جوزا پر (۱۵) نیټه شوی دي او د امریکا سفارت بیا بهرنیو چارو وزارت ته استولي دي. په سند کې د څو لیدنو برسیره د منهاج الدین ژوند ته هم لنډه کتنه شوی ده او نوموړی یې د جوانان مسلمان د مخکښانو څخه ښودلي دي چې په غونډو او لاریونونو کې خبري کوي او څو ځله زنداني شوی هم دي. د سند په یوه بله برخه کې راغلي دي:

«وروسته له دې، چې نوموړي د کمونستانو پر ضد د خپلې ډلې د فعالیتونو په اړه مفصلې خبرې وکړې، وروسته یې خپله خبره یاده کړه، هو زموږ ډله د کمونستانو

او شوروي پر ضد د پام وړ فعالیتونه تر سره کوي، ایا متحده ایالات کولای شي، زموږ سره د یوې چاپخونې د لګښت په برخه کې مرسته وکړي او یا فکر ورباندې وکړي... نوموړي په دې اړه بیا داسې نتیجه ګیري وکړه: متحده ایالات باید زموږ د ډلې سره مرسته وکړي، ځکه رښتیني مسلمانان او امریکایان دواړه له یوې داسې ایډیالوژۍ سره مخ دي چې زموږ د ژوند د بنې سره ضد دي او موږ دواړه ګډې موخې لرو. منهاج الدین زیاتوي: ډله یې پوره لګښت نه لري چې ورځپاڼه پرې وچلوي. موږ اوس اړ یو چې په ډیر کم شمیر ورځپاڼه ټایپ کړو او میمو ګراف څخه ګټه پورته کوو. ندای حق اونیزه کیدای شي په ورته موضوع کې لیکنې خپرې کړې خو په هیڅ صورت زموږ لپاره د ډاډ وړ متحد نه ګڼل کیږي. منهاج الدین ګهیځ د امریکایانو د مرستې د جلب لپاره د جوانان مسلمان د ترهګریزو فعالیتونو څخه هم پرده پورته کړی ده او دا یې ویلي دي چې زموږ ډلې د لغمان په مهترلام کې څلور کینې اړخي وژلي دي، چې وروسته بیا د حکومت لخوا زموږ څو غړي نیول شوی هم دي.) (روحي ویبپاڼه ۲۰۱۷/۴/۲۶ زکال) په پاڼه کې سند خپور شوی دي.»

د ظاهرخان د ډموکراسۍ په لسیزه کې د کینې او بنۍ اړخو تر مینځ یو لوي ټکر وشو. د (اسلام و سیاست در افغانستان) په کتاب کې د موضوع په تړاو لولو:« بارک شفیعي د پرچم په ډلې پورې تړلي شاعرد ۱۹۷۰ زکال د اپریل پر (۲۲) نیټه د پرچم په جریدې کې یو شعر خپور کړي چې په هغه کې د **(درود)** کلمه ذکر شوی وه. دلیل دا و چې د درود کلمه یوازې د پیغمبر محمد (ص) د پاره کارول کیږي خو بارک شفیعي د درود کلمه د لینین لپاره کارولي ده. د نوموړي شعر یو څو کرښې شپون په درې ژباړلي دي:

بخاطر این دستاورد بی نظیر (انقلاب اکتوبر)
به حزب قهرمان درود می فرستیم

و بخاطر خلق قهرمان

به آن رهبر بزرگ درود می فرستیم

لینین بزرگ

په دې تړاو ملایانو شدید اعتراض وکړي نو ځکه د ډیرو ولایتونو ملایان د پل خشتي په جامع جومات کې راټول شول. په دقیقه توګه څرګنده نه شوه چې د دې اعتراضونو تر شاه د چا لاس دي خو ویل کیږي چې اعتراض کوونکي د شور بازار د حضرت محمد ابراهیم او غلام محمد نیازي چې د شرعیاتو د پوهنځي استاذ و، د معنوي ملاتړ څخه برخمن وو. ملایانو غوښتل چې شاعر زنداني شي او د

کمونیستانو پر ضد جدي اقدامات وشي. دوه ملایان چې د پارلمان غړي وو، موضوع یې په پارلمان کې طرحه کړه خو کومه پایله یې نه درلودل. وروسته ځیني ملایان او د پاچا کورني دوست، صبغت الله مجددي د تګاب د میاګل اخندزاده په ګډون پاچا ته ورغلل. د پاچا څخه یې وغوښتل چې مناسبه پریکړه وکړي تر څو د مذهب موقف په ټولنه کې ژوندي پاته شي خو پاچا هم کوم اقدام و نه کړي. د ملایانو اعتراض دوام پیدا کړي او د ولایاتو ځیني نور ملایان هم ور سره یو ځای شول او نورې غوښتنې لکه د الکولو بندول، د حجاب دوباره رواجول، د تعلیم او تربیې او د غیري مذهبي قوانینو لغوه کول، رامخته کړي. دولت اړ شو چې ملایان په جبر سره ولایتونو ته ولیږي په دې ډول ښورښ ارام شو.» (۱۵ ص ، ص ۲۰۵ ـ ۲۰۶)

د ظاهرخان د پاچهي په دوران کې ډیر بیلګې بیانولای شو چې د افغانستان د خلکو عنعنوي اسلامي عقیدې ته د بدلون هڅې د داخلي او بهرنیو کړیو لخوا ګړندي شوي وي. زه د هلمند او کندهار ولایت څخه دوې ځرګندې بیلګې بیانولای شم. د هلمند د ګرشک په ولسوالی کې د معمول له مخې د اختر لمونځ پر یوه لویه دښته ادأ کیدي. امام یې د ګرشک د جامع خطیب قاضي محمد اخندزاده و. نوموړي نه یوازې ملا خو ژبور او په سیاسي مسایو هم بلد سړي و. د لومړي ځل لپاره مې د اختر په لمانځه کې چې (۱۹۷۲ ـ ۷۱) زکلونه وو، د قاضي محمد اخندزاده د خولې څخه د لینن او کمونیزم په تړاو بیان واوریدي. عام ولسونه د دې خبرو سره اشنا نه وو خو د شورویانو د نوم په اوریدلو دومره پوهیدل چې بی کتابه کفار دي. په لښکرګاه کې مشهور خطیب قاري منیر همدا ډول بیانونه کول خو په قندهار کې مولوي عبدالرب چې د ژبې ډیر فصاحت یې درلودي نه یوازې د اخترو په لمونځونو کې بلکه د جمعې د لمانځه ویناوي د کندهار په څلور لارې او نورو مهمو ځایونو کې د لوډسپیکرانو په واسطه خپرېدلي. همدغه کسانو د کیڼ اړخو ګوندونو سره سخته دښمني درلودل.

د پورته خبرو څخه ښکاري چې د جوانان مسلمانان په واسطه د سیاسي اسلام خپریدل د داخلي او بهرنیو واکمنانو په مشوره سره تر کار لاندې وو.

د پورته معلوماتو پر اساس امریکایانو د ډیر پخوا څخه په افغانستان کې اسلامپاله ډلې تر پاملرنې لاندې وي. خو د سردار محمد داود خان د جمهوریت په دوران کې د امریکایانو اړیکې د اخوانیانو سره د لمر په شان روښانه دي.

غوارم د موضوع په تړاو ډېرې په زړه پورې خو د نفرت څخه ډکې موضوع ته اشاره وکړم: سی ای ای [3] او د ایران ساواک د پاکستان، هند، چین او د منځني ختیځ د نورو ځارګرو ادارو په مرسته په افغانستان کې د کا جی بی [4] پر خلاف فعالیت کاوه، پر دی سر بیره سی ای ای او ساواک د ۱۹۷۳ زکال په سپتمبر او ډسمبر کې او بیا د ۱۹۷۴ زکال په جون کې د اسلامي بنسټپالو له لورې د داود پر ضد په کودتا کې هم لاس درلودي. (۴،ص،ص ۹۶ ـ ۹۷)

باید یادونه وکړم چې ۱۹۷۳ زکال بریدونه پر کنړ او لغمان وو خو د ۱۹۷۴ زکال د جون د میاشتی برید پر پنجشیر وو. پخوا موږ فکر کولو چې دغه بریدونه یوازې د پاکستان د ځارګرې ادارې، ای اس ای په ملاتړ اخوانیانو د برهان الدین رباني په مشرتابه، د ګلبدین حکمتیار او مسعود په قوماندانی تر سره شوي وو. خو پورته اسناد را په ګوته کوي چې په پورته بریدونو کې د امریکا ځارګرې ادارې هم بشپړ لاس درلودي.

عبدالحمید مبارز په خپل کتاب کې لاندې مطلب لیکي چې د پورته ادعا د ثبوت له پاره ښه دلیل دي، ولولئ:«په افغانستان کې د ایران د جاسوسي دستګاه، ساواک د پخوا څخه ځای پر ځای شوي د ک.جي.بی پر ضد اقدامات پیل کړل. د سعودي عربستان، پاکستان، هند او چین جاسوسي فعالیتونه هم په افغانستان کې پیل شوي وو. ساواک او سي.آي.ای په افغانستان کې په ګډه فعالیت کاوه. دواړو شبکو په افغانستان کې د بنیادګرا ګروپونو سره هم یوه اندازه همکاري درلوده. دغو ټولو جاسوسي دستګاوو په افغانستان کې داسې بامعلوماته خلک استخدام کړل چې دوي ته یې د افغانستان په اردو او دولت کې هغه کسان معرفي کول چې د کمونستانو سره همدردي لري. د ایران دولت امریکایي اسلحه ، د مخابرې الات او ځنې نورې مرستې د محمد داودخان هغو مخالفینو ته ورکړي چې د افغانستان په غربي برخه کې یې ژوند کاوه. د ایران ځنې مرستې پاکستان ته ورکړه شوي چې د افغانستان بنیاد ګرا ګروپونو ته یې ورکړي، د ایران دغه مرستې د صوبه سرحد د ګورنر، نصیرالله بابر په واسطه افغاني بنیادګرا ګروپونو ته ورکړه شوي چې د دغو مرستو په نتیجه کې د پنجشیر پر امنیتي پوستو باندې څه عملیات وشول.» (۵، ص،ص ۲۷۴ ـ ۲۷۵)

د تلک خرس په کتاب کې د سي آی ای د یو سابقه داره مامور د لیکنې څخه د پورته موضوع په تړاو ولولئ:«هغه پیښې چې د دې سبب شوي تر څو سي آی اي

[3] - CIA

[4] - KGB

د افغانستان په پيښو کې ښکيل شي، و ۱۹۷۳زکال ته ګرځي. دا هغه وخت و چې د محمد ظاهرشاه د تره زوي سردار محمد داود چې يو شمير روحانيون او کمونستان يې پر ځان راټول کړل او د هغوی مشري يې کول. په داسې حال کې چې شاه د ايټاليا په سفر بوخت و دواک څخه ليري کړي. د سرداود کودتاه د شورويانو له پاره يو طلايي بدلون او چانس و چې خپل نفوذ ته په افغانستان کې پراختيا ورکړي.» (۹ ص ۶۵)

زه هم په اويايمو کلونو کې د پوهنتون محصل وم په همدغه وخت کې د سياسي ډلو بازار ډير تود وو. د جوانان مسلمان د ډلې کړنې مې د سر په سترګو ليدلي دي. په ۱۹۷۱ زکال محصل شوم. د پوهنتون د سياسي ډلو رواج وو چې هرې سياسي ډلې د نويو محصلينو د راتګ سره سم د پوهنتون په ډګر کې د جلب او جذب لپاره يوه ورځ ميټينګ جوړولو. ګوندي مشرانو به ويناوي کولې. ښه مې ياد دي چې د ۱۳۵۰ ل.ل کال د ميزان اومه نيټه وه چې د خلق ډموکراتيک ګوند د ميټينګ نوبت و. ميټنګ جوړ شو د جوشه ډکې انقلابي ويناوي اوريدل کيدلې چې نابېره ځينو کسانو سپينې رخچنې (ټوپي) پر سر وې، پر ميټينګ بريد وکړي. دا د جوانان مسلمان ډله وه. دوي په معمولي توګه د وحشت، چاقو وهلو، جنګ او جګړو په واسطه د کيڼ اړخو ګوندونو سره خپله دښمني ننداري ته وړاندې کول. د کيڼه اړخو ګوندونو په ځانګړي توګه د خلق ډموکراتيک ګوند غړي په لويه کچه کليوالي خلک وو نو ځکه د جګړې په وخت کې د منډو ياني تښتيدلو سره اشنا نه وو. په داسې حال کې چې ګوندي دستور و چې بايد د جګړې څخه ځانونه وساتي په همدغه وجه د ګوندیانو زغم پای ته رسيدلي وو. ناڅاپه امان الله استوار دريځ ته پورته شو په لوړ اواز يې وويل چې همدا شيبه د مرکزي کميټې څخه دستور را ورسيدي چې د اخوان په مقابل کې د ځان څخه دفاع وکړي او اخوانيان سخت وډبوئ. په همدغه کال ډير خلقيان د اطرافو څخه پوهنتون ته بريالي شوي وو. د دستور په اوريدلو سره د اخوانيانو په وهلو او ټکولو يې پيل وکړي لږ شيبه وروسته اخوانيان په تيښته بريالي شول چې د اکثرو سپينې رخچينې پاته شوي وي. که څه هم دستور د مرکزې کميټې نه و بلکې امان الله استوار چې قوت وليدي زړه يې ډک و نو ځکه يې داسې اعلام وکړي. نورې بيلګې به هم په خپل وخت وړاندې کړم.

د پورته ليکنې څخه مې مطلب دا و چې اسلامپاله ډلو د وحشت او جګړو سره سخته مينه درلوده چې بيلګې مو د مجاهدينو د واک نيولو په کلونو (۱۹۹۲ ـ ۱۹۹۶) زکلونو په جريان کې وليدلې.

دا چې سي آی ای په فعال ډول د داودخان د جمهوريت په وخت کې د بنسټپالو ډلو او ټپلو سره اړيکې ساتلې يوې خواته پريږدو ولې د امريکا په بهرني سياست کې د

لومړي ځل لپاره د دې فکر بنسټ خښته د حقوق پوه برژنسکي په ذريعه کښيښودل شوه، نوموړی په ۱۹۷۷ کې ويلي و، د اسلام اصول او اساسات تر ټولو غوره او مخالفه قوه ده چې د شوروي پر خلاف کاريدلی شي، نوموړي د نيويارک ټايمز له ورځپاڼې سره د ايران د انقلاب څخه وروسته په خپل مرکه کې داسې ويلي: «واشنګټن بايد په منځنۍ اسيا کې د اسلام راتلو ته ښه راغلاست ووايي، ځکه هغه قوتونه چې په پټه ايران کې د شوروي مداخلې سره کومک کوي، د اسلام د ايډيالوژۍ او فکر سره تضاد لري. هغه د خپلې عقيدې او نظريې اظهار وکړو چې د مسيحي مذهب خاوندان د خپلې عملي همکارۍ په اساس د شرقي اروپا د ازادۍ سازمان او د پولينډ د موضوعاتو په تکيه د مختلفو هيوادونو په يو ځای کيدو سره په منځني اسيا کې د اخوان المسلمين په لاس د يوې شبکې سره موافق شول، چې له دې کبله يې د ختيځې اروپا په هيوادونو کې د مسيحي مذهب شبکو په کوښښ او په اسيا کې د چين دولت د موجوديت په اساس کولای شي چې شوروي اتحاد د سياسي نظره محاصره کړي او زياتوي چې (دا يوه ونه نه ده چې پرته له کومې فاصلې او وخت به ميوه ورکړي) ، بلکه د لسو نه تر شلو کلونو پورې به د دې نتايج په داسې حال کې راڅرګند شي، چې د روسيې هيواد د يوې مسلحانه مقابلې له کبله سياسي او صنعتي ضعف ته ورسيږي. د دې نظرياتو پر آساس يو کمسيون د دوهم ځل له پاره د دې نتايجو په څيړنه کې شوو چې د شوروي اتحاد په مرکز کې د اسلام وروسته پاتې کيدو سبب شو.)» موخذ: دورانی، راج ملک لاهور کال ۱۹۵۲ زکال

**د برژنسکي سره د مرکې مهم ټکي:**

پوښتنه: د اسلامي بنسټپالو د ملاتړ څخه هم پښيمانه نه ياست. تاسو د ترهګرو په واک کې معلومات او وسله ورکړه؟

برژنسکي: د نړۍ د تاريخ له پاره کوم څه ډير ارزښت لري؟ طالبان او که د شوروي د امپراطوري سقوط؟ ځيني مسلمانان تحريک شول خو د اروپاه ازادې او د سړې جګړې پای.

پوښتنه: ځيني مسلمانان تحريک شوی دي؟ خو په تکرار ويل کيږي چې اسلامي بنسټپالي د نړۍ له پاره ګواښ دي؟

برژنسکي: يوه پوچه خبره! ويل کيږي چې لويديز د اسلام په وړاندې نړيوال سياست درلودي. دا احمقانه ده. هيڅ سرتاسري اسلام شتون نه لري. اسلام ته بايد په منطقي توګه وکتل شي پرته د خطا ايستنې او احساساتو څخه. اسلام د نړۍ لوی دين دی چې يو نيم ميليارد پيروان لري. د اسلامي هيوادونو لکه د سعودي عربستان بنسټپالي، منځلاري مراکش، پوځ غوښتونکي پاکستان، مصر، لويديز ته متمايل او يا منځنی اسيا، سيکولاريستان شتون لري. بل هيڅ نشته پرته له دي چې د لويديزو هيوادونو تر مينځ د وروري مزي ټينګ کړي.»

پر ځای یې بولم چې د ښاغلي شاه محمود حصین د هغې لیکنې څخه ځینې اړوند مطالب راوخلم چې تر (**بیا څه را روان دي؟**) سرلیک لاندې په (۲۰۱۷/۵/۷ زکال لیکلي او په ډېر ویبپاڼو کې خپره شوی ده. د لیکنې اړوند مهم ټکي ولولئ:« دلمریز هجری څور لسمي پیړۍ په څلورمه لسیزه کې د آسیا په جنوب کې یو ډېر وروسته پاتې ساتل شوی هیواد د پراخیدونکو روښانفکري خوځښتونو د را پاځیدنې په تاوده مرکز واووښت. دغه هیواد افغانستان و هغه چې اقبال لاهوري یې په خپل موزون آواز کې د آسیا زړه بولي... له ټولیزو، سیاسي سازماني خوځښتونو سره د تفکر او تعقل پر ځای تر ډېره خام او د اټکل له توانه وتي احساسا ت ملګري وو او په دې توګه هدفي غوښتنې تتې او شعاري ناري اوچتې او درنې وې .همدغه حالت ټولنه ډېر ژر په دننه او له بهر سره داړیکو په برخه کې له ټولنیز نه پخلا کیدونکي ویش او لیکه لیکه کیدو سره مخ کړه. کین اړخي ، ښي اړخي او منځپا لي هغه چې تر لومړیو دوو ډېر اووښتونکي اودریځ بدلیدونکي وو یو د بل مختته ودریدل. دغه ویش او تقابل د نړۍ زبر ځواکونو ته د خپل منځي سیالیو ډګر پراخه کړ او د ټولنې په ځوانو پوړیو پټې او ښکاره پانګونې پیل شوې. د همدې لسیزې د پای په کلونو کې کابل پوهنتون د متضادو ډلو او فکري خوځښتونو په تاوده ډګر بدل شو .هلته بنسټپاَلي مذهبي ډلې د وخت د کینې اړخو هغو ډلو په وړاندې ودرول شوې چې د ټولنیزو بدلونونو لاره یې په مذهبي تفکراتو کې نه لیدله او د پراخه فکري او آن عقیدتي آزادیو تر شعارونو لاندې راغلي وو. دغه وخت د کابل پوهنتون په اډانه کې سره له دې چې « اخواني» غوښتنې او نارې سورې د وخت د شرعیاتو له پوهنځي څخه په اوریدو وې او له هغه لورې د نیازی، رباني ، سیاف یا نورو نومونه اوغږونه را رسیدل خو څیرې یې لا ډیرې بربنډې نه وې، دغه وخت لومړنۍ د مصري اخوا ن المسلمین د مشرانو حسن البنأ ، سید قطب ،محمد قطب او نورو پر پلو روان خوځښت په ښکاره او په ډېره ویروونکې توګه د کابل پوهنتون له هغو پوهنځیو څخه را پورته شو چې مخامخ د امریکا د متحده ایالاتو په روزنیزو پلانو او یا مالي مرستو ولاړ وو. په دې برخه کې د کابل انجینري پوهنځي ته ډېر محصلین د ثانوي تخنیک له لارې راتلل هغه ښونځي هم مخامخ تر امریکایی روزنې لاندې و. د کابل پوهنتون د تعلیم او تربیی پوهنځی چې د« مسلمانو ځوانانو» د فعالیت بل د پام وړ مرکز و هم تر مخامخ امریکایی قیمومیت لاندې و او د امریکایی فرانکلین موسسې سیوری لا پرې پروت و. د دغو دوو یا درو پوهنځیو اخواني خوځښت دومره ژر پراخه او وپړسول شو چې نور نو د شرعیاتو د پوهنځي غږ په لویدو شو. د هغه وخت د کینې اړخه خوځښتونو تر ټول لوی خوځښت د دموکراتیک خلق خوځښت و. د دغه خوځښت ډیرو وتلو کادرونو چې هغه وخت د انجینرۍ د پوهنځي محصلان وو لکه ماما رؤف ، جلال ، عمر او

نورو به تل دا نارې وهلې چې امریکایي ښوونکو د ګلبدین حکمتیار، عمر او حبیب الرحمن په شان ډېرې خطر ناکې څیرې ډېرو ویروونکو پیښو ته روزلي او را مخته کړي بې دي. دغه څیرې دومره په پوهنځي کې نه وي لکه چې په سفارت او ور پورې تړلو امریکایی فرهنګي مرکزونو کې. دغه شان د تعلیم اوتربیي د پوهنځي اخواني خوځښت هم د یوه بل حبیب الرحمن تر مشرۍ لاندې په پړسیدو وو .د لمریز هجری ۱۳۴۹ کال په اوږدو کې په کابل پوهنتون کې یوه جوړه شوې توطئه په لاره ولویده. دا تور لګیده چې کینې اړخو ځوانانو د قرآن شریف پاڼې سوځولې دي. د دې توطئي مشري د شرعیاتو د پوهنځي یوه محصل عبدالرحیم نیازی کوله ، نیازي تر دې وخته پورې د«ځوانو مسلمانو» د خوځښت مشرګنل کیده. خو نیازي لکه چې خپلې توطئي وخوړ. ډیر ژر سخت ناروغه شو او د علی آباد او وزیر اکبرخان روغتونونو وښوده چې نیازي د جګر په سرطان اخته دی. هغه بې د صبغت الله مجددي په نقدي مرستو هند ته ولیږه خوډیر ژر بې جنازه کابل ته را وړل شوه له دې وروسته د« دځوانو مسلمانو» د خوځښت چارې د انجینرۍ پوهنځي اخواني مشرانو او په سرکې ګلبدین حکمتیار ته ور پاتې شوې. له دغه وخته وروسته د اخواني خوځښت ویره وونکې څپې سختې درنې شوې داسې بریښیده چې دغه مهال د مصر د اخوان المسلمین خوځښت هم په ټوله عربي نړۍ کې د حسن البنأ له څه نرم چلند څخه د سید قطب او محمد قطب په مشرۍ سخت دریځي او آن فردي او ډله ییز ترور ته ور اوښتی و. حالاتو همغه وخت ښودنه کوله چې امریکایي روزونکي د نیمې یا یوې پیړۍ لپاره د خپل نفوذ زړي له همدا اوسه په مهارت روزي. ډیر وخت نه وو تیر شوی چې دغو اېښودل شوو زړو خپل مرګونی زهرې رنګ وښود. د کابل پوهنتون انګړ بې د سیدال سخندان په وینو سور کړ. حکمتیار د دغې وژنې مسؤل وپیژندل شو او له لږ بند وروسته پاکستان ته وتښتید او هلته تر نوې روزنې لاندې ونیول شو. له دې پیښې وروسته (ښایي مخکې وي) یې په لغمان کې دیوه ځلمي خلقي ژوند د حکمتیار د ډېر نږدې ملګري لغماني حبیب الرحمن په لمسه په ډیره بیرحمۍ ترینه واخیست. له دغو جنایتونو وروسته پاکستان هم ولیدل چې د افغانستان د تاریخي ځپلو امریکا روزلي زړي د دوی افغان دښمنو غرضونو ته ډیر مناسب وسایل دی. هغه وخت چې په افغانستان کې دشاهي کورنۍ د خپل منځي شخړو له کبله سلطنت راولوید او د سردار محمد داؤد په مشرۍ یو ډول جمهوری نظام عنوان شو. د لویدیځ او د سیمې په لویدیځ پورې تړلو هیوادونو دا وپتیله چې محمد داؤد د خپلو فکري او سیاسي آن اقتصادي تړاوونو له مخې د وخت شوروي اتحاد لوري ته لیوال دی او ښایي جمهوریت بې هم د هغو هیوادونو په پله ګام کیږدې کوم چې د سوسیالیستي لیوالتیا لاره بې غوره

کړیده. دغه وضعیت لویدیځ او سیمه ییزې ادې بې دې ته را وخوځولې چې له همدغو روزل شوو( اخواني) ډوله څیرو او خوځښتونو څخه ګټه پورته کړي.»

پورته معلوماتونه هغه څه دي چې د هغه وخت محصلینو په سترګو لیدلي چې زه د کتاب لیکونکي هم د دغو پیښو شاهد یم. که څه هم ما په پورته برخه کې په همدغه تړاو کره اسناد وړاندې کړي خو د افغانستان د هغه وخت عیني واقعیت همدا وو. د نیازي په څیر د قران د سوځلو تورونه حتا په ډیرو لیرو ولسوالیو کې د ښوونځیو پر هغو زده کوونکو چې خلقیانو سره اړیکې درلودلي او لا هم د سیاست په الفباء خبر نه وو، لګیدل. زما یاد دي چې په هغه دوران کې د هلمند ولایت د نوزاد ولسوالي پر یو ځوان زده کوونکي ګمان کوم هدایت الله نومیدي، ورته تور ولګیدي. داسې پیښې په ډیرو سیمو کې رامینځته شوي. دغه حالت پاکستان او امریکایانو ته سیګنال ورکړي چې په اسانی کولای شو، کینې او ښی ایډیالوژیکاني په وروسته پاته افغانستان کې سره ښکر په ښکر کړو.

د ښاغلي حصین د لیکنې څخه ښکاري چې په امریکایانو پورې تړلي پوهنځي د اخوانیت په ستر مرکز بدلې شوې وې، آن چې د شرعیاتو تر پوهنځي چې د اخوانیزم خښته هلته ایښودل شوی وه، امریکایي پوهځي مخکښه شولې. ما په همدې کتاب کې د اخوانیانو د بریدونو په تړاو چې د داود خان د جمهوریت پر ضد یې په پنجشیر، لغمان او کنړ کې تر سره کړل، د سي ای ای تړاو د برهان الدین رباني، ګلبدین حکمتیار او احمد شاه مسعود سره بیان کړي دي. پورته لیکنه یو بله کره سند دي چې اخوانیانو د پیل څخه د امریکایانو سره پخې اړیکې درلودي. همدا اوس وینو چې څرنګه پخواني اخواني څیرو او د جهاد مشرانو د امریکا د مستقیم اشغال لپاره زمینه برابره کړه او د امریکایانو د پریمانه ډالرونو په برکت په لوکسو بنګلو کې ژوند کوي او افغان مظلوم ولس یې په خونړیو منګلو کې ښکیل کړي دي. اخوانیانو د امریکایانو په مشوره او مرسته خپل ښځینه او نارینه اولادونه د نړۍ مشهورو پوهنتونونو ته واستول چې یو شمیر یې د معتبرو تحصیلي اسنادو سره راستون شوي دي تر څو د راتلونکو څو نسلونو پورې په سیاسي ډګر کې برلاسي وي او د دولت واګې په لاس کې ولري. خو همدغو اخوانیانو د جهاد په وخت کې تر (۳۰۰۰) اضافه ښوونځي ورانې کړې او مظلوم انسانان یې یوازې په دې نوم چې زوی او یا لور یې ښوونځي ته ځي، د مرمیو خوراک کړل.

**په افغانستان کې د مدرسو تاریخچه**

د مدرسو تاریخچه او د هغوي اغیزې د افغانستان په سیاسي چاپیریال کې تر بحث لاندې نیسم. په دې اړوند زما ډیر ګران دوست مولانا امین الدین سعید افغاني د

مدرسو د تاریخچې په اړوند یوه لیکنه را لیږلي چې دلته به یې عمده برخو ته ستاسو پام را اړوم:

**د امام ابو حنیفه (رح) مدرسه**

څرګنده خبره ده چې د دیني علومو مدرسې او یا هم په عنعنوي توګه د دیني علومو تدریس د ملایانو لخوا ډېره اوږده سابقه لري. د اسلامي علومو تدریس په وړو او په ځانګړې توګه په لویو مسجدونو کې د پیژندلو شوو مشهورو مولویانو لخوا کیدي او د سیمې او د یا د ټاکلي کلي د ځمکه والو لخوا مادي مرستې ور سره کیدلي. د طالبانو استادان په خپلو سیمو کې او په لویه کچه د دیوبند په مدرسو کې زده کړې تر لاسه کړي وې.

هغو استادانو چې دیني تدریس یې کولو د ملا، مولوي، مولانا، مدرس، سر مدرس او خطیب القاب یې درلودل.

د لومړي ځل لپاره د غازي امان الله خان په وخت کې (۱۲۹۸ لیږدیز لمریز کال) د ښوونې او روزنې د وزارت په چوکاټ کې لومړني ښوونځي د (دارالقضات امانیه) په نامه جوړه شوه. د دولت موخه دا وه چې د دیني علومو زده کړه هم منظمه او هم عصري بڼه غوره کړي او د دولت په درسي نصاب کې شامله او تر څارنې لاندې وې.

**د مدرسو جوړولو لړۍ**

د پورته پلان د پراخولو لپاره دولت پریکړه وکړه چې په هیواد کې نورې مدرسې هم پرانیزي چې د مهمو مدرسو نومونه لاندې لوستلای شي:
شاهي مدرسه، دارالعلوم عربیه، د شرعیه علومو مدرسه، د امام ابوحنیفه مدرسه، د کابل دارالحفاظ، مدرسهء نجم المدارس شرقی، د مزارشریف اسدیه مدرسه ، د میمنې ظاهرشاهي مدرسه، د میمنې دارالحفاظ ، د هرات جامع مدرسهء ، د هرات فخرالمدارس مدرسه ، د هرات دارالحفاظ ، د تخارستان مدرسهء په کندز کې، د کندهار محمدیه مدرسهء. (ل: باید ووایم چې دغو مدرسو په خپل وخت کې خلکو ته پر دیني علومو سر بیره د لیک لوست په زده کړو کې هم ځانګړي رول لوبولي دي. د هغه وخت او اوسنیو مدرسو لوی توپیر دا و چې د هغه وخت په مدرسو کې په لوړه کچه پر دیني زده کړو پاملرنه زیاته وه، هڅه یې نه کول چې ځوانان داسې وروزي چې د بنسټپالو سیاسي ډلو ښکار شي. اوس د هرې مدرسې د نوم سره ترهګري ، د بنسټپالي د افکارو روزنه، خشونت او انسان وژنه نه بیلیدونکي نوم دي.)

**د امام ابوحنیفه (رح) مدرسهء :**

دا مدرسه په (۱۳۲۲ ـ ۱۳۲۳ لیږدیز لمریز کال) کې د ښوونې او روزنې د وزارت لخوا په پغمان کې د (دارالعلوم شرعیه پغمان) په نوم جوړه شوه. د مدرسې د مدیر پوهاند عبدالحق تر وژل کیدو وروسته بګرام ته انتقال شوه چې د مدرسې تر څنګ مسجد او د زده کوونکو د شپې تیرولو ځای (لیلیه) هم ور سره جوړ شول. تر شلو کلونو فعالیت وروسته یې د امام ابوحنیفه نوم ور باندې کښیښودي.

**د کابل العربي دارالعلوم:**

د کابل د دارالعلوم درسي سیستم هم پورته مدرسې ته ورته و خو د ابوحنیفه مدرسې او درالعلوم د ازهر سره اړیکې جوړې کړي.

**د هرات فخر المدارس مدرسهٔ:**

دا مدرسه په کال (۱۳۰۸ لیږدیز لمریز کال) د هرات د خلکو په مادي مرستو جوړه شوه چې په رأس کې مولانا ضیاء الحق توخي و چې د هرات د مشهورو دیني عالمانو څخه و. مدرسه په کال (۱۳۱۲ ل.ل کال) د ښوونې او روزنې په وزارت پورې وتړل شوه چې په (۱۳۱۶ ل.ل کال) یې لومړي دوره فارغان ټولنې ته تقدیم کړل.

**د الجامع الشریف مدرسهٔ:**

دا ډیره پخوانۍ مدرسه ده چې په (۶۰۰ ل.ل کال) د ملک غیاث الدین غوري په وخت د خلکو په مادي مرستو جوړه شوه.

دا مدرسه په (۱۳۱۱ ل.ل کال) په عدلیې وزارت پورې وتړل شوه خو وروسته په (۱۳۱۹ ل.ل کال) د ښوونې او روزنې په وزارت پورې وتړل شوه. خو باید وویل شي چې دغې مدرسې کومه ودانۍ نه درلوده، درسونه یې د مسجد په کوټو کې لوستل. ویل کیږي چې دغې مدرسې یو ښه بډای کتابتون درلود.

**د مزارشریف اسدیهٔ مدرسهٔ:**

دا مدرسه په (۱۳۱۵ ل.ل کال) د مولانا عبیدالله صافي په نوښت او د خلکو په مادي مرستو جوړه شوه چې په (۱۳۴۱ ل.ل کال) د ښوونې او روزنې په وزارت پورې وتړل شوه.

**د ابی مسلم مدرسهٔ د فاریاب ولایت میمنه کې:**

دا مدرسه په (۱۳۱۵ ل.ل کال) د مولانا محمد جان هروي په نوښت جوړه شوه چې وروسته د ښوونې او روزنې په وزارت پورې وتړل شوه.

**د تخارستان مدرسهٔ د کندز په ولایت کې:**

دا مدرسه د کندوز په ولایت کې په (۱۳۱۱ ل.ل کال) د مولانا غلام سرور په نوښت پرانیستل شوه او په (۱۳۳۸ ل.ل کال) د ښوونې او روزنې په وزارت پورې وتړل شوه.

**محمدیه مدرسهٔ د قندهار په ولایت کې:**

دا مدرسه د قندهار په ښار کې په (۱۳۵۲ ل.ل کال) کې جوړه شوه.

**د الروحانی مدرسهٔ په گردیز پکتیا ولایت کې:**

دا مدرسه په (۱۳۵۱ ل.ل کال) کې جوړه شوه.

**د افغانستان رسمی دارالحفاظ :**

د دارالحفاظ درسي سیستم داسې تنظیم شوی وه چې په نهم ټولگي کې زده کوونکي منل د قران کریم د یادولو په څنگ کې د ښه قرات زده کول او د دینوي علومو اساسات زده کول وو.

**په افغانستان کې مشهور دارالحفاظ:**

**د کابل دارلحفاظ:**

دا دارالحفاظ د خلکو په مرسته جوړ او په (۱۲۸۱ ل.ل کال) د ښوونې او روزنې په وزارت کې ثبت شو. په دارالحفاظ کې د قران کریم یادول، د قران کریم لفظي ژباړل، تفسیر د عربي ژبې قوانین او فقه تدریس کیدل.

**د هرات ولایت دارالحفاظ:**

دغه دارالحفاظ په (۱۳۱۸ ل.ل کال) کې د ښوونې او روزنې په وزارت کې راجستر شو او په رسمي توگه د فخرالمدارس سره وتړل شو.

**د اندخوی دارالحفاظ:**

دغه دارالحفاظ په (۱۳۱۹ ل.ل کال) د ښوونې او روزنې د وزارت لخوا په رسمیت وپیژندل شو او هم د ابومسلم خراساني په مدرسه کې مدغم شو.

**د فاریاب ولایت دار الحفافظ:**

دغه درالحفاظ په (۱۳۲۲ ل.ل کال) د ښوونې او روزنې د وزارت لخوا په رسمیت وپیژندل شو او په ابي مسلم مدرسه پورې وتړل شو.

**د جلال اباد ولایت د کوټ درالحفاظ:**

دغه دارالحفاظ د جلال اباد ښار د کوټ په سیمه کې جوړ چې په (۱۳۵۲ ل.ل کال) په رسمیت وپیژندل شو او د هډه په نجم المدارس پورې وتړل شو.

د حج او اوقافو د وزارت مرستیال داعي الحق عابد په ۲۰۱۶ زکال په یوه مرکه کې وویل: په ټول هیواد کې ۳۵۰۰ مدرسې زموږ د وزارت تر څارنې لاندې دي او ۱۱۰۰ مدرسې د ښوونې او روزنې وزارت تر څارنې لاندې دي. مرستیال وزیر وویل چې د ښوونې او روزنې وزارت تر څار لاندې مدرسې تر څورلسم صنف څخه د فارغانو سند ورکوي خو زموږ د وزارت اړوند مدرسې ابتدایي دي.

وروستي معلوماتونه په ګوته کوي چې د ښوونې او روزنې وزارت تر څار لاندې مدرسې (۱۳۰۰) باب ته رسیږي چې (۲۵۰۰۰۰) زدکوونکي لري چې له دې ډلې څخه (۱۵۰۰۰) نجونې دې.

د امریکا ږغ په یو رپوټ کې چې صمصامه سیرت برابر کړي د ۱۳۹۵ لمریز لیږدیز کال د دلوې د میاشتي پر (۱۴) نیټه په دري برخه کې خپور شوي ، په کابل کې د سناتور جنت ګل خان تره خیل د مدرسې په باب چې سرلیک یې «د کابل د نجونو په مدرسه کې څه تیریږي؟» بیان کوي چې زه یې لنډیز وړاندې کوم: «نوموړی مدرسې لومړي ډله فارغین ۱۲۰ نجونې وې چې د ځینو نجونو سره لنډې مرکې شوي. په ټولیزه توګه ټولې نجونې د نجونو لخوا د سندرو ویلو او موسیَقي اوریدلو سره مخالفت لري او حرام یې ګڼي. یو شمیر فارغ شوو نجونو د بهرنیانو په وړاندې د طالبانو جګړه روا ګڼلې ده. د مرکو په لړۍ کې خبرلوڅې د مدرسې د یوې استادې سره چې ډیوه نومیږي مرکه کړي. نوموړي هم د موسیقي ږغول او سندرې ویل حرام ګڼي او د طالبانو جګړه د اسلام له نظره روا او ښه کار ګڼي.

د راپورونو له مخې څه د پاسه (۱۰۰۰ ـ ۸۰۰) مدرسې شتون لري چې راجستر نه دي. داعی الحق عابد، د حج او اوقافو مرستیال وزیر امریکا ږغ ته وویل چې موږ د غیري راجستر شوو مدرسو په تړاو ډیره اندیښنه لرو. که موږ د غیري راجستر شوو مدرسو مخنیوي وکړو نو په حقیقت کې د توندرو ایډیالوژیګانو مخنیوي به مو کړي وي.

پوځي کارپوه او د افغانستان د څارګرۍ اداري پخواني مامور، جاوید کوهستاني وايي چې د افغانستان ډيرې مدرسې د پاکستان د مدرسو سره ټينګې اړيکې لري او د هغوي لخوا مالي مرستې ور سره کيږي. نوموړي وويل د افغانستان ځيني مدرسې د پاکستان د حقانيه، نظاميه، بنوريه او نورو مشهورو پاکستاني مدرسو سره اړيکې پالي او ډير استادان يې هم د هغه مدرسو څخه دي. نو ځکه ويلای شم چې په افغانستان کې مدرسې د طالبانو د سربازګيري ځايونه دي چې يو شمير د منځني اسيا تندروه جنګيالي هم د افغانستان په مدرسو کې زده کړې کوي.»

پورته کره لاسوند جوته کوي چې په افغانستان کې د تندروه عقايدو درلوونکي د مدرسو او ديني درسونو په پلمه نه يوازې ځوانان بلکې نجونې هم جنګ او جګړو ته تشويقوي. څرګنده ده چې د پاکستاني مدرسو او څارګرۍ اداري لپاره هم د افغانستان مدرسې د جګړو د زياتوالي لپاره ښه امکانات په لاس ورکړي دي.

د حيرت ځای دا دي چې پاکساني مدرسو په اروپا کې هم د نفوذ ساحه د پام وړ پراخه کړي ده. دا چې زه د افغانانو په اړوند معلومات لرم نو ځکه يوازې زما معلومات په اروپا کې د افغاني ځوانانو په تړاو دي. پرته د مبالغې څخه هره افغانه کورنۍ د انټرنټ په مټ د پاکستاني ملايانو څخه ديني زده کړې کوي حتا نالوستې ښځې هم په دې چاره کې ښکيل دي. د کورنيو ځوانان او نجونې اړ ايستل کيږي چې په اونۍ کې دوه، درې ځله د انټرنټ د لارې د پاکستاني ملايانو ديني زده کړو ته غوږ شي، البته دا چې دغه ملايان څه ډول زده کړې ورکوي هيڅوک کنترول ور باندې نه لري، ولې دومره وايم چې په اروپا کې د بنسټپالي او اخوانيزم عقايد د ځوانانو او نجونو په مينځ کې ورځ تر بلې د پراخيدو په حال کې ښکاري چې يو اساسي علت يې هم د پاکستاني ملايانو د تدريس اغيزه ګڼم. کاش زموږ واليدين د اولادونو پر راتلونکي لږ سوچ وکړي.

**د ديوبند مدرسې په تړاو اضافي معلومات**

د ديوبند مدرسې مرکز د هند د اوتراپرديش ايالت د مظفرنګر او سارانپور ښارونو په مينځ کې موقعيت لري. د اسلام مبارک دين د محمد بن قاسم په واسطه هندوستان ته راوړل شوي دي او مسلمانانو ډير کلونه پر هند حکومت وکړي. د انګريزي استعمار په دوران کې حالتو بدلون وکړئ تر څو په ۱۸۸۷ زکال د ديوبند مدرسه د مولانا رشيد احمد ګنګوهي، ذوالفقار علي ديوبند، شيخ حاجي عابد حسين حسين احمد مدني، محمد انور شاه کشميري، ابوالحسن ندوي او محدث حبيب الرحمن الاعظمي پواسطه جوړه شوه.

که وغواړم په افغانستان کې د اسلامي بسټپالو ایډیالوژیګانو په تړاو څه ولیکم اړینه ده چې تر هر څه نه مخکې د هغو کسانو په تړاو لنډ معلومات ولیکم چې په افغانستان کې د بنسټپالو اسلامي ګوندونو بنسټ ایښي دي.

## تر جهاد نه مخکې د اخوان المسلمین د ګوند د مهمو غړو بیوګرافي

**غلام محمد نیازی:**
پروفیسر غلام محمد نیازی په ۱۳۱۱ کې د افغانستان د غزنې ولایت د اندړ د ولسوالۍ د رحیم خېلو په کلي کې زېږېدلی ؤ. لومړنۍ زده کړې یې د علي هجوري په ښوونځی کې سرته رسولی. د متوسطه او عالي زده کړو لپاره کابل ته تللی او د امام ابو حنیفه په مدرسه کې یې زده کړې و کړې. نیازی د افغانستان د حکومت له لورې په ۱۹۵۰ز کال کې د لوړو زده کړو لپاره د ازهر پوهنتون د اصول الدین پوهنځي ته واستول شو، هغه په ازهر کې د حدیثو څانګه کې د ماسترۍ تر کچې زده کړې کړې او په کال ۱۹۵۷م کې بېرته کابل ته راګرځېدلی دی.

له مصر څخه له راګرځېدو سره د کابل پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي کې استاد ټاکل شوی دی. وروسته د یاد پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي رییس هم ټاکل شوی.

نیازی په مصر کې د اخوان المسلمین له فکر نه متاثر شوی و او غوښتل یې افغانستان کې هم دغسې اسلامي حرکت پیل کړي. استاد برهان الدین رباني لیکي چې ده په ۱۳۳۶ز کال کې په افغانستان کې له نورو فکري ملګرو سره اسلامي نهضت تاسیس کړ. خو حکمتیار او د دغه نهضت ځوانان بیا په دې باور دي چې د نهضت بنسټګر، غلام محمد نیازی نه، عبد الرحیم نیازی و، چې د استاد نیازي له شاګردانو شمېرل کېده. مګر د نهضت مشران دغه نظر ردوي. انجنیر احمد شاه احمدزی چې د غلام محمد نیازي او عبد الرحیم نیازي له نږدې کسانو و او د عبد الرحیم د مرض پر مهال یې هند ته وړی و، له ژمن سره په مرکه کې ویلي دي چې عبد الرحیم نیازی په دې باور و چې دغه نهضت د غلام محمد نیازي له برکته تاسیس شوی دی.(معلومات د ویکیپېډیا)

**په افغانستان کې د اخوان المسلمین ګوند تاسیس:**
د (اسلام و سیاست در افغانسان) د کتاب د معلوماتو پر بنسټ د اسلامپالو د جنبش په تړاو معلوماتو ته ستاسو پاملرنه را ګرځوم:«په افغانستان کې د موډرن سیاسي اسلام لومړني بنسټ ایښودونکي عطاءالله فیضاني او سید اسماعیل بلخي یاد شوي دي دا دواړه کسان د روڼ اندو ځوانانو په کلوپ کې د ۱۹۴۰ زکال په پای کې ګډون درلود. د نورو کینۍ اړخو منورینو تر څنګ بلخي او فیضاني خپل اسلامي ډله جوړه کړه. د بلخي لار و واک ته رسیدو ته لنډه وه نو ځکه په ۱۹۴۹ زکال یې د پاچا پر ضد کودتاه تنظیم کړه خو ډیر کسان فکر کوي چې موخه یې د صدراعظم سردار شاه محمود خان وژل و. ولې دا پلان افشاء او د دغې ډلې شپږ مشران (ټول شیعه ګان وو) بندیان شول. بلخي تر ۱۹۶۴ زکال په زندان کې پاتې شو.

په هممدغه وخت کې مولانا عطاء والله فيضاني د ټولنې د معنوي ارزښت د را ژوندي کولو لپاره د (قران مدرسه) چې د پل خشتي جامع جومات ته نژدې وه، جوړه او اسلامي موعظې پيل کړې. د ځينو معلوماتو له مخې فيضاني د (خدام الفرقان) په نوم اسلامي سياسي ګوند جوړ کړي. خو ځينې ادعا کوي چې اسلامي ګوند د شور بازار د حضرت ابراهيم مجددي په نوښت په ۱۹۶۶ زکال جوړ شو. هر څه چې و فيضاني او مجددي د دې ډلې څخه ملاتړ کولو چې وروسته يې د (ندای حق) مجله هم خپرول. په ۱۹۷۳ زکال د داودخان تر کودتاه وروسته فيضاني د (مدرسه قرآن) او دوو نورو شيعه ډلو (قيام اسلامي او پيام اسلامي) تر مينځ يووالي تأمين کړي او د داودخان د حکومت د سقوط لپاره لاس په کار شول. د کودتاه پلان کشف او مشران يې بنديان شول. (ل:بايد وويل شي چې دا جنبش د شيعه ګانو وو، د رباني، مسعود او ګلبدين د کودتاه څخه بيل حرکت وو.)» (۱۵ ص،ص ۲۱۸ ـ ۲۲۰)

د نورو معلوماتو له مخې د جوانان مسلمان د ګوند تأسيس د کابل د شرعياتو په پوهنځي کې د ځينو استادانو لخوا په ۱۹۵۳ زکال کې لکه غلام محمد نيازي، سيد موسی توانا، وفی الله سميعي، استاد محمد فاضل، سيد احمد ترجمان صورت ونيوي. داسې هم ويل کيږي چې غلام محمد نيازي په ۱۹۷۲ زکال کې د جوانان مسلمان څخه استعفاء وکړه چې مشرتوب يې برهان الدين رباني ته ور د غاړې شو. يوه خبره اړينه ګڼم چې روښانه شي هغه دا چې دغه کړي ته د يو ګوند نوم ورکولای نه شو ځکه په هغه وخت کې د هر ډول سياسي ګوند جوړول منع وو. دا سياسي کړۍ وې چې په پټه يې د واک نيولو او يا لږ تر لږه د سياسي اسلام د عقايدو د خپرولو لپاره هڅې کولې.

بايد دا ومنو چې دواړه معلوماتونه درست دي ځکه لومړي يې په شيعه مذهب پورې تړلې کړۍ او بله يې د سنيانو د اسلامي خوځښت کړۍ وه.

د پورته کتاب د معلوماتو په ادامه:«د اساسي قانون د اعلان څخه مخکې په (۱۹۶۰) زکال کې د اسلامي کړيو تبليغات د محدودو شبنامو په څير وو. بايد وويل شي چې د اسلامي ډلو په پياوړي کولو کې د شوربازار مجدديانو رغنده رول درلودي. کله چې صبغت الله مجددي په ۱۹۵۳ زکال د ازهر د پوهنتون څخه هيواد راستون شو نوموړي د اسلام او فقهه په باره کې د ماسټری ډيپلوم اخيستي و. د سياسي اسلامي عقايدو په درلودلو سره څو ځله زنداني شو. نوموړي وايي چې وروسته مې د شريعاتو د پوهنتون د استاد غلام محمد نيازي څخه وغوښتل چې په پوهنتون کې د اسلامي جنبش په جوړولو کې لاس په کار شي ځکه ځان يې د دولت تر تعقيب لاندې احساساوه خو د ګهيځ په ورځپاڼې کې ليکنې خپرولې.

کله چې محمد صدیق سلجوقي د ښوونې او روزنې د پلان ګذاري ریس و او د سیاسي اسلامي عقایدو تر اغیزه لاندې و په تعلیمي موسیساتو کې د اسلام په تړاو د څیړنزو کمیټو په جوړولو پیل وکړي، صبغت الله مجددي او محمد هاشم مجددي ور سره ملګري وو.

صبغت الله مجددي په ۱۹۷۲ زکال کې سیاسي ګوند د (جمعیت العلمای محمدي) په نوم جوړ کړي خو دومره و نه ځلیدي ځکه مجددي د داودخان د راتګ سره سم ډنمارک ته کډوال شو.» (۱۵ ص ۲۲۳)

د یادولو وړ ده چې د داود خان د صدارت په دوران کې د اسلامي علماو او داود خان تر مینځ ټکر وشو. د یادې موضوع په اړوند په (سیاست و اسلام در افغانستان) کتاب کې داسې لولؤ:«د ښځو ازادې یانې لوڅ مخې هغه هڅونکي ټکي و چې ملایان یې وپارول. داود خان د علماو نیوکو ته ډیر ارزښت ور نه کړ نو په همدغه خاطر ځینو ملایانو د لوڅ مخو ښځو پر مخونو تیزابونه وشیندل. په قندهار کې هم په ۱۹۵۹ زکال د داودخان د فرمان سره مخالفتونه وپاریدل چې په ښار کې بلوا وشوه (دا موضوع زما په کتاب «او لاګلونه سوځي» په تفصیل بیان شوی ده.) خو ډیر ژر خاموشه شوه. په زرګونو ښځې د اعتراض په ډول سړکونو ته را ووتلې او د تیزاب شیندلو د عاملینو د سزا غوښتونکي شوي. داودخان یو شمیر کسان ونیول او زندان ته یې واچول.» (۱۵ ص ۲۰۴)

په ۱۹۷۴ زکال کې برهان الدین رباني د یو شمیر نورو اخوانیانو سره پاکستان ته پناه یوړه چې هلته د ذوالفقار علی بوټو د حکومت لخوا ورته ښه راغلاست وویل شو او د داودخان د حکومت پر ضد یې د پاکستان د څارګرې ادارې لخوا تر روزنې لاندې ونیول شول. برهان الدین رباني د حامد کرزي د واکمنۍ په وخت کې (۲۰۱۰ زکال) ووژل شو. داسې ویل کیږي چې د طالبانو د کویټې شورا د پلان له مخې ترور شو.

**مسلمان ځوانان (جوانان مسلمان)**

داهغه اسلامي ډله وه چې د ډیموکراسۍ د راتګ سره جوخت تأسیس شوه او د جهاد د وخت رهبران اکثراً د دغه سیاسي سازمان بنسټ ایښودونکي وو چې په اوسني حکومت کې هم ډیره لویه ونده لري . د دوی سیاسي عقیده د مصرد اخوان المسلمین د مکتب پیروی ده. دا هغه ډله ده چې د خپل شتون په ټول دوران کې د هیواد د عصري کیدلو په مخ کې خنډونه اچول او د ښځو د آزادي سخت مخالیفین وو او دي . د دیموکراسۍ په لسیزه کې یې پرلوڅ مخوښځو ډزې وکړې اوهم یې دکابل په ښارکي د ښځو پرمخونو تیزاب وشنیدل .

اخوانیانو همیشه د خشونت څخه کار اخیستی او د مبارزې لار یې منطق نه خو د هغه وخت د شرایطو پر بنسټ چړې کښل وو. بیلګه یې ولولئ:«سیدال سخندان چپی ماویست (شعله ای) و د پوهنتون په انګړ کې وینا کول او د اخوانیانو په واسطه ووژل شو چې ګلبدین حمکتیار د قتل په تور ونیوې» (۵ ص ۷۶)

نورې کوچنی مذهبې ډلې هم وې چې خپل د کمیت په پرتله یې د ښځو د نهضت د پرشاتګ له پاره خپل رول ادا کړی دی .

دمخه تردې چې د بنسټپالومذهبي ګوندونو او په ټولیز ډول د ټولو هغوځواکونو په هکله چې په اصطلاح د کابل د کمونیستي حکومت پرضد یې د مذهب تربیرق لاندې جګړه کوله ، لنډ معلومات وړاندې کړم غواړم د اسلامپاله ګوندونو (اخوانیانو) د مهمو اشخاصو بیوګرافي په لنډه توګه بیان کړم :
مخکې مې لنډه یادونه وکړه چې د دیموکراسی د لسیزې په پیل کې د نورو ګوندونو په څنګ کې د ځوانومسلمانانو په نامه یوه مذهبي ډله جوړه شوه. د همدغې ډلې د مشرتابه غړي او هم یې وتلي فعالین د دې جوګه شول چې په ځانګړي ډول د شوروي اتحاد تر یرغل وروسته د ۱۹۷۹زکال وروستی میاشت ، د سیاست په ډګرکښې په ښکاره ډول را څرګند شي چې د نړیوالو پاملرنه یې جلب کړه. که څه هم په پیل کې د شوروي یرغل پرضد د خلګوملي قیام پیل شو، خو ډیر ژر د پاکستان د څارګرې ادارې په لارښوونه او وروسته د امریکا، اسلامي او لویدیزو هیوادونو په ملاتړ د دوي شمیره مخ په ډیریدوشوو اوپه عملي ډول د افغانستان په سیاسي ډګرکې راښکاره شوو. دلته غواړم په لنډ ډول د اسلامي ګوندونو په هکله یادونه وکړم، کوم چې په ایران او په ځانګړي ډول په پاکستان کې د افغانستان د هغه وخت د حکومت پرضد جنګیدل . یوه موضوع ډیره روښانه ده چې په پاکستان کې میشت اسلامي ګوندونه په مستقیم ډول د پاکستان د څارګرې ادارې ترلارښوونې لاندې او په ایران کی میشت اسلامی ګوندونه د ایران د څارګرې ادارې ترنیغې لارښوونې لاندې په فعالیت بوخت وو او په ټولیزډول دا ګوندونه یا په مستقیم ډول او یا هم د پاکستان د څارګرو ادارو پواسطه د نورو اسلامي او لویدیزو هیوادو د څاروګرو ادارو سره اړیکې درلودې . ولې د امریکا څارګرې ادارې پر نوموړو ګوندونو اوهم د پاکستان پر ټول دولت په بشپړډول واک درلود چې وروسته به یې د اثبات له پاره څوبیلګې وړاندې کړم .

**د جهاد په وخت کې داسلامي ګوندونواو مشرانو په تړاو لنډ معلومات**

**۱ـ ګلبدین حکمتیار د اسلامي ګوند مشر**

حکمتیارد دیموکراسۍ د لسیزې په دوران کې د جوانان مسلمان یو فعال غړی و، او زیات بنسټپاله نظریات یې درلودل . نوموړی په قوم پښتون ، په ۱۹۷۱زکال کې د امام صاحب د لیسې څخه فارغ او د کابل پوهنتون د انجنیري پوهنځی یې پیل کړل په ۱۹۷۲زکال کې زنداني او په ۱۹۷۳زکال کې د داودخان د جمهوریت په راتلوسره آزاد شو، ولې نوموړی په ۱۹۷۶زکال کې پاکستان ته وتښتید.

**۲ـ برهان الدین رباني د جمعیت اسلامي ګوند مشر**

په ۱۹۴۰زکال په بدخشان کې په یوه روحاني کورني کې زیږیدلی دی په قوم تاجک تر لومړنیو تعلیماتو وروسته د کابل د ابوحنیفه په مدرسه کې شامل شو. ترمدرسي وروسته د کابل پوهنتون د شرعیاتو په پوهنځی کې شامل او په ۱۹۶۳زکال د شرعیاتو د پوهنځۍ څخه فارغ شو. او په همدغه پوهنځي یې کې د استادۍ دنده واخیسته. په ۱۹۶۵زکال په مصرکې د الازهر په پوهنتون کې شامل شو. د تحصیل ترپای ته رسیدو وروسته بیا هم د شرعیاتو په پوهنځي کې د استاد په حیث دنده واخیسته. په ۱۹۷۳زکال د جوانان مسلمان مشرشو اوپه ۱۹۷۴زکال پاکستان ته وتښتید. همدغه وخت دي چې د افغانستان د راتلونکي بدبختي خښته کښیښنودل شول څکه برهان الدین رباني د مصر د اخوان المسلمین د ګوند سره اړیکې پیدا کړي.

**۳ـ عبدالرب رسول سیاف د اتحاد اسلامي ګوند مشر**

په ۱۹۴۴زکال په پغمان کې زیږیدلي دی، په خټه پښتون دی. په ۱۹۶۳زکال د ابوحنیفه مدرسي څخه په کابل کې فارغ او په ۱۹۶۷زکال یې د کابل پوهنتون د شرعیاتو پوهنځی پای ته ورسوله. په ۱۹۷۰زکال د مصر د الازهر په پوهنتون کې شامل شو او د سعودي عربستان د پخواني پاچا ملک فهد سره هم ټولګی شو. په ۱۹۷۴زکال د خپلوتخریبي فعالیتونو په وجه په شپږ(۶) کاله زندان محکوم او په ۱۹۸۰زکال د شوروی تر یرغل وروسته له زندان څخه آزاد شو. ( ۱ ،ص ص ۲۴۴ ـ ۲۴۸ او ۲۵۵ )

غواړم دلته ووایم چې پورته درې رهبران په ځانګړي ډول رباني او سیاف هغه کسان دي چې د دیموکراسۍ په لسیزه کې یې د جوانان مسلمان په تأسیس کې غټ رول درلودی . دغه درې واړه رهبران د ښځوله آزادۍ اود ننی نړۍ د پرمختګونوسره په مخالفت کې خپلو سیاسي هڅو ته ادمه ورکوي. پورتني درې

واړه د تنظيمونو مشران د وحدت د ګوند او د جنبش اسلامي د ګوندونو په ملاتړد نورو جهادي قوماندانانو ترڅنګ د ((۱۹۹۲ ـ ۱۹۹۶ز)) کلونو په اوږدو کې د کابل د ښار د ورانولو اصلي عاملين دي او ترهمدا اوسه د افغانستان په سياسي ډګر کې تخريبي فعال رول لوبوی.

**۴ـ صبغت الله مجددي د جبهه نجات ملي افغانستان مشر**

مجددي په ۱۹۲۵زکال په کابل کې زيږيدلی دی او د الازهر د پوهنتون تحصيلات لري، مجددي د حبيبې ، غازي او استقلال په ليسوکې دنده اجرأ کړيده. او وروسته يې د کابل پوهنتون د اسلامي حقوقو د استاد په توګه دنده ترسره کوله. په ۱۹۶۰زکال کې د دولتي ضد فعاليتونو او د شوروي د هيات پر ضد د سوء قصد په تور زنداني او وروسته خوشي شو.مجددي د ((۱۹۷۶ـ۱۹۷۷ز)) کلنو په لړکې په پاکستان کې استوګنه کوله. نوموړی په ۱۹۷۹زکال کې ټول مسلمانان د جهاد له پاره د واکمن ګوند (د افغانستان د خلکو ديموکراتيک ګوند) پرضد راوبلل او په پاکستان کې ژوند کولو ته دوام ورکړي.
مجددي يو څه موده د ډنمارک په پلازمينه کوپنهاګن کې د اسلامي کلتوري مرکز مشرهم و، او د کورنۍ غړي يې اوس هم په ډنمارک کې ژوند کوي. مجددي په ۱۹۹۲زکال د مجاهدينو لومړنی جمهور ريس شو ، چې دوې مياشتې پردنده پاتې شو. دی اوس هم د افغانستان په سياسي ډګرکې فعال دی.

**۵ـ پيرسيداحمدګيلاني د افغانستان د ملي محاذ مشر**

پير سيداحمدګيلاني په ۱۹۳۱زکال په يوه روحاني کورنۍ کې زيږيدلي دی. د ده کورنۍ د تصوف د طريقې (قادريه) پورې اړه لري . ګيلاني مدني(دنيوي) تعليمات په غرب او ديني تعليمات په مصر، عراق اوسعودي عربستان کې ترلاسه کړي دي. پلار يې د محمدنادرشاه سره اړيکه درلوده مور يې د آلمان د يو لوړپوړی افسر لور وه. ( ۳۷ ،ص ص ۲۴۹ ـ ۲۵۲) د يو بل معلومات له مخې د ګيلاني مورمارتا ريخترنوميده (۲،ص ۳۰۶)

نوموړي دوه رهبران په اسلامي ګوندونو کې منځپالې دي او دواړه د جهاد په لړ کې د محمدظاهرشاه د پلويانو څخه ول. دوی غوښته چې د افغانستان پخوانی پاچا ته د افغانستان د ستونزو په حل کې ډيره ونډه ورکړي. او په ځانګړي ډول ګيلاني د خپلو پخوانيو اړيکو په وجه د پخوانی پاچا د ډيرو نژدې پلويانو څخه و. ګيلانی آزاده مفکوره لري، نوموړی د لويديز کلتور سره هم ډير بلديت لري ، ځکه موريې آلمانی وه.

**۶ ـ مولوي محمدنبي « محمدي» د افغانستان د حرکت انقلابي اسلامي ګوند مشر**

محمدنبي محمدي په ۱۹۳۷زکال د لوګرولايت په مرکز، بره کې کې زیږیدلی دی. محمدي د لوګر، غزنی او لغمان په مدرسوکې درس ویلی دی، نوموړي لوړې مذهبي زده کړې درلودې. تر ۱۹۷۳زکال دمخه د لوګر د مدرسي استاد او د ولسي جرګې غړی و. محمدي په ۱۹۷۸زکال پاکستان ته وتښتیدئ. د«خدام الفرقان» د سازمان پربنسټ یې خپل ګوند تأسیس کړ. د ګلبدین حکمتیار د بنسټپاله ګوند سره مخالف و. د ظاهرشاه د ګډون ملاتړ یې د افغانستان د کشالې په حل کې کاوه .

**۷ ـ مولوي محمدیونس خالص د اسلامي ګوند مشر**

مولوي خالص په ۱۹۱۹زکال د ننګرهار ولایت د خوګیانو په ولسوالۍ کې زیږیدلی دی. ډیرې لوړې دیني زده کړې یې نه درلودې. خو د مولوي لقب یې درلود. نوموړی د کابل په یو مسجد کې ملا و، او د اخوان المسلمین (جوانان مسلمان) غړی و. په ۱۹۷۸زکال کې د ګلبدین حکمتیار د اسلامي ګوندغړی شو، مګر د ځینو شخصي اختلافاتو په وجه ورڅخه جلاشو. په عین نوم یې خپل مستقل ګوند جوړکړ. (۱،ص ۲۵۳ ـ ۲۵۴)
باید ووایم چې مولوي خالص ځینې سپین ږیري کلیوال ملایان پرځان راټول کړي ول او د نوي عصرله پرمختګونوسره یې علاقه نه درلوده .

**۸ ـ په ایران کې د اسلامی ګوندونو کړي**

« په ایران کې هم د اسلامی ګوندونو ډلې د ایران د اسلامي جمهوریت د څارګرو ادارو تر لارښوونې او ملاتړلاندې په ۱۹۷۹زکال جوړې شوې... خوپه واقعیت کې یو اته ګونی ایتلاف چې منظمه سازماندهي یې نه درلوده ، په لومړي سرکې منځته راغی چې د(شورای ایتلاف) نوم یې ور باندې کښیښوئ. په دې اته ګوني ایتلاف کې لاندې ډلو ګډون درلود :

«۱ـ نصر ۲ـ حزب الله ۳ـ د اسلامي انقلاب ګډه (متحده)جبهه ۴ـ د افغانستان اسلامي انقلاب د ساتونکولښکر(سپاه پاسداران) ۵ – د افغانستان اسلامي حرکت۶ – د اسلامي نږدیوالي (اتفاق) شورا ۷ـ د اسلامي انقلاب حرکت ۸ – د افغانستان د مسلمانو مبارزینو سازمان» (۲،ص ۳۱۱)

**حزب وحدت اسلامی افغانستان**

که په لنډه توګه ووایم دا ګوند د ټولو پورته اته ګونو ګوندونو چې په ایران کې میشت وو او په افغانستان کې د شیعه مذهبو ګروپونو استازیتوب کولو د ملا تیر جوړوي. دا ګډ ګوند د اسلامي ایتلافي شورى وروسته جوړ شو. د شیعه مسلمانانو د مختلفو ډلو د یو ځای کولو لپاره د (۱۹۸۶ ـ ۱۹۸۸) زکلونو په دوران کې ډیرې هلې ځلې وشوې په مختلفو ځایونو او وختونو کې غونډې جوړې کړې. د ګنګري تر

جوړولو وروسته په ۱۹۸۹ زکال کې د وحدت ګوند پر جوړولو بریالي شول. د یووالي په سند کې د نصر، حرکت اسلامي، پاسداران جهاد اسلامي، جبهه متحد انقلاب اسلامی، نهضت اسلامی او نیروی اسلامی سازمانونو استازو لاسلیک وکړي. (۳، ص ۲۴۰)

د دې ټولو ډلو او ګوندونواصلي موخه د افغانستان د حکومت پرضد سیاسي او وسلواله مبارزه وه. ایران د دې ګوندونو تکیه ګاه وه. د دې ټولوګوندونو په تګلاره کې آیت الله خمیني د افغانستان د اهل تشیع لوړترین مذهبی لاربنود او مشراعلان شوی و. د امریکې د متحده ایالاتو اود هغوی له ملاتړکونکوهیوادونوسره د مناسباتو پریکول اوهم د هغو لویدیزوهیوادونو سره چې د ایران روحانیت یې په اسلامي نړۍ کې نه مانه ، د مناسباتو نه درلودل تأکیدشوی وو. او ایران د یو لوی اوغښتلي تکیه ګاه په توګه د افغانستان د اهل تشیع د حقوقوڅخه په دفاع کې بلل شوی و»

(۱ ،ص ص ۲۵۹ ـ ۲۶۰)

باید دا ووایم چې په دغو ګوندونو کې د کلونوپه اوږدوکې بیلاوالی اوڅو ځلي اییتلافونه رامنځته شول . دا چې د ایران اړیکې د لویدیزو هیوادونو او په ځانګړې توګه له امریکا سره ډیرې ترینګلې وې ، نوځکه یې د هغوي سیاسي اواقتصادي مرسته په ډیره پیمانه له ځانه سره نه درلوده. د پورته او یو شمیرنورو دلایلو پربنسټ یې په جګړه کې ډیر پرمختګ ونه کړ او په ټولو سیاسي غونډو کې د ایران میشته ټولو ډلو ته په یوه واحد حق باندې قایل وو .

په همدي ډول په یولړاروپایي هیوادونو او په امریکا کې د افغانانو د کمیټو په نامه د افغانستان د حکومت پرضد ځیني ټولنې را منځته شوی وې چې د کوربه هیوادونو ملاتړ یې له ځانه سره درلودئ.

**حزب ارشاد ملی**

په ۱۳۲۰ لمریز لیږدیزکال (۱۹۴۱ ز کال) یانی نیمه پیړۍ مخکې څو طالبان د مشهد څخه هرات ته راغلل او تقریباً د دوو کلنو په جریان کې (۱۳۲۲ ـ ۱۳۲۳ ل.ل) یو اسلامي ټولنه جوړه کړه. مهم غړي دا دي: حجت الاسلام سید اسماعیل بلخی، حجت الاسلام سید محمد حیدر قطب غزنوی، حاجي عبدالغفار، ملا عبدالحسین منجم باشی.

کله چې د دغې اسلامي ټولنې غړي کابل ته راغلل په چنداولو کې استوګنه کول. په (۱۳۳۴ یا ۱۳۳۵ ل.ل) کلنو کې مرکزي کمیټه جوړه او «حزب ارشاد» نوم یې ورته غوره کړی. (۳ ص ۲۵۴)

**حرکت اسلامی افغانستان**

دا سازمان د شيخ اصف محسنی قندهاری لخوا په ۱۳۵۸ ل.ل کال د ايران د قم په ښار کې جوړ شو. (۳ ص ۲۵۹)

ښاغلي حبيب هوتکي د فيسبوک پر پاڼه د خپل ياداشتونو کې د اخوانيانو د لومړنۍ وسلوال بريد چې د داود خان دجمهوريت پر ضد يې وکړ په زړه پورې مطلب تر لاندې سرليک لاندې ليکي:

«په بدخشان کې ـ رباني، په پنچشير کې – مسعود، په لغمان کې حکمتيار جوزای ۱۳۵۳ ش

په ۱۳۴۳ ل.ل کال د اساسي قانون تر تصويب وروسته د کابل پوهنتون د سياسي فعاليتونو مرکز شو چې د نورو سياسي ډلو په څنګ کې د جوانان مسلمان ډله چې مخالفينو يې اخوانيان ورته ويل را څرګنده شوه. مشهورې څېرې يې ګلبدين حکمتيار د انجنيري پوهنځي د دوهم ټولګی محصل، عبدالرحيم نيازي د شرعياتو د پوهنځي استاد، ډاکټر عمر، حبيب الرحمن او سيف الرحمن يادولای شم. چې يوازې ګلبدين ژوندي او نور وژل شوی دي. برهان الدين رباني په شرعياتو پوهنځي کې کار کولو چې علني فعاليت يې نه کولو او د احمد شاه مسعود هيڅ څرک نه و.

په ۱۳۵۳ ل.ل کې داود خان پريکړه وکړه، هغه کسان چې ليسانس او يا تر هغه لوړې زده کړې لري بايد د عسکري خدمت د احتياط ظابط په توګه شپږ مياشتې تر سره کړي. زه او د داود خان زوی شهيد خالد دواړه د سرې مياشتې په پخوانۍ ودانۍ کې چې د پوليتخنيک څنګ ته پرته وه په تعليمي غنډ کې شامل وو.

د ۱۳۵۳ ل.ل کال د جوزا مياشت وه چې د تروم ووهل شو، موږ په بيړه د عسکري جامو په اغوستلو بوخت شوو او لوی ميدان ته حاضر شولو. د حاضري په اخيستلو پيل وشو چې په ټولی کې دري ـ څلور تنه غير حاضر وو غير حاضران هغه کسان وو چې په ناکامه کودتاه کې ګډون کړي وو. د کودتاه په جريان کې ښوونځيو، دولتي ودانيو ته اور واچول شوو، سړکونه او پلچکونه يې وران او مشران پاکستان ته وتښتيدل. په پاکستان کې د ذوالفقار علي بوټو د حکومت لخوا ښه راغلاست ورته وويل شو او د ای اس ای په کماندويي کمپ کې تر روزنې لاندې ونيول شول. د همدغه ځای څخه اوه ګوني اسلامپاله ګوندونه وزيږيدل.»

**حزب الاحرار**

امريکا ږغ ۲۰۱۷/۱۱/۱۲ زکال

طالبانو د حزب الاحرار په نوم نوې ډله اعلان کړل

د حزب الاحرار په نوم ډله د مکرم خان مهمند په مشرۍ اعلان شوې ده. د پاکستاني طالبانو د سیوري لاندې جماعت الاحرار ډلې نه د حزب الاحرار په نوم یوه بله ډله د یو شمېر اختلافونو په سر جدا شوې او ویلي یې دي یواځې پاکستان کې دننه به خپل جهادي عملیات کوي.

د نوې ډلې حزب الاحرار مشري مکرم خان مومند کوي. د پاکستاني طالبانو په اوسنیو او پخوانیو مشرانو او نورو پېژندلو څېرو کې مکرم خان مومند نا اشنا څېره ده.

حزب الاحرار کې څوک دي؟ د حزب الاحرار په نوم ډلې اعلان یوه خپره شوې ویډیو کې چې د وسلو په لاس څو کسان راجمع شوي ناست دي او په پښتو ژبه کې خبرې کوي، خو دا نه ده مالومه چې دا ویډیو په کوم ځای کې او کله جوړه شوې ده.

په ویډیو کې د کمانډر مسلم یار په نوم یو تن د نوې ډلې اعلان کوي چې د جماعت الاحرار سره د اختلافاتو په سر یې حزب الاحرار ډله جوړه کړه او دغه تن په خپلو خبرو کې د جماعت الاحرار سره د اختلافاتو تفصیل هم وایي.

مسلم یار په رسمي ډول د ډلې ترڅنګ د ویاند نوم هم اعلانوي چې ډاکټر عزیز یوسفزی به یې ویاند وي او وایي «جهاد به یې یواځې د پاکستان پورې محدود وي.»

څېړونکی طاهر خان وایي په څرګنده په دې ډله کې د شاملو خلکو شمېر نه دی مالوم، بل دا چې دوي دا وخت چیرته دي، خو دغه رنګ ډلې بیا داسې توان ضرور لري چې هدفي عملیات وکړي. نوموړی زیاتوي چې د جماعت الاحرار نه په دې ډله کې څومره خلک شامل شوي یا د بهر نه ورله څومره راغلي خو ویل کیږي چې نږدې نیم خلک په دې نوې ډله کې شاملیږي، بل دا چې د دې بلېتون سره به جماعت الاحر څومره کمزورې شي دا به وروستو مالومیږي. هغه دا هم وویل، داسې هم نه ښکاري چې دا ډله په داعش کې ورګډه شي

مکرم خان مومند څوک دی؟

ویل کیږي مکرم خان د قبایلي سیمې مومند ایجنسۍ سره تعلق لري او د جماعت الاحرار ډلې د عسکري څانګې مسؤل ؤ او په دغه ډله کې یې خپل ځای درلود. ویل کیږي هغه د خپلې ډلې د مشرانو سره په ځینو خبرو اختلاف لرو، او د دغه ویډیو په اخره کې هغه په خپل غږیز پېغام کې د جماعت الاحرار د ځینو بریدونو یادګېرنه کوي چې پکې د واهګه په پوله برید، د مردان په کچرو برید او لاهور کې په

عیسویانو برید هم یادوي چې په دې کې عام خلک وژل شوي وو. هغه وايي د دغو اختلافونو ترڅنګ يې د ځینو نورو خبرو سره هم اتفاق نه کوو او مشرانو يې خبره نه اورېده ځکه دوي د بیلېدو فېصله وکړه، هغه وايي ډېر زر به خپله پوره تګلاره اعلان کړي.

جماعت الاحرار څنګه جوړه شوې وه؟

جماعت الاحرار د پاکستاني طالبانو د سیوري لاندې په کال ۲۰۱۴م کې د عمرخالد خراساني په مشرۍ جوړه شوې او هغه وخت هم ویل شوي وو چې دا ډله د مشرانو د اختلافاتو په سر جوړه کړې شوه. دې ډلې په ملک کې د یو شمېر ترهګر بریدونو زمه وارۍ منلي، او په وروستیو کې ویل کېده چې د دغه ډلې مشر په امریکایي ډرون برید کې ژوبل او بیا وژل شوی دی خو د هغې خبر د ازادو سرچینو یا طالب وسله والو لخوا پخلی نه دی شوی. ویل کیږي احرار ډله کې زیاتره د مومند ایجنسۍ سره تعلق لرونکي تندلاري شامل دي او دوي په کال ۲۰۰۷زکال کې د اسلام اباد سُور جومات (لال مسجد) د پوځي عملیاتو وروستو خپلې هلې ځلې پېل کړې وې.

د عبدالولي عرف عمرخالد خراساني په مشرۍ دا ډله ملګرو ملتونو سږ کال او پاکستان تېر کال د لاقانونه ترهګرو ډلو په نوملړ کې شامل کړې ده. د سږ کال اپریل په میاشت کې د پاکستان پوځ ویلي د دغه ډلې ویاند احسان الله احسان ځان پوځ ته سپارلی دی. د پاکستان پوځ ادعا کوي په قبایلي سیمو کې د پوځي عملیاتو له امله ټول د پولې نه پورې غاړې افغانستان ته تښتېدلي دي، چې پکې د جماعت الاحرار د تندلارو هم ویل کیږي. د حزب الاحرار په اړوند د دغه ډلې کوم غبرګون لا مخې ته نه دی راغلی.

**د امام زمان نوې بنسټپاله ډله**

« د سپوتنیک د خبر له مخې د ۲۰۱۷ زکال د نومبر په لسمه نیټه د شیعه مذهب د پیروانو لخوا نوې تندروه ډلې د خپل شتون اعلان کړي دي. د خبر له مخې دا ډلې تیره شپه د کابل په لویدیزه برخه کې د یوې شپې پاڼې (شبنامې) په ویشلو خپل شتون اعلان کړي. په شپې پاڼه کې ویل شوی دي چې هلکان او نجونې باید خپلې جامې د اسلامي شریعت مطابق عیاري کړي پرته له دې به ووژل شي. په شپې پاڼې کې دا هم راغلي دي چې دوي د سیاست او نورو ډلو سره هیڅ تړاو نه لري یوازې غواړي د اسلام مقدس دین احکام پیاده کړي.

د شپې پاڼې په یوه بله برخه کې راغلي چې ځینې قهوه خانې (خوړنځایونه) د فحشاء د خپرولو سبب کیږي نو باید وتړل شي. همدا ډول هغه ځوانان چې په واټونو کې د خلکو د ازار سبب کیږي باید خپل ځانونه اصلاح کړي.

د شپې پاڼې په وروستۍ برخه کې راغلي، پورته ډلې چې يادي شولي که د دغې شپې پاڼې د خپرولو د نيټې څخه تر (۱۳) ورځو اصلاحات را نه ولي، د امام زمان د ډلې لخوا وبه وژل شي.»

جالبه دا ده چې د امريکا د ماموريت د اوږديدو سره نوي ترهګرې ډلې را پيدا کيږي. لومړي ډله داعش او دا دي اوس د امام زمان ډله را څرګنده شوه. شک نشته چې د ترهګريزو ډلو په را ټوکيدلو کې د نړيوالو او سيمه ايزو حکومتونو لاس شته خو فکر کوم چې نوي ډله د ايران لخوا را منځته شوي تر څو د داعش په وړاندې د شيعه ګانو ساتنه وکړي او سياسي موخو ته د رسيدلو لپاره شيعه مذهبه ډله د سياست ډګر ته په بل ډول را کش کړي.

## دریم څپرکی

**د کابل خلقي حکومت او مجاهدین**

**جهاد:**

د جهاد او جرګې کلیمې په افغانستان کې ډېرې تاریخي ریښې لري که د میرویس خان نیکه وخت ته وګرځوو هم د جهاد د نوم سره مخامخ کیږو ځکه میرویس خان نیکه مکې معظمې ته د حج د فریضې د اداْ کولو لپاره ولاړ خو هلته یې د ډېرو مشهورو اسلامي علماو څخه د جهاد فتوا واخیستل پر فتوا یې د دوي لاسلیکونه وکړل کله چې کندهار ته راستون شو نو فتوا یې ولس ته وښودل او د یوې جرګې تر پریکړې وروسته یې د ګرګین پر ضد جهاد اعلان کړ. ولس ته هم مذهبي فتوا او د جرګې پریکړې ډیر ارزښت درلودي نو ځکه یې ګرګین مړ او واک یې میرویس خان نیکه ته وسپاره. امان الله خان هم د انګریزانو پر ضد د جهاد اعلان وکړي نو ځکه یي د افغانستان استقلال وګاټه.

که نبي علیه السلام وخت ته وګرځو او دیني متون وګورو د جهاد کلیمه د نفس سره د جهاد په نوم تعبیر شوي ده خو د جهاد کلیمې ژر سیاست ته درز وکړ. راشي چې د جهاد مفهوم (افغانستان و اسلام در افغنستان) څخه ولولو:«جهاد د خدای په لار کې جګړه تعبیریږي یانې مسلمانان د کفارو پر ضد جګړه یو مقدس ارمان بولي. همدغه علت دي چې جهاد د اسلامي نظام د جوړولو لپاره یو اړین عنصر ګڼل کیږي. البته جهاد یوازې جګړه نه بلکې هر هغه څه چې په جګړه کې د بریالیتوب سبب ګرځي، جهاد ګڼل کیږي.

په موډرن اسلام کې جهاد دوه ډوله دي: اول د اسلام د عقایدو د خپریدو لپاره تبلیغات یانې اسلام ته دعوت کول. دوم هغه مفکوره چې دفاع ور څخه کوي. د دومې کټګورې په تړاو باید ووایو چې:

الف: د هر هغه تجاوز دفع کول چې د دښمن لخوا د مسلمانانو مال او ژوند ته ضرر رسوي. دا جهاد د قران د (۲:۱۹۰) سوره په اساس کیږي. هلته وایي د خداي په لار کې وجنګیږي د هغه چا په وړاندې چې ستاسو په مقابل کې جنګیږي ولې دښمنې باید و نه هڅول شي.»(۱۵ص ۲۳ ـ۲۴)

په ټولیزه توګه جهاد په اوسنې عصر کې د سیاسي موخو او واک نیولو لپاره کاریږي خو د افغانستان د مجاهدینو جهاد د اسلام په تاریخ کې ساري نه لري چې موخه یې واکداري، د شتمنیو ټولول، د سیاسي مخالفینو وژل په ځانګړې توګه د توکمیزو ، مذهبي او ژبنیزو اختلافاتو پر بنسټ د عامو وګړو وژنه روا ګڼل. د

مخالفینو پر ښځو جنسي تیري او یا نور وحشیانه کړنې هم د الله اکبر او جهاد تر نوم لاندې سرته رسول. د امریکا د پوځ په مشرتابه یې واک ونیوي چې جهادي مشران برسیره پر دې چې هیواد یې په کفارو اشغال کړي، شتمني یې هم دومره راټولې کړي چې د نړۍ د میلیونرانو په لیکه کې شمیرل کیږي. یا په عامیانه اصطلاح جهاد یې مردار کړي. د جهاد مقدسه کلیمه یې د ولس په مینځ کې د نفرت او وحشت په کړونو بدله کړه. باور لرم چې په افغان ولس کې د جهاد کلیمه نور خریدار نه لري او د آبد لپاره خاورو ته وسپارل شوه.

پورته مې د اوه ګونو او اته ګونو ګوندونو په تړاو لنډ بحث وکړي خو اوس غواړم دا بیان کړم چې د ۱۹۷۸ زکال د اپریل د (۲۷) نیتې پوځي پاڅون بریالي او وروسته د دولت په وړاندې مخالفتونه پیل شول.

داود خان هم د کیڼ اړخو پوځیانو په مټ د واک څښتن شو خو بیا هم د خاندان پیژندل شوي غړي و، د عادي ولس لپاره کوم داسې بدلون نه تر سترګو کیدې چې په وړاندې پاڅون ته وهڅول شي. د اخوانیانو محدود بغاوت هم و نه کولای شوای چې د پاکستان د مرستو سره سره اخوانیان وتوانیږي چې د سردار محمد داود ته په لوي ګواښ بدل شي. د دغه بغاوت په تړاو د پاکستان رول زیات و چې لاندې یې ولولئ:«د داودخان د جمهوریت په راتلو سره پاکستان ډیر اندیښمن و ځکه د داودخان موقف د پښتونستان د موضوع په اړوند پاکستان ته روښانه و، په پیل کې د دري نفري هیت په واسطه د ظاهرشاه څخه وغوښتل چې پاکستان ته راشي او د دواد خان پر ضد په جګړه پیل وکړي خو ظاهرشاه دا غوښتنه رد کړه. متقاعد جنرال نصیرالله بابر چې په دغه وخت کې د شمال لویدیزې سرحدي صوبې ګورنر و، د ګلبدین حکمتیار، برهان الدین رباني او قوماندان احمد شاه مسعود څخه غواړي چې د دواد خان د جمهوریت پر ضد بغاوت پیل تر څو داود خان د خپلو پلانونو د عملي کولو څخه پر شاه کړي. همدغه علت و چې په ۱۹۷۵ـ ۱۹۷۴ زکلنو کې د پاکستان په مرسته په پنجشیر، کنړ او لغمان کې وسلوالې نښتې وشوي.» (۶، ص ۲۲)

زموږ په هیواد کې د اسلامي ډلو بنسټ د پردیو ځارګرو ادارو په مټ کېښېښودل شو او د مبارزې په ټول دوران کې د پردیو تر سیورې لاندې د حکومتونو او ملي جنبشونو پر ضد جنګیدل چې تر همدغه شیبې د بهرنیو ځارګرو ادارو په غوښتنه خپل ولس پر ضد هره ناروا کړنه روا ګڼي او د شتمنیو د ټولو لپاره د هیڅ ناوړه او ضد ملي چارې څخه ډډه نه کوي. خو هیره دې نه وي چې کیڼ اړخه ګوندونو هم په لویه کچه پر پردیو تکیه درلوده البته تمایل یې د ګډې ایډیالوژي په خاطر په وروري بدل شوو. اساسي علت دا و چې کیڼ اړخو مشرانو د ساده افغانانو په څیر

باور درلودي چې شوروي اتحاد او چين به په رښتيا انترناسيوناليستي عقايدو ته دومره وفاداره وي چې د نورو وړونو ګوندونو د ولسونو سره به پرته د خپلو ګټو څخه وروري غواړي. په همدې وجه کيڼ اړخه ګوندونه د خپل ولس څخه ليري شول او د سختي ناکامي سره مخامخ شول.

داودخان په پيل کې ډير مترقي پلان وړاندې وکړي چې کيڼ اړخو ګوندونو او د هيواد روڼ آندو ته اميدونه پيدا شول چې ګواکي د داودخان په ملاتړ به په هيواد کې مترقي ريفورمونه راشي او هيواد به د سوکالي په لور وخوځيږي. دا هر څه سرچپه شوه، داودخان خپلې وعدې هيرې کړي لومړي يې د مخالفو اخوانيانو په ټکولو او اعدامولو پيل وکړي، کله چې د اخوانيانو څخه تر يوې کچې فارغه شو نو يې د کيڼ اړخو په ټکولو په ځانګړي توګه د پرچميانو ليرې کول د لوړو مقامونو څخه د کار پيل و. د بيلګې په توګه د کورنيو چارو وزير، فيض محمد، د کرهنې وزير جيلاني باختري او نور د حکومت څخه ليري کړل. په ورته وخت کې د اسلامي هيوادونو او امريکا لخوا تشويق شو، چې د دوي په اصطلاح کمونيستان وټکوي. په ځانګړي توګه د امريکا په اشاره ايران د دغې موخې د پياده کولو لپاره د ميليياردو ډالرو مرستو وعده وکړه. پايله دا شوه چې يو ګوندي سيستم يې اعلان او پر ټولو سياسي ګوندونو باندې سخت بنديز ولګولو. دلته غواړم يوه مهم ټکی ته اشاره وکړم: ډير کسان وايي چې د ثور پوځي پاڅون د ټولو بدبختيو اصلي دليل شميرل کيږي خو زما په آند لومړي حرکت داودخان وکړي چې شاهي نظام يې ړنګ کړ، دوهمه حمله هم اخوانيانو وکړل. که تر دې هم تير شو، داود خان خو په خدايي مرګ مړ کيدي نو څه فکر کوي چې د هغه تر مرګ وروسته به د دفاع وزير حيدر رسولي، د کورنيو چارو وزير نورستاني او نورو د واک ترو به څه انډو خره په افغانستان کې جوړه کړي واي؟ ايا تاسې فکر کوي چې اخوانيان به ارام کښينستلي واي؟ هر ګز نه. افغانستان د تاريخ په هغه حساس پړاو کې د ډيرو بلاو خولې وازې پاته وي. د لږ چانس په درلودلو سره يې افغانستان پر ارامه نه پريښودي. فکر وکړي چې سردار نعيم او د داود خان زوي محمد عمر د داود خان د وژلو پريکړه کوي ځکه افغانستان ته ستر ګواښونه احساسوي. په داسې يو حالت کې داود خان د خلکو پر ډموکراټيک ګوند بريد کوي چې هغوي د مجبوريت له مخې داود خان د واک څخه ليري کوي او دغه بد چانس يې په نصيب کيږي چې اوسنۍ بدبختي په داسې حال کې ور باندې تاوانيږي چې په زرګونو او سل زرګونو تنکي خلقي ځوانان او د کورنۍ غړي يې په جګړو کې سرونه نذرانه کوي خو تر اوس لا هم د تهمتونو او تورونو څخه خلاصون نه لري.

دا چې ولې د خلق ډموکراتیک ګوند د داودخان پر ضد پوځي پاڅون وکړي، د دې تر څنګ چې داودخان پر ګوند حمله وکړه، مشران یې زندان ته ټیل وهل نور عواملو هم شتون درلودي چې ګوند په وسلوال برید لاس پورې کړي. غواړم د خلک ډموکراټک ګوند د دواړو څانګو پرچمیانو او خلقیانو اوږد مهاله پروګرامونو لنډ ته نظر واچوم:

۱ ـ پرچمیان: پر چمیانو د داود خان سره ډیرې نژدې اړیکې درلودي تر دې کچې چې د عبدالوکیل د کتاب په حواله چې داودخان غوښتنه ورځخه کړی وه چې راشئ زما ګوند هم تاسې جوړ کړي خو باید وویل شي چې ورته اړیکې د خلقي څانګې سره نه درلودې. لکه پورته چې وویل شول ډیرو پرچمیانو ته یې د دولت لوړ مقامونه او د ځینو ولسوالیو واکداري وسپارل خو بیا هم د پرچم په ګوند کې د ببرک کارمل تر مشري لاندې نوراحمد نور او عبدالوکیل چې د ګوند د پوځي څانګې مسولین وو، د کودتاه خیالونه درلودل. د پرچم په څانګه کې میراکبرخیبر د هر ډول پوځي عمل سره مخالفت درلودي.

۲ ـ خلقیان: د خلقیانو په څانګه کې حفیظ الله امین د پوځ مسول و چې د سرطان تر کودتاه وروسته یې د جلب او جذب فعالیتونه ډیر ګړندي کړل.

د دواړ ډلو دلایل چې ولې حکومت نسکور کړي دا وو: محمد داود د خطاب مردم د وینا د وعدو څخه پر شا شوي دي، د لویدیز، عربي هیوادونو او ایران سره یې د اړیکو په ټینګولو کې تلاښونه پیل کړل. د شوروي اتحاد سره یې په بیړه اړیکې سستي کړي. د لویدیز، ایران او عربي هیوادونو په غوښتنه یې په افغانستان کې د خلق ډموکراتیک ګوند ټکولو ته لیځي ونغښتلي. دواړو څانګو ډار درلودي چې کیدای شي اخوانیان واک تر لاسه کړي. تر ټولو مهمه دا وه چې شوروي اتحاد د داودخان څخه خطر احساس کړي نو ځکه یې د خلق ډموکراتیک ګوند د داوړ څانګو د یووالي پریکړه وکړه چې البته دا کار یې په بریالیتوب سره تر سره کړي.

د ثور د پوځي پاڅون وروسته د مشرانو په ویناوو کې ویل کیدل چې د خلق ډموکراتیک ګوند مشرتابه پریکړه کړی وه چې دولت د ګوند پر رهبري برید وکړي باید پوځي پاڅون پیل شي. زما په آند که برید هم پیل شوی نه وای پوځي پاڅون په یوه یا بله نیټه پیل کیدي ځکه ما د خلقي مشرانو د خولې څخه اوریدلي دي او د عبدالوکیل د کتاب په استناد پرچمیانو هم ورته پلان درلودي.

کله چې د داودخان حکومت سقوط وکړي د لومړي ورځې څخه د خلقي حکومت پر ضد مختلفو کړیو بډي را ونغښتلي د اداعا د اثبات لپاره ډیر شواهد شته چې ما په خپلو سترګو لیدلي ولې تاسو د همایون شاه اصفي اعتراف ته را بولم:«همایون شاه

اصفي د داودخان د حکومت په ورستيو وختونو کې د المان په بن کې د سکرتر دنده تر سره کول خو د اپريل د پوځي پاڅون سره يې ميرمن، روښانه اصفي د شاهي خاندان د نورو غړو سره زنداني کيږي او نومړي کابل ته غوښتل کيږي خو همايون شاه اصفي د ناروغي پلمه کوي په داسې حال کې چې انجنير نظرمحمد د سفير په توګه ورته وايي چې زمونږ حکومت ستاسو په شان خلکو ته اړتيا لري. خو نومړي وړانديز ردوي او سفارت پريږدي. همايون شاه اصفي خلقي بيرغ د سفارت پر ودانۍ ويني او د جهاد انګيزه يې په وجود کې پاريږي. د ۱۹۷۸ زکال په ورستيو وختونو کې په داسې حال کې چې ميرمن يې د بند څخه ازاده شوي په پاريس کې د پناه غوښتلو عرض پاڼه وړاندې کوي او په پاکستان کې د اسلامپالو ډلو د فعاليت څخه خبريږي او ځان جهاد ته تياروي.»(۶،ص ۱۸)

که پورته مطلب په غور وڅيړل شي څرګنديږي چې پرته د کومې ځانګړي دښمني څخه په داسې حال کې چې ميرمن يې هم ورته ازاده کړ خو بيا يې هم د جهاد لار خپله کړه. څرګند دليل دا دي چې په غير د شاهي کورنۍ څخه د ولس حاکميت ته غاړه ايښودل ورته د شرم چاره ښکاريده. په واقعيت کې مخکې تر دې چې خلقي حکومت کوم فرمان صادر کړي په هيواد کې بغاوت پيل شو چې د کنړ لومړي بغاوت يادولای شم.

همايون شاه اصفي د جهادي ګوندونو سره اړيکې ساتي او د دوي د يوالي لپاره ډيرې هڅې کوي خو «په ۱۹۸۹ زکال کې د صبغت الله مجددي لخوا د حاجي په کمپ کې يوې جرګې ته بلنه ورکول کيږي تر څو عبوري حکومت وټاکل شي. همايون شاه اصفيويني چې د جرګې ټولې چارې د پاکستان د څارګرې ادارې لخوا تنظيميږي نو په غونډه کې د ګډون څخه ډه ډه کوي.»

(۶، ص ۳۱)

سره د دې چې همايون شاه اصفي په سترګو ويني چې هر څه د ای اس ای په فرمان او اراده چليږي خو بيا هم د مجاهدينو د ملاتړ څخه تر وروستۍ شيبې لاس نه اخلي. د همايون شاه اصفي دريځ ملي او اسلامي نه و نومړي د کړونو څخه څرګنديږي چې هغه يو ځل بيا د خپلې کورنۍ د تخت خوبونه ليدل او هڅې يې پر دغه جهت ګرندي ساتلي وي.

د حکومت ضد بغاوتونو د ټکولو لپاره حکومت ډيرې تيروتنې وکړې چې د خلقيانو سره د ولس دښمني څو برابره شوه او د افغانستان د بنسټپالو او بهرنيو دښمنانو د ښکار لپاره تيار شول.

پاکستان د امریکا په نیغه اشاره د پخوانیو تبنتیدلو اخوانیانو پر لاس د اسلامي گوندونو د بنسټ او نظم خښته کښېښودل. د خلقیانو پوځي پاڅون په سوچه توگه د افغان پوځیانو په واسطه تر سره شو. هیڅ داسي شواهد او اسناد نشته چې شوروي الوتکو او یا بل ډول پوځي مرسته د ثور د اومې نیټې د بریالیتوب سبب شوی وي. ولې هیڅوک سترگې نه پټوي چې د خلق ډموکراتیک گوند بهرنی تگلاره د شوروي اتحاد او نورو سوسیالیستي هیوادونو سره د دوستۍ او وروړگلوي پر اصولو ولاړه وه. د ۲۰۱۷ زکال د مي میاشتي پر یولسمه نیټه مې د حامد کرزي د حکومت د دوران د امنیت د عمومي ریس او شورای نظار غړي، امرالله صالح بیان د گلبدین حکمتیار د راتللو په تړاو واوریدي په یو ځای کې داسې وایي:«هغه څوک چې اولس کاله( د امریکایي اشغال دوره یې موخه ده) د افغانستان د قانوني حکومت پر ضد د بهر څخه وسلوال فعالیت کولو څنگه کیدای شي چې موږ خپل ټول شهیدان هیر کړو او گلبدین د خپلو کړونو بخښنه هم و نه غواړي خو د قبول وړ وگرځي؟»

زما پوښتنه دا ده چې دا کوم اسلامیت و چې یو بهرنۍ سرتیري په افغانستان کې نه و خو د اسلام په نوم د اسلامي ډلو مشران د افغانستان د سرسخته دښمن د څارگرې ادارې په لمن کې روزل کیږي او د پردو د وسلو په مټ پر افغان حکومت جگړه تحمیلوي. په دې اړوند پاملرنه وکړي د عبدالحمید مبارز کتاب ته: «باید ووایم چې بنې او کیڼ هیڅ ډول سیاسي او ادارې تجربه نه درلوده خو خلقیانو د دولت سوق او اداره په خپل لاس کې واخیستل، د خلقیانو په اداره کې شوروي مشاورینو د مشاور تر دندې پورته څه کولای نه شواي. مانا دا چې په هغه ډول چې د شاهي او جمهوریت په وخت کې د تخنیکي مشورو لپاره کار ور څخه اخیستل کیدي.» (۵ ص ۷۰)

د امرالله صالح څخه پوښتنه دا ده چې شورای نظار او د جمعیت گوند چې په کلونو د نورو بنسټپالو په گډون د افغانستان پر ولسونو هیڅ رحم نه درلودي او د پردیو څارگرو ادارو په ملاتړ یې د هیواد بنسټیزې پروژې ورانولي او بیگناه انسانان یې وژل، وروسته یې د کابل ښار وران او دا ځل د امریکا تر بیرغ لاندې د حکومت پر گدي تکیه کړي او د امریکایي پوځیانو سره یو ځای هغه جنایتونه تر سره کوي چې انسانیت یې شرمولي دي، څنگه ځان او خپلو یارانو ته دا حق ورکوي او د هیوادپالنی شعارونه ور کوي او د جهاد په نوم هره کړنه د ځان حق گڼی؟ که څه هم ټول بنسټپال په جنایتونو کې شریکان دي پس اړتیا نشته چې امرالله صالح د ځان او خپلو ملاتړو جنایتونه د گلبدین حکمتیار تر سیوري لاندې پټ کړي. متل دی(غلبیل کوزې ته ویل سوري).

ښاغلي عبدالحميد مبارز د خلقيانو او اسلامپاله ډلو تر منځ د ملي عقايدو پر بنسټ پرتليزه نظر وړاندې کوي: «کله چې د شوروي پوځونو افغانستان اشغال کړي نو د شورويانو تخصصي او تخنيکي مرستو هم بدلون وموندي او د افغنستان پر اداره باندې واکمن شول. شوروي پوځونو حفيظ الله امين وواژه او واکمنۍ يې د خلقيانو څخه په غبند تر لاسه او پرچميانو ته يې انتقال کړه خو په حقيقت کې خپله شورويان د افغانستان پر دولت واکمن شول. ځينو پرچميانو ( ل: ټولو پرچميانو) د بيګانه واکمنۍ ته غاړه کښيښودل خو خلقيانو هغه په خوښي نه منل. په داسې حال کې چې خلقيان خپلې ايډيالوژي ته سرسخت وفاداره وو خو ناسيوناليزم يې ليري غورځولای نه شواي. په همدي توګه د مجاهدينو په ډلو کې ورته قضاوت کولای شو ځکه اخوانيانو د پاکستان او عربستان څارګريزو ادارو ته د اطاعت سر ټيټ کړي ولې ځينو کسانو يې د دا ډول تسلط سره مبارزه کول.» (۵ ص ۷۰)

که پورته ټکي په ژوره توګه تحليل کړو نو څرګنديږي چې د اخوانيانو د وسلوال خوځښت پيل د بهرنيو څارګرو ادرو نوښت و او د لومړي ورځې څخه اخوانيانو ناسيوناليزم او يا د هيواد سره مينه د لاسه ورکړه او د پرديو په اشاره او توپک يې په داسې حال کې جګړه پيل کړه چې يو شوروي او يا بل بهرني سرتيري په افغانستان کې نه وو. د بعضي کلمه د پرچميانو او اخوانيانو لپاره مناسبه کلمه نه ده ځکه ټولو پرچميانو د شوروي واکمنۍ ته د غلامانو په ډول غاړه کښيښودل لکه چې نن جهادي مشران د امريکا اشغال او واکمني د زړه له کومي مني.

اخواني ګوندونو هم پرته د استثنا څخه د ای اس ای، سي آی ای او عربي څارګرو ادارو تسلط، نهي او امر يې پر ځانونو واجب ګڼي. هغو کسانو چې دا تسلط ته غاړه نه ايښودل هغه په اوه ګونو ګوندونو کې نه وو. هغه ولس و، ولسي مشران وو، کارپوهان وو چې ډيري يې د همدغو تنظيمنو په واسطه ترور شول.

ولې د شوروي د اشغال په دوران کې زموږ د نيکونو دود د جهاد او هيواد د ازادی اخيستلو په تړاو بدلون وموند چې تر اوسه يې د کړاونو څخه خلاصون نه لرو. عبدالحميد مبارز ليکي:«په دې ترتيب سره د افغانستان مذهبي حلقې وراني او اخواني لړي تقويه شول. د افغانستان دوديز اسلام په بنسټيز، افراطي او سياسي اسلام بدل شو چې د محمد قطب او حسن البنا لارښوني په عمل کې پياده کولي. ملي ايډيالوژي کمزوري او اسلامي انترناسيوناليزم ته يې مخه کړه. پاکستان د دا ډول يو پروګرام د صادرولو په تړاو د خپلوملي ګټو پر بنسټ منظم پلان درلودي.» (۵ ص ۱۰۳)

**ایا د افغانستان د استقلال او شورویانو د شړلو لپاره اړتیا وه چې جهادي مشران د بهرنیو ځارګرو ادارو په لمن کې وروزل شي؟**
دا یوه اساسي پوښتنه ده چې د دغې پوښتنې په درست ځواب باندې د ټولو بنسټپالو ګوندونو اصلي څیرې ښه پیژندلای شو.

د سردار داودخان د جمهوریت په دوران کې چې اخوانیانو په څو ولایتونو کې وسلوال بریدونه وکړل په ښکاره ویلای شو چې دا بریدونه د نصرالله بابر او ذوالفقار علي بوټو د پلان یوه برخه وه چې د هغوي په لارښونه یې څو ودانۍ وسوځولي او زمینه یې مساعده کړه تر څو داودخان ورته خشن چلند وکړي. ګلبدین، برهان الدین رباني د احمدشاه مسعود په ګډون پاکستان ته وتښتیدل چې د ذوالفقار علي بوټو پاملرنه یې جلب نو ځکه یې د نصرالله بابر تر سیوري لاندې د ای سي ای په لمن کې روزنه ورته پیل کړه. د تاریخ په دوران کې به ډیرو کسانو د پردیو جاسوسي کړي وي، ګوندونه او ټولنو به یې د ټاکلي هیواد تګلاره خوښه شوی وي خو د افغانستان په تاریخ کې لومړي ځل دي چې اخوانیان په رسمي توګه د ګوند او سیاسي سازمان په څیر د پردیو ځارګرو ادارو په لمن کې روزنه پیلوي، پوځي تمرینونه کوي تر څو خپل هیواد د پردیو لپاره وران کړي. د دې خبرې د اثبات لپاره لاندې مطلب ولولئ:«کله چې برهان الدین رباني د جنرال حمیدګل (د پاکستان د ځارګرې ادارې مشر) سره په پاکستان کې ملاقات درلودي نو د حمیدګل د خدمتونو ډیره ستاینه یې وکړل او ور څخه ویې غوښتل چې کابل ته راشي او د اسلامي جمهوریت د مشاور په توګه دنده اجرأ کړي. جنرال حمیدګل د جمهور ریس برهان الدین رباني څخه مننه وکړه او زیاته یې کړه چې زه هیڅ ډول ډالۍ نه غواړم.» د «جنګ اخبار» د راولپنډی چاپ (۲۷ جون ۱۹۹۲)

دا هغه حمیدګل دي چې د افغانستان په ورانولو کې ډیر لاس درلودي، ښه بیلګه یې د جلال اباد جګړه ده چې د حمیدګل په نوښت پیل شوه، په سلګونو انسان په کښې ووژل شول. حمیدګل تر اوسه هم د افغانستان د دښمنی څخه لاس پر سر شوی نه دي. جالبه ده چې د افغانستان د مجاهدینو جمهور ریس نوموړي ته د مشاوریت دنده ورکوي تر څو د افغانستان په ټولو ادارو کې آی اس ای واکمن وي.

کله چې د ثور پوځي پاڅون وشو، مخکې مې بیان کړل چې هیڅ شوی نه و چې د همدغو بنسټپالو په لارښوونه په یو شمیر ولایتونو د بیلګې په توګه په کنړ کې بغاوتونه پیل شول. کله چې شورویانو د ۱۹۷۹ زکال د ډسمبر په (۲۹ نیته افغانستان اشغال کړي) ، هر افغان د هیواد پالنې د مینې له مخې خپله وجیبه ګڼل چې د هیواد استقلال تر لاسه کړي او د خپلو نیکونو توری ځلانده وساتي. خو په خواشینۍ باید وویل شي چې د افغانانو د استقلال او ملي ارادې څخه ناوړه ګټه

پورته شوه. د اسلامپالو ډلو په واسطه چې پورته بيان شوي د ولسونو ملي جنبش کمزوري او يا يې په بيرحمانه توګه وځپئ تر څو خپلې ډلې يي ورباندې وپرسولي چې د پرديو د چوپړ ښه وړتيا تر لاسه کړي.

که خپل د نيکونو د نژدې تاريخ پاڼې ولولو د انګريز سره دري ځلي، ۱۸۳۸، ۱۸۷۸ او ۱۹۱۹ زکلونو کې ډيرې خونړۍ جګړې شوي چې تر سړمو په موډرنو وسلو سمبال انګريزي پوځ د ډيرو ځاني تلفاتو سره شرمونکي ماتې خوړلي ده.

پوښتنه: ولې زموږ ملي مشرانو غازي وزير اکبرخان، غازي محمد جان خان... غازي سردار ايوب خان او غازي امان الله خان د هيواد د ازادي لپاره د پرديو ځارګرو ادارو غلامي قبوله نه کړه خو بيا يي هم جګړې وګټلې؟

ما خو تر اوسه په کوم کتاب کې لوستي نه دې چې زموږ ملي غازيانو د هيواد د ازادی لپاره د بل بادار د غلامی کړی غاړې ته اچولي وي. نو همدغه وجه ده چې د پرديو سره تر جګړو وروسته ژر د مشرانو په تدبير پرتليزه ثبات را ګرځول شوي دي خو دا ځل د شورويانو تر ماتې وروسته نه دا چې په هيواد کې امن ټينګ نه شو بلکې داسې د غم څپې د جهاديانو په واسطه پر خلکو سيوري وغوړاوه چې د جناياتو په کچه به په نړۍ کې لږ ساري ولري. دا ټوله بدبختي د هغو بنسټپالو ډلو غوښتنه او موخه وه چې د پرديو د چوپړ لپاره او د افغانستان د ولس د وينو په خرڅولو په بيه يې د راتلونکي سلطنت خوبونه ليدل.

کله چې پخواني شوروي اتحاد افغانستان اشغال کړي نو امريکايانو د خپلو ملاتړو لويديز او عربي هيوادونو په مرسته په نړيواله او سيمه ايزه کچه د افغانستان اشغال په يوه لويه ستونزه بدل کړ. د پاکستان د حکومت او ځارګرې ادارې په مرسته يې د مزدورو ګوندونو په لاسونو د ورانۍ پروژه پيل کړه. ضياء الحق ټينګ بنسټپال عقايد درلودل، امريکا هم د برژنسکي د نظر پر بنسټ غوښتل چې شورويانو ته د بنسټپاله مسلمانانو په واسطه ماتې ورکړي، عربستان او نور اسلامي هيوادونه مخکې هم د دې چارې سره ډيره علاقه درلودل نو په همدغه وجه د اتيايمو کلونو په پيل کې د نورو اسلامي هيوادونو څخه تندروه ډلې د افغانستان په لورې وخوځيدلې. عبدالحميد مبارز په خپل کتاب کې ليکي: « کله چې جګړه پراخه شوه د نورو هيوادونو يو شمير مسلمانان د پان اسلاميک موسيساتو لخوا په مکه (د بيلګې په توګه نړيوال اسلامي ليګ لخوا) او يو شمير د سي ای ای، د فرانسې او سعودي عربستان ځارګرو ادارو په مټ استخدام او افغانستان ته راوليږل شول. د ځينو اطلاعاتو پر بنسټ د اتيايم کال په پای کې د دغو په خپله خوښه اسلامي جنګياليو شمير (۴۰۰۰) تنو ته ورسيدي چې يوازې يو مصري د افغانستان د دولت لخوا ونيول شو. د جګړې په وروستيو کلونو شمير د (۵۰۰۰ ـ ۱۲۰۰۰) تنو ته

ورسيدي. د الجزاير جنګيالي د شورای نظار په جنګي ډله کې شامل او هلته پوځي تمرينات ورکول کيدل چې د فرانسي د څارګرې ادارې لخوا لګښت ورکول کيدي...عبدالرب رسول سياف هم يو شمير عرب جنګيالي درلودل چې د سعودي عربستان د مرستو ډيره برخه ورکول کيدل. په ټوليزه توګه دغه ډله عرب د حزب اسلامي په صفوفو کې هم زيات وو. د جين مارک بالامسی [5] په قول په دغه پروګرام کې د مصر، فلسطين، اردن، تونس، مراکش، ليبيا، سوډان، سوماليا، نايجريا، مورو فلپين، برما، د چين اوغوريان، تاجيکان، کشميريان او يو شمير د امريکا تور پوستي مسلمانان هم شامل وو. تر اوسه پورې هم يو شمير عربان په پټه توګه په پاکستان کې شته. د دغو جنګياليو سره د عربي هيوادونو لخوا په ځانګړي توګه د مکتب الخدمت [6] لخوا مرستې کيدلې. (۵ ص،ص ۱۲۹ ـ ۱۳۱)

هيره دې نه وي چې په ځينو ولايتونو کې د بيلګې په توګه ما ليکوال په کندهار کې د عربو جنګياليو مرستون وليدې. عرب جنګيالي دومره تبليغ شوی دي چې مرستون يې د عربي شهيدانو په نوم ياديږي او حتي خلک د خپلو حاجتو د پوره کولو لپاره مرستون ته ورځي. جالبه ده چې په خپلو هيوادونو کې د نړۍ په کچه ضد اسلامي عياشي جريان لري او حتي د مکې معظمې تر څنګ امريکايي پوځيانو د سرکوزي غوښي کبابولي او د شرابو سره يې نوشی جان کولي (ل:دا کړنه هغه وخت تر سره کيدل چې امريکا پر عراق بريد وکړي او پوځيان يې په سعودي کې ميشت وو، حتا په تلويزيونونو کې د تمسخر په ډول په مکه معظمه کې د خوګ د غوښو د خوړلو خبرونه خپريدل.) نو د دې پر ځای چې په خپلو هيوادونو کې د دوي په اصطلاح شريعت پلی کړي په زرګونو کيلومتره ليري بې وزلي افغانستان ته راغلل او زموږ ولس يې د غم پر ټغر کښينولي دي.

څرنګه د امريکايانو په غوښتنه د اسلامي هيوادونو څخه بنسټپال راټول او پاکستان ته د افغان جګړې لپاره را وستل شول، د احمد رشيد د کتاب څخه ولولئ:« دامريکا د څارګرې ادارې ريس (ويليم کيسي) د پاکستان د څارګرې ادارې د پخواني نوښت سره همږغی شوچې د نوروهيوادونو څخه بنسټپاله کسان تشويق کړي چې له افغان مجاهدينو سره څنګ پرڅنګ د افغان حکومت او د شوروي د لښکرو پر ضد وجنګيږي .د هغه وخت د پاکستان ولسمشرجنرال ضياالحق ته يې په دغه پروسه کې د رهبرۍ رول ورکړ او خپلو سياسي نمايندګيو ته يې په اړوندوهيوادونو کې لارښوونه وکړه چې د دا ډول اشخاصو د ويزې غوښتلوپرموقع دې بيله کومې

---

[5] - Jean Maracbalamcie
[6] - Maktabul Khidamat

پوښتنې و پاکستان ته د راتلو اجازه ورکړي . په دغه ترتيب په نړيواله کچه په آسيايي ، افريقايي او د منځني ختيز په هيوادونو کې د بنسټپالو ګوندونو له پاره د پرمختګ او نفوذ کولو يو طلايي چانس لاسته ورغی. چې د ۱۹۸۲ـ ۱۹۹۲زکلونو کې څه دپاسه ۳۵۰۰۰ اسلامي بنسټپال له ۴۳ پورتنيو هيوادونو څخه پاکستان ته راغلل اوله افغان مجاهيدينو سره څنګ پر څنګ جنګيدل . په همدی دوران کې په زرګونو بهرنيانو د پاکستان په زرګونو مدرسو کې په زده کړو پيل وکړ . د وخت په تيريدو سره څه د پاسه سل زره (۱۰۰۰۰۰) تنه په مستقيم ډول د جهاد تر اغيزې لاندې راغلل . د امريکامتحده ايالاتونوله دغه پرمختګ څخه په څرګند ډول خوښې ښودل ، ځکه د برې له پاره د دوی په اند ټاکلې موخې ته د رسيدوله پاره له افغاني بنسټپالو برسيره، د نړۍ بنسټپال مسلمانان هم په خوښۍ سره جنګيدل. د نړيوالو له پاره دا لويه خوښي وه ، پرته له دې څخه چې و روستيو پايلو ته يې سوچ وکړي . په همدې ډول د پاکستان د پيښورښار ته نژدې يوکمپ (پنډغالي) جوړشو چې د ليری او نژدی پورتنيو هيوادونو څخه اسلامی بنسټپال په همدغه ځای کې تر پوځي روزنې لاندې نيول کيدل ، ترڅنګ يې د بنسټپالۍ زده کړې هم کولې. برسيره پردې چې له افغان بنسټپالو جنګيالوسره اوږه پراوږه جګړې ته تلل ، داسې پراخې زمينې برابری شوې چې په آسانۍ سره يې د بنسټپالۍ تجربې او موخې سره تبادله کولې . د يو او بل له تجاربو څخه يې پريمانه ګټه پورته کوله . نو په نړيواله کچه يې تربل هر وخت په لوړه پيمانه خپل منځي اړيکې ټينګې شوې.» ( ۷، ص ۱۹۴)

**د افغان جګړې لپاره په تخميني توګه لګښت:**

د احمد رشيد په قول:«دامريکا د متحده ايالاتونو، اسلامي هيوادونو او نورو اروپايي هيوادونو مجموعي مرستې د افغاني مجاهدينوسره تر لس(۱۰) ميلیارده ډالرو زياتې وې . د دغومرستو ډيره برخه د وژنکو موډرنو وسلوپه شکل د افغانستان نالوستو دهقانانولاس ته ورغلې. د دغو وسلو استعمال د ورانۍ وجه وه.» (۷ ،ص ۴۴)

د پاکستان حکومت يوازې هغو ګوندونو ته اجازه ورکول چې په نيغه د ای اس ای تر ولکې او اغيز لاندې وو نو ځکه پورته اوه ګوني ګوندونه ضياء الحق ته محبوب او باوري پاته شوه. دغو ګوندونو په هيواد کې د ښوونځيو، وړکتونونو، کلينکونو، روغتونونو، سړکونو او دولتي ودانيو د ورانولو په څنګ کې د روڼ آندو ښوونکو (نارينه او ښځينه)، انجنيرانو، ډاکټرانو، پوهانو، شاعرانو او ليکوالانو په وژلو کې هم لوي لاس درلودي. همدا نن د ۲۰۱۷/۷/۲۹ نيټه مې په خبرونو کې ولوستل چې وسلوالو د کندهار د ښوراوک د اوبو بند په منفجره موادو الوزلي دي. ښه مې ياد دي چې ورته کړنه مجاهدينو په ۱۹۸۲ ز کال د هلمند په ولايت کې تر سره کړل. د هلمند د ناوي پر ولسوالي د بغرا د کانال را خوشي کول د افغان په قول: (د(۴۲)

لمبرډراب دروازي يي کښته کړي، کانال يي پرولسوالی ورايله (خوشي) کی.) خو تر ټولو بده غميزه چې افغان ولس به د نورو سلګونو کلونو لپاره وکړوي د نشه اي توکو رواجول او په پلورلو سره يې د جهادي مشرانو او قوماندانانو ته د ډيرو شتمنيو په برخه کول وو. نشه ای توکي د جهاد په دوران کې په بيساري توګه رواج شول. په جګړه ځپلو سيمو کې دولت امکانات نه درلودل چې د کوکنارو د کښت مخنيوي وکړي، ور سره جوخت د معمول خلاف ډير ځوانان په نشه ای توکو روږد شول. په نشه ای توکو روږديدل فقراو لوږې ډيره اغيزه درلوده خو په ځانګړي توګه د مجاهدينو په جنګي مرکزونو کې د بچه بازيو تر څنګ د نشه ای توکو مصرفول عادي بڼه درلوده. د نشه ای توکو سره د مجاهدينو تړاو د اثبات لپاره د احمد رشيد د کتاب څخه ولولئ:« مجاهدينو د شوروي د يرغل په دوران کې د نشه ای توکو پلورل په دومداره توګه په زياته پيمانه رواج کړل، چې د هيواد په تاريخ کې يې ساری نه ليدل کيږي . داسې يې ښودل چې له روس سره د جګړې لګښت ورباندې پوره کوي . غټه پلمه يې دا وه چې د دې انسان وژونکو موادو په خپريدلو جهاد پر مخ بيول کيږي . دا ډول پلمه ځکه د حقيقت څخه ليرې وه چې د نړئ مرستندويو لويديزو هيوادونو مرستې دومره پريمانه وې چې د سيند په شان رابهيدلې . په ځانګړي ډول جګړه ايزه او وژونکي وسايل ډير پريمانه وو. د خزانې کيلی د پاکستان د څارګرو ادارو په لاس کی وه. د نشه ای توکو پيسي د جهادي مشرانو يانې د بنسټپالود مشرانو په بانکي حسابونو کې ټوليدلې . په خواشينئ سره بايد ووېل شي چې په دې بهيرکې د امريکې متحده ايالاتو نه تنها غبرګون نه ښودئ، بلکې د دوی په تشويقولوکې يې هم پراخه ونډه درلوده . په دې اړوند احمد رشيد زياتوي :

« له ۱۹۸۰زکلونو وروسته د نشه ای توکو توليد او د هيرويينو فابريکو د امريکې او پاکستان د څارګرو ادارو ترسترګو لاندې پرمختګ کولو . امريکايي څارګرو اداروغوښتل چې د ويتنام د جګړې تجربې وآزمايي . د ويتنام د کمونستانو مخاليفينو ته د امريکې له خوا د نشه ای توکو د قاچاق اجازه وه . د امريکې څارګرې ادارې هيله نه درلوده چې د نشه ای توکو پلورونکي، په ځانګړي ډول مجاهدين خوابدي کړي ، نوځکه د دغو وژونکو موادو د ډيرولو له مخنيوي سره يې هيڅ علاقه نه درلوده. په داسې حال کې چې د کراچۍ په ښارکې د اوه لس (۱۷) تنو امريکايانو دنده د نشه ای توکو کنترول و. خو دوي د خپل کار نه لاس پرسرشول ، ځکه د امريکې څارګرې ادارې د نشه يې توکو پرضد د زياتو هڅو اجازه نه ورکوله.»( ۷، ص ۱۸۱) .

په یوبل اثر «جنگ در افغانستان» کې په تفصیل پردې موضوع بیان شوی دی چې زه یې په څو جملوکې را لنډوم :

« د وخت په تیریدوسره د امریکې د څارګرې ادارې او بنسټپالو ډلو په همږغۍ د مخدره موادو قاچاق وړونکي د مجاهدینولیکو ته راجذب شول... د. ګوور د امریکې د نشه ای توکو پر ضد د ادارې قسمي مأمورد((فلادلفیاماګزین)) په حواله داسې اعلان وکړ :

(( زموږټول مأمورین د دې سیمې څخه ووتل ، زموږ نږدې همکاران په انقره او استانبول کې دي . )) ...

د امریکې د مخدره موادو د څار د ادارې یو لوړپوړي مأمورچې نه یې غوښتل نوم یې رسوا شي د یو امریکایي خبرلوڅي سره بې پردې اعلان کړه : (( افغانی جګړه ماران ټوله قاچاق وړونکي دي چې تریاک بهرته استوي، نو ولې موږ دوی ته وسلې ورکوو.)) ( ۸،ص ص ۱۶۲ ـ ۱۶۳)

که پورته دوه مطلبونه ژور وڅیړو نو څرګنده به شي چې د بنسټپالو افغاني ګوندونو سره نه د هیواد د استقلال او ازادی غم و، نه یې د پردیو د یرغل سره جهاد او مبارزه موخه وه او نه هم د اسلام د سپیڅلي دین د احکامو تطبیق غوښتي تر څو تر جګړې وروسته په افغانستان کې واقعي اسلامي نظام واکمن شي.

دلته یې پر ځای بولم چې د خپل دوست جنرال عبدالمجید راغستاني د مرحوم پلار کیسه وکړم:« ارواښاد پلار یې کیسه کول چې د مجاهدو ځینو مشرانو راته ویل چې موږ افغانستان ازاد کړي. اروابناد په ځواب کې ورته ویلي و چې افغانستان ازاد نه شو بلکې سره وشلیدي.»

رښتیا افغانستان یې داسې سره وشلاوه چې جوړول یې ناشوني شوه. هره بلا او مصیبب د جهادیانو لخوا پر نازل شوو. د نورو افتونو تر څنګ د جهادي ګوندونو د بریالیتوب په برکت افغانستان د نشه ای توکو د کښت په وجه لومړی مقام لري او په میلیونونو ځوانان او ښځې د دغې وژونکي توکې په استعمال روږد شوي خو ګټه یې د ګوتو په شمار بنسټپالو ته نصیب شول.

د امریکا او پاکستان د څارګرو ادارو په مټ د نړۍ ترهګر او بنسټپالو ته د جهادي مشرانو لخوا په افغانستان کې ځای ورکړل شوو چې د پردیو ترهګرو سره یې یو ځای د افغانانو د اقتصادي پروژو بنسټ د بیخه څخه وران کړي. همدا علت و چې د دوهم خونړی اشغال (امریکا) لپاره لاره هواره شوه.

د ولسونو پر عزت په ډيره بی پروايي تيري وشو، شخصي او دولتي شتمنۍ چور او د پاکستان د کباړ په مرکزونو کې وپلورل شول. اوس نو زه ويلای شم چې اسلامي بنسټپال ګوندونه د اسلام او شريعت سره هيڅ علاقه نه لري يوازې د خپلو سياسي موخو د بري لپاره اسلام سپر ګرځوي. د الله اکبر د مقدسي کليمې تر نامه لاندې د حيواناتو په څير جنايتونه کوي چې په افغانستان کې ډيرې بيلګې يادولای شم.

**په افغانستان کې د مجاهدینو او طالبانو واکمني**

**۱ ـ د مجاهدینو واکمني**

مخکې تر دې چې مجاهدین واکمنۍ ته ورسیږي، د وخت جمهور ریس د مصالحې پروګرام اعلان کړي. سوله او پخلاینه یوه مقدسه کلیمه ده خو د ډاکټر نجیب د مصالحې پروګرام ډیر ناوخته اعلان شو چې اغیزه یې ډیره لږ وه. د مصالحې د پروګرام د ناکامۍ اساسي عوامل په لنډه توګه ولولئ:

ـ هغه حکومت چې د شورویانو د اشغال په مټ جوړ شوی و، نه دا چې د مجاهدینو د مشرانو لپاره د منلو وړ نه وو خو عام ولس هم ډیر نفرت ورځخه درلودي ځکه د اشغال په دوران کې د هیواد د کلیو ډیره برخه ورانه شوي او په میلیونونو وګړي شهیدان شوی وو.

ـ د افغانستان موضوع د لویو قدرتونو د سیالي په ستره لوبه بدله شوی وه چې کنترول یې د افغان ولس د واک ځخه بهر و.

ـ په پاکستان او ایران کې جوړي شوي اسلامپاله ډلې د ولس د ارمانونو او هیلو د بیان او پیاده کولو جوګه نه وه. د اسلامپالو ډلو د جوړښت د پیل ځخه د نړۍ د ځارګرو ادارو په ځانګړي توګه د امریکا، سعودي عربستان او پاکستان منګولي د دوي په مرکزي هستو کې ښخې وي. جهادي مشران په ډالرو رانیول شوی او د پردیو د ګټو لپاره یې بی وزله افغانان د جګړې د اومو توکو په ځیر استعمالول.

ـ په افغانستان کې د ملي زعامت او ملي جنبش د جوړیدو د مخیوي لپاره د نړۍ د ځارګرو ادارو په لارښوونه جهادي کړۍ هځول کیدلې چې ملي ارزښتونه دا چې اسلام په خطر کې دي تر سیوري لاندې نیست او نابود کړي.

ـ دومره چې شورویانو د اشغال به دوران کې د افغانستان د ملي اقتصاد بنسټونه وران کړي او د کارپوهانو په وژلو او د هیواد پریښودلو ته اړ کړي وو، په همهغه کچه اوه ګونو او اته ګونو اسلامپاله ډلو د پردو په مستقیمه لارښوونه په ورانیو، وژنو او د معنوي شتمنۍ په فرار کې ونډه درلوده او تلاښ یي کولو چې د نړۍ د ځارګرو ادارو موخې بریالی کړي. د ډګروال محمد یوسف (تلک خرس) د کتاب ځخه ځو بیلګې ولولئ:«د ځلورو کلونو په موده کې تر ۱۹۸۷ زکال پورې یوازې (۸۰۰۰۰) مجاهدینو ته په پاکستان کې پوځي تربیه ورکړل شول او تر همدغې شمیرې زیات مجاهدین په افغانستان کې تربیه کیدل. زموږ موخه یوازې د شورویانو ایستل د افغانستان ځخه نه وه بلکې موږ افغان کمونیستان هم په کابل کې

له مینځه وړل. جنرال اختر هم ورته عقیده درلوده. په داسې حال کې زموږ دا ارمان وو نو ځکه مو غوښتل چې کابل وسوځي او تباه شي.»(۹،ص۲)

په داسې حال کې چې جهادي مشران د پاکستان د واکمنانو د دغې شومې موخې څخه په بشپړه توګه خبر وو چې کابل باید وسوځي او د هیواد شتمنۍ چور او تالان شي خو بیا یې هم د دوي تر څارنې او لارښوونې لاندې حکومت جوړ کړ او د پاکستان د مشر ضیاء الحق هره لارښوونه بالا تشابه د قرآني ایاتونو په څیر ارزښت درلودي.

د بیلګې په توګه د همهغه کتاب تلک خرس څخه لولو:«دا چې شوروي مشاورین په فردي ډول ترور شي، د سي آی ای کارکوونکي خوښ نه وو ځکه د سي آی ای او کی جی بی تر مینځ په ۱۹۸۰ زکال یو تعهد شوی وو چې د یو او بل پر ضد به د ترهګري څخه ډډه کوي. امریکایانو نظر درلودي چې شوروي مشاورین په کابل کې باید ارام ژوند ونه لري. نو په همدغه خاطر یې مجاهدینو ته د ډول ډول بمونو د استعمال زده کړې ورکړي او یو ځل یې د ډګروال یوسف په امر د کابل په پوهنتون کې بم ته انفجار ورکړي. د سي آی ای په مشوره ډګروال یوسف غوښتل چې د تیلو یو ټانک د انفجاري موادو ډک د سالنګ په تونل کې منفجر کړي، اړتیا وه چې موټر چلونکي هم خپل ژوند قرباني کړي خو هیڅوک تیار نه وو چې ځانمرګي برید تر سره کړي. ډګروال یوسف بریالي نه شوو چې د مجاهدینو په مینځ کې ځانمرګي بریدونو ته تیار کسان ومومي.» (۱۷ ص، ص ۱۲۲ او ۱۲۸)

**د مجاهدینو د واکداری د دوران جنایتونه (۱۹۹۲ ـ ۱۹۹۶) زکلونه**
کله چې د صبغت الله مجددي په مشري د مجاهدینو د واک دوره د ۱۹۹۲ زکال د اپریل په اته ویشتمه (۲۸) نیټه پیل شوه، یو ځای پر ښکلي افغانستان د بنسټپالو د وحشت څپې د اسلام د مقدس نوم څخه په ناوړه ګټه اخیستنه پیل شوې. خو د صبغت الله مجددي د عمومي بخښنې فرمان د نورو ټولو ناخوالو تر څنګ د ډیرو انسانانو ژوند وژغوري چې باید د مجددي صاحب دغه انساني کړنه په تاریخ کې په یاد وساتل شي. ماته یو چا کیسه وکړه چې په موټر کې سپور وم کومې سیمې ته تللم د مجاهدینو په پاټک کې را وګرځولم غوښتل یې چې د موټر څخه مې کښته او د کافر په نوم سزا راکړي ما او د موټر سپرلیو د بخښنې د فرمان یادونه وکړه نو زه هم د مرګ څخه وژغورل شوم.

اوس ستاسو پاملرنه د مجاهدینو د جنایاتو او وحشتونو څو بیلګو ته را اړوم کوم چې د زنان افغان زیر فشار عنعنه و تجدد په کتاب کې ور څخه یادونه شوي ده: « د غوړو او پزو پریکول ، د سترګو اوغاښونو کښل ، د ښځو او نجونو د سینو(تیونو) پریکول او پر هغوی باندې جنسي تیری کول ، د دوی لوڅول او په

کوځو کې لوڅې لپړې ایله کول ، پرسرکانو باندې د مړو غورځول، له زمریانو سره د ژوبڼ په قفسونوکې د زندانیانو اچول ورځنی عادي کار و . د کابل پوهنتون په ساحه کې چې د وحدت ګوند واک درلود ، داسې روایت دی چې د پنجشیر او اتحاد اسلامي خلکو د افشار د خلکوسرونه پری کول او د بې سره مړو د بدن د حرکاتو ښځه یې خوند اخیست (ل:داسی صحنه یې د مړو نڅاه بلله) . د ژوندیو انسانانوښځه یې نښان جوړاوه او د زنداني د بدن بیلابیلې برخې یې د نښان په ډول ویشتی . د ده بوري په میدان کې یې د خلکو سرونه پریکول او په یوه پښه یې لکه پسونه ځړول . د ځینوخیتې یې څیرلې ترڅو نفس به یې ورکړئ. ولې د بد بختو ښځو ښځه یې د ترافیکو د ریاست د کوټو په پنجروکې صلیب جوړاوه او د دوی د وینو په واسطه یې پرمقابل دیوال شعارونه او ښکنځل لیکل . داسې هم ویل کیږي چې د زندانیانو غوښې یې نورو بندیانو ته پخولې اوپه هغویې خوړلې. یو بندی چې اوبه به یې وغوښتی ، بل زنداني به یې اړکړتر څو په یو قیف کې چې د زنداني په خوله کې به یې ورکړ، بولی(ادراو یا میتیازې) به یې وکړې اوکله چې دقیف ښځه به بولی لاندې تویې شوې، نوبه یې ویل چې اوس د هغه تنده ماته شوه. داسې ویل کیږي چې بندی ته به یې زیاتې چای ورکړې اووروسته به یې په ونه پورې وځړاوه ، تناسلی اله به یې د تارپه واسطه ټینګه وروتړله تر څو مثانه به یې وچاودیده اوپه ډیرعذاب به مړشو.» (۹، ص ۴۱۶ ـ ۴۱۸)

دا چې د انسانانو غوښې یې په نورو انسانانو خوړلې دا یو څرګند واقعیت دې حتی د ښځو سینې به یې خپلو سرتیرو ته د کبابونو په څیر ورکولې. هغه کیسه به درته ولیکم چې زه لیکوال ابراهیم ورسره مخامخ شوی یم:« په ډنمارک کې مې د یو هزاره ځوان پناه غوښتونکې ژباړنه کول. د خبرو په پای کې راته وویل چې یوه مهمه خبره لرم وکیلې صاحبې ته یې وکړم؟ ما ورته وویل هو ولې نه. پناه غوښتونکي وکیلې ته داسې کیسه وکړه: په موږ یې د انسان غوښې خوړلې دې البته پناه غوښتونکې دا تور په طالبانو پورې وواېه. وکیلې ورته وویل چې یو ځل دې د انسان غوښې خوړلې که ډیر ځله؟ ځوان ورته وویل چې څو ځله یانې زیاتې مې خوړلې دي. کله چې پناه غوښتونکې ولاړې ماته یې وویل پوه شوې چې ما ولې د څو ځلو پوښتنه وکړه ما ویل نه. هغې را ته وویل چې یو څوک څو ځلې د انسان غوښې وخوري دا نو د زور خبره نه ده بلکې په خپله خوښه یې خوړلې دي. ولاړه د ملګرو ملتونو یو څیړنیزه راپور یې راکړې چې هلته په څرګندو ټکو شواهدو شتون درلودي چې هزاره ګانو خپلو سرتیرو ته د انسان غوښې په ځانګړې توګه د ښځو د تیانو کبابونه ورکول.

د محمداعظم سیستاني د کتاب (مقدمه برکودتاه ثور و پیامدهای آن) څخه مې نقل کړل:

« داسی باید ووایم چې دا کیسې د کوم کتاب څخه نقل شوی نه دي، بلکې دعیني شاهدانو له خولې څخه لیکل شوي دي او د هغه زمان په جرایدوکې خپرې شوې دي. »

په دې اړوند د اعظم سیستاني د کتاب څخه ولولئ :

« باید وویل شي چې د مجاهدینو په دوران کې د توپکوالو له خوا له ښځوسره وحشي ترینه جنایتونه شوي دي چې قلم یې له لیکلوڅخه عاجزدی . د هیواد د تاریخ په دغې دوره کې په کابل کې ما او د کابل ښارپه زرګونو اوسیدونکو د سرپه سترګو د خپلوعزیزانو هغه د غم او وحشت ډک حالت لیدلی دي چې په پاک لمنو ښځو به څومره په وحشیانه ډول جنسي تیري کیدل . حتی د امیدوارو ښځو نسونه څیریدل او یا ترجنسي تیري وروسته به یې سینې ورپرې کولی اوپه تشو بیلرونو کې به یې ذخیره کولې . د دوي مړي به یې لوڅ لېږ په کوڅو کې غورځول تر څو چې د خپلومخالفینو په زړونو کې ډار رامنځته کړي . په کوټه سنګې((میرویس میدان) او د پوهنتون په تشنابونو کې تش بیلرونه د ښځو د سینو څخه ډک وو . د ټوپکوالو نور جنایات دا وو چې د عقلي او روحي ناروغو ښځو پر روغتون یې برید وکړ او پر ټولو ناروغو ښځو باندې یې جنسي تیری وکړ.

په ۱۹۹۲ز کال کې مې چې کابل پریښود او د مزارشریف لوري ته ولاړم . د کابل د کډوالو په یو پنډغالی کې چې د مزارشریف د سلطان رضیه په لیسه کې جوړشوی و، د پولیتخنیک د یو استاد سره آشنا شوم چې نوموړی هم دغه پنډغالی ته پناه راوړې وه . نوموړي کیسه راته وکړه چې له تنظیمي جګړو وروسته د ۱۹۹۲زکال د جولای ـ اګست په میاشتو کې یوه ورځ د میرمنې سره په خپل موټرکې د خپلې خواښې د احوال او ګرویږنې له پاره وخوځیدو. د خواښې کورمې په ده بوري کې و، زه د مامورینو په کارته کې اوسیدم . کله چې د سیلو لومړی سړک ته ورسیدم . یو توپکوال زما په مخ کې ودرید او امر یې وکړ، چې له موټر څخه کښته شم . کله چې له موټر څخه کښته شوم ، امر یې وکړ چې هغه لوری ته ولاړشم او د هغه بیلرسرلوڅ کړم ، او د هغه په مابین کې وګورم . ما هم دا کار وکړ او د بیلرسرمې لوڅ کړ ومې لیدل چې د ښځو له پریکړو سینوو ډک و. د دې صحنې د لیدلوڅخه مې سخت ټکان وخوړ او لاس مې د پزې ولوري ته تیر کړ چې ساه کښل بند کړم . راته یې وویل که نه غواړې چې ستا د ښځې سینې دغسی پرې شي ، موټر پریږده ته او ښځه دې له دې ځای څخه ولاړشئ. دا د توپکوال امرانه ږغ و...ما وویل : بلی همدغسې کوم . دستي مې خپلې میرمنې ته وویل چې ژر د موټر څخه

کښته شه. ځانونه مو په تراټه کورته ورسول او په همدغه ورځ مې څه چې درلوده ، وپلورل او ځانونه مو دلته راورسول

په همدغه پنډغالي کې یو بل کډوال خپله کیسه داسې راته بیان کړه:

یوه ورځ زما د دوستانو څخه یو څوک د سیلو د سړک سره تیریدئ چې یو تنظیمي توپکوال ور پسی ناري کړی وې ، چی وروره ودریږه. کله چې سړی دریږي ، هغه توپکوال یوه پلاستیکي کڅوړه ورکوي چې دا واخله ! پوهیږم چې ډیرې ورځې مو حتماً غوښې نه دي خوړلې . دا واخله او ما ته د سر دعا وکړه . سړی کڅوړه د ځانه سره کورته راوړي. کله چې کڅوړه خلاصوي، ګورئ چې په کاغذ کې د ښځو پریکړي سینې (تیان) پراته دي . سړی د دې صحنې د لیدلو څخه فریاد کوی اود خدای لعنت یې تنظیمي وسلوالو ته وویل .

په مسکو کې د کابل د نوی ښار د امنیتي حوزې جنایي امر چې ما له پخوا نه پیژندګلوي ورسره درلوده ، ده د پولیسوپه ځانګه کې په آلمان کې زده کړې کړي وې . د خپلوسترګو لیدلی حال یې داسې راته بیان کړ:

د ترافیکو د ریاست پر دروازو چې د کابل د عبدالوکیل خان د منارد درې لارې سره واقع دی ، ښځې یې لوڅې د صلیب په ډول ځړولي وې، چې لارویان هغه ویني اوډار یې په زړونو کې پیدا شی...

په دریم مکرویان کې د یو جهادي قوماندان له خوا هڅه کیده چې پر یوې نجلۍ جنسي تیری وکړي ، هغې نجلی د خپل عزت ساتلو په وجه د پنځم پوړڅخه ځان وغورزاوه او پرهغه ځای مړه شوه. د دې پیښې پرضد د کابل ښاریانو د جمهوری ریاست د ودانۍ په مخ کې اعتراضیه لاریون وکړ. استاد رباني د وخت جمهورریس ته د ده د حکومت کړنې ورپه ګوته کړي . پرلاریون وسلوالو توپکیانو ډزې وکړې او څو تنه یې ټپیان کړل .

« په تایمني کې د یوجهادي قوماندان له خوا یو پلار ته ګواښ وشو چې لور یې د قوماندان په واک کې ورکړي . دې پلارچې داسې حالت نه د روس او نه هم د انګلیسانو د تجاوزپه زمانه کې لیدلی و ، نو کور ته ننوت او د خپلی لورسریې پری کړ. د لور پری کړی سر یې په پتنوس کې کښیښود او یو دستمال یې ورباندې وغوړاوه او د قوماندان مخ ته یې په پتنوس کې کیښود .»7

۷ ـ زمادیوباوری دوست له خولې دا پلارچې د لورسریې پری کړپه بوجی کې واچاوه اودارګ په مخکې ترهغه پوری انتظارایسته ترڅورباني نامرد له ارګه راووځی . کله چې رباني له ارګه راووت

په خیرخانه کې یوې ناوې چې تازه یې د میړه په کورکې قدم ایښی و. د تنظیمي وسلوالو کسانو له لوري د کورڅخه په زور وایستل شوه ، کله یې چې میړه مخالفت وکړ، د نوموړو توپکیانو له خواځای پرځای ووژل شو او ځوانه ناوې یې پوستې ته بوتله . درې شپې او ورځې پرناوې باندې ډله ایزه جنسي تیري وشو. کله چې ښځه بې هوښه شوه ، بیرته یې کورته راوړه او هغه تر روغتون ونرسیده او مړه شوه.

د دغومجاهدینو یوه بله کیسه ولولئ :

یوه امیندواره ښځه چې دوستانو یې د ماشوم د زیږیدلو په خاطر روغتون ته وړله ، وسلوالو تنظیمي کسانوپه لارکې تم کړی و چې دا ښځه باید د دوي په مخ کې اولاد وزیږ وی . ښځه یې لوڅه کړه او دا یې ویل چې موږخپله مور لیدلی نه ده چې څنګه یې اولاد زیږاوه. زموږ مخ ته باید اولاد وزیږوې چې موږیې ووینو . ښځه بیچاره د فریاد په نارو اولاد وزیږاوه او وروسته یې اجازه ورکړه چې دوستان یې کورته بوزي .

زه خپله د بې بې مهرو دوا پلورنځي ته ننوتم چې د اړتیا وړ دوا رانیسم . د مجاهدینو د واک نیولو څخه دوې، درې ورځې زیاتي تیرې شوې نه وې . د اطلاعاتو او فرهنګ د نشراتو ریس چې له پخوا نه مې پیژندګلوي ورسره درلودل ، ترسترګو مې شو چې په دوا پلورنځي کې ناست و او سترګې یې د اوښکو ډکې وې . ومې پوښت چې خیریت دی؟ داسې کیسه یې راته وکړه : « څو شیبې مخکې یوسړی راغی چې دوا رانیسی، ولې په همدغه وخت کې په ژړا و ، ما یې د ژړا لامل وپوښتئ .نوموړي وویل چې تیره شپه یې د ورور میرمن د امیندواری په وجه خپل میره یې غوښتل چې د ملالۍ روغتون ته یوسي . د خپلې میرمنې سره د سړک پرغاړه ولاړ و چې یو ټکسی پیدا کړي او خپل ناروغ روغتون ته ورسوي . په ناڅاپي توګه د مجاهدینو موټر په همدغه سړک په حرکت کې و . موټر یې ودراوه او پوښتنه یې وکړه، خیریت دی؟ زما وروردوی ته وایې چې میرمن مې ناروغه ده که تاسو مهربانی وکړئ او موږ تر روغتون ورسوي . د موټر خاوندان وایي ، مهربانی وکړئ چې موږ مو روغتون ته ورسوؤ.دوی موټر ته پورته کوي . کله چې موټر د قوای مرکزسیمې ته رسیږي ، د ملالۍ د روغتون ولوری ته نه ګرځي. زما ورور ږغ کوي چې چیرته ځئ ؟ وسله وال کسان زما ورور په قنداق وهي او

---

، نوموړی سړی دخپلې لورسرراویسته اودرباني په پښوکې کښیښود. رباني ته یې وویل : صاحب! ستاپه راتګ زموږدغه خوشحالي ومنی چې ستاله لاسه به هرپلارد خپلې لورسرپرې کوی که نه نوبې ناموسه کیږي .

د موټر نه یې غورزوي او ښځه  د ځانه سره بیایې . لږ وخت وروسته د خپل ورورد ښځې مړی د هغه سړک پرغاړه پیداکوي، کوم چې دوی یی موټرته خیژولې ول. (۱۰ ، ص، ص ۹۴ ـ ۹۶)

د دغو ظلمونو په لړکي اساسي ظلم پر ښځو دا  و چې د لومړي ځل له پاره د افغانستان په تاریخ کې د جګړې دواړو لورو پر ښځو باندې جنسي تیري د یوې وسلې او جګړه ایزې وسیلې په حیث کاراوه څرنګه چې د افغانستان د ګروېږنې او پوښتنې د پروژې په لومړي راپورکې داسې راغلي دي : « د اتحاد اسلامي او د وحدت ګوندونوغیر پوځې وګړي د دواړو  لوروڅخه کورپه کور خپله موخه ګڼله . وحشيانه بریدونه  یې وربانډې کول . د اتحاد اسلامي د ګوند غړو د هزاره ګانو پرډیرو ښځو جنسي تیري وکړل. نو په بدل کې د  وحدت ګوند زورواکانو د پښتنو پرډیرو ښځو جنسي تجاوزوکړ. د نړیوالو جنایي قوانینو پربنسټ جنسي تیري د جګړه ایزو جرایمو څخه ګڼل کیږي .

راپور زیاته وي چې که څه هم د روسانو او کمونستانو پواسطه  د دوي د واکدارۍ په زمانه کې د څو پیښنو مثالونه لیدل شوي دي، خو په دې دوره کې دجنسي تیري څخه په سیستماتیک ډول د جګړې د وسیلې په توګه ګټه نه پورته کیده. او نه هم دومره بې امني وه چې چنګیزیانو ته ولس دعا وکړي یا هغه د کفن کښو یادونه تازه کړي.

د اغلې نجیبه سارابیاباني له خولې څخه واورئ :

« کله چې په ۱۹۹۲زکال په پیښورکې زه د هیواد د ورځپاڼې خبریاله وم ، ناڅاپه خبره شوم چې د شیرپاو په روغتون کې راغلی یوهندو بستر دی چې د مسعود جګړه مارو یې ټوله کورنۍ وژلې ده او دی ناروغ دی . ماته په زړه پورې شوه چې باید ویې وینم، ځکه چې هغه هم زما هیوادوال دی . موږ دا منو چې د روسانو د یرغل په وخت کې هم روس ډیرمظلومان شهیدان کړي دي، خو په داسې وحشیانه توګه یې هیڅکله عمل نه دی کړی لکه د شورای نظار واکدارانو چې حتی د هندوانو ښځې لا ترې په امن کې پاتې نه شوې . د یوه افغان هندو د خولې خبره ده، چې په خواشینۍ سره یې داسې کیسه راته وکړه:

«زه په کارته پروان کې اوسیدم ښکلې مغازه اوښکلی کور مې درلود. یوه  ورځ د شورانظار ډله راغله او ځما څخه یې یو میلیون افغانۍ وغوښتې . ما خپل عذر وړاندې کړ ، بیایې وویل څو نقدې لرې اوڅومره په بانک کې لرې؟ بیا مې ورته قسم  وخوړ چې په بانک کې خو یوه روپۍ نه لرم او نقدې مې دغه یو دوکان دی . ناڅاپه یې په څاپیره ووهلم او له  ګریوانه  یې ونیولم . له دوکان څخه یې راویستم او

د سړک پر غاړه یې دومره ووهلم چې له اخ اوټوخه یې وغورځولم . شاوخوا ټولو دوکاندارانو او خلکو را ته کتل خو هیچا د خلاصولو زړه نه کاوه. ټولو زما په شان ژړل خو د ټوپک سره د هیچا زور برابر نه و. کله چې زه بې هوښه شوم، ځما د دوکان ټول سامان یې یووړ او ولاړل . د عامو خلکو له خوا روغتون ته وړل شوی وم، چې کله په هوښ راغلم ، سیروم مې په لاس کې بند و، خبرې مې نشوای کولې . ماښام نژدې و، سیروم خلاص شو . نرس او ډاکټر راغلل او راته وې ویل : سردارجي کور دې چیرې دی ؟ ما ورته وویل ، کارته پروان کې . بیا یې وپوښتلم : کورته ځې او که پاتې کیږې ؟ ما ور ته وویل: صاحب که مې کور ته ورسوئ، خوشحاله به شم ! ځکه چې په کورکې پیغله خور ، ځوان ورور،ځوانه ښځه له دو ماشومانو سره او یو پلاراو یوه بوډۍ مور لرم، دوی به ډیر پریشانه وي. په دې وخت کې مې ورور راورسید . په داسې حال کې چې اوښکې یې بهیدې ، راته وې ویل وروره ! دا ولې ؟ دا کوم اسلام دی ، دا کوم مذهب دی ؟ بیایې ډاکټر ته مخ وروااړاوه :

ډاکټرصاحب ! که د دوی مقصد د دوکان د سامان چوروول وو، دوکان به یې ټول چورکړی وای خو زما ورور به یې په داسې حال نه رساوه . ډاکټروویل لالا! اوس داسې حالت راغلی دی ، څه وکړو . له دې حالت څخه خلاصون د انسان له پاره او د سالم افغان له پاره تیښته ده او بس. ځکه چې زموږ له وسه تیره خبره ده . په دغو خبرو کې د شپې نهه بجې شوې . ډاکټر دوا او نسخه راته ولیکل او موږ یې رخصت کړو . ما له ویرې ډاکټر ته وویل : ډاکټرصاحب نه شي کیدای چې په امبولانس کې مې ترکوره ورسوئ. ډاکټر راته وویل ولې نه ، خو زه فکر کوم چې امبولانس هم تاسو ته په دې وخت کې امن نه شي درکولی . هو یوه لاره دا ده همدا نن شپه تاسو دواړه دلته تیره کړئ، سهار د وخته کورته ولاړشئ . ځکه چې نه په ټکسي باور شته او نه په شخصي موټر . ورور مې زورکاوه چې ځان کورته ورسوي، خو ما ورته وویل ته هم کورته مه ځه ، ماضي کور ته ټلیفون وکړه چې هیچا ته دروازه مه خلاصوئ او د لارې د نا امنۍ ورتهووایه. ورور مې ټلیفون وکړاو په ټلیفون کې یې ورته وویل: زه درځم تاسې مه وارخطاکیږئ، ورور مې سبا درولم . په دې وخت کې زه په خپل ورور ویریدم، د یوې خوا ځوان ؤ ، بلې خوا احساساتي هم و. ورور ته مې قسم ورکړ چې ما هم په ټکسي کې واچوه کنې ترسهاره به مړشم. درد خو مې نه وژني . ستا په تشویش کې به زه څنګه شپه تیروم چې ته به کور ته سلامت ورسیږې که نه ؟

ورور مې ډاډ راکړ او را ته و ې ویل : ځما لپاره فکر مه کوه . نارینه په یوه ورځ پیدا دی او یوه ورځ مړ. ته ناجوړه یې. وریندار، ماشومان، زه ، پلار او مور په

ځانګړې توګه هغه پیغله خور مې ټول یو محافظ ته اړتیا لري. ویریږي، ټول په ویر ناست دي اوزه هم ورنه شم ، د ټولو زړه به وچوي. ترسهاره به دوی څنګه شپه سبا کوي. زه همدا اوس په ټکسي کې ځان کورته رسوم چې ورسیدم تا ته ټلیفون کوم ، خاطرجمع اوسه. وروړمې لاړ، ترسهاره د ټلیفون زنګ ته انتظار وم او سترګې مې چت ته پاتې وې، خوهیڅ‌چا د ټلیفون غږ را باندې ونه کړ. سهارشو. نرسه راغله دوا او چای یې راته راوړل. او د پای واز(احوال پوښتونکی)احوال یې هم راکړ. زه خوشحاله شوم ، ما ویل چې د تره ځامن مې خبرشوي دي. خامخا به مې څوک پوښتني ته راغلي وي . نرسې ته مې وویل، ما د لاسه ونیسه او له کوټې نه مې تر دروازې ورسوه . نرسې دوه د لاس لرګي په لاس کې راکړل او د لرګي په واسطه دباندې را ووتلم. که ګورم چې د تره ځوی مې رامخې ته شو، زه یې له لاسه ونیولم ، دوا او نسخه یې له نرسې واخیستل او په ټکسي کې یې د کور پر لور وخوځولم . چې کورته نژدې شوو، د کور مخې ته ډیرخلک ولاړ وو البته ټول سکان ول. د تره ځوی مې چې له ټکسي کښته شو، ما ته یې وویل چې لږصبر وکړه. نور خپلوان مې هم ورسره راټول شول او موږ ته یې وویل چې درمسال ته لاړشئ. زه وارخطا شوم، د خپل وروړ پوښتنه مې وکړه چې چیرې دی. د اکا ځامنو مې راته وویل:هغه په درمسال کې دی، تاسو ورشی وبه یې ګورئ، هڅه مې وکړه چې ولې ؟

څه خبره ده ژر را ته ووایاست ، د خدای په خاطر ووایاست. هیڅ‌چا مې خبرو ته غوږ ونه نیوه ، ټول خاموشه وو. موټر وخوځید او د درمسال په دروازه کې ودرید. زه د کاکا زامنو تر لاسو ونیولم او درمسال ته یې ننویستم . بوډۍ مورمې په بې حالۍ کې خپل لاسونه ځماغاړې ته واچول او په چیغو چیغو یې راته ساندې ووهلې : وروړ ، ښځه ، خوراو سپین ږیری پلار دې یې مړه کړل. زه بدبخته او ستا بدبخته لور اوځوی یې ژوندي وتړلو. وروړ دې وویشت او په څاه کې یې وغورځاوه . ته چیرې مات ګوډ پروت وې چې په موږداسې حال ... د حال دویلو سره مې سر راباندې دروند شو، نور نه یم پوهیدلی چې څه را باندې وشول. یو وخت مې چې سترګې پرانیستلې چې په یوه روغتون کې پروت یم او سر ته مې د اکاه ځوی ناست دی. ما ته سیروم بند دی، اکسیجن مې په خوله کې دی، سترګې مې وغړولې. د اکاه ځوی ژر ډاکټر ته غږ وکړ، ډاکټر راغی او ځما په پنجابۍ ژبې زموږ سره وغږیده. له مایې پوښتنه وکړه او د اکاه ځوی ته مې یې وویل:اوس له خطره راووت ، تاسو یې هم خیال وساتئ. په دې وخت کې د اکاه ځوی راته وویل: اوس شکردی ښه یې زړه غټ کړه. ما ورته وویل: زه چیرې یم دا کوم روغتون دی. ده راته وویل دا د پیښور روغتون دی. موږ ټول د کابل څخه را وتښتیدو، ته او ستا بچیان موهم د ځانه سره راوستل ، زړه غټ کړه ستا مور ژوندۍ ده. لکه څوک

مې چې زړه ته سیخ را ننباسي بوړنونکی درد مې احساس کړ. سلګو واخیستم او سترګومې بې اختیاره د اوښکو رودونه شول . د اکاه ځوی مې زما په سلګو وار خطا شو او بیا یې ډاکټر راته راوست. ډاکټر چې ځما دا ټکنی حالت ولید. یوه ستنه یې راته ولګوله او زما د اکاه زوی ته په ډاډه زړه وویل: دا ښه شو چې په ژړا شو. ته هم ورسره وژاړه چې زړه یې تش شي. ژړا د دردونو د دوا نوم دی. اوس به بالکل ښه شي .خوشحاله اوسه چې ژاړي. په داسې وخت کې یوازینی درمل د انسان له پاره ژړا ده . تسل ورته ورکړه خو د ژړا څخه یې مه منع کوه. پرېږده چې څومره غواړي ودې ژاړي. ډاکټر ولاړ. څو ګړۍ وروسته مې د اکاه زوی ته وویل : زړه مې بوټ وتلی دی، ډیر لوړه راباندی تادی شویده. ماته څه راوړه چې زړه ته مې قوت راکړي. له همدې خبرې سره مې د تره بل زوی را ورسید او یخه کړې ډوډۍ یې له کوره راته راوړه. ما چې دی ولید بیا مې زړه را ډک شو. دواړه غاړه په غاړه شوو او په سلګو سلګو مو وژړل. زړه مې تش شو. د اکاه زوی مې ژر ډوډۍ را واخیسته ، هغه څه یې چې یخ کړي وو، راباندې وې خوړل. پرونی راڅخه کور ته ولاړ او ننۍ د اکاه ځوی مې را سره پاتې شو. په ډاډه زړه مې ورته وویل چې کیسه راته وکړه . د اکاه زوی مې خوله خلاصه کړه او ټوله کیسه یې راته وکړه ، چې د شورانظارغړو مې ورور د پیسوله پاره وواژه . پلارمې ځما د ښځې د خلاصون له پاره ووژل شو. پیغله خورمې چې د پلار او ورینداړې د خلاصون له پاره د دوی مخې ته دریدلې ده، هغه یې هم خدای خبرچې څنګه وژلې ده . بیا یې ټول کورکالی او د پیسوسیف په موټرکې بار کړیدی او د الله اکبر په نارو له کوره وتلي دي. مور مې ترسهاره خپلو مړو ته په چیغو تیره کړیده. سبا بیا ګاونډیان او خپلوان خبر شویدی. مړي یې د سوځولو له پاره د درمسال هندو سوزان ته وړي دي. زه ، ځما موراو ځما دوه ماشومان چې تراوسه حک پک پاتې دي او له ویرې د خپلې نیا له غیږې نه لیرې کیږي. د اکاه زامنو او زموږ ټولو خپلوانو خپل کورونه پریښودل. دا دی زه یې تر دې ځایه را ورسولم. یوه اونۍ کیږي چې زه په روغتون کې پروت وم، خو له ځانه بې خبره. نن هم په ځان او هم په نورو خبرو خبرشوم او دا کیسه مې د هیواد د ورځپاڼې خبریالې ته وکړه. له دې نه وروسته خدای خبرچې څه وینم . » (۱۱ د ژورنالیستې د خولې کیسه)

غواړم ووایم چې ای کاش دغو نامردانو د اسلام د مقدس نامه څخه ناوړه ګټه پورته کړې نه وای چې تردغسې غیری بشري او غیری اسلامي عمل وروسته یې د الله اکبرنارې هم وهلې. کاش لوی خدای (ج) د دوی دغه ناولې خولې ګونګې کړې وای، ځکه د دغو نامردانو له لاسه د اسلام پاک اوسپیڅلی دین چې بشریت ته یې انسانیت راوړ، په ټوله نړۍ کې د وحشي او ظالم دین په توګه معرفی شو. د دوی د

دغه غیرانساني کړونو په وجه مسلمانان په لویدیزو هیوادونو کې له ډیرو کړاونو سره لاس او ګریوان دي.

کورنیوجګړو چې په ۱۹۹۲ ـ ۱۹۹۵ز کلونوکې زور واخیستئ. د مجاهدینوهرې ډلې چې څوک وژل، هغه دې په دې خاطر و، چې نوموړی کسان د دوي د مخالیفینوملاترکوي. په دی ترتیب جنسي تیري او پرغیري پوځي وګړو یرغل ځانته توکمیزه بڼه اخیستي وه. (۱۰ ،ص ص ۴۱۸ ـ ۴۱۹)

## پنځم څپرکی

**د سیاسي او عنعنوي اسلام تر مینځ توپیر**

**عنعنوي اسلام**: افغانان د کلونو په اوږدو کې د الله تعالی پر وحدانیت او د محمد (ص) پر پیغمبري باندې نه یوازې دا چې عقیده لري بلکې د خدای ج په لار کې هر ډول قرباني ته تیار وو او دي. په ښارونو، کلیو او باندو کې د الله تعالی فرضیات د ملایانو څخه زده کیدل، په جومات کې لمونځ کول او په وروري روژه ماتي د افغانانو ځانګړي خاصیت وو. هیڅ میلمه (البته نابلده میلمه په مسجد کې) یوازې نه پریښودي د خپل توان تر کچې پورې د ډوډۍ او شپې ځای غم خوړي. د جمعې په ورځ ډیر کسان د لیري سیمو څخه ښارونو ته د جمعې د لمانځه د اداء کولو له پاره تلل، په اخترونو کې هم مشرانو او ځوانانو د اخترونو لمنځونه نه هیرول. د جمعې او اخترونو په لمونځونو کې یوازې اسلامي احکام بیانیدل چې ټولو حاضرینو د زړه په غوږونو اوریدل. مسجدونه د سیاسي بحثونو مرکزونه نه وو. د حکومت او د رژیمونو پر ډولونو نور بحث نه کیدي ځکه کلیوالو دا ډول بحثونو ته اړتیا نه درلوده. د سیاسي بحثونو مرکزونه په پوهنتونونو او په نورو روشنفکري مرکزونو کې وو. همدغه وجه وه چې د وروڼو قومونو تر مینځ بیلتون او دښمني نه تر سترګو کیده، ټول وروڼه قومونه هیواد ساتنې ته ژمن وو. د بهرنیو ځواکنو د اشغال په وړاندې پرته د توکمیزې، ژبنې او مذهبي توپیرونو څخه په وروړلي د یو او بل په څنګ کې قرباني ته چمتو وو. جهاد د شتمنیو د راټولو او په راټلونکي کې د شخصي ګټو د تأمین په خاطر نه بلکې د هیواد ساتنې او د پاک خدای (ج) د احکامو د تطبیق په خاطر اعلانیدي. د افغانستان په معاصر تاریخ کې هیڅ داسې څرک نه لیدل کیږي چې د انګریزي ښکیلاګرو تر ماتې وروسته سیمه ایزو قوماندانانو شتمني راټولې کړې وي، ښکلي بنګلې یې جوړې کړې وي. د واک د دوام لپاره یې د ولسونو په مینځ کې په ټګیو د نفاق او دښمنیو زړې کرلي وي. غازیان او د جهاد قوماندانان د ولس له مینځه راپورته شوي انسانان وو او همیش د خپل ولس تر څنګ پاته کیدل او د خپل قوم او ولس مشري به یې په غاړه وه، په غم او ښادي کې به د ولس په مینځ کې د ستونزو د هواري لپاره تلاښونه کول. همدغه علت و چې ولسي جوړښتونو د ټولنې په اداره کې لویه اغیزه درلوده. د بهرنیو د یرغل په وخت کې کافي وه چې د کلیو مشران سره جرګه شي او د بهرنې دښمن په وړاندې ولسونو ته د مبارزې او جهاد ګډ پیغام ورسوي. که د عنعنوي او یا لویو جرګو تاریخ ته نظر واچوو، په هغه وخت کې چې د اسلام مقدس دین سیاسي بڼه اخیستي نه وه، اغیزه یې دومره زیاته وه چې د هرې لویې ستونزې د حل کیلي د همدغو جرګو په واک کې وه.

کله چې د اسلام تر مقدس نوم لاندې سیاسي خوځښتونه را مینځته شوه، د ملایانو د خطابو رنګ هم بدل شوو، په کړونو کې داسې بدلون راغلي چې ولس ور سره اشنایي نه درلوده. سیمه ایزه جرګې اولویې جرګې هم بې اغیزې شوې کله د کینې ارخو او کله هم د اسلامپاله ډلو د موخو ښکار شوې نو ځکه پخواني اغیزه یې دومره لږ شوه چې په نشت کې شمیرل کیږي. د ولسي مشرانو ځای د کلیو بدمعاشونو چې د اسلامپاله ډلو سره یې اړیکې درلودې، ونیوې نو ځکه د ټولنې جوړښت دومره سخت زیانمن شوو چې تر اوسه پورې په اشغال کې شپې او ورځې سبا کوو او هیواد مو په وینو کې ډوب دی.


هیره دې نه وي چې مخکې هم مشهورو مذهبي مشرانو لکه د مجددي کورنۍ د افغانستان پر واکمنانو ډیره اغیزه درلوده د خپلو ګټو په خاطر یې حتی د شاهانو په نسکورولو او پر تخت کښینولو کې عمده رول لوبولی دی. همدغو مذهبي مشرانو د هیواد د پرمختک په مخکې خنډونه رامینځته کړي چې بیلګه یې د غازي امان الله خان د واکدارۍ دوره یادولای شم. د هغو مذهبي مشرانو او د اسلامپاله سیاسي ګوندونو تر مینځ اساسي توپیر دا دی چې هغوي د اشخاصو په رول کې اغیزه درلوده خو اوس منظم سیاسي سازمانونه دي چې د بهرنیو څارګرو ادارو سره ژورې اړیکې لري، تر ډیره بریده د خپلو شخصي ګټو د تأمین د باره داسې د څارګرو ادارو په چوپړ کې دریږي چې اسلام، هیواد او ولس ورته د یوه توت ارزښت هم نه لري. په نړۍ کې ډیرې بیلګې شته خو زموږ د افغانانو لپاره دوې ژوندي بیلګلې د عبرت لپاره کافي دي:

۱ ـ د داودخان د جمهوریت په دوران کې د جوانان مسلمان مشر، برهان الدین رباني، د کابل ښار ورانوونکي هر یو احمد شاه مسعود او ګلبدین حکمتیار پاکستان ته وتښیدل او هلته د جنرال نصرالله بابر په نوبښت د آی اس ای په لمن کې تر روزنې لاندې ونیول شول. د شورویانو د اشغال سره سم د آی اس ای، سي آی ای، د سعودي څارګرې ادارې او د لویدیزو د نورو څارګرو ادارو په لمن کې پناه واخیستل تر څو د هغوي په امر د هیواد په ویجاړولو او افغانانو په وژلو سره بادارانو ته خپل صداقت په اثبات ورسوي.

۲ ـ همدغه د اسلام ټیکه دارانو د طالبانو د سقوط لپاره د ب ـ ۵۲ الوتکو تر سیوري او د سي آی ای د پوځیانو په لارښوونه پر افغان ولس هغه تاړاکونه روا وګڼل چې اوس یې پای نه ښکاري.

**سیاسي اسلام:**

غواړم دا بحث د جمعیت ګوند مخکښ غړي امرالله صالح په فتوا پیل کړم خو باید ووایم چې امرالله صالح د کلونو په اوږدو کې د اخوان د مکتب پیروه وه، ناڅاپې د خوب څخه را وپاڅید او دا فتوا یې ورکړه:« سیاسي اسلام، اسلام نه دي.» امرالله صالح د افغانستان او منځني اسیا په څلورمه غونډه کې چې په بامیان کې جوړه شوی وه، اضافه کړل: په یاد ولرئ چې سیاسي اسلام، اسلام نه دي، بلکې یو فکري مکتب دي. تندروه اسلام (بنسټپالي) هم اسلام نه دي بلکې یو فکري مکتب دي. ترهګري او ډار اچونه تر یو ځای پورې د همدغو مکتبونو څخه سرچینه اخلي چې د ټولو مرکز پاکستان دي. په زړه پورې دا ده چې امرالله صالح ولې د ډېرو کلونو سکوت څخه یو ځل د بنسټپالو پر مخ څپیړه ورکړه ځکه امرالله صالح د احمدشاه مسعود نژدي یار او یاور و د همدغه بنسټپالو د برکت څخه د امنیت عمومي ریاست ته ورسید. د احمدشاه مسعود یارې یې څرګنده بیلګه ده ځکه مسعود په خټه اخواني د سید قطب او محمد قطب پیرو، د ډار او وحشت اچونکو سرلارې و.» اخذ ځای د مامون ویبپاڼه ۱۳۹۶ تیر ۲۴, شنبه



د هند په نیمه وچه کې مولانا مودودي د سیاسي اسلام بنسټ ایښودونکي

مهران موحد په کابل کې ژورنالیست، سرچینه:بي بي سي ۲۰۱۷/۹/۲۱ زکال

مولانا مودودي د هند په نیمه وچه، په اسلامي نړۍ کې د مهمو اسلامي شخصیتونو څخه و. د سیاسي اسلام د نوم څخه څرگندیږي غواړي اسلام د سیاست په ډګر کې عمده برخه ولري. په دې لار کې لومړي شخصیت سید جمالدین افغاني و، چې ما یې بل ځای یادونه کړي ده. خو توپیر دومره و چې سید جمالدین غوښتل د استعمار په وړاندې مسلمانان د دین په نوم یو موټي کړي خو د تمدن سره یې دښمني نه درلودل. د همدغو منځنۍ لارو پیرو مسلمانانو بري تر لاسه نه کړي نو ځکه ځای یې د ایډیالوژي پر بنسټ سیاسي اسلام ته پریښودي چې د غربي تمدن سره ټینګ مخالفت لري.

لومړي شخص چې په دې سیمه کې اسلام یې د سیاست په چوپړ کې ودراوه، مولانا مودودي و، نوموړي په پاکستان کې د جماعت اسلامي گوند بنسټ ایښودونکي هم دي. نوموړي غوښتل د هند په نیمه وچه او پاکستان کې اسلامي حکومتونه جوړ کړي. مودودي په هند او پاکستان کې ژوند کړي و خو د سیاسي اسلام د خپریدلو عقاید یې یوازې په هند او پاکستان کې محدود پاته نه شول، ولې نورې نړۍ ته یې هم سرایت وکړي.
مودودي ادعا درلودل چې اسلام یو جامع او مکمل دین دي چې د لویدیز تمدن سره په ټکر کې دي خو واقعي اسلام سیاسي اسلام دي. مودودي هڅه وکړه چې په پاکستان کې د لویدیزې ایډیالوژي پر ضد د اسلام سیاسي ایډیالوژي په پاکستان کې خپره کړي تر څو د اسلامي ایډیالوژي برتري د لویدیز امپریالیسیتي سرمایداري نظام او کمونیزم پر ضد په ننداره کښیږدي. سره د دې چې جماعت اسلامي د مصر د اخوان المسلمین په پرتله بریالیتوب نصیب نه شو خو بیا یې هم ملاتړي درلودل.
د مودودي د جماعت اسلامي په تلاښونو د افغانستان تندروه ډلې هم د جماعت اسلامي ملاتړي شول.»
لکه پورته مې چې بیان کړل تر مودودي مخکې د اسلامپاله سیاسي گوند بنسټ د لومړي ځل لپاره د حسن البنا، سید قطب او محمد قطب په مشرتابه په مصر کې کښیښودل شو. په خواشینۍ باید ووایم چې د افغانانو په مات او گوډ اقتصاد ځوانان د ازهر پوهنتون ته د دې لپاره ولیږل شول چې په راګرځیدو سره یې د هیواد په چوپړ کې ملا وتړي او افغانانو ته د اسلام واقعي څیره د خپلې پوهې په واسطه معرفي کړي خو لیږل شوو ځوانانو د هیواد د تباهي او د تمدن پر ضد پردي

ایډیالوژیګاني مظلوم ولس ته د ځانونو سره راوړي د چوپړ په بدل کې د وراني زنې وکړلې.

پورته مې بیان کړل چې په ۱۹۵۳ زکال کې لکه غلام محمد نیازي، سید موسی توانا، وفی الله سمیعي، استاد محمد فاضل، سید احمد ترجمان د جوانان مسلمان د نهضت بنسټ جوړ کړي وو که څه هم دا یوه کړۍ وه او ګوند یې لا جوړ کړي نه وو خو بیا هم همدغه کسان د ډموکراسۍ تر لسیزې ډیر مخکې لاس په کار شوي وو چې د حسن البنا پردي ایډیالوژۍ له پاره د بنسټ خښته کښیږدي او د افغان ولس عنعنوي ژوند برباد او د اسلام د مقدس نوم څخه د خپلو شخصي موخو د ګټنې اخیستې لپاره شرایط برابر کړي. دا چې ویل کیږي چې د کیڼ اړخو ګوندونو شتون په اصطلاح د اسلام محافظین اړ کړل چې ګوند جوړ او د خشونت څخه د مخالفینو په وړاندې کار واخلي. واقعیت نه لري. د پورته معلوماتو په رڼا کې ویلای شم چې دا ادعا بې بنسټه ده ځکه په ۱۹۵۳ زکال کې د کیڼ اړخو له خوا داسې اقدام شوی نه وو چې اسلامپاله ډلې دې محسوس کړي او خطر احساس کړي. په حقیقت کې اسلامپالو ډلو غوښتل چې تر نورو ګوندونو مخکې د ولس پر زړونو او مغزو د اسلامي عقایدو څخه په ناوړه ګټه اخیستنه واکداره شي او په خپلو منګلو کې وساتي.

دا چې افغانستان یو اسلامي هیواد دي او په لوړه کچه ولس مو د زدکړو څخه بې برخي وو او دي نو د اسلام په نوم شعار ورکول ډیر ژر د خلکو زړو ته لاره پیدا کوي او نالوستو ولسونو ته سخته ده چې د ټګمارو اسلامپالو ډلو د فریب په چلونو وپوهیږي. په همدغه وجه ډیر کلونه کیږي چې د اسلامپالو ډلو د بیشمیره جنایتونو سره سره ولس تري خلاصون نه لري د وړې نافرماني په صورت کې د کفر ټاپه لګوي چې وروسته به پر موضوع اوږد بحث وکړم.

په سیاسي او څارګریزو جګړو کې موخو ته د رسیدلو لپاره د هر ډول وسیلو څخه کار اخیستل کیږي. په اوسني عصر کې تر ټولو کارنده وسیله د اسلام د مقدس نوم څخه ناوړه ګټه اخیستنه د بنسټپالو د بریالیتوب له پاره کاري وسیله ګرځیدلي ده. ستاسو پام څو بیلګو ته را اړوم:

لومړۍ بیلګه:« پښتو نیوز: انجینرعبدالعلیم راز

**پاکستانی جنرال د خلقیانو په غونډه کې**

پاکستان ته تللی وم ،هلته د تبلیغي اجتماع په نوم د اسلامي دعوت یوه ډله خلک په مساجدو ګرځي او خلکو ته د فضائلو او احکامو دعوت او ښوونه کوي، زما ملګری هم د دې لارې پیروی و، له څو ورځو تیرولو وروسته مو په یوه میلمستیا کې سره ولیدل، هغه راته د تبلیغي ټولنې کیسې کولې، خو خبره د افغانستان په سیاسي

وضعیت راچورلیز شوه، نوموړي راته کړه چې تر ټولو به ډیر نابلده او جالبه درته وکړم.
موږ ناست خلک هم چپ پاته شو او د نوموړیي تعجبي خبرې ته انتظار پاتې شو،هغه وویل فکر نه کوم چې په افغانستان کې دې دومره زړ یو خپلواک حکومت او سوله رامنځ ته شي ،ځکه ما داسې څه اورېدلي چې نور مې د فکر کښتۍ له هغې ورځې څپانده شوې ده ، خو موږ نوموړي ته د هغې اصلې خبرې ټینګار وکړ، هغه وویل چې زموږ سره د دعوت په مهال د ملګرو په منځ کې د پاکستان یوربټیرجنرال (عبدالله ګل)هم راسره و، هغه یوه ورځ د خبرو په مهال چې موضوع د قبرعذاب و، وویل ایا ما به هم الله پآک وبخښي کنه ،خو فکر نه کوم چې ما دې وبخښي ؟

موږ ورته وویل چې د الله پاک له دربار او مهربانۍ څخه هیڅکله مه نا امیده کیږي،خو هغه بیا هم ټینګار کاو چې نه ما به ونه بخښئ!...

ما خو داسې ګناه کړې چې زه یې په اسلامي ټولنه کې بدیل نه وینم ...نه مې د بل چا اوریدلې او نه هم لیدلي، خو د نورو سیاسي ګټو په موخه مې داسې ګناه کړې چې اوس یې له الله څخه د عفوې امید نه لرم ځکه ترکفره هم راته ستره ښکاري ... څه وکړم او څه به راسره کیږي، خو یواځې په دې خوښ یم چې زه په خپل کړې عمل الله پاک او افغانانو ته پښېمانه او د عفوې غوښتونکی یم!...

پاکستاني جنرال عبدالله ګل له پښېمانیدونکي حالت او په اوښکو ډکو سترګو خپله کیسه داسې پیل کړه:

د روسي یرغل په لومړیو کې راته دنده وسپارل شوه چې تاسو د څو نورو ملګرو سره یوځای یو خوا ته لیږو، کومه دنده چې تاسو ته له مخکې ټاکل شوې موږ هم تیارسی حالت وښود ...زه یو پوځې سپاهي وم هر امر مې د خپل پوره قوت په عملي کولو د سر په سترګو منئ او په بې دریغ ډول مې اجراء کاوه، بلکې دا مې د ځان امیتاز ګڼلو چې ځانګړې دنده راته سپارل کیږي.
زه او ملګري مي کندهار، کابل او ځیني نورو افغان ولایتونو ته وګومارل شوو، زموږ دنده د خلقیانو د غونډې تالارونو ته نږدې اجراء کیده ، یوه ډله خلک چې ترموږ وړاندې په دولت کې داخل ګومارل شوي وو،هغوی راته لاربښوونه کوله.
تاسوپوهیږئ چې زموږ دنده څه وه؟

یاالله ما ته راتیر شه!...

زماملګرو تاسو راته دعا کوئ ،زما دنده ډېره شرمینده ، نااهل د اسلام په ضد یو سخت ګوزار و، خو زه داسي جوړشوی وم چي په همدې کې مې ثواب لټاوه ځکه ماته داسي ویل شوي و، چي د سرو کفارو مخه نیسو، افغان ولس راپارو چي د الله د دین او پاکستان ننګه وکړي.

ملګرو زمادنده دا وه چي هرچیري به د خلقیانو غونډه وه بس موږ به هلته تلو د هغوی د غونډې له ختمېدو سره سم به مو د قران کریم مبارکي پاڼې ټوټه، ټوټه کولې او بیا به مو په لارو، کوڅو او کثیفو ځایونو کې اچولې، ترڅو افغان ولس د خلقیانو په وړاندې بې باوره او هغوی راوپارو چي دوی د الله دښمنان دي قران یې پاڼې پاڼې کړی او بیا یې په مرداریو کې اچولی نعوذو بالله

ایا په داسي عمل ما الله بخښي ،خو اې زما ملګرو ماته داسي ویل شوي او قناعت راکړل شوی چي په دې سره د همدې قران ساتنه کیدای شي که څو قرانونه ټوټې شي خو د ټولې اسلامي نړۍ او مسلمانانو د حفاظت سبب هم کیدای شي. لوستونکو...! د دې خبرې په اورېدلو درته د زړه له کومې قسم کوم چي همدې پاکستاني پوځي به ویل چي ما قران ټوټي کاو او بیا مې د خلقي غونډو په چاپېریال کې پاشلې ترڅو د هغوی په وړاندې افغان مسلمان ملت را وپارو ،افغانان چي له اسلام سره څومره مینه لري هغوی خو روسانو ته ربښتیا هم ماتې ورکړه ،خو خلقیان کافران نه وو، له وطن سره یې ډېره مینه وه،د دوی مینه زما په وجود کې هم ډېرڅه راپارول.
یاده دې وي چي زموږ پاکستاني پوځي استخباراتي لوړپوړو چارواکو ته دا دنده امریکایي مامورینو لخوا سپارل شوې چي موږ د پیاده کولو ځواک و.

یادونه : زما د هغه کتاب (پټ رازونه اوبربنډې څیرې) د متن توکي دی چي چاپ تر جوګه کېدو مې د رسنیزې نړۍ نشرول غوره وګڼل.»

باید ووایم چي ورته پیښې ډېرې شوي دي ځکه د سیاسي موخو د بریالیتوب لپاره د اسلام دین سپر کول د اسلامپاله ډلو او څارګرو ادارو لپاره غوره وسیله ده. دا هم شوني ده چي په استخباراتي جګړو کې هر لوري ورته کړنې کوي. که یو ځل د افغانستان د نژدې تاریخ پاڼې واړو، غازي امان الله خان د ورته تبلیغاتو په وجه د هیواد څخه ایستلو ته اړ شو. د ملکې ثریا نیمه بربنډ انځورونه د انګریز د څارګرې ادارې په مټ خپاره او د دوي د جاسوسانو په واسطه په کلیو او بانډو کې وغورځول شول تر څو پر غازي امان الله خان د کفر ټاپه ولګوي.

دوهمه بیلګه:« عبدالمجید راغستاني: د دهلي (دالي) د بند الوزول۲۰۱۷/۶/۲۹ زکال

د دهلې د بند پر تاریخي ارزښت نه ږغیږم د ار غنداب (ارغنداو) پر سیند هغه تاریخي بند جوړ دئ چي د کرهنې او برق په خاطر کندهاریانو ته تر هر څه ګران دئ.چي  د زراعتي ، بریښنا او چاپیریال کیسو نه را تیر سو ښار ته د نژدیوالی په خاطر تر ټولو مهم د ساتیری او تفریحګاه سیمه ده.

دا لیکنه ځکه راته اړینه ښکاره سوه چي څو ورځي مخکي په ولسي جرګه کي د روزګان د خلګو استازي ښاغلي عبید الله بارکزي وویل چي په کویټه کي تر نظامي کورس وروسته د آی، ایس آی مشر د دهلې د بند د تخریب خبره مطرح کړه او ګویا ښاغلی بارکزي مخالفت وکړ او نوموړی ته یې سلاح او وسایط ور نه کړل.؟!

بارکزی صاحب ته وایم لاندي مطلب ولوله، دا چي ته د ګلبدین د حزب غړی وې او اوس د ګلبدین خپل یې، دا جلا خبره ده، خو حقیقت دادئ چي د دهلې د بند د تخریب امر آی،ایس،آی ورکړی وو او ګلبدین اجرا کاوه، دا چي تاسو د حکمتیار د راتګ په درشل کي له دې کیسې سره تماس ونیو ،ستاسو کار دئ خو د دهلې بند ته ملانقیب نجات ور کړ.

زه خبره لنډوم په ۱۳۶۸ کال کي زما له ارادې خلاف په کندهار کي د یوه وړوکي چاروکي په توګه مقر ر سوم. زما په اداره کي د پوځ اومه فرقه، د لوژشتیک ۲۳۶ لوا، د رادار غونډ، د راکټ لوا او د کندهار هوایي قوتوتونه شامل وو. البته په سیاسي لحاظ دوی زما سره تنظیم وو او او پراتیتفي چآري قوماندانانو پر مخ وړلې. یقیناً زه په ټولو غونډو کي حاضر وم او هر راپور تر ما را رسیدئ. تاریخ مي هیر دئ ، اطلاع داسي وه چي د دهلې بند باید والوزول سي. د جنرال حمید ګل په امر او د ګلبدین حکمتیار په ملاتړ دا فیصله عنوان سوې وه.

زه فکر کوم نور الحق علومي زموږ ریس تنظیمه و، جلسې ډیري وسوې ،له مرکز سره تماسونه... بله ورځ چیرته وم، مخابره چي راغئ ویل یې" ښه خبر لرم".ما ویل دا به څه وي؟ ویل یې د ملا نقیب الله پیغام ګلبدین ته ولوله.

ملا نقیب د جمعیت قوماندان له ارغنداب نه ګلبدین ته داسي پیغام لیکلی وو«د افغانستان د حزب اسلامي امیر محترم حکمتیار اسلام علیکم اما بعد. تاسو د دهلې د بند انفجار له دوستانو سره منلی دئ دا ستاسو کار دئ، په ارغنداو او د کندهار ښار د شمال مجاهیدینو په نماینده ګی تاسو ته وایم چي د دهلې بند دومره د کمونسټانو په ګټه ندئ لکه د مجاهدینو، دا ساحه اوس د مجاهدینو په کنترول کي ده او ټول کندهاری اولس له هغه نه ګټه اخلي بیا هم که رښتیا د دې بند تخریب او له منځه وړل جهاد ته ډیر مهم وي تاسو هم لکه ما غوندي د خپلي کورنی سره راسئ په

ارغنداو کي واړوئ بیا به یې په ګډه والوزو» و من الله توفیق ، ملا ګل(ملانقیب الله اخندزاده)

اوس هم د کندهار د هغه وخت چارواکي او د استخباراتو کارونکي ژوندي دي هیله ده چي هغوی زما پر نیمګړو معلوماتو رڼا واچوي.

دوستانو ته چي دا مضمون لولئ یادونه کوم چي زه د بل فکري خط لاروی یم. ما ته ملانقیب، حکمتیار او سرکاتب یو ډول دي اما تاریخ خو بیا نه پټیږي.

تر ټولو جالبه دا چي عبدالباري جهاني چي هغه وخت د امریکا ږغ خبریال وو، وایي«موږ ته په دا بله ورځ اطلاع راغله چي د ملانقیب نه د دهلې بند څوک نه سي الوزولای.»

دریمه بیلګه: په ۱۹۸۱ زکال د سلما بند کارکوونکي او انجنیران د تورن اسماعیل په مشرتوب د جهادي توپکیانو په ظالمانه دسیسه کې وسوځول شول البته په دغه ناوړه پیښه کې د پروژې د ریس په ګډون ۴۵ کسان وسوځول شول چې پنځه تنه په هغه ورځ شهیدان او نور کلونه کلونه معیوب پاته شول. تر ټولو د پروژې مرستیال انجنیر دستګیر ډیر سوځول شوي و چې د څلور سوه بستریز روغتون د ډاکټرانو د معلومات له مخې ۷۵ سلنه بدن یې سوځول شوي و. د افغانستان نوموتي تاریخ پوه ښاغلي اعظم سیستاني د پیښې په تړاو لیکي:« انجینر دستگیر بعدا برای دومرحله کوتاه برای استراحت وتداوی به بلغاریا و کشور هند فرستاده شد ولی هیچ کمکی به او نکرد. او در همین حالت پافشاری برگشت بکار در بند سلما را با تن نیمسوخته اش نمود ، او به این عزمش ایستادگی کرد ومقامات مجبور به اعزام او شدند ، بعد از یک مدت خدمت در آنجا اینمرتبه سرنوشت فاجعه باری، زندگی او و سرنوشت زن و فرزندانش را باخود درهم پیچاند. به اساس تصمیم اجولانه مسوولین ولایت آنوقت، قطعه محافظ بند سلما به هرات فراخوانده شد، هرچند ،غلام فاروق سلوک علاقدارچشت ، سلطان احمد مسول خاد چشت و انجینر دستگیر معاون پروژسلما به این کار نا سنجیده مقامات در ولایت هرات مخالفت نمودند وآن را موجب ویرانی بند سلما وهمه زحمات وقربانی های که صورت گرفته بود میدانستند ، ولی موثر نیفتید ، این سه مرد سرسپرده قهرمان وشجاع ، فامیلهای شان را به هرات روان نمودند و خود شان با یکتعداد از رفقای مبارز شان در بند سلما باقیماندند . در همان روز باند های وطنفروش و جهاد فروش ((اشرار وحشی وبی فرهنگ تحت رهبری تورن اسماعیل که بعدا وزیر آب وبرق شد وهیچ کاری برای بند سلمانکرد)) بالای پروژه بند سلما حمله نمودند ، ابتدا ، انجینر دستگیر ، سلطان احمد آمر خاد وغلام فاروق سلوک علاقدار را بعد از مقاومت وتسلیم ناپزیری شان شهید ساختند ، بعدا تمام هست وبود آن پروژه را به تاراج بردند ، وسائل ثقیل آن را به ایران انتقال

دادند ، تعمیر های رهایشی را بخاطر سیخ های فلزی اش ویران کردند ، لعنت ونفرین تاریخی را تنظیمهای نامنهاد جهادی برای خویش ، دودمان وآینده گان خویش کمائی نمودند.

تا امروز اجساد جانفدایان بند سلما در انجای که ایشان را تیرباران وبعدا دیوار را بالای شان چپه نمودند بطور گمنام مدفون اند»

دلته څرګندیږي چې د جمعیت اسلامي ګوند وتلی غړی څومره د ایران د څارګرو ادارو په امر او فرمان د خپل هیواد بنسټیزه پروژه ورانه او کارکوونکي یا وسوځول او یا یې په شهادت ورسول. تورن اسماعیل کلونه د اوبو او بریښنا وزیر و خو د سلما بند فعاله نه شو تر څو د اشرف غني د حکومت په دوران کې بند فعال شو. د بند د فعالیدو سره سم د ایران واکمنانو غبرګون وښودي، د ایران جمهور ریس روحاني په تنده لهجه وویل چې موږ په افغانستان کې د بندونو د جوړولو په وړاندې بی تفاوته پاته کیدلای نه شو. د ایران په چوپړ او د خپل هیواد د ورانی لپاره تورن اسماعیل هغه جنایتونه وکړل چې تاریخ یې نه هیروي. د هیواد سره ملي خیانت د اسلام د اوامرو سره هم په مخالفت کې دي.

د ۲۰۱۷ زکال د نومبر د میاشتي په وروستۍ اونۍ کې محمد محقق (د وحدت حزب د مشرتابه غړی) د اجرایي ریس مرستیال په تهران کې د افغانستان په استازیتوب د (محبان اهل بیت) په غونډه کې ګدون وکړي. محمد محقق د شیعه وسلوالو ډلو او سپا پاسداران بریالیتوبونه په عراق او سوریه کې وستایل او مبارکي ورکړه. محقق، جنرال قاسم سلیماني وستایي چې د ایران د قدس سپاه پاسداران مشري د ایران د سرحداتو څخه بهر کوي. محقق په غونډه کې داسې بیان وکړي چې هر اوریدونکي فکر کولو چې افغانستان د ایران تر بشپړ ایډیالوژیک نفوذ لاندې دي. په حقیقت کې محقق په سوریه کې شیعه افغاني جنګیالي (فاطمیون)، پاکستاني شیعه جنګیالي (زینبیون)، او د هند شیعه جنګیالي (حیدریون) د بریالیتوبونو دوعاي وکړي. د محقق پورته بیان په روښانه ټکو څرګندوي چې په افغانستان کې سني پلوه او شیعه پلوه بنسټپاله ډلې د پردیو جاسوسان او د هغو د ګټو ملاتړي دي، د هیواد ملي ګټې ورته ارزښت نه لري.

کله چې د دوهم ثور په اتمه نیټه د صبغت الله مجددي کاروان د کابل ښار ته راڅرګند شوو، د دې پر ځای چې د بریالیتوب جشن په اتڼونو، ډول وهلو او سندرو سره ونمانځي په بدل کې د سپکو او درنو وسلو هوایي ډزې وې چې یو شمیر کابلیان یې شهیدان او ټپیان کړل. د (جنګ های کابل) په کتاب کې د همدغې ورځې په تړاو داسې لولو:«د ش، ستانیزي د کتاب څخه بیان کوي: د ثور په اتمه نیټه صبغت الله مجددي کابل ته ننوت، په کوڅو کې خلک نه تر سترګو کیدل کله چې

شاه شجاع، انګریزانو کندهار ته راوستلو، خلکو د سړکونو او کوڅو څخه تیښته کړې وه، ورته حالت د صبغت الله مجددي په راتلو سره په کابل کې لیدل کیدي، خلکو مجددي ته ښه راغلاست و نه وایې. جنرال عبدالروف بیګي په خپل کتاب کې لومړې ورځ داسې بیانوي: د مجددي په راتلو سره ملاتړو یې د سپکو او درنو وسلو دومره فیرونه وکړل چې ښار یې روښانه کړې وو. په هغه ورځ داسې ګومان کیدي چې نړۍ د شر څخه ډکه او توپونو خولې وازې نیولې دي. د مجددي کاروان داسې ښکاریدي چې د وینو تړې وي په هغه ورځ تر ۱۵۰ نفرو زیات کسان په شهادت ورسیدل .» (۱۳ ص،ص ۲۳۹ ـ ۲۴۰)

**کابل ته د احمدشاه مسعود راتلل:**

سره د دې چې صبغت الله مجددي د کابل تخت اشغال کړې و او د پیښور په ګورنر هوس کې احمدشاه مسعود د نوي اسلامي جمهوریت د دفاع وزیر ټاکل شوی و خو په مختلفو پلمو په جبل سراج کې معطل و. موخه یې دا وه چې د حزب اسلامي قوتونه په بشپړه توګه پر شاه شي او وروسته پرته له کوم خطر څخه د یو فاتح په ډول کابل ته را داخل شي.

په هغه شپه چې احمدشاه مسعود د کابل ښار ته د راتلو په درشل کې و، سره د دې چې په ښار کې بریښنا نه وه او سپوږمۍ هم لکه خفه چې وي د اسمان پر مخ نه ښکاریده خو ښار د ماشینګړو په ډزو او انفجارونو روښانه شوي وو او تا به ویل چې د انفجارونو او ډزو په وجه مځکه پر بل مخ اوړي. د یوې خوا حزب اسلامي پر خپل حریف احمدشاه مسعود باندې د توپونو د ډزو باران جوړ کړې و خو احمدشاه مسعود هم د یو فاتح په څیر د حزب اسلامي پر مرکزونو د توپونو ډزې او د الوتکو بمبارد جاري ساتلي و. تر مینځ د کابل ښاریان د حریفانو د زور ازموینې په پایله کې په وینو کې ډوب وو په هر کور کې د ناورین تندره د لویدو په حال کې وه.

بصیراحمد دولت ابادي لیکي: د مجددي تر راتلو وروسته د کابل ښار ته نړیوالو انتظار درلود چې احمدشاه مسعود به ژر د کابل ښار ته داخل شي د لویدیزو رسنیو په برکت په ځانګړې توګه (د فرانسې رسنیو) چې د نوموړي څخه یو افسانوي اتل جوړ کړی و، فکر کیدي چې د مسعود په راتلو به ټولې ستونزې حل شي خو ژر د دغه افسانوي اتل کړنې نړیوالو ته څرګندې شوي که د جنرال دوستم او د حزب وحدت مرسته نه وای مسعود به ژر د حبیب الله کلکاني په سرنوشت اخته شوي واي خو اوزبکانو او هزاره ګانو د تاریخ د تکرار مخنیوي وکړي. هغه څه چې د کابل خلکو ولیدل څرګنده وه چې د مسعود قدم د سولې لپاره ګټور نه شو بلکې د کابل په ښار کې دومره خطرناکې، ورانوونکي او وژونکي جګړې پیل شوي چې مځکې د

افغانستان په تاریخ کې نه تر سترګو کیږي. د واک پر سره شخړې د جمعیت، وحدت، حزب اسلامي او شمال ملیشو تر مینځ ډیرې خونړې وي... په قصدي توګه د جمعیت او حرکت اسلامي جګړه مارو د تاریخي ودانیو او موزیم سره ځای پر ځای شول چې په اسانۍ سره د حزب اسلامي او جمعیت په جګړو کښې وران، چور او تالان شي. دغه چور یوازې د نالوستو مجاهدینو کار نه وو بلکې فني کسان هم ور سره مل وو چې د قیمتي اثارو په پیژندګلوي کې بشپړ مهارت درلودي او د نړیوال بازار په نرخ هم پوهیدل.

د جنګ های کابل د کتاب لیکونکي لیکي:«زه د یو پوځي په توګه وایم چې په نړۍ کې ډیرې جګړې پیښې شوي دي چې ځینې یې عادلانه هم وي. خو د کابل جګړې د واک نیولو لیونیانو په دومره وحشت مختته بیولي چې د هیواد تاریخي میراثونه چې د افغانستان د زرګونو کلونو د مدنیت او معنویت ښکارندوي وو د چنګیزیانو په ډول یې بریدونه ور باندې جاري وساتل. تاریخي میراثونه یې په ډیره بې پروایي چور او تالان کړل دومره وایم چې د دغو جګړه مارو ډلو دومره وحشت، چور او چپاول د افغانستان په تاریخ کې ساري نه لري.» (۱۳ص،ص۲۴۹ـ۲۵۵)

غواړم د اسلامي وسلوالو ډلو د خپل منځي جګړو یو انځور وړاندې کړم چې په زرګونو کابل ښاریان د توغندیو او مرمیو خوراک شول. په دې تړاو رحمت اریا په خپل ژباړل شوی کتاب کې لیکي:« د ۱۹۹۲ زکال د مي په میاشت کې چې د ګلبدین حکمتیار ځواکونه لړ په شاه وتمبل شول د کابل په شمال کې د اتحاد اسلامي ډلې د عبدالرب رسول سیاف تر مشرۍ لاندې او هزاره واکه شیعه ډلې د عبدالعلي مزاري تر مشرۍ لاندې جګړې پیل شوې. جګړې سړک په سړک، ودانۍ په ودانۍ د ملکي وګړو په ګڼه ګونه ځایونو کې کیدلې په سلګونو کسان مړه او سیمه په خرابه بدله شوه. تر ټول بده دا وه چې د سیاف سره عرب جنګیالیو (وهابیان) او د مزاري سره ایراني جنګیالیو شتون درلود چې د جګړې پر اور یې تیل شیندل...

کله چې د ۱۹۹۲ زکال د جولای په میاشت کې د وحدت ګوند د مسعود پر پلویانو برید وکړي د جمعیت ډلې غچ اخیستونکي برید پیل او ډیر خلک یې ووژل. د مسعود ډلې د کابل د زړه د غره د جګو څوکو څخه توغندي ویشتلي چې ډیر مړۍ به پر سړکونو پراته وو. (۱۲ص،ص ۴۴ ـ ۵۰)

د بشري حقونو د څار ټولنې په کابل کې د شوک او لوټماري څخه پرده پورته کوي. د رحمت اریا په کتاب کې راغلي:« د بشري حقونو د څار ټولنې په کابل کې له یو شمیر ژورنالیستانو، د مرستندویو ټولنو له کار کوونکو، ټکسي چلوونکو، د ملکي چارو له چارواکو او سرتیروسره مرکې کړي دي. د نجیب الله د واکمنۍ له پرځیدا

وروسته چې د جمعیت، جنبش، اتحاد، حرکت او اسلامي ګوند شوکې او لوټمارۍ یې په خپلو سترګو لیدلي دي...

یو افغان ژورنالیست د ۱۹۹۲ زکال د اپریل په میاشت کې خپل د سترګو حال داسې بیانوي:«ما په خپلو سترګو ولیدل چې د مسعود او سیاف سرتیرو ښار ته له ننوتلو سره سم د کړکیو ښیښې ماتولې او هر څه یې چې مخې ته ورتلل او خوښ یې ول لوټل او ځان سره یې وړل هغوي د وحشیانو په څیر ول او هغه ناخیړۍ یې کولې چې زړه یې غوښتل.

د بی بی سي یو ژورنالیست د بشري حقونو د څار ټولنې ته د۱۹۹۲ زکال په اپریل کې خپل د سترګو لیدلی حال داسې ووایه: «د رحمت اریا د کتاب څخه: ما د جنرال دوستم د وزبکو سرتیرو لوټمارې ولیدله... یو شمیرو یخچالونه په شا لیږدول، نورو یې ایرکانډیشنونه او نور توکي له ځانه سره ځغلول.. قاسم جنګلباغ د کابل په ختیز وزیر اکبرخان او مکرویانو کې د ډیرو ربړو او ناتارونو پازوالي په غاړه لري (ل:اوس ۲۰۱۷ زکال د کندوز امنیه قوماندان دي)، لکه لوټماري، سړي تښتونه او پر نجنو جنسي تیري... قاسم ځانته غونډ درلودي چې د بسم الله خان (ل:د دفاع پخوانی وزیر او دجمعیت غړی) تر امر لاندې و. (۱۲ ص،ص ۹۳ ـ ۹۷)
د پورته کیسې په دوام د یو بل جګړه مار کړنو ته پام وکړي:« د نظار شورا یو بل پخوانۍ چارواکی وایي چې په ۱۹۹۲ ـ ۱۹۹۳ زکلونو کې د جمعیت ځواکونه په ډله ایزو او ټولنیزو لوټماریو کې ښکیل ول او نوموړي په ځانګړې توګه د نظار شورا یو ډیر بد ډاکو، بولندوي رحیم کونګ فو یو لوی لوټمار، داړه مار، غل، وژونکی لنډه دا چې یو ستر جنایتکار وو. دغه رسمي چارواکي کله چې (د رحیم په تړاو خبرې کولې په ژړا شو او د بشري د حقونو د څار ټولنې ته یې وویل چې) رحیم په ۱۹۹۲ زکال کې په تایمنیو کې د وحدت پر وړاندې د عملیاتو په لړ کې ډیر ملکي هزاره ګان او ماشومان ووژل، ډیر جنسي تیري وشول، ډیر نارینه او ښځې ووژل شول. رحیم ډیر هزاره ګان ووژل، هغه ماشومان ووژل بخښنه غواړم نور نشم کولای د دغه ناتار په اړه ډیر څه ووایم. نوموړی په بله مرکه کې د اوریدا له مخې وویل چې داړه مار رحیم کونګ فو د تایمنیو په عملیاتو کې څنګه د خپلو جنایتونو کچه تر لوړې کچې ورسوله. رحیم د هزاره ګانو غاړې ور پریکولې رحیم وویل چې (موږ د ۳۰۰ ـ ۳۵۰ هزاره ګانو غاړې ور پرې کړل، زه په یو کور ننوتلم یو څو ورځنی ماشوم مې ولید، ما خپله برچه د ماشوم په خوله کې کښینودله. ماشوم زما برچه د مور د تي په شان رودله، بیا مې ناڅاپه برچه د ماشوم په ستوني کې ور ننه ایستله.» (۱۲، ص، ص ۱۰۰ ـ ۱۰۱)

د کابل په جګړو کې پر ښځو د جنسي تيريو ډيرې پيښې ثبت شوی دي چې دلته د پورته کتاب څخه يو لاسوند ته ستاسو پام راګرځوم:«که څه هم ستونزمنه ده چې د قربانيانو سره او يا د دوي د کورنيو سره د جنسي زوروني په وجه مرکه وشي خو بيا هم د بشري حقونو د څارډلي له بيلا بيلو ژورناليستانو او د ټولنيزو چارو د کارکوونکو څخه بيلا بيل معلومات تر لاسه کړل او ټينګار کوي چې د دوی سره د جنسي تيريو لاسوندونه شته، په ځانګړې توګه د جمعيت، اسلامي ګوند او وحدت ډلو په اړه چې د خلکو په کورو ورننوتل او پر ښځو يې جنسي تيري کول. همدا شان د بشري حقونو د څار ټولني ته د جمعيت، وحدت او جنبش ځواکونو د جنسي تيريو په اړه د ډاډ وړ معلومات را رسيدلي دي. مخکې مو د کابل په لويديځ کې له روغتيا پالې س، ک څخه يادونه وکړه، نوموړې وايي چې هغې د داسې ميرمنو درملنه کړي ده چې ۱۹۹۲ ـ ۱۹۹۳ زکلونو کې د کابل په لويديځ کې پرې جنسي تيري شوي ول، هغه زياتوي چې دوی د سړکونو له مخې د ډيرو وژل شويو ميرمنو جسدونه راټول کړي دي چې د هغوي د جسدونو څخه په څرګنده ښکاريدل چې پر هغوي جنسي تيري شوي ول.» (۱۲ ص، ص ۱۱۱ ـ ۱۱۲)

رحمت اريا د کتاب په يوه برخه کې ليکي:«يوه سړی چې په يوې لاسي کراچۍ کې يې د خپل کور شيان بار کړي ول د فبوري په نهمه يوه ژورناليست ته په لوړه ترخه ژبه وويل: (دغه مجاهدين موږ بيرته لومړی پيړی ته بيايي.)» (۱۲ ص ۱۲۵)

کاش مجاهدينو لږ تر لږه افغان ولس هغې پيړۍ ته بيولي واي کوم چې اسلام نوي ظهور کړي و، مجاهدينو په خپلو کړونو د نړۍ د هغو ظالمانو څخه هم مخته ولاړه چې انسانان او شتمنۍ به يې په اورونو کې لولپه کول. مجاهدينو د چا پر سر او مال رحم نه درلودي، د اسلاميت او انسانيت يو وړوکې احساس هم ور سره شتون نه درلودي؟

په اسلام کې دروغ ويل حرام او ناروا کار دي خو برهان الدين رباني چې په افغانستان کې ځان د اخوان المسلمين بنسټ ايښودونکي ګڼې نه يوازې افغانانو بلکې نړيوالو ته هم درواغ وايي. ستاسو پام د نوموړي د مرکې يو څو ټکو ته را ګرځوم چې په (افغانستان و ظهور طالبان) کتاب کې خپره شوي ده:«برهان الدين رباني د جمهوري رياست په دوران کې د (روزنامه العالم) سره مرکه کړي چې په (۶۳۹) ګڼه کې خپره شوې. د خبر لوڅي د پوښتني په ځواب کې وايي: (موږ ۱۴ کاله د شورويانو په وړاندې جهاد وکړي کله چې واک ته ورسيدلو مناسبه کورني امنيتي او اداري کدرونه نه درلودل...)» (۱۴ ص ۶۹)

د برهان الدين رباني حافظه کمزوري شوي او يا خپل جنايتونه پټوي. افغانستان ډېر قوي اردو او پوليس درلودل، مډرني وسلې يې درلودلي په اداري چارو کې يې کارپوه کدرونه درلودل. د اردو تجهيزات چې پورته مې هم بيان کړي دي د شورای نظار او جمعيت توپکيانو په لومړي ورځ چور کړل حتا ډير يې د پاکستان په کباړ کې وپلورل. اداري کدرونه يې يا ووژل او يا يې تيښتې ته اړ ايستل، کابل يې وران او ۶۵۰۰۰ کابليان يې د نورو پلورل شوو اسلامي ډلو په مرسته ووژل.

ما څو ځله په خپلو مقالو کې ليکلي دي چې اسلامپاله بنسټپاله ډلو د افغانستان د ولس برحقه مبارزه د هيواد د استقلال لپاره د پرديو ځارګرو ادارو لکه امريکا او پاکستان په منګولو کې ورکړل دا هر څه د دې لپاره وو چې ملي ګټې تر خپلو شخصي ګټو قربان کړي په همدې تړاو د پورته کتاب څخه لاندې مطلب ولولئ:«د شوروي پوځ پر ضد جګړه د دې پر ځای چې ملي بڼه يې درلودای، مذهبي بڼه ورکول شول. يا په بل عبارت مخکې تر دې چې جګړه د افغانستان او شورويانو تر مينځ وي، جګړه د اسلام او کمونيزم تر مينځ پيل شوه.» (۱۴ ص ۱۳۲)

**د پيغلې ناهيد شهادت:**

بيا هم د جنګ های کابل څخه اقتباس کيږي:«ځيني کورنې کيسه کوي چې ناحيد څه ډول د احمدشاه مسعود او ملاقسيم فهيم د مجاهدينو د بې عزت کيدلو څخه ځان وژغورې او ځان يې د مکرويانو د پنځم پوړ څخه لاندې وغورزاوه. ناحيد ۱۶ کلنه د يوې ليسې زده کوونکې وه چې په مکرويانو کې د خپلې کورنۍ سره ژوند کولو. په ۱۹۹۲ زکال يې کور د مجاهدينو لخوا چې د نومورې د تيښتې او جنسي تجاوز په موخه راغلي وو، کلابند شو. پلار او مور يې د هغوي په وړاندې مقاومت وکړي خو ناحيد ناچاره پنځم پوړ ته په منډه لاړل او ځان يې د پنځم پوړ څخه وغورځاوه چې ځای پر ځای شهيده شوه. پلار يې تابوت پر اوږو واخيست غوښتل يې په کوڅو کې وګرځوي چې خلکو ته څرګنده کړي چې د څه ډول مصيبت سره لاس او ګريوان دي خو توپکي مجاهدينو يې مخنيوي وکړي.» (۱۳ ص ۳۴۳)

غواړم د پورته کتاب څخه څو ورته ناوړه او دردونکې پيښې دلته بيان کړم:«په دريم مکرويان کې يوه پيغله وه چې مجاهدينو غوښتل جنسي تيري ورباندې وکړي، نومورې نجلې هم د پنځم پوړ څخه ځان لاندې وغورزاوه چې ځاي پر ځاي په شهادت ورسيدل. سبا خلک د اعتراض په توګه را ووتل او د اسلامي دولت پر ضد يې مظاهره وکړه چې د جکړه مارو د وسلو په شليک سره څو تنه ټپيان او اعتراض خاموشه شو.»

د بخښنې نړيوال سازمان ليکي:«نفيسه ۲۵ کلنه پيغله وه چې د نظار شورا وسلوالو (شورای نظار د مسعود ډله) غوښتل جنسي تيري ورباندې وکړي، پيغلې د ځان

وژنې هڅه وکړه. نوموړې په خيرخانه کې اوسيدل او د لوړ پوړ څخه يې ځان لاندې وغورزاوه چې ملا او پښې يې ماتې شوې.»

يوه ښوونکې چې د ۱۹۹۴ زکال په نيمايې کې د کابل څخه پاکستان ته را تښتيدلې وه، کيسه کوي چې د وسلوالو لخوا د بې عزت کيدلو په خاطر د کابل څخه را ووتل. کيسه کوي چې زموږ ګاونډۍ ښځه چې منځني عمر يې درلودي او ځوان زوی يې درلودي. يوه ورځ د يو دوکان مخې ته تيريريدل چې د دوستم وسله والو بريد پر وکړي، دوکاندار يې د دوکان څخه وشاړه او ښځه يې دوکان ته دننه کړل . يو نيم ساعت يې پر ښځې تيري وکړي.»

«بله ښځه کيسه کوي چې زه او اخښي مې غزنی ته تللو د لاری پر سر د وحدت حزب غړو (د عبدالعلي مزاري نفرو) را وګرځولو چې تاسې جاسوسان ياست. يو کانتينر ته يې بوتلو چې د انسانانو سترګې يې ايستلې وې. موږ ته يې وويل که تاسې اعتراف ونکړي ستاسو سترګې هم باسو تر ډيرو شکنجو وروسته مو يو ډول نجات پيدا کړي.»

«۱۵ کلنه پيغله چې په چهلستون کې اوسيدل کيسه کوي چې د حزب اسلامي وسلوالو د هغوي پر کور بريد وکړي. پلار يې په دې ګناه چې لور يې ښوونځي ته ځي ورته وواژه او پر نجلۍ يې جنسي تيري وکړي.» (۱۳ ص،ص ۳۴۳ ـ ۳۴۳)

جالبه ده چې د حزب اسلامي غړو يو انسان په دې تور چې لور يې ښوونځي ته ځي، وواژه خو د ګلبدين حکمتيار دواړې لوڼې، د برهان الدين رباني، عطامحمد، عبدالله لوڼې لوړې زده کړې کوي. دا دي د اخوانيانو عدالت.

پورته څو دردناکه کيسې مې ځکه په مسلسله توګه وليکلې چې د بنسټپالو د کړونو او وحشتونو تر مينځ ډير توپير نشته. د دوي له مينځه چې هر نوم يې ځانته غوره کړي وحشي صفتونه لري. دا چې سياسي اسلام ته عقيده لري مانا يې داده چې د اسلام مبارک دين بنسټيزو اصولو ته وفاداره نه دې د خپلې ټولنې دود او دستور ور ته ارزښت نه لري د خپلو موخو د برياليتوب لپاره هر ډول بيناموسي ورته عيب نه ښکاري. تاسو وينې چې د جمعيت، وحدت او اسلامي حزب داړه مارانو چې په ظاهره توپير سره لري ورته جنايتونه تر سره کړي دي. د دې لپاره چې خپل وسلوال خوشاله وساتي او هميشه د دوي د لاسونه اله وي د هر ډول جنايت د تر سره کولو اجازه ورکوي په دقيقه توګه داعش نن هم دا کار کوي. د اخوانيزم د مکتب سرچينه د يو ځای څخه ده هغه دا چې انسان او انسانيت نه پيژني هر څه د اسلام په قالب کې ځايوي. سرغړونه د کفر په ټاپه باندې خاموشه کوي.

ډیر افغانان شکایت کوي چې طالبانو د خپل واکدارۍ په وخت کې د هر ډول خوښیو مخنیوي کولو او حتا موسیقي ته یې اجازه نه ورکول. بیا یې تکراروم چې (سگ زرد برادر شغال است) ټولې بنسټپالې ډلې په یو او یا بل ډول سره ورته دي. پام وکړئ د (جنگ های کابل) کتاب اړوند سند ته:«د هنر او موسیقي د ځوړند مرحله د ۱۹۹۲ زکال څخه پیل شول. دا دوره تقریباً یوه لسیزه وه. اسلامي بنسټپالو د دولتي واک څخه په گټه اخیستنه د فرهنگ، هنر او موسیقي سره د دښمني ځیره څرگنده کړه. هنر او هنرمند د دین سره په مخالفت کې تعبیر شول. له دغې نیټې څخه د هنر او موسیًقي د انحطاط او ځوړند مرحله په شدت سره پرمختلل. هنر او موسیقي د اسلامي دولت لخوا حرام اعلان شول.» (۱۳ ص ۳۷۲)

ما په کراتو کراتو لیکلي چې مجاهدین، طالبان او داعش د اخوانیرم د فلسفې څخه سرچینه اخلي نو ځکه د یو او بل د کړونو بشپړوونکي دي هره ډله تر بلې ډلې زیات د ولس په وړاندې د وحشیانه کړونو څخه کار اخلي. غواړم د برهان الدین رباني د وخت د دارالافتاء فرمان د بیلگې په توگه وړاندې کړم.« دافغانستان داسلامي دولت دسترې محکمې دارالافتا ، د ۱۹۹۳ز کال داگست پر۲۷ مه نیټه دا پریکړه « د ستراو حجاب شرعي فتوأ) په نامه صادره کړه . جمهورریس ته یې وړاندې کړه، ولې د کورنیوجگړو د شدت په وجه دا فتوأ عملي بڼه پیدانه کړه. د فتوا په سریزه کې داسې راغلی دي :

« قوماندانانو او اسلامي جهادي اتلانو د سترې محکمې څخه د شرعي ستراوحجاب په هکله پوښتنې کړې دي چې موږ دا پوښتنې د سترې محکمې مسلکي کمیسون ته چې یوه ډله مولوي صاحبان هم په دې ډله کې شامل دي ، د غور او ځیرنې په خاطروړاندې کړې دي. د قوماندانانو له خواپوښتنې په دې ډول وې :

ـ آیا ښځې په عصري ، مدرن اوغیراسلامي جامه کې حق لري چې په دفترونو او ښوونځیو کې گډون وکړي یانه ؟
ـ آیا ښځې په ښارونو، بازارونو، کوڅو او نورو ځایونو کې په رسمي او دودیزو محفلونو کې تگ او را تگ کولای شي یا نه ؟

ـ که چیرې ښځې د تگ او راتگ ، سفر او یا په دفترونو کې له نارینوو سره په خبرو کې ولیدل شي، آیا دا کړنه د اسلامي شرعیت سره سمون لري ؟

وروسته کمیسون پر پورتنیو پوښتنو باندې غوراو ځیرنه وکړه او د یوې شرعي فتوأ په ځیریې د دارالافتا ریاست ته په لاندې متن ولیږل :

« موږ د افتأ او ځیرنو د ریاست مسلکي غړو د پورتنیو پوښتنو په هکله یوه شرعي فتوأ د فقې او تفاسیرو د معتبرو کتابو د لارښووني مطابق د یو لړمقنع دلایلو سره په

دغه پاڼوکې درج کړي او تاسوته يې لیږو . امید لرو چې د اسلامي جمهوریت د ریس د تایید وړ وګرځي او په ټولو دولتي ادارو او دفترونو کې یې عملي کول حتمي شي . د۱۱ تنولاسلیکونه ، د فتوا د عربي کلماتو

ژباړه ولولئ :

**۱ ـ د ستر او حجاب په هکله**

فتوا په ټولیز ډول حکم کوي چې «د ښځو ستر او حجاب فرض دی» د دې امر منکر کافر او کوونکی یې فاسق او اجرأکول یې لویه ګناه (ګناه کبیره) ده . دا پریکړه د قرانکریم د آیات پربنسټ صادره شوی ده... د حجاب شرطونه دادي :

ـ حجاب یانې د ټول بدن پټول د مخ په ګډون.

ـ جامه باید تنګه اونازکه نه وي .

ـ جامه باید ښایسته اورنګه نه وي چې د خلکوتوجه جلب کړي .

ـ جامه باید نازکه نه وي چې د وجود د فتنې برخې ښکاره شي .

ـ جامه باید خوشبوی نه وي چې د نارینو توجه جلب کړي .

ـ ښځې و نارینوو ته ورته جامې وانه غوندي ...

**۲ ـ دښځودزده کړوپه هکله**

په دې هکله ډیرروایتونه نوشته نوشته شوي دي چې زه یې لنډیزتاسوته وړاندې کوم . که څه هم په اسلام کې ویل شوي دي چې: ((دعلم زده کړه پرنراو ښځه فرض ده))، خو د دې څخه مطلب دا دی چې ښځه یوازې باید اسلامي زده کړې هغه هم د خپلوهغو اقاربو څخه چې ورته محرم وي ، وکړي . که دا امکان نه وي، نوبیګانه سړی په هغه وخت کې ښځې ته اسلامي زده کړې ورکولای شي چې یومحرم نارینه ورسره موجود وي . د ښځو ښوونځي چې نجونې په ډلوډلو ور روانې وي ، روا کار نه دی. که څه هم ښوونکي یې مسلمان وي او اسلامی ستر او حجاب مراعت هم شي .ځکه تجربې ثابته کړې ده چې داسې کړنې د ښځو پر اخلاقو ناوړه اغیزه ښندي. حتی ښځې د لمانځه له پاره هم له کور نه بهرد وتلو اجازه نه لري . داسې هم ده چې د ښځوله پاره تعلیمات او کتابت حرام دی . د ښځو نفقه او ټولې اړتیاوې د نارینوو مکلفیت دي . نو ځکه ښځه هیڅ اړتیا نه لري چې له کورنه بهر د کار له پاره ووزي . د ښځې دنده یوازې دا ده چې له میړه سره د کور په چارو کې مرسته

وکړي . (ل:دا مطلب د اتحاد اسلامي د ګوند مشرعبدالرب رسول سیاف هم په ورته ډول بیاناوه :« ښځه په کورکې دکورنیو چارو وزیره ده») .

د افتأ د ریاست مسلکي غړو د فتوا په پای کې اسلامي دولت ته داسې توصیه وکړه:

له پورته بیاناتو څخه په ښکاره څرګندیږي چې د ښځو کار د نارینوو سره یوځای په دفترونو، ښارونو او د زدکړو په عصري ښوونځیوکې غیرمشروع ، د لویدیز پیروي او د بې دینه نظامو چاره ده چې په قطعي ډول حرام دي . افغانستان یومسلمان ملت دی چې د اسلامي نظام او الهی احکامو د تطبیق له پاره یې خوارلس (۱۴) کاله وسلواله جهاد کړی دی او ډیرې قربانیانې یې منلي دي . اوس هم د پخوا په څیر د اسلامي حکومت په دفترونو، ښوونځیو، رادیو او تلویزون کې په کارونو لګیاه دي اوهم په بازارونو کې بیله حجابه تګ او راتګ کوي . هیڅ توپیرد تیرو وختونو څخه نه لري . ولې هره ورځ د کابل راډیوڅخه اوریدل کیږی چې په افغانستان کې الهی احکام او په ځانګړي ډول ستراوحجاب عملي بڼه لري . د دولت د مسولینو او چارواکو څخه په جدي او تکرارډول غواړو چې د خدای تولهٔ اوامر په ځانګړي ډول ستراوحجاب ډیرژر عملي کړي . ښځې د دفترونو څخه وباسي **او د ښځو ښوونځي چې په حقیقت کې د زنا او فحشأ مرکزونه دي ، وتړل شي** . د رادیو او تلویزون څخه ښځې وباسئ چې د الهی احکامو د تطبیق له پاره شواهد موجود شي . د سترې محکمې د دارالافتأ فتوا تصویب شول. (د افغانستان د اسلامي حکومت د سترې محکمې ریاست د دارالافتأ او څیړنود ریاست د مسلکي غړو لاسلیکونه).

نوټ: د دې فتوأمتن د یوې رسالې په واسطه چې لاسلییک اوټاپه شوی وه د ۱۹۹۳ز کال د اګست په ۲۷ مه نیټه په کابل کې په رسمي ډول چاپ شوه . وروسته د « آیینه افغانستان» په مجله کې د کالفورنیاپه جنوب په ۳۴ مه ګڼه کې د ۱۹۹۳ز کال داکتوبرـ نوامبرپه میاشت کې خپره شوه چې په ۷۴ـ ۷۸ مخونوکې داصل مطابق خپره شوې ده . د زیاتومعلوماتو له پاره کولای شي مطالعه یي کړي . (۹، ص ۴۲۱ ـ ۴۲۷) .

که پورته فتوا په غور ولوستل شي د برهان رباني حکومت چې اوس هم د متمدنو او پراخ نظر درلوونکو ادعا لري، تر طالبانو هم د ښځو او ښځو زده کړو په تړاو تاریک نظریات درلودل. په ډیره سپین سترګي یې د ښځو ښوونځي د فحشا مرکزونه ګڼلي دي. جالبه دا ده چې د فتوا په هیڅ جمله کې د کابل پر عزتمندو ښځو باندې د جهادي وحشیانو کړنو ته اشاره شوي نه ده. د کابل ښار د چور او چپاول او همدارنګه د خلکو د شخصي شتمنیو د غضب او وژنو په تړاو هم څه نه تر سترګو

کيږي. تاسو کولای شي چې د برهان الدين رباني د دارالافتاء پريکړه د طالبانو په څپرکی کې د طالبانو د مقرراتو سره پرتله کړي بيا نو ښه قضاوت کولای شي.

غواړم يو څو نورې بيلګې په کابل کې د مجاهدينو د وحشتونو او غيري انساني کړونو د بيلګو په توګه د رحمت اريا د ژباړل شوي کتاب څخه ګرانو لوستونکو ته وړاندې کړم:

**پر افشارو باندې بريد**

رحمت اريا په خپل ژباړل شوي کتاب کې ليکي:«پر افشارو د شورای نظار (مسعود) اتحاد اسلامي (سياف) او حرکت اسلامي ډلو غيري انساني او وحشي بريدونه به تر ډيرو کلونو د مقالو او کتابونو سرپاڼې وي. د ۱۹۹۳ زکال د فبوري په پيل کې د برهان الدين رباني دولت د جمعيت او اتحاد لوړ پوړو بولندويانو پريکړه وکړه چې د اسلامي ګوند او وحدت د ټلوالې پر وړاندې کوټلي ګامونه اوچت کړي...د بشرد حقوقو د څار ټولنې له بيلا بيلو رسمي چارواکو څخه چې د نظار په شورا او لنډ مهالي دولت کې يې کار کاوه د ډاډ وړ معلومات تر لاسه کړي دي. هغوی منلي دي چې دغه بريد د جمعيت، نظار شورا، اتحاد او رباني دولت د لوړ پوړو کسانو له پلوه پلان او منظور شو... له بريد څخه دوې ورځې مخکې د کابل د بادام باغ په سيمه کې مسعود په خپلې پوځې اډې کې يوه غونډه ونيوله، په غونډه کې د جمعيت او اتحاد د ډلو لوړ پوړو بولندويانو ګډون وکړ. په هغه وخت کې د جمعيت د ډلې په مشرتابه کې دغه کسان ول: ملا عزت د پغمان بولندوی، محمد قسيم فهيم د ملي امنيت ريس، بابه جان، انور ډنګر، ګدامحمد، بابه جلندر، حاجي الماس، ګل حيدر او بسم الله خان... د نورو معلوماتو له مخې د اتحاد دوه بولندويان، شير علم او زلمی توپان او د حرکت د ډلې مشر حسين انوري هم په غونډه کې ول. د معلوماتو له مخې سياف په پغمان کې د اتحاد د ډلې له لوړ پوړو بولندويانو سره د پلان شويو عملياتو په اړوند غونډه جوړه کړه. د هاغه مهال د اتحاد په مشرتابه کې دغه کسان ول: په خپله سياف، حاجي شير علم، زلمی توپان، عبدالله شاه او ملا تاج محمد. ښايي څو تنو منځپوړو بولندويانو هم ګډون کړي وي.

د افغانستان لپاره د عدالت د پروژې د ګزارش پر بنسټ مسعود په خپله د فبوری د مياشتې په ۱۲ نيټه د عملياتو په دويمه ورځ د کانتيننټال په هوټل کې غونډه جوړه کړه. په غونډه کې د رباني، سياف او فهيم په څير سياسي او پوځي مشران هم ول.» (۱۲ ص،ص ۱۲۵ـ ۱۳۱)

د پورته تفصيل څخه مې موخه دا ده چې اوس په ځينو غونډو کې د سياف په شان جګړه مار دا نه مني چې په وژونو او د خلکو په زوروړلو او جنايتونو کې ونډه درلوده. خو د جګړې پلان هم دوي جوړ کړي او په عمل کې پياده کړي دي. د

قومندانانو وحشي کړنې د دوي څخه پټې نه وي بلکې دوي خپلې سیاسي موخې مخته وړلي دا چې د خلکو شتمني، مال او ناموس د کوم ګواښ سره لاس او ګریوان وو، د دوي لپاره د تشویش وړ نه ګڼل کیدل.

د رحمت اریا د کتاب د معلوماتو پر بنسټ پر افشارو ځمکنۍ برید د ۱۹۹۳ زکال د فبورۍ د میاشتې د ۱۱ نیټې په لومړیو ساعتونو کې پیل شو. د حرکت له ځواکونو سره له تړون وروسته د جمعیت ځواکونو د افشار د غره لوړې څوکې ونیولې... د مسعود جنګیالیو هر څوک ویشتل او ډزې یې ور باندې کولې... سړک د خلکو ډک وو هغوی نیغ پر سړک ډزې کولې. یو نفر وایي ما وشمیرل چې پر سړک ۱۷ جسدونه پراته وو، ډیرې یې میرمنې وې چې چادرۍ یې پر سرونو وې، یو شمیر یې ماشومان وو ټول ملکي وګړي وو.

د بل لیدونکي غمجنه کیسه واورئ: لومړنۍ سړی مو چې وموند د فیصل احمد په نامه یو بوډا سړی و. د هغه ککره د تنې څخه جلا شوی وه. یو لاس او پښه یې هم ور پریکړي وه. د هغه تناسلي اله یې ور پریکړي او تناسلي اله یې د هغه په خوله کې ایښي وه.

یو بل لاروي کیسه کوي: د لارې په اوږدو کې د سړک پر غاړه مې پنځوس یا شپیته مړي ولیدل، ځینې یې ویشتل شوي وو د ځینو مړو نسونه څیرې شوي وو... تر ټولو بده دا وه چې ژوندي نارینه یې جبري کارته اچول چې د کورونو څخه سامانونه راټول او د دوي په موټرو کې بار کړي او یا مړي ورباندې ټول کړي تر شاقه کار وروسته به یې ووژل.» (۱۲ ص،ص ۱۴۱ ـ ۱۵۲)

**د احمدشاه مسعود اړیکې د شورویانو سره**

غواړم د پورته موضوع په بیان ثابته کړم چې بنسټپال یاني د اخوان د مکتب پیروان په څومره سپین سترګۍ سره د خپلو سیاسي موخو د بریالیتوب لپاره د دښمن یا هغه چا سره چې د دوی په خبره جهاد ور سره اعلان کړي دي د پردې تر شاه تړونونه لاسلیک کوي او د خپل هیواد ولسونه د ښکاره دښمن په وسلو ځپي. د شورویانو او احمد شاه مسعود د اړیکو په تړاو د (جنګ های کابل) د کتاب د څو پاڼو څخه ګټه پورته کوم. ستاسو پاملرنه اړوندو مهمو موضوعاتو ته را اړوم:

« دا چې احمد شاه مسعود د افغاني اخوان المسلمین یوه جنجالي څیره معرفي شویده چې په ځانګړې توګه یې په نا ارامیو، د واک نیولو په جګړو کې په ۱۳۵۴ او ۱۳۸۰ لمریزو لیږدیزو کلونو کې ګډون درلودي. په همدې توګه د ۱۳۷۱ لمریز لیږدیز کال د ملګرو ملتونو د سولې د پروګرام په ناکامه کولو کې مرکزي رول درلودي او وروسته د (۱۳۷۱ ـ۱۳۷۵ ل.ل) کلنو په جریان کې د هیواد د ورانولو

او د بيګناه انسانانو په وژلو کې د پرديو څارګرو ادارو په اشاره مرکزي رول درلود نو ځکه اړينه ده چې د بهرنيو څارګرو ادارو سره يې اړيکې وڅيړل شي.

لومړی پروتوکول: احمدشاه مسعود د شوروي د څارګرې ادارې سره په ۱۹۸۲ زکال لومړی پروتوکول لاسليک کړي. د شوروي د (۴۰) اردو قوماندان جنرال بوريس ګروموف چې په افغانستان کې د شوروي پوځ مشرتوب پر غاړه و، په خپل کتاب (ارتش سرخ در افغانستان) کې ليکي: زموږ پوځ ډيرې لاسته راوړنې درلودي موږ په ۱۹۸۲ زکال د احمدشاه مسعود سره اړيکې ټينګې کړي چې د شوروي پوځ تر وتلو پورې دوام وکړي. زموږ د شتون په وخت کې اړيکې د مسعود سره په برياليتوب مخ په وړاندې تلي.

هغه تاريخي اسناد امريکايي مشهور ليکوال بروس ريچاردسن د شوروريانو او مسعود د تړون په باب ليکلي په جنګهای کابل کې مهم ټکي داسې بيان شوی دي:«۱ ـ د تاجکانو خودمختاري د تاجک قوم په مينځ کې البته په متحد افغانستان کې چې بدخشان، تخار، قندز، بغلان، پروان او کاپيسا به په کښې شامل وي.

۴ ـ د تاجکو منظمه پوځي قوا د جمعيت اسلامي ګوند پر بنسټ. (ل: ما يې يوازې دوې مادې چې د بيلتونپالنې څرګندې نښانې لرې را نقل کړي.)

په يو بل ځای کې احمدشاه مسعود غوښتنه کړي چې د پنجشير له سيمې څخه بايد د افغان پوځ (د کوماندو ۳۸ لوا ) ووزي چې شوروريانو دا کار ور سره ومني. يو هيت د انتقال لپاره وټاکل شو چې د جنګ های کابل کتاب ليکونکي يې هم غړی و. د لوا قوماندان ډګروال محمد فاروق د خپل کذارش په يوه برخه کې راغلي هيت ته داسې معلومات ورکوي:«د شوروريانو او مسعود د اور بند پروتوکول يو ډول مرموز دي. د خوراکي موادو او وسلو کاروانونه مسعود ته ورليږل کيږي...زه داسې ګومان کوم چې شوررويان د خپلو ملي ګټو څخه دفاع کوي که څه هم موږ د شوروريانو د لاسه اله معرفي شوي يوو خو د مسعود او شوروريانو اړيکې دومره نژدې او صميمي دي چې ماته يې شک پيدا کړي دي چې اينده واک به د چا وي؟ موږ د شوروريانو د لاس اله يو او که مسعود؟

د مسعود او شورویَ پوځيانو تر مينځ په ۱۹۸۸ زکال پرتوکول نوي شو چې دغه پروتوکول جنرال بی.وی.ګروموف، د دفاع وزير شهنواز تڼي او احمدشاه مسعود لاسليک کړي دي. په پروتوکول کې اوه مواده شامل دي چې زه دوې بيلګې وړاندې کوم:

دریمه ماده:شورویان تعهد کوي چې د جانبینو په موافقه د اړتیا وړ توکي، تجهیزات، ضروري مواد په ټاکلي وخت کې د دواړو لورو په موافقه د پنجشیر او نورو سیمو د اړتیا وړ توکي برابر کړي.

څلورمه ماده:نورو ډلو ته به اجازه ور نکړل شي چې په اړونده سیمه کې پر شوروي او افغان پوځونو ډزې وکړي که اړتیا شي شوروي پوځونه به د پنجشیر د مجاهدینو سره د هوایي او توپخانه بمبارد مرسته وکړي.

د جهاد اساسي لاسته راوړنې چې یو شوم میراث دي هغه د لارو نیولو، زور ګویي، چور، چپاول فرهنګ په ټولنه کې د پخوا په پرتله ډېر مروج کړي چې په پایله کې د جهاد قوماندانان په نامشروع توګه او د غلاو په پیسو شتمن شول.

د نوموړي لوا سیاسي مرستیال کیسه کوي چې د دندې پر وخت مې یو ګروپ چې (۱۲) تنه وو، مسعود د وسلو سره یرغمل ونیول خو لږ وخت وروسته شورویانو یرغمل سرتیري پرته د وسلو څخه ژوندي راوستل په داسې حال کې چې زما د ۱۳۶۶ ل.ل د پنجشیر د چاه اهو کیسه په مغزو کې راګرځیدل په هغه پیښه کې مسعود د افغان پوځ (۸۹) تنه یرغمل ونیول او ټول یې ووژل.

د هغه وخت پوځیان ښه پوهیږي چې د احمدشاه مسعود چریکي فعالیتونه د دولت پر ضد د یو ګیلاس اوبو د توفان په څیر و، ځکه احمد شاه مسعود پرته ترهګریزو بریدونو، غلاوو او ورانیو بله دنده نه درلوده. د احمدشاه مسعود د اتلولي چې د پنجشیر د زمري نوم فرانسویانو ورکړي و جارج ارنې داسې لیکي:« د دربار هغو دلالانو، د رستوران پیاده ګانو، بهرنې چاپلوسانو څنګه کولای شي جګړه وکړي. هغه څه چې انسان د دوی د اتلولي په اړوند اوري پرته د خبرلوڅو د فرانسوي نړسانو د جعل کاري څخه بل څه نه دي» (۱۳ ص،ص ۴۹ ـ ۶۹)

**ارزونه**: په پورته لیکنه کې مې د سیاسي اسلام په اړوند لنډ معلومات وړاندې کړي. د سیاسي اسلام د ملاتړو د کړونو په تړاو ژوندې انکار نه منونکي لاسوندونه وړاندې کړل. که په ژوره توګه موضوع تر څیړنې لاندې ونیسو، څرګندیږي چې په سلګونو کلونه د جهاد موضوع خاموشه وه خو امریکایي سیاستوالو د پخواني شوروي اتحاد د ړنګولو لپاره را ژوندي کړه. امریکایانو په میلیونونو ډالرونه د جهاد پر پروژه ولګول چې جهادیان او یا بنسټپال د خپلو موخو د پیاده کولو لپاره د خپلې خوښې سره برابر تربیه او روزنه ورکړي. په خواشینی باید ووایم چې د افغان ولس د استقلال او ازادي روحیه او د خپل هیواد سره مینه او ولولې چې په پیړیو پیړیو د ازمون څخه بریالی وتې وې، د امریکا د ډالرونو په لګښتونو یې اسلامپالې ډلې رانیولي او زموږ د هیواد د ازادي ملي جنبش یې د ناکامي سره مخامخ کړي.

په پورته ليکنه کې د جهاد د دوران او بیا د جهادي حکومت د وختونو کړنې په هیڅ انساني چوکاټ کې اندازه کیدلای نه شي. زموږ په هیواد کې تر ټولو د ارزښت څخه ډک دود و چې د بل چا ناموس ته په بده سترګه کتل د افغانیت او انسانیت څخه د وتلو په مفهوم تعبیریدل خو بنسټپالو او مشرانو یې په ډیر وحشت د افغانانو پر ناموس په سیستمایکه توګه تیري وکړي. په سلګونو زړه بنګونکي کیسې پیښې شولي. تر ټولو بده دا ده چې همهغه کسان اوس هم د جهاد په نوم د ولسونو څخه باج غواړي او پر ولسونو یې د وحشت، چوراو چپاول منګولي ښخې کړې دي. د ولس په وینو یې په هیواد او بهر کې شتمنۍ ذخیره کړي دي.

**د جهادیانو او داعش توپیر**: پورته مې ولیکل چې د جمعیت یو قوماندان د وړوکي ماشوم په خوله کې د توپک برچه ږدي او ماشوم د مور د تي فکر وربانديږ کوي ولې وحشي قوماندان یې په ستونې ور ننه باسي او د وژلو کیسه یې هم په ویاړ بیانوي. د افشارو په برید کې د برهان الدین رباني، احمد شاه مسعود، ملا فهیم (مارشال فهیم)، عبدالرب رسول سیاف، انورې، وحدت حزب او نورو په ګډون په ډیر وحشیانه توګه هزاره ګان او پښتانه یانې د کابل اوسیدونکي ووژل، بې عزته یې کړل، او د کورونو مالونه چور او تالان کړل ولې دغه مشران اوس هم په ډیره بې حیايي او سپین سترګي سره ولس ته ځانونه د جهاد سالاران او واقعي مسلمانان معرفي کوي. پر کابلیانو یې د جهادي حکومت په دوران کې هغه تاړاکونه او ځورونې وازمویلي چې په نړۍ کې به لږ ساري ولري. د انسانانو څخه صلیب جوړول، د مړو نڅا، جنسي تیري، چور او تالان، ژوندي انسانان د ژوبنې زمریانو په منګلو کې ورکول، په سرونو کې د میخونو ټکوهل، د ښځو د تیانو پریکول، د وړي په ګرمي کې په کانتیرونو کې د سلګونو انسانانو بندي کول او په لسګونو نور ورته جنایتونه دا ښیي چې د داعش پروژه د پخواني جهادیانو د کړنې ادامه ده چې د امریکایانو لخوا د جهادیانو د وخت په څیر پیاده کیږي. دا خو ښکاره ده چې جهادیان امریکایانو وروزل او شک نشته چې داعش هم امریکایي روزنه تر لاسه کوي. راشئ چې سر ګریوان ته کښته کړو او په ربښتیني توګه اعتراف وکړو چې د داعش او جهادیانو د کړونو او وحشتونو تر مینځ کوم توپیر شته؟ ورته کړنې او لاسوندونه ښیي چې جهادیان او داعشیان کټ مټ یو د بل کاپي ده.

که مو یاد وي مجاهدینو ښوونځي سوځولي او د خلکو سرونه یې په دې جرم چې زامن یې ښوونځي ته ځي، پریکول. که لوڼې به یې ښوونځیو ته تللي د کفر د ټاپې څخه علاوه وژل یې واجب ګڼل. خو د حیرانتیا ځای دا دي چې د عطا نور، برهان الدین رباني زامن او لوڼې، د ګلبدین حکمتیار لوڼې او زامن، د یونس قانوني اولادونه او نورو د جهادي سالارانو نازولي اولادونه د نړۍ په مشهورو پوهنتونونو

کې زده کړې وکړي او یا په زده کړو مصروف دي. دا ولې؟ دا ځکه چې په سیاسي اسلام کې د موخو د بریالیتوب لپاره درواغ جایز ګڼي او غواړي چې اولادونه یې د دوي په دوام پر ولس واکداري ته دوام ورکړلای شي.

ولټر یو لوي فرانسوي عالم و چې د ترکیې د عثماني امپراطوري په دوران کې ژوند کولو، عیسوي مذهبه و، هیڅوخت مسلمان نه شو خو د ژوند تر وروستۍ سلګۍ یې د اسلام څخه دفاع کول ځکه هغه عیسوي کشیشان ظالمان او وحشیان کڼل چې د نورو عقیدو خلکو او یا مخالفینو ته ډیرې وحشیانه او غیري انساني سزاوي ورکوي. نوموړي ادعا درلوده چې د عثماني امپراطوري مشران د نورو ادیانو سره ګډ د سولې ژوند لري. زه باور لرم که اوس ولټر ژوندي وای په یقین سره به یې د اسلامي بنسټپالو ګوندونو څخه کرکه او نفرت دومره ډیر واي چې خپلې پر پخوانۍ عقیدې به پښیمانه واي.

که تاسو پورته لیکنې ته ځیر شي احمدشاه مسعود چې مبالغه امیزه القاب ورکړل شوي د شورویانو د څارګرې ادارې په منګلو کې و، د بیلتونپالنې بیلګې یې وینې چې هر څه د تاجکانو لپاره غواړي. یرغمل افغان سرتیري د شورویانو په امر خوشي کوي، د شوروینو سره تړون لري چې د جمعیت پر ضد د نورو اسلامي ډلو په ځپلو کې مرسته ور سره وکړي چې موخه یې د ګلبدین حکمتیار په مشرۍ اسلامي حزب و. د تړون څخه ښکاري چې احمدشاه مسعود ته د هیواد استقلال او جهاد یوازې دومره ارزښت درلودي چې نوموړي واک ته ورسیږي او ګټې یې خوندي وي. که د جمعیت او نورو اسلامي ډلو مشران اوس وګورو په دقیقه توګه د مسعود د غوښتنو سره سم مخته ځي. د امریکایانو تر څنګ ودریدل هیواد یې د اوږدې مودې لپاره د امریکایانو په منګلو کې ورکړي، د روسیې او ایران سره د ملي ګټو پر ضد اړیکې ساتي، په چور او چپاول یې د نړۍ د شتمنو سره سیالي پیل کړي دا هر څه د افغانستان د بیوزلو خلکو په قرباني تر لاسه کوي. جهادي مشرانو پر سندرو او موسیقي بندیز لګولي و، ډیر سندرغاړي د سندرو د ویلو په تور په شهادت ورسیدل خو په هغه وخت کې همدغو جهادي مشرانو او قوماندانانو د موسیقي په ګډون د وړو هلکانو د نڅا پروګرامونه جوړول چې په یوه ویډیو کې د دفاع پخواني وزیر بسم الله خان هم لیدل کیږي. اوس هم همدغه کسان ورته پروګرامونه جوړه وي او په ډیره سپین سترګي د نړیوالو خبرلوڅو سره د بچه بازي کیسې کوي خو بنسټپال د حکومت واک لري. دا چې خپل کسب یې دي خولې پټې نیولې دي.

د مسعود پیروان ادعا کوي چې احمد شاه مسعود وژنې کړي نه دي که د افشارو تر خونړۍ برید ور تیر شو یوه وړه بیلګه یې چې ماپورته بیان کړل د ۸۹ افغاني

سرتیرو او پوځیانو جمعي وژل نه هیریدونکي ترخه خاطره ده. د جهادیانو یانې اوسنې واکمنانو په تېراو د ځدران درویش یوه لنډه کیسه درته رانقلوم:

قاتلانو ته اتلان وایی؟!!!!!!!!

لــــــنډه کـــــــــــیسه!!!!!!

د کابل اَ سمان کې ځای ځای وریځې وي. فضا یې په خړو خاورو پټه وه .د فطرت زخمي زخمي غرونو د لمر دوړانګو سره په مخه ښه کوله. د میوند په واټ کې داَزادي څلي سره موړ دریو ملګرو د ژمنې سره سم د بل ملګري د لیدو لپاره د انتظار شیبې شمیرلې . یوڅه وخت لپاره چوپه چوپتیا وه ، زموړ یو ملګري چوپتیا ماته کړه او داسې یې وویل:

موږ د خپلو اتلانو ارمانونو ته درناوی ونه کړ. د میوند اتلانو د څه لپاره مبارزه وکړه هغه سپیڅلي اَرمانونه او سربښندنې اوس کومې دي؟ د میوند واټ رنګوو او ویجاړو دیوالونو ته یی اشاره وکړه اوزیاته یی کړه چې هیواد د مور حیثیت لري مګر موږ د خپل مور حق ادا نکړ، د احترام په سترګه مو ورته ونه کتل. په سکه اولادونو مو مور بوره کړه له ټپونو څخه یي لا تر اوسه څاڅکی څاڅکی وینې بهیږي. مور مو دواړه لاس په تندي په چیغو چیغو ژاړي په ټپونو یی مالګې دوړه وو، پاتې سکه زامن یی د خپلو ورونو قاتلانو ته اتلان وایي! بل ملګري یي خبره پري کړه اوزیاته یي کړه: دلته یو وخت توپیر د هر چا د وژلو ستره فتواه وه. هر څه له خپله لاسه ؤ او زیاته یی کړه اللهج فرمایی((تقدیر په تدبیر سمیزي)) ما ورته د هو په علامه سر وخوځاوه اوزیاته می کړه که هر څوک وغواړی الله ج دغه هغه حالت بدلوي، موږ چې لا خبرو ته د پای ټکی نه ؤ ایښی ، یو بوډا سړي یوه ماشومه نجلۍ ترلاس نیولې وه. داسي ښکاریده چې ښایي معصومې نجلۍ وړاندي په څه ژړلي وي، په بنو یې اوښکې ځنځولۍ وي شاته یی یوه ښځه چې په تن یی افغاني د برم او عظمت څخه ډکې جامې په ځان وي په بوډا پسي پښه نیولې راتله له ورایه ښکاریده چی بي کسه او بي وسه ځوانه پښتنه کونډه کي یوه نړۍ شرم رانغاړل شوی ؤ. زموږ په لوري را راون ؤه. بوډا مو ږ ته نژدې شو د سترِیا نښي له ورایه پکي ښکاریدي بوډا په داسې حال کې چې لاسونه یی رپیده ورو یی وویل: د الله ج په نامه زموږ سره د خپلې وسې په اندازه مرسته وکړي د بوډا څخه مې د خیرات غوښتلو علت وپوښت؟ « بوډا په ژړغوني لهجه وویل: له هلمند څخه راکډه شوي یوو د قمبر په څلور لاري کې ځای پرځای شوي یو، مجبور یم بچیانو چې خیر وغواړم. ځوان زوی مي ناپیژاندو وسلوالو په ډزو وواژه. نه پوهیږم چې عسکرانو(عسکرو) وویشت، طالبان ؤ او که امریکایان ؤ .خو رانه یی واخیست بیایی د اسمان په لوری وکتل او په لږ شان لوړ اَواز یی وویل: زما زوی خو چیري

په میړی هم پښه نه وه ایښې هر چا چې راسره دغه ظلم کړی دی خدایه دې ورته جزا ورکړې له همدې سره یی سترګې د ژړا څخه ډکې شوی نور څه یې ونه ویل د لستوڼي په څنډه یې د سترګو اوښکې وچولي بیا یی نږور ته د تلو اشاره وکړه» د اَزادي ځلي هم د دوي د مظلومیت ننداره کوله په ژوره چوپتیا کې ډوب و، دوی روان شول. زموږ د ذهن فضا یې په تورو لړو او توفانونو پټه کړه. او د خفګان د سیلابونو څپې پکې پیل شوې. د دوی په حالاتو مې دواړه سترګې د اوښکو څخه ډکې شوې د اسمان سترګو هم ژړل ، تالندې له هیبته ډک غړونه کول»

اسلامي بنسټپالو په رښتیا هم زموږ د پخواني اتلانو د ویاړ ځلي نه یوازې ړنګ او په وینو ولړل خو ویاړنې هم په خپلو وحشي کړونو د خلکو د ذهنونو څخه پاکې کړي ځکه هیواد او ولس یې د خپلو ګټو د خوندي کولو لپاره د امریکایانو په منګلو کې ورکړي.

**داعش عراقی مېرمنې سنت کوي**

«تاند ۲۰۱۷/۷/۲۵- ملګرو ملتو د پنجشنبې په ورځ وویل چې په عراق کې د اسلامي دولت ترهګرو، چې پخوا یې ځان داعش باله، امر کړی چې د موصل او د دغه ښار د شاوخوا نجونې او ښځې دې سنت شي.

د فتوا پر اساس باید د سیمې شاوخوا ۴ ملیونه ښځې او نجونې سنت شي.

د عراق او شام د اسلامي دولت د ترهګرو د فتوا پر اساس د موصل ښار او د هغه د شاوخوا ټولې ښځې او نجونې باید ځانونه سنت کولو ته تیارې کړي.

دا خبره د عراق په ازبیل کې د ملګرو ملتو د بشري چارو همږغوونکې جاکلین بدکوک هم تایید کړه.

د رویټرز خبري اژانس د راپور له مخې مېرمن بدکوک وویل، په عراق کې دې خورا نوې مسلې ډېر عراقیان اندېښمن کړي دي او پکار ده چې ورته پام وشي.

څرګنده نه ده چې د داعش د دې ډول کارونو اصلي هدف څه دی. څه باندې یوه لسیزه پخوا په افغانستان کې طالبانو هم د اسلام په نوم دې ته ورته کارونه کول خو ښځې یې لا سنت کړې نه وې چې امریکایانو یې رژیم ورووپرزاوه.»

ما مخکې (او لاګلونه سوځي) کتاب کې پر همدغې موضوع بشپړ معلومات وړاندې کړې دي. دا څرګنده خبره ده چې د نجونو سنت کول کومه اسلامي او شرعي موضوع نه ده یوازې په ډېرو افریقایي هیوادونو لکه مصر او سومالیې کې د یو دود په توګه تر اوسني نسلونو پورې را رسیدلي دي. سره د دې چې دغه دود د

افغانستان په ځیر ډیرو اسلامي هیوادونو کې د ننګ او شرم موضوع ده خو داعشیان یې غواړي د اسلامي سنت په ډول یې پر ولسونو په جبر او زور ومني.

**په نړۍ کې د مهمو بنسټپالو اسلامي ګوندونه لنډه پېژندنه**

په افغانستان کې چې په ظاهره جهاد د شوروي د اشغال پر ضد په ۱۹۸۰ زکال پیل شو، په حقیت کې د پیل څخه امریکایي او پاکستاني پروژه وه ځکه د افغان ولس ملي جنبش په سټه کې خپه شو، د هیواد د ازادی او استقلال خبري هیري خو د اسلام او کمونیزم جګړه د برژنسکي (د امریکا د امنیت د شورا مشر) د دوکتورینو پر بنسټ پیل شول. د افغانانو په استازیتوب د مصر د ازهر د پوهنتون څخه فارغ شوو کسانو چې د اخوان المسلمین ایډیالوژي یې د ځان سره افغانستان ته راوړي وه، د سي آی ای او آی اس آی په چوپړ کې ودریدل. په ایران کې اته ګوني ګوندونه د خمیني د ایډیالوژیګانو څخه خړوبیدل که څه هم ایران د امریکا او لویدیزې نړۍ سره په دښمني کې و خو د افغانستان موضوع د دوي د یووالي ټکي وو نو ځکه هغه ګوندونه هم لږ یا ډیر د همدغو دوو څارګرو ادارو په چوپړ کې ودریدل خو د ایران د څارګرې ادارې د لارښوونو څخه یې سرغړونه نه کول.

د برژنسکي د دوکتورینو پر بنسټ او د پاکستان د وخت د جمهور ریس، ضیاء الحق چې تندروه مسلمان و، په زرګونو بنسټپال د نړۍ د ګوټ ګوټ څخه په پاکستان کې سره راټول شول. دغو تندروه اسلامي جنګیالیو برسیره پر دې چې د پاکستان د پوځیانو لخوا پوځي روزنه تر لاسه کړه په عملي ډول یې دننه په افغانستان کې د جهاد تر بیرغ لاندې د افغاني اخواني ګوندونو سره اوږه پر اوږه د افغانستان په ورانولو او افغان وژنه کې ګډون درلودي. د پخواني شوروي اتحاد د سقوط څخه وروسته د دغو اسلامپالو جنګیالیو زیات شمیره دوباره خپلو هیوادونو ته د پخو تجربو سره ستون شول خو یو شمیر یې په افغانستان کې هم پاته شول. البته د امریکا څارګرې ادارې تر جدي فوکس لاندې نیولي وو چې په نورو اسلامي هیوادونو کې د خپلو موخو د پیاده کولو څخه ګټه ورڅخه پورته کړي. دا چارې دوي ګټې درلودي د یوې خوا یې نړیوالو ته د اسلام دین د وحشت او وژنو دین ورپیژاند د بلې خوا یې هغه رژیمونه چې د دوي فرمانونو ته یې غاړه نه ایښودل، وربانديې نسکورول. دا بالکل زموږ د حضرتانو پروژې ته ورته وه چې د غازي امان الله خان په ګډون یې نورو مترَقي پسنده مشران ور باندې ټکولي دي خو دا د حضرتانو نوښت نه وو بلکې دوی د انګریز په مکتب کې روزل شوي وو. همدا وجه ده چې هیوادوال ویني او اوري چې نړۍ او افغانستان د اسلامي بنسټپالو په ناتار کې راګیر ده.

هیره دې نه وې چې د افغانستان اخوانیان په چړچو او مزو واوښتل، ډیرو یې څو تنازې پیغلې په نکاح کړي او د جنسي تجاوزونو په پایله کې ډیرو پیغلو ته لاسرسۍ

ومونډ، بنګلې او ښکلې ودانۍ يې جوړې کړي، ډالرونه يې راټول کړل، د لويديزې ډموکراسۍ سره يې ځانونه او حتي ړيرې هم عياري کړي چې اوس د لويديزو په ځانګړې توګه د امريکا اشغال ته اتنونه کوي او حتا د بېناموسۍ تر کچې يې په چوپړ کې دي. جالبه ده چې د اخوان المسلمين د مکتب او افغان ولس سره يې ستر خيانت وکړي خو بيا هم د جهاد د حقوقو غوښتنه کوي.

دلته غواړم د ښاغلي کريم پوپل د اوږدې ليکنې څخه ګټه پورته کړم چې د نړۍ د ترهګريزو ډلو په تړاو يې په دري ژبه ليکلي او زما په پاڼه [8] کې هم خپره شوي ده.

**د نړۍ مهمې اسلامي بنسټپالې ترهګريزې ډلې**

**اسلامي دولت يا داعش**

د داعش لومړنۍ هسته په ۲۰۰۴ زکال کې د ابوامصعب الزرقاوي لخوا کښيښودل شول. زرقاوي د اردن و او په افغانستان کې د شوروي پر ضد په جهاد کې برخه درلودل. کله چې امريکايانو پر عراق بريد وکړي د توحيد او جهاد په نوم يې يوه پوځي ډله جوړه کړه. دا چې زرقاوي ډېر تندروه و، د ډېرو بېګناو انسانانو د وژلو په علت سني مذهبه او القاعده په ۲۰۰۵ زکال ورسره مخالف شول خو زرقاوي د مجاهدينو شورا چې القاعده او پنځه نور ترهګر ګروپونه ور سره ګډ وو، په ۲۰۰۶ زکال يې اختلافاتو ته د پای ټکي کښيښود. نوموړي لږ وخت وروسته جوړه شوي شورا د القاعدې يوه څانګه وګڼل او د القاعدې امير ته يې په عراق کې يو پيغام وليږي. په دې ترتيب سره يې ټول جهادي ګروپونه چې د سني مذهبه تندروه ډلې ته يې بيعت نه کولو، کافران وګڼل او په ۲۰۰۶ زکال کې په عراق کې د شيعه مذهبو پر ضد جهاد اعلان کړي.

د زرقاوي تر مړينې وروسته د مجاهدينو شورا، ابو حمزه المهاجر د مشر په توګه وټاکئ. په ۲۰۱۰ ز کال امريکايانو د اثر ثار پر سيمې بريد وکړي، ابو عمر بغدادي او ابو حمزه المهاجر يې ووژل. تر دې وروسته ابوبکر بغدادي په عراق کې د اسلامي دولت مشر اعلان شو.

ابوبکر بغدادي په يوه ږغيز پيغام کې جبهه النصره په عراق کې د اسلامي دولت دوام ورکوونکي اعلان کړل. د خپل سازمان نوم يې په عراق او شام کې اسلامي دولت (داعش) اعلان کړي د داعش په نړيوالو خبري رسنيو کې د سی سی [9] په نوم

---

[8] - nahimi.dk

[9] - Sisi, sis

یادیږي. وروسته يي په ۲۰۱۳ زکال د خپل دولت نوم د عراق او سوریې په نوم بدل کړي تر څو وکولای شي په دواړو هیوادونو کې عملیات وکړي.





**د داعش د جنایتونو یوه دردونکي بیلګه:**

**د هغه نجلۍ کیسه چې د ملل متحد سازمان یې وژړاو:**

د نادیه مراد د وینا متن!

کومه نجلۍ چې درې کاله د داعش سره بندۍ وه او اوس یې د نوبل سولې جایزه واخیسته.

نوم یې داعش و، راغلي وو چې مونږ جهنم ته یوسي او خپله جنت ته لاړشي، بلنلیک یې په چپ لاس کې نیولی و او د ښي لاس د شهادت په ګوته یې اسمان ته اشاره کوله!

مور مې د شرعي سکس لپاره ډیره زړه وه ، د جنتي حورو خوند پکی نه و نو هغه یې ووژله، کوچنی خور مې باکره وه، معصومه وه، لکه مریمه کردی وه، د زلالو اوبو په څیر هغه یې وساتله چې د مشر امیر میرمنه شي!

خدای حاضر وو چې مونږ ټوپک نه درلود، یوازی مو خپله محلي سندره زمزمه کول.

خدای حاضر وو، چې مونږ خپلو ګلانو ته او ګلدانیو ته خاوره ورکوله.

خدای حاضر وو چې پلار یې راته په دوو برخو وویشلو سر یې پریښود او تنه یې ځمکی لاندی کړه چې تیل ورڅخه جوړ شي.

خدای حاضر وو چې کشر ورور یې راته لوڅ لمرته وغورځاوه او ورته یې دا ښودلو چې خدای لوی دی (الله اکبر)

خدای حاضر وو چې هغه له تندی څخه ساه ورکړه

خدای حاضر وو چې دوی تور وو، دوی د اور او ډبرو د هیواد (دوزخ ته اشاره) اوسیدونکي وو، په ژبه یې نه پوهیدم خو په حرکاتو یې پوهیدم.

لویی ږیری، کوچني دماغونه او کلک باور! نومونه یې لړم، ملخ او کربوړی وو خلاصه چې د وړیو او باور یو لښکر و.

دوی زما هیلی ووژلی او ماته یې د غنیمت په نامه غږ کولو.

لدی ورځی وروسته نوره نادیه نه وم، بلکی له هغه ورځی هغه د ټپي روح خاونده ومه چې له اوسلیو مې وینی څڅیدی، هغه نازکه بلا وم چې له نړۍ سره یې اړیکی پری شوي وې او هغې مومیایي شوي لاش ته ورته وم چې سره له زرکلن لرغونتوبه بیا هم کوم ارزښت یې نه درلود.

هلته ښځه مړه کیده، امیدواره کیده، ښځی انتحار کاوه، ځان سیځنه کاوه......زر رکعته جبري لمونځ یې کاوه.

ښځو به یوازی یوه نیته په یاد لرله د جنسي تیری نیته. نوری ورځی ټول یوشان د عذاب ورځی وی، یعنی تاریخ په دوو برخو ویشل شوی و، مخکی له تور ناورینه او وروسته له تور ناورینه.

لدی وروسته ښځی په یوه لاره بلدې وې کومه لاره چې دارالمجانین ته تللی وه.

لدی وروسته ښځی یوه سندره زمزمه کوله (مرګه چیرته یې ژوند ووژلم)

لدی وروسته ښځی تابوتونه وو چې په نس کې یې زرکلن مړه ماشومان ګرځول، لدی وروسته ښځی هغه مجسمی وې چې د ښارونو په منځ کې د تاریخ د عبرت لپاره ودرول شوې وې.

خدای حاضر و چې هوا ډیره توده وه، یو سړی راغی زه یې ووژلم او بیا یې دعا ګانی کولی چې وبخښل شم!!!

ژباړه د - united afghanistan )افغانستان متحد له پاڼې څخه

د نادیې کیسه ډیره دردونکي وه چې د هر انسان روح ته عذاب ورکوي خو د نادیې په شان زموږ په رنځیدلي هیواد کې ورته کیسې ډیرې تکرار شوي، یاني د داعش په پرتله څو برابره دردونکي پیښې د جهادیانو لخوا د (۱۹۹۲ ـ ۱۹۹۶ ز کلونو) په مینځ کې پر افغانانو تیري شوي دي. که داعش زیږیدون د امریکایانو پټه پروژه وي، جهادیان خو د امریکا او پاکستان ښکاره او څرګنده پروژه وه ځکه په کړونو کې په بشپړه توګه سره ورته دي، دا ټول جنایتونه د بشر د حقوقو په اصطلاح مدافعینو په مخ کې تر سره کیدل چې امریکایانو نه یوازې غوږونه کاڼه اچولي، د نوبل د جایزې خبرې خو لا د دوي په مغرورو مغزونو کې هم ګرځیدلي نه دي.

د ملګرو ملتونو په تاریخي پریکړه، امریکایانو ته اجازه ورکړل شوه چې هغه داړه ماران چې پر ډیرو پاکو، عزتمندو او د افغانانو د ویاړ ډکو نجونو باندې د مظلومو میندو او پلرونو په مخ کې جنسي تیري خپل ویاړ ګڼي، د همدغه خوږ او دردیدلي ولس واکداران وټاکل. د افغان پیغلو او میندو څخه صلیبونه جوړ شول، د زیږیدون ننداري ته یې ببر ږیرې توپکوال چې په نوم مسلمانان وو، ولاړ وو، ځکه د خپلو میندو د زیږیدون ننداره یې نه وه کړي. د همدغو وحشیانو د ډار څخه د خپل عزت او عفت ساتلو په خاطر ځوانو پیغلګوټو د لوړو پوړو څخه ځانونه وغورځول او د شهادت جامونه یې نوش کړل، خو بیا هم د ملګرو ملتو اداري هیڅ یوې افغاني در دیدلي پیغلې ته د نوبل جایزه ور نه کړه، خیر جایزه بلا ور پسې خو په بدل کې

همدغه داړه ماران د امریکایي ټانکونو په زور سره ور باندې واکمن کړل، چې د تیر په پرتله اوس د واکمنانو په څیرو کې تر پخوا څو برابره زیات ورته جنایتونه تر سره کوي. جالبه دا ده چې د بشر نړیوال مدافعین امریکایانو تر خپلو مجاهدو یارانو په جنسي تیریو کې څو قدمه وړاندې دي، پر سپین ږیرو ناریناوو هم جنسي تیري کوي خو د ملګرو ملتونو د غړو خولې ګونګې او غوږونه یې کاڼه دي. دوی دې خدای د هیمش لپاره کاڼه او ګونګ کړي.

طالبانو د داعش په تړاو یوه اعلامیه خپره کړي ده چې ستاسو پاملرنه یې د متن مهمو ټکو ته را ګرځوم:

**د طالبانو اعلامیه نیټه:۲۰۱۷/۱۱/۲۸ زکال سپوتنیک خبري سرویس**

د طالبانو د مشرتابه شورا د افغانستان په لویدیز کې لاندې اعلامیه خپره کړي ده: «د داعش د کفري ډلې سره هر ډول مذاکره، سوله، او ناسته ولاړه په بشپړه توګه منع دي. که دا ډول چاره د کوم طالب لخوا د فراه، غور، بادغیس، هرات او نیمروز ولایتونه کې تر سره شي، سخته سزا ورکول کیږي. په اطلاعیه کې د طالب قوماندانانو څخه غوښتل شوي دي چې د داعش سره جګړه وکړي او هغوی ووژني، دا ځکه چې د داعش ډله د هیڅ اسلامي احکامو او د هغه جملې څخه د سنت او اسلامي فرهنګ پابند نه دي. پر اسلامي مذاهبو حمله کوي او د ډیرو مسلمانانو په وینو یې لاسونه سره دي.

په اطلاعیه کې دا هم ویل شوي چې داعش یوه صلیبي ډله ده چې په امریکا پورې تړاو لري، د هغوی سره هر ډول مذاکره او سوله د طالبانو د شهیدانو د وینو سره جفاء ده.»

**جیش العدل**

دا یوه تندروه پوځي سلفي مذهبه او د بلوڅانو ډله ده چې د ایران د اسلامي جمهوریت پر ضد مبارزه کوي. کله چې جندالله له مینځه ولاړي دغې ډلې د جندالله د ډلې ځیني غړي هم راټول او په مبارزه یې پیل وکړي. د ډلې مشر صلاح الدین فاروقي دي. د سیستان په ختیزه برخه او بلوچستان کې د څو وژونو مسولیت منلي دي. دا ډله سلفي زده کړې او وهابي عقاید لري، دا چې په سوریه کې د بشارالسد د رژیم مخالفین دي نو ځکه د ایران سره هم دښمني کوي.

**جبهة النصرة**

د نصر جبهه د بشارالاسد د رژيم مهم او سخترينه دښمنان دي چې د امريکا، لويديزو هيوادونو او د دوي د ملاتړو هيوادونو لخوا د وسلو مرستې ور سره کيږي نو ځکه په ډيرو وژنو او جنايتونو کې ښکيل دي.

د نصر جبهه د ۲۰۱۱ زکال په نيمايي په عراق او شام کې د اسلامي دولت (داعش) په مرسته جوړه شوه، مشر يي «ابو محمد الجولانی خو وروسته يي د داعش څخه ځان بيل او د (ايمن الظواهري) له خوا په سوريه کې د القاعده اصلي څانگه اعلان شول چې په همدغه علت د نصر او داعش تر مينځ اختلاف را مينځته شو. په دې ډله کې لږ تر لږه د (۴۸) هيوادونو لکه عربستان ، افغانستان، پاکستان، انگليس، فرانسه، استراليا او نورو هيوادونو جنگيالي گډون لري. دا ډلې ډير ځانمرگي بريدونه په سوريه کې تر سره کړي دي، د شيعه مسلمانانو وژل او تښتول هم د دغې ډلې اساسي موخه ده. که څه هم په ۲۰۱۳ زکال البغدادي وغوښتل چې د دې ډلې سره يو ځای شي خو محمد الجواني وړانديز رد کړي. په ۲۰۱۳ زکال امريکايانو د نصر جبهه په ترهگريز ليست کې شامله کړه. خو بيا هم امريکايانو ور څخه وغوښتل چې مذاکرې وکړي تر څو د سوريې د حکومت په را پرزولو کې مرسته وکړي.

**القاعده**

القاعده د ټولو ترهگريزو ډلو د مور لقب خپل کړي چې په اتيايمو کلونو کې د امريکايانو په مرسته جوړه شوه. بيل کلنټن هم په يوه مرکه کې ومنل چې دا ډله موږ امريکايانو جوړه کړل.

دا ډله په افغانستان کې د شورويانو سره د جگړې لپاره جوړه او په پيل کې نوم «مکتب الخدمه» و. دوي عربو جنگياليو ته د شورويانو پر ضد پوځي زده کړې او وسلې ورکولې. دا ډله ژر بريالي شول ځکه شورويانو په ۱۹۸۹ زکال د افغانستان څخه ووتل خو د القاعدې ترهگريزه ډله منحل نه شول. د القاعدې ډلې ډير بريدونه په امريکايي اهدافو وکړل او ويل کيږي چې د ۲۰۰۱ زکال د سپټمبر د يولسمې نيټې د خونړۍ بريد مسولين هم دوي دي. په ۲۰۱۱ زکال د القاعده افسانوي مشر اسامه بن لادن د پاکستان د ايټ اباد په پوځي سيمه کې د امريکايي پوځيانو د عملياتو په پايله کې ووژل شو. تر اسامه وروسته ايمن الظواهری د القاعده د مشر په توگه اعلان شو. القاعده په ډيرو هيوادونو کې څانگې لري. په سوريه کې د نصر جبهه او په يمن کې انصار الشريعه د دغې ډلې قوي څانگې دي.

**بوکوحرام**

دا اسلامي بنسټپاله ډله د نایجریا په شمال کې په ۲۰۰۲ زکال کې رامینځته شوه چې اړیکې په لویه کچه د القاعدې سره وې خو د ۲۰۱۵ زکال د مارچ په میاشت کې د ابوبکر البغدادي ته بیعت وکړ او د افریقا لویدیز برخې د اسلامي دولت نوم یې ورکړې. بوکو حرام د حرام په مانا دي. دا ډله غواړي چې په نایجریا کې ټولې عصري ښوونځي وتړي او غواړي د نایجریا په (۳۶) ایالتونو کې اسلامي شریعت نافذ کړي. د دې ډلې بنسټ ایښودونکي محمد یوسف چې د ډموکراسی او سیکولر نظام سره مخالفت لري، و، حتی د مځکي کروي شکل هم نه مني. د محمد یوسف تر مرګ وروسته ابوبکر شکائو د مشر په توګه وټاکل شو. د بوکوحرام ډلې پر خوړنځایونو، بانکونو او پر لویو مارکیټونو بریدونه کړي چې په زرګونو انسانانو د بریدلو په پایله کې ژوند د لاسه ورکړی دي.

**سپاه صحابه**

سپاه صحابه په پاکستان کې یو اسلامي بنسټپاله ترهګره ډله ده چې د پاکستان د دیوبندی مدرسې پیروان دي دا ډله د شیعه مذهبو په ځانګړې توګه د جعفریه جنبش په مقابل په ۱۹۸۵ زکال کې جوړه او ډیر شیعه مذهبه یې وژلې او ترور کړي دي.

**لشکر طعیبه**

لشکر طیبه په جنوبي اسیا کې تر ټولو فعال او غښتلي جهادي سازمان دي چې لویه کچه په پاکستان کې فعالیت کوي. دا سازمان په ۱۹۹۰ زکال د حافظ محمد سعید، عبدالله عزام او ظفر اقبال لخوا په افغانستان کې جوړ شو. اوس د پاکستان پنجاب په ایالت کې لاهور ته نژدې په موریدک کې استوګن دي. د پوځي تمریناتو څو کمپونه په ازاد کشمیر کې لري. هندوستان، لشکر طیبه په ۲۰۰۱ زکال د هند پر پارلمان او په ۲۰۰۸ زکال په بمبې کې د انفجارونو مسول ګڼې. د دغه سازمان موخه په جنوبي اسیا کې د اسلامي حکومت جوړول او په کشمیر کې د مسلمانانو ازادي ده. دغه سازمان د افغانستان او امریکا په ګډون ډیر نور هیوادونه د ترهګریز سازمان په توګه پیژني. ژان لویس بروګیري او استیو کول د نوی امریکا د بنسټ مشر باور لري چې لشکر طیبه د پاکستان د څارګرې اداري ملاتړ ورسره دي او هم اړین اطلاعات ورکوي.

**د ازبکستان اسلامي غورځنګ**

احمد رشید په خپل کتاب کې د پورته غورځنګ په باب لیکي:«د کمونیزم له ړنګیدو وروسته د منځنی اسیا رژیمونه بشپړ سیکولر وو او له اسلامي افراطیت څخه یې

ویره احساسوله. هغوی د طالبانو په اړوند نوري اندیښې هم لرلې. د سپتمبر له یولسمې وړاندې د ازبکستان اسلامي غورځنګ د سیمې هیوادونه سخت ویرولي وو. دغه غورځنګ چې له ازبک او تاجک جنګیالیو څخه جوړ شوی و، ریښه یې فرغاني ته رسیده. مشري یې د قوماندان جمعه نمنګاني پر غاړه وه، خو د ایډیالوژیک اړخه طاهر یلداش ته منسوب و. دې غورځنګ ډیر سیاسي بدلونونه پر ځای پریښي. په لومړی ځل دا غورځنګ د یوې اسلامي ډلې په توګه رامنځته شو، چې د ازبک ولسمشر اسلام کریموف په مخالفت کې ودرید. د حکومت له لوري تر څپل کیدو وروسته یو څه موده غلی و، خو د دویم ځل لپاره یې سر راپورته کړ. د ازبکستان اسلامي غورځنګ د تاجکستان په خونړۍ کورنۍ جګړه کې، چې له ۱۹۹۲ ز تر۱۹۹۷ ز کال پورې یې دوام وکړ، هم برخه درلوده. تر جګړې وروسته هغوی په مرکزي تاجکستان کې د پامیر په غرونو کې ځای ونیوه او دا هغه ځای دی، چې زه د ازبکستان د اسلامي غورځنګ په اړه د کتاب لیکلو پر مهال په کې پلی ګرځیدلی یم. هغوی په ازبکستان او فرغانه تنګي کې د ژورو مورچلونو پر جوړولو بوخت وو، چې دا کار یې د پاکستان د آی اس ای او د سعودي عربستان د ځارګرې ادارې په مرسته تر سره کاوه، پیسې او امکانات به یې ورته برابرول. د ازبک جنګیالیو مشر طاهر یلداش په پیښور کې د آی اس ای د میلمه په توګه ډیر کلونه تیر کړل. د ازبکستان اسلامي غورځنګ غوښتل په ازبکستان کې یو اسلامي دولت جوړ کړي او وروسته یې لمن د منځنۍ اسیا نورو هیوادونو ته وغځوي... د ۲۰۰۰ زکال په ژمي کې د ازبکستان اسلامي غورځنګ غړي افغانستان ته لاړل او هلته یې اسامه سره اړیکې ټینګې کړې. اسامه د هغوی هرکلی وکړ او په خپل غیږ کې یې ونیول. د ازبکستان اسلامي غورځنګ په منځنۍ اسیا کې د اسامه لپاره یوه ښه وسیله وه او د هغوی پر مټ یې په دې سیمه کې د القاعدې د فعالیتونو غځول غوښتل. طالبانو هم غوښتل د ازبکستان اسلامي غورځنګ غړو ته پناه ورکړي. ځکه هغوی یې د شمال ټلوالې پر وړاندې جنګول. نمنګاني د اسلامپالو تر منځ یوه پیژندل شوې مذهبي څیره وه. که څه هم ملا محمد عمر هم تر هغه لوی مقام درلود، خو نوموړي د انځور اخیستو او له رسنیو سره له مرکو ډه ډه کوله. امریکا د ۲۰۰۰ زکال په سپټمبر کې د ازبکستان اسلامي غورځنګ د یوې ترهګرې ډلې په توګه اعلان کړه. (۱۹،ص،ص ۱۱۲ ـ ۱۱۳)

**حزب الطاهر**

احمد رشید د یوې بلې افراطي ډلې په باب هم معلومات را کوي چې هغه حزب الطاهر نومیږي او لیکي:

کریموف او د منځنۍ اسیا نورو مشرانو په سیمه کې د یوې بلې افراطي ډلې راپورته کیدو خبر ورکړ. دا ډله د حزب الطاهر [10] په نوم یادیده. دا یوه افراطي ډله وه، خو تر هغو ډلو ډیره خطرناکه نه وه، چې په سیمه کې یې له وړاندې افراطي فعالیتونه تر سره کول. حزب الطاهر که څه هم په ازبکستان، تاجکستان او قیرغزستان کې شتمنه او زورروره وه، خو ویې نشول کړای، چې یو رژیم هم نسکور کړي. د حزب الطاهر بنسټ په ۱۹۵۲ زکال کې د یو فلسطیني قاضي په مرسته کښیښودل شو. د دې ډلې د رامنځته کیدو هدف د خلکو خدمت او د خلافت را ژوندي کول و. حزب الطاهر له وهابیزم (وهابیت) سره نږدې اړیکې لرلې، تر ډیره د ځوانانو په منځ کې شهرت پیدا کړی و، خو له تاو تریخوالي یې دفاع نه کوله. د ۱۹۹۶ او ۲۰۰۱ ز کلونو تر منځ ډیر کسان د حزب الطاهر ډلې د غړیتوب په تور زنداني شوي وو. په ځینو اروپایي هیوادونو کې تر ډیره هغو ځوانانو هم د حزب الطاهر لمنه ټینګه کړې وه، چې د پوهنتون محصلین وو. که څه هم حزب الطاهر د تاو تریخوالي پلوي نه کوله، خو په ۲۰۰۳ زکال کې پرې بندیز ولګول شو. د دې بندیز لامل همدا و، چې دغه ډله د سیاسي فعالیتونو له لارې تاو تریخوالي ته لمن وهي. د محافظه کارو له لوري په بریتانوي واکمنانو هم فشارونه په زیاتیدو وو، چې پر دې ډلې بندیز ولګوي، خو توني بلیر له دې کاره ډه ډه وکړه. ( ۱۹ ص ۲۳۱ )

**د سوریې اسلامي جبهه**

دا جبهه د ۲۰۱۲ زکال د سپټمبر په میاشت د یوولسو (۱۱) افراطي ګروپونو په یو ځای کیدلو سره جوړه شوه. مرکزي هسته یې توس «حسان عبود»، چې په «عبدالله الحموی» شهرت لري د (ازاده ګان اسلامي شام) د مشرانو څخه جوړه شوه. تقریباً (۳۰) زره سرتیري لري او په ټوله سوریه کې فعالیت کوي. دا ډله د سني مذهب پیروان دي، ډیر بریدونه پر مذهبي لړه کیو، لکه عیسویانو باندې کوي. دا ډله د عیسویانو او شیعه ګانو پر ضد مبارزه کوي او غواړي په شام کې د اموي سلسلې د سنیانو دولت جوړ کړي. دا ډله ځانونه د القاعدې یوه برخه ګڼئ آو په پراخه کچه یې د داعش پر ډلې بریدونه کوي.

**جیش الاسلام**

دا ډله د زهران علوش په مشرۍ چې د «ګردان اسلام» ترهګرې ډلې مشر دي د ۲۰۱۳ زکال د سپټمبر په میاشت کې رامینځته شوه. په دې ډله کې (۵۰) وړې

---

[10] - HT

تندروه ډلې ګډون لري چې په لوړه کچه د دمشق او دمشق ته نژدې سيمو کې فعاليت کوي.
جيش الاسلام په سوريه کې د عربستان د پوځيانو په نوم شهرت لري، دا نوم ځکه ورکړل شوی دی چې د دوي په مينځ کې اختلافونه پيدا شول خو عربستان وکولای شواي چې پانګونه پر وکړئ، وسلې ورکړي تر څو يووالي يې د دمشق په شاوخوا کې ور بشپړ کړي.

سره د دې چې جيش الاسلام په دې خاطر چې جنګي ډلې لږ کړي، په سوريه کې خپل فعاليت يې پيل کړي ولې هغه تندروه ډلې چې په دوي پورې اړ لري عبارت دي د «فتح الشام»، «ګردان توحيد الاسلام» او «ګردان الانصار» چې د سوريې د بنسټپالو ډلو څخه دي.

د ګردان اسلام دډلي مشر زهران علوش دي چې د جيش الاسلام اصلی برخه ده. دا ډله په سوريه کې تر ټولو په وسلو مجهزه ډله ده.

**د سوريې ازاد پوځ (ارتش آزاد سوريه)**

د ۲۰۱۱ زکال د اګست په مياشت کې يوډله پوځيان د سوريې د پوځ څخه جلا شول او ترکيې ته وتښتيدل. وروسته د «رياض الاسعد» په مشرتوب د سوريې ازاد پوځ يې جوړ کړي. دا ډله په ډيرو جګړو کې برخه نه اخلي بلکې په سياسي ډګر کې فعاله دي.

په ۲۰۱۲ زکال کې لويديزو او عربي هيوادونو په دې خاطر چې په سوريه کې منځ لاري خو د سوريې د دولت مخالف دي، ملاتړ ورڅخه وکړي، هڅه يې وکړه چې ګډ پوځ جوړ کړي. په دغه خاطر يي ټول واړه ګروپونه راټول او د ګډ ازاد پوځ نوم يې ورباندې کښيښود. د دغه پوځ مشرتوب سليم ادريس چې د سوريې د پوځ څخه تښتيدلي و، وسپارل شو. په ۲۰۱۳ زکال په کورنيو جګړو او په ځانګړي توګه ګډ ازاد پوځ ته د داعش له لورې شديد ګذارونه ورکړل شول نو په همدغه خاطر سليم ادريس د مشرتوب څخه ليري په بدل کې عبدالا له البشير د مشر په توګه وټاکل شو. نوموړی د فلسطين د نيول شو سيمو په سرحد کې د ازدا پوځ غړی و. نوموړی د سوريې په عملياتو کې سخت ټپي  او وروسته روغتون ته انتقال شو. تر يوې مودې وروسته يې د مرګ اعلان وشو خو نوموړی تر اوس پورې ژوندی او پټ دي. په اوس وخت کې ازاد پوځ د نورو ډلو لکه «شهدای سوريه»، او «احرار سوريه» سره اړيکې نه لري.

**د سومالي الشباب**

دا ډله په سوماليه کې يوه اسلامپاله ډله ده چې د ۲۰۱۲ زکال وروسته د القاعدې يو څانګه شوه. نوموړی ډلې مخکې د مرکز او د سوماليا جنوبي سيمې تر ولکې لاندې وي خو په ۲۰۱۵ زکال کې ډيرې سيمې د لاسه ورکړي يوازې ځينې محلي سيمې په لاس کې دي په ۲۰۱۴ ز کال کې د (۷۰۰۰ ـ ۹۰۰۰) تنو جنګيالي درلودل.

نوموړي ډله د امريکا او يو شمير نورو هيوادونو په ترهګريز لست کې شاملې دي او موخه يي د اسلام د دښمنانو پر ضد جهاد دي چې څو ځله يي په موګاديشو او د افريقا د اتحاديې پر دولتي پوځونو بريدونه کړي دي.

د الشباب ډلې په ۲۰۱۴ زکال د برازيل پر نړيوال جام بريد وکړ چې په لسګونو سيلانيان يي ووژل. په ۲۰۱۳ ز کال يې په نايروبي کې پر يو تجارتي مرکز بريد وکړ چې (۶۷) تنه ووژل شول. په ۲۰۱۵ زکال په کنيا کې د ګاريساد محصلينو پر ليليه (شپې ځای) بريد وکړي چې (۱۴۸) عيسوي محصلين يې ووژل. الشباب په زرګونو جنګيالي لري چې يوه برخه يې بهرني جنګيالي دي چې د افغانستان په جګړه کې ښکيل وو.

الشباب او القاعده په ۲۰۱۲ زکال کې اعلان کړل چې سر يو شوي دي چې مختار ابو زبير يی مشر وټاکل شو.

**جيش المجاهدين والأنصار**

دا ډله د ۲۰۱۳ زکال د مارچ په مياشت کې د جهادي او بنسټپالو عقايدو په درلودلو جوړه شوه. دا ډله ډير بهرني جنګيالي لري چې ډيري يې د ققفاز د شمال څخه لکه چيچينيان دي. دا ډله د سوريې د اسلامي دولت د اساساتو مطابق عمل کوي. دا ډله د حلب، حما او لاذقيه په سيمو کې فعاليت کوي، مشر يي د چيچنيا يو خطرناک ترهګر دی چې عمر الشيشاني په لقب شهرت لري. نوموړی ترهګر د ډيرو ځانمرګو بريدونو تنظيم کوونکي دي او ځان په عراق او شام کې د اسلامي دولت د ملاتړو څخه ګڼي.

**جيش الفتح**

د ۲۰۱۵ ز کال د مارچ پر (۲۴) نيټه اوو (۷) وسلوالو ډلو چې تر يو واحد پوځي مشرتابه لاندې به عمليات کوي، د جيش الفتح ډله جوړه ګړه. د نصر جبهه چې د القاعدې يوه څانګه ده د جيش الفتح د جوړولو اصلي ډله ده چې وروسته د احرار الشام، جيش السنه، فيلق الشام، لواء الحق او اجناد الشام ډلې ورسره وتړل شوي. البته دا ډله هم خپل ټول وسلوال او ترهګريز بريدونه د سوريې د اسلامي دولت ادامه ګڼي. دا ډله هڅه کوي چې ځانونه منځلاري وښيي. سره د دې چې امريکا او

سعودي عربستان د دې ډلې او نورو ورته ډلو پر جنايتونو سرپوښ ږدي خو په هيڅ ډول انکار کيدلای نه شي چې جيش الفتح د القاعدې د ترهګريزې ډلې افکار لري په ځانګړې توګه هغه وخت چې د جبهه النصر مشر ابومحمد الجولاني په ۲۰۱۳ زکال د القاعدې مشر ايمن الظواهري ته بيعت وکړ.

د جيش الفتح د ډلې سره د عربستان، قطر او ترکيې ملاتړ ورسره دي. دا هيوادونه په سوريه کې د وسلوالو ترهګرو ډلو په مينځ کې د نفوذ پيداکولو لپاره يو د بل سره سيالي کوي.

## حزب التحرير

د حزب اتحرير ګوند بنسټ د تقي الدين النبهاني لخوا په ۱۹۵۳ زکال په بيت المقدس کې کښيښودل شو او موخه يې پان اسلاميزم دي. دا سازمان غواړي خلافت جوړ کړي او د لويديز ډموکراسۍ يو فريب او چل ګڼي. دا ګوند دعوه لري چې په اسلامي هيوادونو کې دوباره اسلامي کړو وړو ته راګرځيدل د خلافت د ټينګولو له لارې شوني دي.

ځيني هيوادونه دا سازمان ترهګر سازمان ګڼي نو په بريدونو کې د دغه سازمان ګډون، تهمتونه ورباندې شته چې په دغه اساس د حزب التحرير فعاليت منع اعلان شوی دي.

**د حزب التحريد د فعاليتونو پراخوالي**

دا ګوند په ۱۹۵۳ زکال د شيخ تقي الدين النبهاني لخوا چې يو قاضي، ديني عالم او د الازهر د پوهنتون څخه فارغ شوی و په فلسطين کې تأسيس شو. د هغه وخت څخه تر اوس پورې د ګوند لمن تر (۵۰) زياتو هيوادونو ته پراخه شوی ده. برسير پر اسلامي هيوادونو په ډيرو اروپايي او امريکايي هيوادونو کې هم فعاليت کوي. (د ويکيپيديا څخه معلومات)

**حزب التحرير په افغانستان کې**

دا چې د لويديزې ډموکراسۍ په برکت او د پخوانيو جهاديانو پراخ واک د افغانستان په دولتي اداره کې تمثيليږي او يو شمير پخواني جهادي مشران د ازهر د پوهنتون فارغان او د مصر د اخوان المسلمين سره په تړاو په افغانستان کې په شپيتمو کلونو کې فعاليت پيل کړ اوس هم د مختلفو بنسټپالو او ترهګرو ډلو سره تړاو لري نو ځکه هرې کورنۍ او بهرنۍ بنسټپالې ډلې ته د فعاليت پراخه زمينه برابره ده، په همدغه وجه د حزب التحرير ګوند په افغانستان کې پراخې ريښې ځغلولي دي. د اوسنی دولت واکداران چې د طالبانو او يو شمير هغو ډلو څخه چې د امريکا د

خوښي وړ نه دي د فعالیتو پراخوالي یې په ډار کې اچولي دي. ډار یوازې د خپل واک ساتلو په خاطر دي، په همدې خاطر عبدالله عبدالله په (۲۰۱۵/۹/۲۳ زکال ) د وزیرانو د شورا په غونډه کې د حزب التحریر په تړاو څرګندونې وکړې چې لنډیز یې بیانوم:

(عبدالله عبدالله «حزب التحریر» د ترهګرو ډلو ملکي څانګه بولي، ښاغلي عبدالله زیاته کړه، حزب التحریر په اکاډیمیک چاپېریال، خلکو او ځوانانو کې ډېر فعالیتونه لري.

ښاغلي عبدالله دا څرګندونې د دوشنبې په ورځ (لیندۍ ۲ مه ۱۳۹۵ ل.ل) د وزیرانو شورا ته وکړې چې په وینا یې «په اصل کې حزب التحریر د ترهګرو ډلو ملکي څانګه ده، چې ځوانان او خلک ترهګریزو فعالیتونو ته هڅوي. دا فعالیتونه په پراخ ډول ترسره کېږي.»

عبدالله عبدالله دا هم وویل، د حزب التحریر د فعالیتونو د ممنوعیت لپاره لکه څرنګه چې ښایي، لازم ګامونه نه دي اخیستل شوي.

نوموړي ټینګار وکړ، چې حزب التحریر یو سیاسي ګوند «نه دی»، بلکې له ترهګریزو سازمانونو سره تړلی سازمان دی، چې په افغانستان کې له آزادۍ او دیموکراسۍ نه په «ناوړه ګټې» اخیستو سره، خپلو ترهګریزو اهدافو او نا امنیو جوړولو ته کار کوي.

ښاغلي عبدالله زیاته کړه، حزب التحریر په اکاډیمیک چاپېریال، خلکو او ځوانانو کې ډېر فعالیتونه لري، خو نوموړي نور جزییات ورنه کړل چې حکومت د دغې ډلې د فعالیتونو پروړاندې څه ډول ګامونه اخلي.)

په ۲۰۱۱ کال کې، د سیف الله مستنیر په نامه د حزب التحریر یوه جګپوړي چارواکي له بي بي سي سره په یوې مرکې کې ویلي وو، چې د حکومت په ګڼو بنسټونو کې یې نفوذ کړی دی.

مستنیر دا هم ویلي وو، چې حزب التحریر په افغانستان کې ډېر پلویان لري، چې آن د افغانستان له کابینې نیولې تر عادي خلکو پورې یې نظریات منل شوي، خو وضعیت لا داسې حد ته نه دی رسېدلی چې دوی خپل نظر ښکاره کړي.

په وروستیو کې د دغه ګوند ځینو غړو د ننګرهار پوهنتون د محصلینو په لاریون کې د دې ډلې تور بیرغ پورته کړ او د افغانستان د دولت پر وړاندې یې شعارونه ورکول. دوی ویل: «له جمهوریت نه ستړي شوي یو، موږ خلافت غواړو».

د رپوټونو له مخې د منځنۍ آسیا په ګډون په یو شمېر هېوادونو کې د التحریر ګوند پر فعالیتونو بندیز لګېدلی.

د التحریر ګوند په ۲۰۰۳ زکال په افغانستان کې فعالیت پیل کړ، او دا چې د «نړیوال خلافت» لپاره کار کوي، نو افغانستان یو خپلواک هېواد نه بلکې د خلافت یو ولایت بولي. باید وویل شي چې حزب التحریر د افغاني محصلینو په مینځ کې په سلفیانو شهرت لري.

**جمعیت اصلاح ګوند**

دا ګوند رسمي ویبپاڼه لري، راډیو او خپروني لري. د ګوند د ویبپاڼې د معلومات له مخې څو لنډ مطالب وړاندې کوم:«جمعیت اصلاح په ۲۰۰۳ زکال د یو ټولنیز بنسټ په توګه د عدلیې په وزارت کې ثبت شو، خو په واقعیت دا ډله هغه وخت رامینځته شوه چې افغانستان د سرو لښکرو په واسطه اشغال شو، یانې د شپیتمو لیږدیز، لمریز کلونو په نیمایي کې بنسټ کښېښودل شو. دوي ادعا کوي چې د شوروي اتحاد د لښکرو په وړاندې قرباني ورکړې ده.»

د هشت صبح په خپرونه کې مې د جاوید نظري لیکنه چې په څېړنه او ژباړلو کې و دري ژبې ته مریم اکبري مرسته کړي، تر سترګو شوه چې زما په آند د جمعیت اصلاح په تړاو په زړه پورې مطالب لري چې لنډیز ته یې ستاسو پام را اړوم:

د لیکنې د خپرېدو نېټه: چهارشنبه ۱۶ دلو ۱۳۹۲

تر طالبانو وروسته یو شمیر مجاهدینو وسلې پر مځکه کښېښولې خو ځینو لکه طالبان، د حزب اسلامي یوې برخې جګړو ته دوام ورکړي. یو شمیرمذهبي کړیو هم شتون درلودي چې خپلو تګلارو ته یې بدلون ورکړي، چې د بنسټپالو عقایدو پر بنسټ د دولت پر ضد اعلامیې خپروي خو تر اوس پورې په جګړو کې ونډه اخیستي نه ده چې د هغو څخه یوه هم د جمعیت اصلاح ډله ده. دا ډله د یو سیاسي حزب په توګه رامینځته شوي چې د سلفیسم  د عقایدو سره تړاو لري. د خپل بریالیتوب لپاره ټولنیز او فرهنګي کاري وسایل کاروي.

د څېړونو او معلوماتو څخه څرګندیږي چې دا ډله غواړي ځوانان په تندروه عقایدو وروزي. دا چې د جمعیت اصلاح په تړاو زیات معلومات شتون نه درلودي نو موږ هم په ډېر دقت د دغې ډلې په تړاو د دوي د بریښنایي پاڼې، ویوډیو ګانو او نورو خپرونو څخه ګټه اخیستي ده. دا چې ولې جمعیت اصلاح زیاته پاملرنه ځوانانو محصلینو ته کوي، دلیل یې دا دي: ځوانان د راتلونکي سیاست او د ټولنې د پرمختګ لپاره ډېر اړین دي اوځوانان د راتلونکي سیاسي مشران دې.

دمخه وویل شول چې جمعیت اصلاح په وزارت عدلیه کې د ټولنیز بنسټ په توګه راجستر شو خو فعالیت يې په ۱۹۸۰ زکال کې پیل کړی دي. ځینې وایي چې دا ډله د حزب اسلامي څخه جلا او په تخار کې د عاطف الرحمن لخوا د یو بنسټ په توګه رامینځته شوه.

جمعیت اصلاح د ننګرهار په هنتون کې د استادانو او محصلینو په مینځ کې ډیر پلویان لري خو هیره دې نه وي چې د کابل په پوهنتون او په ځینو خصوصي پوهنتونو کې هم ملاتړي لري. جمعیت اصلاح د راډیو، بریښنایي ویبپاڼې، مجلو، اخبار، ډی ویډي او نور ورته خپرونې لري.

ولې ادعا کیږي چې جمعیت اصلام د سلفي عقایدو د خپرولو لپاره هڅې ګړندي کړی دي؟ دا ځکه چې مولوی عبدالسلام عابد د کابل د سني مسلمانانو د مسجد یو ملا امام دي چې د جمعیت اصلاح برجسته غړی دي، نوموړي وایي:«موږ ټوله سلفیان یوو ځکه سلفیان په واقعي مانا د علماوو او حضرت محمد (ص) پیروه یوو. د سلف مانا یانې پخواني او یا نیکه ګان. سلفیان غواړي چې د حضر محمد (ص) د وخت اسلام پیاده کړي.»

سلفیان د نورو په پرتله ډیر سختګیره دي چې په دې اړه متوکل چې په افغانستان کې د سلفیانو د ډلې څخه یو دي، د ایران او شیعه ګانو په باره کې وایي:«دوی د روښنایي پر ځای تاریکي راوړي چې په راتلونکي کې دغه اختلاف به ډیر غبرګونونه ولري.»

په یوه ویډیو کې مولانا عبدالصبور وایي: «زموږ دین اسلام دي او مذهب مو سنت دي که څوک دا عقیده ونلري، واقعي مسلمانان نه دي.»

**د خراسان ډله**

د خراسان ډله هم په القاعده پورې تړلي چې په سوریه کې میشت دي. د خراسان ډله چې په ظاهر کې د امریکا امنیتي بنسټونه نوم ور باندې ایښي دي د القاعدې د (۵۰) قوي ترهګرو ډلو څخه چې د افغانستان، پاکستان، چیچین او د افریقا د شمال څخه دي، جوړه شوی ده.
امریکا د دې ډلې څخه ډار لري چې د داعش په څیر به پرمختګ وکړي. دا ډله د افغاني عربانو لخوا جوړه شوی ده چې په سوریه کې فعالیت کوي. د دې ډلې تر اوس پورې پنځه مشران وژل شوي دي چې ټول د القاعدې پخواني غړي وو.

د ډلې بنسټ ایښودونکي محسن الافضلي زرقاوي و چې د افغانستان او چیچن په جګړو کښې تجربې تر لاسه کړي وې، د امریکا د لوړو برجونو په نړولو کې هم لاس درلودي چې وروسته د امریکایي پوځیانو لخوا ووژل شو.

**د جندالله ډله:**

د احمد رشید په قول دا ډله د جندالله په نوم یادیده چې په پښتو کې د خدای (ج) لښکر ورته وایي. دا ډله د منځلارو لوستو جنګیالیو جوړه وه، چې په شمالي وزیرستان کې یې له القاعده ډلې روزنه تر لاسه کړې وه. د دې ډلې غړو په ډاکټرۍ، مدافع وکالت او نورو اړوندو برخو کې کار کاوه. د دې ډلې مشر عطاء الرحمن نومیده او په کراچۍ پوهنتون کې یې د سر شمیرنې په برخه کې ماسټري اخیستې وه. رحمان پخپله د طالبانو په لیکو کې جنګیدلی و. هغه تر سپټمبر تر یولسمې وروسته له القاعده ډلې سره په کراچۍ کې د هغوی د شبکو په فعاله کولو کې مرسته کوله. دې ډلې د امریکا پر قونسلګرۍ، د عیسویانو پر دفتر او د سولې پر کنسرت بریدونه وکړل، په دې بریدونو کې ټولټال (۱۷) کسان ووژل شول. جندالله ډله له القاعدوو هغوی لوستي کسان دي خو په ترهګرۍ یې لاس پورې کړی. د کراچۍ د پولیسو د اټکل له مخې په دې ښار کې دوه درجنه ترهګریزې ډلې فعالیت کوي. دا چې القاعده ډلې په پاکستان کې ژورې ریښې ځغلولې وې، نو ځکه یې اوس په لوستو کسانو هم اغیز کړی و. (۱۹ ص ص ۳۱۷)

غواړم د ښاغلي عبدالمجید راغستاني یو لنډ لیکلي مطلب تاسو ته وړاندې کړم چې د جهادي مافیاء د ماسک لیري کیدل په ځرګندو ټکو را په ګوته کوي:




عبدالمجید راغستاني

«چي دا جاسوسان نو څنګه وي؟

- رباني حميد ګل ته زاري کولې چي ارشد پوځي او سياسي مشاور يې سي.

- ګلبدين اوس هم وايي چي د افغانستان په جګړه کي پاکستان تر ټولو ډېر تاوان وکړ، ګلبدين دولت ته دا مشوره هم ور کوي چي د کراچي بندر په چابهار او نورو مه بدلوي ځکه دا د ضياءالحق د روح سره خيانت دی.

- که د پير سيد احمد ګيلاني زوی چي زه يقين لرم لمونځ يې هم سم نه دی زده په کور کي د مشرف تر عکس لاندي ژوند کوي، او په ډېره سپين سترګي وايي چي «د افغانستان مخالفين په پاکستان کي نسته».

- که محقق د خپلو ليړل سويو هزاره ګانو نه سوريې ته د لوای فاطميون په غونډه کي د دولت او خلګو په استازيتوب تشکر کوي.

- چي عطا نور وايي چي همدا ايرانيان وو چي ملي قهرمان! ته يې وسلې او پيسې ورکولې نو ځکه يې زه کوڅې په نامه کوم.

- په هيواد کي د جهاد!؟ او مقاومت!؟ په نامه تر اوسه سياسي، نظامي او اقتصادي تجارت روان دی او ولس باج ورکوي.

- بل خوا د پاکستان د بهرنيو چارو وزير وايي«د افغانستان جهاد يو جعلي جهاد وو، دا د سي،آی،اې او آی،ايس ،آی د نبراسکا ډرامه وه وه»...

ما فکر کاوه چي د پاکستان خارجه وزير ته به جمعيت، ګلبدين... ووايي « دا څه غ...خورې چي زموږ سپيڅلي جهاد ته جعلي جهاد وايې؟ او دا د نبراسکا ډرامه بولې؟ خو چا سپوڼ و نه واهه.

هم دا اوس د همدغه جعلي جهادينانو او پيرانو په دروازو کي په درزنو خلګ ولاړ دي چي لاسونه يې مچ کړي.

اوس نو د افغان مظلوم ولس حالت ته وګورئ چې بيا هم د جهادي ټګمارو په دم او چو کې په مختلفو ډولونو راګير شوی دي. کله د مريدي، کله د پيري ږغول، او هم د ژبې، سيمې، قوم او مذهب په نفاق يې ولس په خپلو خيرونو منګلو کې راښکيل کړي دي.»

**د حقاني ډله:** مشرحقاني جلالدين نوميږي.سراج الدين حقاني د هغه زوی دی.

مولوي جلال الدين حقاني د دې ډلې مشري کول (د افغان د معلوماتو پر بنسټ مشر جلالدين حقاني او زوی يې سراج الدين حقاني نوميږي.) چې په لويه کچه د پکتيا (خوست) او وزيرستان سيمو کې نفوذ لري. نوموړې ډلې د شوروي اتحاد د اشغال په دوران کې په جګړو کې ډير وځليدل. د ډاکټر نجيب د حکومت په ورستيو وختونو (۱۹۹۱ زکال) کې خوست د حقاني ډلې لخوا ونيول شو. د خوست د جګړې پر مهال د دفاع وزارت مرستيال جنرال ظاهر سوله مل ، او يو شمير نور لوړپوړي چارواکو په خوست کې شتون درلود، تر څو د خوست څخه د حقاني په وړاندې ښه دفاع وکړي. د خوست د فرقې قوماندان جنرال ګل اغا و ما ليکوال ته د خوست د سقوط بيان مخامخ کړي دي. کله چې خوست سقوط وکړي د جنرال سوله مل، جنرال ګل اغا په ګډون يې د دولت لوړپوړي چارواکي ونيول خو د انتظار څخه ليري يې هغوي و نه وژل او د نجيب الله د حکومت تر بشپړ سقوط پورې په عزت وساتل او وروسته يې خوشې کړل.

مولوي جلال الدين حقاني د جهادي حکومت ۱۹۹۲ زکال په لومړی کابينه کې د عدليې وزير وټاکل شو. کله چې طالبانو د کابل په ګډون ډيرې سيمې ونيولې د حقاني اړيکې ور سره ښې وې نو ځکه د طالبانو د جنګياليو قوماندانو څخه د کابل په شمال کې و. نوموړي د طالبانو په حکومت کې د اقوامو او قبايلو وزير هم پاته شوی دي.

د حقاني ډله د پاکستان سره په سرحدي سيمو وزيرو او ميرام شاه کې پوځي مرکزونه لري خو ميرامشاه د پاکستان تر ولکې لاندې سيمه ده نو په څرګند ډول ويلای شو چې د پاکستان د څارګرې اداري د بشپړ ملاتړ څخه برخمن دي. په کابل کې د ډيرو ترهګرو پيښنو پړه د حقاني ډلې ته منسوبيږي او امريکايان يې هم مني چې د پاکستان د کلک ملاتړ څخه برخمن دي. د امريکا د فشارونو سره سره پاکستان د حقاني شبکې پر وړاندې کوم رغنده ګام اوچت کړي نه دي.

**په برما (ميانمار) کې د مسلمانانو په وړاندې تاو تريخوالی**

(د عراق، سوريې، يمن او افغانستان کې چې د جګړې څپې په جوش راغلي نو د افغانستان څخه ليري د غيري مسلمانانو (بودايانو) بنسټپالو ډلو د مسلمانانو په وړاندې تاوتريخوالی په شدت جريان لري چې دا ځل د بنسټپالی قربانيان مسلمانان دي.

د مسلمانانو د کورونو سوزول، د مسلمانانو پر ښځو جنسي تيري د خلکو په حضور کې، د مسلمانانو ژوندي سوځونه او ورته جنايتونه چې د داعش تر جنايتونو کم نه دي جريان لري او نړۍ يې ننداره کوي. تر اوسه د لويديزې نړۍ د معتبرو خبري سرچينو د سر ټکي نه جوړه وي، نړيوال هم پرته له غندنې کوم عملي ګام نه پورته

کوي چې پر مسلمانانو د بودايي بنسټپالو د جناياتو لړۍ ودروي.، تر اوس پورې کوم لویدیز هیواد د دغو جنایاتو په وړاندې د کوم ایتلاف ږغ کړي نه دي. دغه جنايات د کومه ځای سرچينه اخلي او ولې لویدیزه نړۍ خاموشه ده؟

میانمار چې پخوانی نوم یې برما و داسې هیواد دي چې مختلف قومونه او مذهبونه په کښې راټول شوی دي. (۶۸٪) وګړي یې برمايي، (۹٪) شان، (۷٪) کارن او نور، نور قومونه دي. د میانمار (۸۹٪) وګړي بودایان، (۴٪) عیسویان، (۴٪) مسلمانان او (۱٪) هندو مذهبه دي.

په ۱۹۸۲ زکال په میانمار کې د اتباعو د حقوقو قانون تصويب شو چې د قانون له مخې د (۱۴۴) قومونو څخه (۱۳۵) قومونو ته د اتباعو حقوق ور کړل شوه او (۹) قومونه د اتباعو د حقوقو څخه بې برخې شول چې د شمیر له مخې لوي قوم د روهينګيا مسلمانان وو چې د اتباعو د حقوقو څخه بې برخې شول. خو د خواشينۍ ځای دا دي (انګ سان سوچي) چې په ميانمار کې ځان د ډموکراسۍ سمبول ګڼي او د نوبل جایزه یې هم اخیستې ده د مسلمانانو پر انساني حقوقو سترګې پټوي او د میانمار څخه یې د وتلو غوښتونکي ده.

د بودايي واکمنۍ د جنايتونو په وجه تر لس زرو ډیر مسلمانان د روهينګيا څخه د بودایانو او پوځیانو د ظلمونو څخه بنګله دیش ته کډوال شوي دي. په نژدې وختونو کې د راخين په ایالت کې د تاوتریخوالي نوي څپې خپرې شوي چې په زرګونو کسانو خپل کورونه پرېښودل او بنګله دیش ته کډوال شول. د خواشينۍ ځای دا دي چې بنګله دیش هم د نورو کډوالو د قبولولو څخه معذرت غوښتي نو ځکه په زرګونو مسلمانان په دغه باراني موسم کې په ډیر ناوړه حالت کې ژوند کوي. دا چې ولې لویدیزه نړۍ د بشر د حقوقو اواز نه پورته کوي دوه عمده دلیلونه دي: یو دا چې میانمار ګاز او نفت نه لري او فقیر هیواد دي د روهينګيا یو میلیون مسلمانان په فقیر ترينه سيمه کې اوسيږي، دوهم دلیل دا دي چې د څو کلونو را په دیخوا د لویدیزو هیوادونو له خوا پر مسلمانانو د ترهګري ټاپې ډیر ګرم بازار لري نو ځکه د مسلمانانو وژنو ته خوښي کوي.)

**د هغو عمده وسلوالو ډلو لیست چې د افغان حکومت سره جګړه کوي**

ښاغلي کريم پوپل د یوې لیکنې په ترڅ کې د ۲۰۱۷/۹/۲۹ زکال په افغانستان کې د هغو جنګي ترهګرو ډلو لست معرفي کړي دي چې د افغان حکومت سره په جګړه کې ښکیل دي او زه د لیکنې پښتو ژباړه وړاندې کوم.

د افغانستان ملي پولیسو د ۱۳۹۵ ل.ل کال د حوت په میاشت کې د ټولو هغو ترهګرو لست چې فعال دي د انټرپول پولیسو ته تسلیم کړی دي. دا ډلې برسیره پر

دې چې د افغان حکومت سره جګړه کوي نړیوال مجرمین هم ګڼل شوی دي چې د نړۍ د زرګونو بیګناه انسانانو په وژلو تورن دي:

۱ ـ طالبان چې د ملا منصور او کویټې شورا پورې تړلي دي، شمیر یې ۳۵۰۰۰ تنه او مشر یې ملا هیبت الله دي.

۲ ـ طالبان چې د ملا رسول په ډله پورې تړلې په مستقل ډول فعالیت کوي، شمیره یې ۲۵۰۰۰ تنه اټکل شوی ده.

۳ ـ داعش: هغه ډله چې په نیغه د داعش سره تړاو لري، شمیره یې ۳۴۰۰ نفره دي.

۴ ـ په پاکستان کې د طالبانو تحریک: دا ډله د پاکستان او امریکا پر ضد جګړه کوي، بنسټ ایښودونکي بیت الله مسعود و. د القاعده، امو، د طالبانو تحریک، سپاه صحابه، د جهنګوي لښکر، حرکت والاجهادي سره همکاره دي. د فعالیت ساحه یې کنړ او د ۲۵۰۰۰ تنو په حدود په پاکستان کې لري. د شیعه مذهب مخالف دي.

۵ ـ القاعده چې شمیر ۸۰۰ تنه اټکل کیږي.

۶ ـ امو د ازبکستان اسلامي جنبش چې شمیر یې ۳۰۰ تنه دي.

۷ ـ حرکت الجهاد اسلامي. دا ډله په ۱۹۸۴ ز کال د شوروي او افغان جګړې پر وخت د فضل الرحمن خلیل او قاري صفی الله اختر له خوا جوړه شوه. دوي په ځانګړې توګه د امریکا، اسراییل، بنګلادیش او نوي زیلاند پر ضد جګړه کوي. ویل کیږي چې په افغانستان کې (۱۵) نفري ډله لري چې د امریکا سره جګړه کوي.

۸ ـ د افغانستان اسلامي حزب چې په نژدې وختونو کې د افغان دولت سره سوله وکړه.

۹ ـ د مولوي محمد یونس خالص اسلامي حزب: د دې ډلې ډیر غړي په افغان دولت کې شریک دي. انورالحق د مولوي خالص زوي ملا هیبت الله ته بیعت کړي او د ۱۰۰۰ تنو سره د هغه سره یو ځای شو.

۱۰ ـ لشکر طیبه: د پاکستان او کشمیر خطرناکه ترینه ډله ده چې مشر یې حفیظ محمد سعید دي. د افغانستان په شمال کې فعالیت کوي.

۱۱ ـ اسلامي لښکر: په خیبر اجنسي پورې تړاو لري بنسټ ایښودونکي یې مفتي منیر شاکر د منګل باغ اوسنی مشر دي.

۱۲ ـ هندي ترهګره ډله د عبدالعظیم او شهید برګیډ په نوم

۱۳ ـ د ختیز ترکستان جنبش (اویغورستان)

۱۴ ـ جهیش محمد: د کشمیر ازادي غوښتونکو ډله چې پاکستان جوړه کړي ده خو د افغانستان د حکومت پر ضد جګړه کوي.

۱۵ ـ د حقاني شبکه: په لومړی وخت کې د طالبانو سره یو ځای ول خو اوس د پاکستان د پوځ سره اړیکې لري د افغان حکومت او امریکا سره جګړه کوي. (ل: دا ډلې د جهاد د وخت څخه د پاکستان سره ډیرې نژدې اړیکې درلودې نو په همدغه وجه یې مرکز د پاکستان په مهرانشاه کې دي. د طالبانو د واکمنۍ په وخت کې ډیر نفوذ درلودې ولې باید ووایم همدا اوس هم د طالبانو سره ډیرې نژدې اړیکې لري. خو پاکستان هر وخت هڅه کړي چې د امریکایې بریدونو څخه یې وژغوري.)

۱۶ ـ امارت اسلامي وزیرستان چې د پاکستاني طالبانو ډله وه او د حقاني تر مشرتوب لاندې جګړه کوله.

۱۷ـ سپاه صحابه پاکستان

۱۸ ـ د محمدي شریعت نفاذ تحریک (سواد): د پاکستان ضد و خو صفي محمد د پاکستان سره سوله وکړه.

۱۹ـ اتحاد جهاد اسلامی

۲۰ ـ جهنګوي لښکر: د دې ډلې بنسټ ایښودونکي حق نواز جهنګوي په ۱۹۹۶ زکال د سپاه صحابه څخه جلا شو چې تقریباً دوسوه وسلوال یې په افغانستان کې د شیعه مسلمانانو پر ضد جګړه کوي. مشر یې قاري محمد یاسین دي. د دهمزنګ انفجار همدغه ډلې تر سره کړي دي. د دې ډلې مرکز په وزیرستان کې دي.

۲۱ ـ حرکت المجاهدین

۲۲ ـ د ملا دادله ګروپ او نور.

۲۳ ـ د القاعده اړونده ګوریلایي بریګارد: څه ناڅه د ۱۰۰۰ څخه تر ۲۰۰۰ نفر لري.

۲۴ ـ د قفقاز امارت چې د چیچینیانو لخوا اداره کیږي.

اوس د دې ډلې نیمایي د افغانستان په شمال کې د بغلان او قندوز د یو شمیر جهادیانو په واسطه ځای پر ځای شوی دي چې تر اوس پورې څه کم ۲۰۰۰ وسلوال د امو بلې غاړې ته انتقال کړی دي. د چیچینیا امو ګروپ او د ازبکستان

اسلامي ګوند د داعش سره بیعت کړی دي چې په تخار او بدخشان کې ځای پر ځای شوی دي.

د ټولو (۲۴) ترهګرو ډلو څخه (۱۳) یې د پاکستان پر ضد وي د دې درو ډلو څخه یوه ډله یې د افغان حکومت سره همږغې وه چې د پیښاور پر پوځې ښوونځې یې برید وکړ. د افغانستان دولت چې د پاکستان سره تعهد درلودي د برید کوونکو لیست یې پاکستان ته وسپاري. وروسته پاکستان پر نوموړي ډلې برید وکړ او ډیر تلفات یې ورکړل چې وروسته افغانستان ته وتښتیدل.

دلته غواړم د امریکا کرایي قاتلان هم په لنډو جملو کې در وپیژنم:

**د امریکا کرایي قاتلان**
غواړم د امریکا د یوې مشهورې بنسټکرې ډلې په اړوند معلومات در کړم چې د امریکا د جمهور ریس بوش او جمهور ریس ته د نژدو لوړ پوړو چارواکو بشپړ ملاتړ ور سره دي، تر ټولو لا بده دا ده چې دا ډله د کرایي قاتلانو (بلک واټر) بنسټ ایښودونکي دي. ستاسو پام د بلک واټر د کتاب یوې برخې ته د موضوع په تړاو را اړوم:«بلک واټر یو خصوصي پوځ دی او د بنسټګر نوم یې ایرک پرنس دی، دا یو کیڼ لاسی توند لاری عیسوي ملیاردر دی، چې په هغو کسانو کې شامل دی چې جورج بوش ته یې د انتخاباتي کمپاین تر ټولو زیاته بسپنه ور کړې وه، نوموړی د توند لاري عیسویت د اهدافو لپاره بې دریغه لګښتونه کوي... د امریکا د کانګرس د یوه غړی په وینا: بلک واټر د نړۍ زیات حکومتونه رانسکورولای شي.» (۲۲ ص ۲۰)

کرایي قاتلان او یا بلک واټر یو ډول دولتي ترهګریزه ډله ده چې په اسلامي او یا په ټولیزه توګه په وروسته پاته هیوادونو کې د کرایي قاتلانو دندې مخته وړي. د همدې کتاب په یو بل ځای کې داسې لولو:«ایرک پرنس یوازې دغو مذهبي ډلو او کلیساؤ ته چندې نه ورکوې، د دوی کورنۍ د (ملي پالسۍ شورا) په نامه یو پټ سازمان کې غړیتوب درلود. د نیویارک ټایمز د لیکنې له مخې دا یو نومورکی ګروپ دی چې غړي یې د امریکا څو سوه تنه تر ټولو زیات سنتي توند لاري دي چې په کال کې درې ځله په یو پټ ځای کې سره را ټولیږي تر څو پر داسې لارو چارو فکر وکړي چې هیواد یې د ښې لاسو ګوندونو په لاس اداره شي...د دې سازمان په غونډو کې یو څوک هغه مهال د میلمه په توګه ګډون کولای شي چې د سازمان ټول غړي پرې توافق وکړي، په ۱۹۹۹ زکال کې جورج بوش دې سازمان ته وینا وکړه او د خپلې ولسمشرۍ لپاره یې د ملاتړ غوښتنه ترې وکړه... د عراق له لاندې کولو نه لږ موده وروسته ډونالډ رمز فیلډ د دې شورا په غونډو کې ګډون کړی... کالسن (ل:د کتاب د محتوا په حواله یو بل توند لاری او په ډیرو جنایي جرمونو کې ښکیل امریکایي

دي) چې د ایرک پرنس سره په رابطه کې د ۲۰۰۶ زکال د امریکا په (۱۸۰۰) زندانونو کې د یو سل او شل زره تنو زیاتو بندیانو د دې اداري د انجیل د زده کړو په پروګرامونو کې ګډون کاوه... د ۲۰۰۶ زکال په اکتوبر کې کالسن ته یوه انستیټوټ د (فیټ ایند فریډم) جایزه ورکړه، دا هغه انستیټوت دی چې پرنس لږ تر لږه دوه لکه ډالره مرسته ور سره کړې ده... کې، کالسن د همدغې اداري په یوه غونډه کې په خپله وینا کې وویل:اسلام د نړۍ په اړه ډېر توند دریځ لري، هغوی په همدې یوه خبره فکر کوي چې ټول کافران باید ووژنو او خپلې نیول شوې سیمې بیرته ترې تر لاسه کړو. نوموړی زیاتوي چې: موږ باید سل کاله جګړې ته دوام ورکړو، او هغه مهال را رسیدلی، چې له عقل نه کار واخلو، موږ پر دې پوهیږو ځکه چې له تاریخ څخه مو زده کړې دې» (۲۲ ص، ص ۵۲ ـ ۵۸)

د افغانستان او عراق په جګړه کې لکه پورته مې چې بیلګه وړاندې کړل، د بوش پالیسې د اسلام د بدنامولو او ځپلو لپاره وه چې د همدې ادعا د اثبات لپاره بله بیلګه هم وړاندې کوم چې بوش د جګړې د مخته بیولو لپاره عیسوي تند لارې د جګړه ایزو دندو سرلاری ټاکل. بیا هم د کرایي قاتلانو یا بلک واټر د کتاب څخه ولولئ:«په عراق او افغانستان کې د پوځي قراردادیانو څارونکي ، جوزف شمټز وټاکل شو چې تر ډېرې مودې پورې بنې لاسی توندلارۍ عقیدوي پوځي ؤ. شمټز د ایرک پرنس او بلک واټر د نورو چارواکیو په څیر یو کاتولیک او بنسټپال عیسوي ؤ، ځینې لا دا هم وايي چې دی یو مذهبي توندلاری ؤ، چې پر ذهن یې تل «د خدای تر حاکمیت لاندې د قانون واکمنې» د نافذولو خیال را خپور ؤ.

د پنټاګون د پوځي څارونکي په توګه شمټز په خپلو زیاتو ویناؤ کې له ترهګرۍ سره جګړه د عیسویت د برلاسۍ د جګړې په بڼه معرفي کړې، او بیا بیا یې د دې خبرې یادونه کړې چې دغه جګړې د دې لپاره دي چې بالاخره عیسویت پر ټوله نړۍ خپور شي، شمټز د عراق او افغانستان له سفرونو تر راستنیدو سمدستي وروسته د ۲۰۰۴ زکال په جون کې په خپله وینا کې وویل:«هیڅ امریکایي باید په دې کې ذره هومره شک و نه کړي چې موږ د خدای تر حاکمیت لاندې حاکم قانون ته ځواب ویونکي یوو، همدغه زموږ او ترهګرو تر منځ توپیر دی. دې ته اړتیا ده چې موږ د خدای تر برلاسۍ لاندې د خدای د قانون د واکمنۍ له افاقي نظریې سره پر خپل تړاو وویاړو.»

په خپل رسمي ژوند لیک کې شمټز د مالټا په خپلواک پوځي ټولنیز نظم [11] کې غړیتوب ډېر په ویاړ یادوي. د مالټا دغه خپلواک پوځي ټولنیز نظم اصلاً په یولسمه

[11] - Sovereign Military Order of Malta

پیړۍ کې جوړ شوی د عیسوي داوطلبانو تنظیم دی چې د پوځي موخو لپاره جوړ شوی دی، ځکه چې هغه مهال د عیسویانو او مسلمانانو تر منځ صلیبي جګړې ډیرې په اوج کې وې، د دې ټولنې د جوړیدو یو لوی دلیل د هغو سیمو ساتنه او امنیت نیول وو چې د جګړې په بهیر کې له مسلمانانو نیول شوې وې.» (۲۲ ص، ص ۴۴۵ او ۴۴۸ )

بیا هم غواړم د امریکا د پخواني دفاع وزیر پورې تړلې یو بل توندلاری عیسوي مذهبه جنرال د پورته کتاب د معلوماتو پر بنسټ در وپیژنم:«د دې مشر چارواکي نوم تورن جنرال ویلیم بایکن ؤ، نوموړی د دفاعي استخباراتو  د څانګې مرستیال سکرتر ؤ. بایکن په خپلو یو شمیر ویناوو کې د مسلمانانو پر خلاف ډیرې احمقانه او لوچکانه خبرې کړې، او زیاتره یې دغه خبرې داسې مهال کړې چې رسمي دولتي یونیوفورم به یې اغوستی ؤ. د ۲۰۰۳ زکال د جنوري څخه تر دغه مهاله هغه په (۲۳) مذهبي غونډو کې د خپلې وینا کمال ښودلی چې په هغو کې (۲۱) ځله دی د امریکا د حکومت په رسمي یونیوفورم کې ؤ. په خپلو ویناؤ کې هغه ویل چې: (دی پوهیږي چې امریکا په سومالیا کې د خپلو مسلمانو رقیبانو پر خلاف خامخا بریالی کیږي ځکه چې زما خدای د دوی له خدای نه لوی دی (نعوذبالله) او زه پر دې هم پوهیږم چې زما خدای حقیقي او د دوی خدای هسې یو بت دی.)

بایکن دا تور هم لګاوه چې توندلاري مسلمانان غواړي امریکا له منځه یوسي، ځکه موږ عیسویان یوو، چې د اسرایلو له ملګرتیا به هیڅکله لاس وانخلو.)...

بایکن په یوه وینا کې وویل: «ښاغلیو او اغلیو! دا کومه جګړه چې موږ کوو، مذهبي جګړه ده، شیطان غواړي زموږ قوم برباد کړي، هغه غواړي موږ د یوه قوم په حیث له منځه یوسي، او هغه موږ ته د یو عیسوي پوځ په نظر ګوري او زموږ بربادي غواړي.») (۲۲ ص ۴۶۲)

که پورته مطالب په ژوره توګه ولوستل شي د امریکا په ځانګړی توګه د بوش د ادرې موخې د ترهګرۍ سره د جګړې په پلمه راته روښانه کیږي. د بوش لپاره د شرم ځای دا دي چې په یوویشتمه پیړۍ کې په داسې حال کې چې امریکایان ځانونه د ازادۍ او ډموکراسۍ سمبول ګڼي خو په عمل کې د مسلمانانو څخه د انتقام اخیستلو په تلاښ کې دي. په عراق او افغانستان کې د داسې کسانو ګومارل چې د عیسوي تندلارو د عقایدو په درلودلو شهرت لري او په پوځي یونیفورم کې دغه ناوړه عقاید بیانوي، بیا هم د مسلمانانو سره د جګړې مشرتوب لري. د ابوغریب د زندان وحشیانه کړنې او یا هم په افغانستان کې د بګرام او قندهار د امریکایي زندانونو غمجنې کیسې د بوش د ادارې د همدغو لوړپوړو چارواکو هیله وه. هیره دې نه وي چې د دوي ویناوي د امریکا پالیسې منعکسول وو.

د سپټمبر د یولسمې تر پېښې وروسته ولسمشر جورج بوش د وژل شوو کسانو دوعایي په پروګرام کې ګډون وکړي د عیسوي مذهب، د امریکا پر ستاینه او خدای باندې باور په تړاو یې ډېرې خبرې وکړې چې بله ورځ ډېرو ورځپاڼو تبصرې ورباندې وکړې. یوه بیلګه یې د (لوی درواغ) د کتاب څخه رانقلوم: د واشنګټن پوست تحلیلي راپور:«د امریکا د تاریخ په اوږدو کې مذهبي محافظه کاري د لومړي ځل لپاره سیاسي حرکت ګرځیدلي دی. د دغه بدلون سبب د امریکا ولسمشر جورج بوش دي او دا هغه لاسته راوړنه ده چې حتا پخوانی ولسمشر ریګن چې د مذهبي مشرانو لخوا یې بیځایه ستاینه کیده، تر سره نه کړه. له دې سمدلاسه وروسته عیسوي مجلو، راډیوګانو او ټلویزیونونو ولسمشر د دوعا حالت کې ښودلو او کشیشانو د دوعا له منبرونو څخه وویل چې د ولسمشر بوش رهبري یوه نیکمرغي ده او وییپاڼو خلک د ولسمشر لپاره روژو او دوعاګانو ته هڅول.» (۲۵ ص، ص ۵۱ ـ ۵۲)

د پورته کتاب په یوه بله برخه کې راغلي دي چې:«د داسې لوی سیاسي حرکت لپاره باید یو سیاسي هدف هم وي او هغه هدف دا و چې امریکایي چارواکو پېښو ته د بلې بڼې په ورکولو سره غوښتل، مذهبي احساسات د سیاسي ګټو لپاره استعمال کړي او که وروسته د هغه څخه کومه پوښتنه را پورته شوی واي، نو دوی ورته د مقدساتو د سپکاوي په سترګه کتل.» (۲۵ ص ۵۳)

برسیره پر دولتي ترهګري چې د بشري مرستو او ډموکراسۍ د پیاده کولو په نوم یې نړۍ د ناورین سره مخامخ کړي ده او ادعا لري چې مسلمانان د ترهګریزو فعالیتونو ملاتړ کوي. ولې پورته مو ولوستل چې د امریکا د جمهور ریس په کچه د توند لاری مذهبي ډلې څخه په ټاکنو کې مرسته غواړي او د دفاع وزیر یې د عراق په جګړه کې مرسته ور څخه غواړي. د بلک واټر خصوصي پوځ یې دومره پیاوړي کړي چې د امریکایي کانګریسمین په ویاړ وایي چې بلک واټر زیات حکومتونه نسکورولای شي. د بیلګې په توګه مې یوه امریکایي ترهګره ډله در وپیژندل خو په باور سره وایم چې ورته ډیر سازمانونه شته چې د لویدیز مشران یې پر شتون سترګې پټوي.

د کرایي قاتلانو په تړاو چې مشري یې د توند لارو مسیحانو په واسطه کیږي یوه بله بیلګه هم د پورته کتاب څخه را نقلوم:«ایل پال بریمر د ۲۰۰۳ زکال د می پر ۱۲ مه بغداد ته ورسید او د دجلې پر غاړه د صدام حسین ماڼۍ ته ولاړ. د جګپوړي او اعلی امریکایي ناظم په توګه د ده د یو کلنۍ واکمنۍ تر ټولو لویه کارنامه دا وه چې ټول عراق یې د ټولې نړۍ په کچه د امریکا د مخالفینو په مرکز بدل کړ...د ایرک پرنس په څیر بریمر هم خپل پخوانی مسلک پریښي ؤ او سنتي کاتولیک مذهب ته

اوښتی ؤ، هغه رسمي دنده په جمهوريت غوښتونکي اداري کې پيل کړه، هغه د ښي لاسو په انجيلي فرقه او نويو اصلاح غوښتونکيو دواړو کې يو ډول محبوبيت درلود... بريمر خپل مذهبي خيالات هيڅوخت نه پټول، د توندلاري عيسوي جنرال جيرې بوای کن ليکنې به يې تکرارولې او د اسماني لارښوونې په اړه يې ويل:(زه په دې کې هيڅ شک نه لرم چې په دې ماموريت کې د خدای له مرستې پرته بريالی کيدای نه شم، دا دومره پيچلی او ستونزمن کار دی چې يو سړی او يا يو گروپ يې په اسانه نه شي تر سره کولای زه له خدايه پکې مرسته غواړم). د بريمر ورور د ۲۰۰۶ زکال په انتخاباتو کې د کانگرس لپاره نوماند ؤ، هغه هم د خپل انتخاباتي کمپاين په ترځ کې ويلي وو:(زه غواړم چې په واشنگټن کې د خدای استازی شم.)» (۲۲ص،ص۱۰۳ او ۱۱۰)

بيا هم د (لوی درواغ) د کتاب څخه ولولئ:«تاريخ او تاريخ ليکونکی به د دې خبرې شاهد وي چې د ۲۰۰۱ زکال د نومبر او ۲۰۰۲ زکال د فبوري مياشتو په مينځ کې هغه ولسواکۍ چې د خپلواکی د اعلان د جوړونکو او متحده ايالاتو د اساسي قانون په واسطه نړۍ ته پيژندل شوې وه، په واقعي توگه پای ته ورسيده او د ولسواکۍ په له مينځ تلو سره يو امريکايي فاشيست روحاني هيواد وزيږيد.» ۲۲ ص ۶۱)

پورته جملې د يو امريکايي ليکوال دي. که د نړۍ په ځانگړي توگه د افغانستان او عراق حالات تر نظر تير کړو او د بوش د اداري هغه لوړ پوړي چارواکي چې دغه جگړې يې مخته وړلي په واقعي بڼه يې د روحاني فاشيزم کړنې تر سره کړی او دوام يې ورکړي دي.

زه د نور ډير تفصيل څخه ډه ډه کوم خو دا ويل غواړم چې د بوش اداري عراق او افغانستان د عيسويت د توند لاري په عقايدو ټوټه ټوټه کړ. د دوی کړنې د اوسنې اسلامي افراطي ډلو سره يا بشپړ ورته والی لري او يا يې تر هغوی هم ډيرې ناوړه کړنې کړې دي. د پورته لاسوندونو څخه څرگنديږي چې عيسوي توند لاری د امريکا په دولتي سيستم کې ډير برلاسی دي نو ځکه په ځانگړې توگه په عراق کې د همدغو کرايي قاتلانو په واسطه چې د عيسوي توند لارو لخوا اداره کيدل، زړه بنگونکي جنايتونه وکړل. دا چې ادعا کيږي او ډير شواهد هم شتون لري چې امريکايانو د داعش په پياوړي کولو کې ډير رول لري، بيځايه خبره نه ده ځکه هغه عيسوي توندلاری دي چې دا ډول کړنې رهبري کوي.»

غواړم د يو شمير هغو مهمو غيري اسلامي ترهگريزو ډلو په تړاو هم لنډ معلومات وړاندې کړم کوم چې نړيوال شهرت لري:

**اوم شینریکیو**

دا یوه ډله ده چې ځینې هیوادونه یې د ترهګرۍ ډلې په نوم پیژني. دا ډله په ۱۹۸۴ زکال کې د شوکو اساهارا لخوا جوړه شوه. نوموړې ډلې په ۱۹۹۵ زکال د سارین په نوم زهرجن ګاز د توکیو په مترو کې خپور کړ چې (۱۳) نفره مړه او تر (۵۰) تنه زیات ټپیان شول. یو شمیر ټپیانو ډیر کلونه د ګاز د جانبي عوارضو سره لاس او ګریوان وو.

اوم شینریکیو د عالي حقیقت په ارمان دي چې په اتیایمې لسیزې کې د بودایانو او هندوانو د معنوي باورونو پر اساس جوړه شوه خو اهسته اهسته په داسې یو ډله بدله شوه چې د مسیحت د ایډیالوژي پر بنسټ یې د اخرالزمان په تړاو وړاندوینې کولې.

**د تامیل پړانګان**

دا هغه ازادی غوښتونکي دي چې په سری لانکا کې ازادي غواړي، اصلي نوم یې تامیل ایلم خو د تامیل د پړانګانو په نوم شهرت لري. دا ډله د (۳۲) هیوادنو لخوا د ترهګرو په نوم پیژندل شوي دي. په ۱۹۷۶ زکال دا ډله جوړه شوی ده. د سری لانکا د حکومتي پوځیانو او د تامیل د پړانګانو تر مینځ ډیرې خونړۍ جګړې شوي چې (۲۵۰) زره کډوال یې محصول وو. دا جګړه چې په ۱۹۸۳ زکال کې پیل شوه چې (۷۰) زره انسان یې قرباني وو.

دا ډله په ۱۹۷۶ زکال جوړه خو د وخت په تیریدو په یو خشنه پوځي ډله بدله شوه چې د سری لانکا په سهیل ختیزه برخه کې مسقل ایالت غوښتي. نوموړي ډله تر (۲۶) کالو شخړو وروسته تسلیم او خپلې وسلې پر مځکه کښیښودلې. په یوه انترنیتي لیکنه کې داسې بیان وکړي:

د تامیل پړانګانو غیري پوځي خلک د لوږې، ناروغیو او بموریو قرباني وو نو موږ هم اړ شولو چې وسلې پر مځکه کښیږدو.
د ۲۰۰۹ زکال د مې په (۱۸) د سری لانکا دولتي تلویزیون اعلان کړل چې د تامیلي پړاګانو ډله تر پوځي کلابندي لاندې وو، چې زیات مشران یې ووژل شول. د سری لانکا دولت سره په دې جګړه کې د هندوستان دولت پوځي مرسته کول.

**ارتش نوین خلق (د خلکو نوی پوځ)**

دا پوځ د فلپین د کمونست حزب یوه څانګه ده. دا څانګه د « برنابه بوسکاینو» لخوا چې د (دانته) د قوماندن په نوم مشهور دي، د ۱۹۶۹ زکال د مارچ په (۲۹) جوړه شوه. د خلکو نوی پوځ یو یاغي ماهوستي ډله ده د فلیپین د کمونست حزب وسلواله ډله ده چې (۴۰۰۰) وسلوال کسان لري او د څلورو لسیزو په جریان د دولت پر ضد جنګیږي. دا پوځ د جوړیدو په پیل (۱۹۶۹) زکال کې (۵۰) کسان او

(۳۵) توپک درلودل. کله چې په ۱۹۷۲ زکال کې د دولت د پوځيانو لخوا کمونست حزب کلابند شو، د وسلوالو شمير يي (۶۰۰) تنه وو.

**فارک**

فارک چې بشپړ نوم يې د کولمبيا وسله وال پوځ دي. يو چريکي مارکسيستي ـ لينينستي سازمان دي چې د کولمبيا دولت يې د ترهګرو په نوم يادوي. دا سازمان په ۱۹۶۰ لسيزه کې د کولمبيا د کمونست ګوند د يوې څانګې په ډول جوړ شو. په ۱۹۸۰ لسيزه کې څرګنده شوه چې دا سازمان د نشه ای توکو په قاچاق برخه لري نو د کمونست ګوند څخه بيل خو ترهګريزو فعاليتونو ته يې دوام ورکړ.

د کولمبيا دولت اټکل کوي چې دا سازمان (۸۰۰۰) ترهګر لري. د کولمبيا د دولت او فارک په جګړو کې (۱۷۰۰۰) تنه وژل شوی دي. په اتيايمو کلونو کې د هيروينو د امپراطور، پابلوو اسکبار لخوا د دغه ډلې يوې برخې څخه کار واخيستل شو خو وروسته يې ټول ووژل مګر بيا هم د فارک ډلې دوباره پرمختګ وکړ او ژوند يې پيدا کړ.

**د داعش د نړيوالو ملاتړو لست افشاء شو**

د ګلوبل ريسرج د تازه معلوماتو پر بنسټ سپوتنيک په ۲۰۱۷/۸/ زکال کې رپوټ خپور کړي دي. په رپوټ کې د شپږو هيوادونو نومونه راغلي چې د داعش د اصلي ملاتړو څخه ګڼل کيږي.

د ګلوبال ريسرچ د معلوماتو په آساس دغه راپور د امريکايي ليکوال (تم اندرسون) د هغو ياداښتونو څخه را اخيستل شوي دي چې ليکوال غواړي په خپل نوي کتاب (پليده جګړه په سوريه کې) ورڅخه ګټه پورته کړي. اندرسون په نوموړي کتاب کې د داعش ملاتړي او د هغوي د ملاتړ ډولونه افشاء کوي. د دغه رپوټ په اساس عربستان، ترکيه، قطر، انګليس، فرانسه او امريکا د داعش ملاتړي هيوادونه دي چې په لنډ ډول د هر هيواد د ملاتړ په تړاو معلومات وړاندې کيږي.

**عربستان**

په ۲۰۰۶ زکال امريکا په نيغه عربستان ته دنده ورکړه چې په عراق کې د داعش ډله رامينځته کړي تر څو چې عراق د ايران سره اړيکې کمزوري شي.

په ۲۰۱۱ زکال عربستان د هغه وسلوال بريد څخه چې د سوريې د رعای په ښار کې رامينځته شو، ملاتړ وکړي او د ټولو وسلوالو ډلو سره يې د پيسو او وسلو مرستې وکړي او د ډلو ترمينځ يې توازن وساتي تر څو هره ډله مستقلانه کړنه و نه کړای شي.

**ترکیه**

د ترکیې دولت د وسلوالو لپاره د سوریې و شمال ته د تللو د لارې زمینه برابره کړه او النصر جبهه یې د عربستان په مرسته جوړه کړه. همدا ډول د سوریې په شمال کې د (جیش الفتح) وسلوالې ډلې مشرتوب کولو. کله چې هغوي په ۲۰۱۵ زکال د سوریې په شمال کې ډله ایزه عملیات پیل کړل. همدا ډول ترکیې د وسلوالو ډلو د مشرانو سره اړیکې ټینګې کړې او د تیلو پلورلو زمینه یې داعش ته برابره کړه. د داعش ډلې سره یې طبي مرستې هم کولې.

**قطر**

**د** (۲۰۱۱ ـ ۲۰۱۳ زکلونو) په دوران کې قطر په میلیاردونو ډالر د اخوان المسلمین ډلې چې د وسلوالو ډلو ملګري وو، ورکړل. بیلګه یې د «فاروق»، اف.اس.ای یادولای شو.

د ۲۰۱۳ زکال وروسته قطر د جیش الفتح د ډلې سره د ترکیې او عربستان سره په ګډه مرسته وکړه.

**اسرائیل**

اسراییلو په سوریه کې د ټولو وسلوالو ډلو سره د وسلو او طبي مرستو ملاتړ وکړي. داعش او د النصر جبهه هغه ډلې وي چې د اسراییلو د ملاتړ څخه ډیر برخمن وو. برسیره پر دې په اشغالي جولان کې د همږغي مرکز ورته جوړ کړي.

**انګلیس**

انګریزانو په سوریه کې د القاعده د وسلوالو سره ډیرې مرستې وکړي او دغو مرستو په منظم ډول دوام وکړي.

**فرانسه**

فرانسې د انګریزانو پالیسې د وسلوالو سره د مرستو په تړاو قدم په قدم عملي کړي.

**امریکا**

د امریکا رول د داعش سره د مرستو په تړاو ډیر پراخ دي. مانا دا چې د ټولو هغو هیوادونو په همږغۍ کې زیات رول درلودي چې د داعش سره یې مرستې کولې. دا چاره یې ترکیې، قطر، اردن، عراق او عربستان د پوځي مرکزونو څخه تر سره کولې.

ګلوبال ریسرچ لیکي: امریکایانو داعش د کردانو د میشتو ځایونو څخه لیري او د سوریې پر لورې د بریدونو لپاره وهڅول.

د عراق دولتي مسولین وایي چې امریکا داعش ته په نیغه د هوا د لارې وسلې رسوي.

غواړم د یو بل لاسوند په بیان سره ثابته کړم چې په ټولیزه توګه لویدیز هیوادونه چې په مشرتابه کې امریکا ده په ټول توان کوښښ کوي چې اسلامي ترهګرې ډلې وزیږه وي او د خپلو موخو لپاره کار ورڅخه واخلي.

رضا نافعي د فورن پالیسي یوه لیکنه (اسلام گرایی افراطی خنجر که غرب دسته کرد) سرلیک لاندې په دري ژباړلي چې زه یې مهم اړوند ټکي په پښتو ژباړم:

«لویدیزو هیوادونو په (۸۰) لسیزه کې د اسلامي بنسټپالي په پیاوړي کولو کې لوی لاس درلودي تر څو پخواني شوروي اتحاد یې دړي وړي کړي خو د بریژنسکي په قول دوي پر خپلو کړونو پښیمانه نه دي ځکه اوس هم بنسټپال د خپلو ګټو لپاره کاروي.

په (۸۰) لسیزه کې المان هم د مجاهدینو په روزنه کې ډیر فعال رول درلودي. د المان د فعال رول په تړاو په هغه کتاب کې چې په بهر کې د المان د څارګرو ادارو د فعالیتونو په تړاو یو استندرډ کتاب دي، بیان شوی دي چې د المان د څارګرې ادارې بي آن ډی [12] او بوندس ور «د المان پوځ» په پیښاور کې د المان قوي کماندویانو [13] مجاهدینو ته زده کړې ورکولي. برسیره پر دې یې عربو جنګیالیو ته هم په پیښور او المان (اوبر بایرن) کې د وسلو د استعمال عملي او تیوري زده کړې ورکولي. په افغانستان کې یو پوځي افسر د پیرا پزشکي او د بوندس یو افسر (ماژور) دنده درلوده چې د مجاهدینو څخه ملاتړ وکړي. د بی آن ډی سازمان برسیره پر وسلوالو زده کړو د مجاهدینو سره د جامو، د شپې د استعمال لپاره دوربینونو او نورې مرستې هم کولي.

غواړم یوه بیلګه وړاندې کړم. عبدو الحکیم بلحاج چې په لیبیا کې زیږیدلي په ۱۹۸۸ زکال د سعودي عربستان د لارې افغانستان ته د جهاد لپاره ولاړي چې د لویدیزو د بشپړ ملاتړ څخه برخمن و. نوموړي په ۱۹۹۲ زکال دوباره لیبیا ته ولاړي. په ۲۰۰۴ زکال نوموړي د سي اي ای لخوا نیول کیږي، وروسته تر شکنجو لیبیا ته سپارل کیږي.

نوموړي په ۲۰۱۰ زکال دوبار د زندان څخه خلاصیږي ځکه لویدیز د اتیایمو کلونو په څیر نوموړي ته اړتیا لري. نوموړي بیا یوه ډله جوړوي چې د لویدیزو تر نظر

[12] - BND
[13] - 9GSG

لاندې د قطر په واسطه وسلوال کيږي. دا ځل عبدو الحکيم بلحاج د قذافي په نسکورولو کې د اسلام په نوم د لويديز په بشپړ ملاتړ فعال رول ولوباوه. د قذافي د حکومت تر نسکورولو وروسته اوس ليبيا د بنسټپالو په قوي مرکز بدل شوی دي او د ليبيا په ختيزه برخه کې داعش قوي مرکز لري.»

## اووم څپرکی

**طالبان**

غواړم د طالبانو په اړوند څه ژور بحث وکړم ځکه د افغانستان د اوسنی کشالې د حل اساسي موضوع په طالبانو اړه لري. مخکې له دې چې د طالبانو بحث ته ننوزم په پیل کې به د ملایانو، روحانیانو او طالبانو تاریخي ریښې را وسپړم. باید وویل شي چې په همدې تړاو عبدالحي مطمین چې د ملا محمد عمر سره ډیر نژدې پاته شوي و، یو کتاب لیکلي دي چې تر لوړې کچې یې پټ واقعیتونه را سپړلي دي. د کتاب منځپانګه ډیره بډایه ده خو زه یې د ځینو واقعیتونو سره همږغي نه یم کیدلای شي چې د طالبانو د جنبش سره د نوموړي ډیره خواخوږي ځینې واقعیتونه د نوموړي تر نظر بل ډول ښکاریږي خو هر لیکوال چې د یو لورې سره نژدې وي د دغه فورمول څخه استثنا کیدلای نه شي ځکه موږ ټول انسانان یو او انساني عواطف لرو. زه بیا هم د لیکوال زحمت ډیر ستایم او په خپل کتاب کې به د نوموړي د روایتونو څخه پراخه ګټه واخلم.

افغانان په لویه کچه د اسلام د سپیڅلي دین په منلو او رعایت کولو ډیر صادق او بې ریا ولس دي. دا چې په لوړه کچه نالوستي (بې سوادي) په ټولنه واکمنه وه نو د روحانیانو د پردې تر شا کړونو ته یې پاملرنه، نه درلوده په پټو سترګو یې د دیني عالمانو، حضراتانو، سیدانو او د کلي د ملایانو خبرو ته د زړه له کومي غوږ نیوي. زموږ د ټولنې په روحاني اړخ کې دوه ډوله ځواک شتون درلودي. لومړي دیني عالمان یاني ملایان، دوهم د حضرتانو، سیدانو او یا په اصطلاح ولیان.

**۱ ـ دیني عالمان**

د دیني عالمانو په لیکه کې ټول هغه کسان راځي چې لږ یا ډیر یې دیني زده کړې کړې وې. دیني عالمانو هم د افغانستان په سیاسي چاپیریال کې ارادې یا غیري اردي رول لوبولي دي. د بیلګې په توګه، د بهرنیانو سره په جګړو کې د وخت حاکمانو د همدغو مولایانو او حضرتانو څخه د جهاد فتواوي تر لاسه کړي دي. که لږ د تاریخ تیرې پاڼې واړو حاجي میرویس خان نیکه د ایران سره د جګړې د پاره کله چې حج ته ولاړي د عربي دیني عالمانو فتواوي تر لاسه کړي تر څو د افغان ولس یې په دیني جذبه وهڅاوه چې دایران څخه ازادي تر لاسه کړي.

په افغانستان کې د انګریزانو سره دري ځله جګړه شوی ده چې عبدالحي مطمین د دیني علماو او طالبانو رول په جګړو کې په لاندې توګه اغیزمن تعریف کړي دي. «په افغانستان کې د انګریزانو په درو مشهور جګړو کې د افغانستان علماوو د لاربنوونکو او قوماندانانو رول لوبولي دي. په دې جګړو کې ډیر علما او طالبان

شهيدان شوي چې د کندهار ښار د طالبانو هديره، د بولدک د طالبانو هديره او د کندهار د هرات دروازې د شهيدانو چوک يې ژوندۍ بيلګې دي. د افغان مورخ مرحوم علامه عبدالشکور رشاد په وينا دا ټول قبرونه د هغو طالبانو دي چې د انګريزانو سره په مخامخ جګړو کې شهيدان شوي دي. د انګريزانو پر ضد مبارزه کې ملامشک عالم چې اصلي نوم يې دين محمد و، ملا عبدالرزاق اندړ، ملا نجم الدين اخند زاده، ترنګزو حاجي صاحب، د کابل د شور بازار د حضرتانو کورنۍ، مولانا امير محمد چې په چکنورو ملا صاحب مشهور و، سيد محمد اکبرشاه چې په سرکاڼو ملا مشهور و، مولوي عبدالکريم چې په جان اباد ملا مشهور و، شيخ المشايخ عبدالصبور د سوات، مولوي فيض محمد د مسهوي اخند زاده صاحب، مولوي عبدالله غزنوي او په سلګونو مشهورو او نامشهورو علماوو د انګريزي استعمار پر ضد مبارزه کړي ده.» (۱۶ ص، ۳۲)

په دې تړاو يو مشهور الجزايرې ژورناليست، فهمي هويدي چې (طالبان، د خدای لښکر په غلطه جګړه کې) کتاب يې هم ليکلي دي خپل نظر وړاندې کوي. داسې معلوميږي چې نوموړي ژورناليست بشپړې اسلامي زده کړې هم لري. نوموړي څو ځله افغانستان ته سفر کړي او همدا ډول د طالبانو د ډيرو مشرانو سره يې مخامخ خبري کړي، د نجونو د زده کړو، د بودا د مجسمې ورانول، تلويزيون، د انځورونو حرام ګڼل او نورو مسايلو په اړوند يې ديني بحثونه ور سره کړي. نوموړي د موضوع په اړوند ليکي:«که څه هم دا له پامه نه شي غورځيدای چې د طالبانو د تحريک رامنځته کيدل بهرني عوامل لري، خو خپله افغاني ذهنيت او واقعيت هم دې ته اماده و، ځکه په افغانستان کې وضعيت داسې حالت ته رسيدلی و، چې عام ولس ور څخه ډير ستړی شوی و، د هيڅ ژوند خوندي نه و، هر چا د تغير لارې څارلې. که له دې نور هم وړاندې لاړ شو نو ويلای شو، که څه هم د طالبانو راتګ بهرني عوامل لري خو دا هم شونې نه وه چې دغه لنګون دې مخکې له دې چې حمل واخلي او بيا جنين ورڅخه جوړ شي په دغه ښه رامينځته شي.» (۱۸ص۱۲۳)

شک نه لرم چې زموږ د هيواد ملايانو د بهرني تيرې په وړاندې فتواګاني ورکړې، جګړو ته تللي دي خو بدبختي دا ده چې تر جګړو وروسته بيا هم دغه ملايان او مولويان دي چې د هيواد د ابادي په مخ کې خنډ ګرځيدلي دي. د غازي امان الله خان د ريفورمونو په وړاندې هم دغو ملايانو او حضرتانو خلکو ته ناوړه تبليغات وکړل او پرته له کومو شواهدو يې پر امان الله خان د کفر ټاپې ووهلې. همدغ ملايان پرون او نن دا مني چې امان الله خان يو سوچه دين دوسته مسلمان و يوازې موخه يې د هيواد ابادي او سمسورتيا وه.

عجیبه دا ده چې اوس د ۲۰۱۷ زکال د ډسمبر په میاشت کې د افغان ولسمشر، اشرف غني د میرمنې په تړاو په فیسبوک کې تبلیغات جریان لري چې اشرف غني خپلې میرمنې ته په ارګ کې کلیسا جوړه وي، د امان الله خان دورې ته ورته ناوړه تبلیغات او زموږ د ولس په سترګو کې د خاورو پاشل د زورواکانو د ملاتړ په خاطر. د بل لوري د بلخ والي چې د بلخ په سلطان شهرت لري، د ولسمشر په امر د دندې څخه ګوښه کړي چې د جمعیت په ګوند کې غوغا پورته شوی ده او د بلخ ولایت ملایانو فتواء ورکړي چې اشرف غني د عیسوي ښځې میړه دي نو ځکه جمهور ریس کیدلای نه شي، په داسې حال کې چې د اشرف غني د خدمت درې کاله تیر شوي خو اوس د بلخ ملایان او روحانیون د خواړه خوب څخه را وپاڅیدل. ښکاره خبره ده چې د بلخ د ملایانو فتوا اسلامي حقیقي بنسټ نه لري بلکې د بلخ د والي په ملاتړ چې د چور په پیسو میلونر شوی دي، پر اشرف غني د فشار لپاره کارول کیږي. همدغه دلیل دي چې ملایان او روحانیون په دا ډول فتوا د ګوډ انګریزي ملا، کرکجن داستان د ولس په ذهنونو کې را ژوندي کوي. د یو فاسد، غله او د ولس د وینو ځبیښونکي ملاتړ د پیسو په مقابل کې د روحانیونو شخصیت او اسلامي ارزښتونو ته زیان رسوي. ولس ته په اثبات رسیږي چې ډیري ملایان د ډالرو په وړاندې سست ایمانه دي.

کاش زموږ د ملایانو دا یوه ستونزه واي. زموږ هغه ملایان چې نیمګړې زده کړې لري دومره د ملامتیا ګوته به نه ورته نیسو بلکې هغه مولویان چې زده کړې بشپړې کړې وي هم د خپلو شخصي ګټو د ساتلو لپاره ولس په تیاره کې ساتي. د بیلګې په توګه امان الله خان غوښتل چې ملایان  په منظم چوکاټ کې راولي هغه کسان چې د دیني زده کړو او اسلامي لارښوونو وړتیا لري باید ازموینه ورکړي. دغه ښه پلان د ملایانو د شدید اعتراض سره مخامخ شو.

زموږ په معاصر تاریخ کې یوازنی واکمن امیر عبدالرحمن خان و چې د خانانو او مولایانو د واک د کنترول لپاره یې موثره ګامونه اوچت کړای شواي ځکه هر مخالفت یې په ډیر شدت ځپي همدغه وه چې ملا مشک عالم ته یې د ملا موش خطاب کاوه. نور هر واکمن چې د ملایانو او حضرتانو سره پنجه ورکړي د افغان ولس په ملاتړ او کله هم د بهرنیانو په ملاتړ یې واکمنان د تخت څخه را ګوذار کړي او په تولنه کې نوي ناورین را مینځته کړي دي.

**حضرتان، دیوبند، قادریه او نقشبندیه طریقې:**

دا چې افغانستان د هند سره د تاریخ په بیلابیلو دورو کې اړیکې درلودلې نو د هند څخه د دیوبند، قادریه او نقشبندیه افکارو په افغانستان کې اغیز ته لاره خلاصه شوه زه د دې طریقو ژورې څیړنې ته نه داخلیږم بلکې دومره ویل غواړم چې د

حضرتانو (مجددیانو) او ګیلاني کورنیو په افغانستان کې ډیر رسوخ پیدا کړ. هرې کورنۍ د افغانستان په بیلابیلو برخو کې مریدان او ملاتړي درلودل. دغو کورنیو د وخت د درباورنو سره هم علایق ساتل خو د مخالف په صورت کې د واکمنانو پرزول هم د دوي دنده ګرځېدلي وه. امیر حبیب الله سقاو چې مشهور غل و، همدوي د مترقي پاچا امان الله خان په مقابل کې ولمساوه او ملاتړ یې ور څخه وکړي خو بیا همدغه سقاو چې دوي ورته د خادم دین رسول االه لقب ورکړ، دوباره دوي د تخت څخه را کوز کړي.

غواړم د فهمي هویدي له نظره د دیوبندي مدرسې په تړاو لنډ معلومات ولیکم ځکه د طالبانو ډیر لوړ پوړې د همدغې مدرسې څخه فارغ شوي دي:«ټول پوهیږو چې مدرسه هغه ځای دي چې طالبان پکې روزل کیږي. د هند نیمه وچه چې پاکستان، هندوستان او بنګلادیش هیوادونو جوړه ده، هر هیواد یې بیشمیره مدرسې لري، چې د مختلفو ډلو او فرقو لخوا به مختلفو وختونو کې جوړې شوي دي. په سني مذهبه مدرسو کې د (دیوبند) مشهوره مدرسه خپل ځانګړی محافظ کار سبک لري چې دیوبندي ورته وایي. دغه مدرسه د هندوستان د دیوبند په ښارګوټي په (۱۸۶۷ ) زکال جوړه شوې ده. دیوبند مدرسه د خپل تاریخ په پړاونو کې ډیره وځلیده تر دې چې د هند د ازهر لقب یې هم وګاټه. وروسته د هند په نیمه وچه کې په لسګونو زره مدرسې رامنځته شوې، چې ډیرې یې د دیوبند تر مستقیم او یا غیر مستقیم اغیزې لاندې پاتې شوې دي.

اوسمهال دغه مدرسې د خپل ځانګړي فکر او تګلارې او نصاب په درلودو سره د یو وچ کلک مقلد بنسټ په توګه پیژندل کیږي. د دیوبندي سبک د مدرسو زده کوونکي (طالبان) خپلې ځانګړې جامې اغوندي، لونګۍ په سر کول پکې حتمي دي. همدارنګه دغه مدرسې له نورو هغو سره ډیر مخالفت ښیي چې په نصاب کې دې یې عصري علوم ور زیات شي. دلته لا هم د زده کړو تمرکز په جزییاتو او فرعیاتو دی. له شرعي مقاصدو او مهمو قضایایو څخه په واټن کې دي. د دې مدرسو اړوند ملایان او استادان لا هم د جمعیت اسلامي مودودي له ډلې څخه کرکه لري او خپل مخالفت ور سره څرګندوي.

په ټوله کې ویلای شو چې دیوبند لا هم په هغه تمځی کې ولاړ دی له کوم څخه چې اسلامي کلتور په ځانګړې توګه (ازهر شریف) نږدې شپیته یا اویا کاله دمخه تیر شوی دی. دوی سره لا هم د ښځو موضوع ستونزه ده، دوی اجازه نه ورکوي چې ښځه دې په عام ژوند کې را څرګنده شي. ځکه خو دوی د ښځو د تعلیم او دندو سره مخالفت لري. د انځور اخیستل هم د دوی په آند حرام دي. هنر سره جوړ نه دي، که رادیویي وي او که انځوریز. دوی یوازې د نبي علیه اسلام زمانې ته ګوري اوسنۍ

زماني سره د ديني چوکاټ په ساتلو سره د ځان عيارولو په اړه تصميم نه شي نيولای.

په دې کې شک نه شته چې افغاني طالبانو هم له همدې ګودره اوبه څښلي، ډېر طالبان په افغانستان او پاکستان کې له داسې مدرسو څخه فارغ شوي، چې ديوبندي نصاب پکې تدرسيږي.» (۱۸ ص، ص ۱۳۱ ـ ۱۳۲)

پورته بيان يو اسلامي ژورناليست چې په ديني علومو کې لوي لاس لري ليکلي نو ځکه د طالبانو د کړنو په تړاو ډېرو سوالونو ته ځواب ويل شوي دي. خو هيره دې نه وي چې ځينې کړنې يې د خپل محروم کليوالي ژوند څخه هم سرچينه اخلي او د پاکستان لاس هم په کې شته.

**شيخان او پيران:**
دا ډله هغه کسان دې چې څه ځانګړې ديني زده کړې نه لرې او که ديني زده کړې هم ولري يوازې د خپلو شخصي ګټو لپاره ګټه ور څخه اخلي. په دې ډله کې يو شمير تعويز ليکونکي، پال کتونکي هم شامل دي. دوي ډيره شتمني د خلکو د دروږونو څخه راټولوي. په دې ډله کې يو شمير ښه پرهيزګاره کسان شته چې د اولياو او يا ښوو خلکو نصب د خپلو واليدينو څخه په ميراث ورته پاته شوي دي. ډيري يې مريدان روزي چې يو ډول د تصوف د طريقې پيروه دي. يوه ښه بيلګه يې په هلمند کې بهاوالدين جان اغا و. نوموړي د مشهور بهلون جان اغا زوي و. بهلون جان اغا په خپل وخت فقير او د ښه خوي خاوند زاهد و، چې په سيمه کې ډير درناوي ورته کيدي. د زمان په بدلون دا کسان هم په يو با بل ډول د سياست په ډګر کې ور دننه شوه. بهاوالدين جان اغا د شوروي د اشغال په دوران کې د دولت په ځانګړې توګه د خاد د ادارې سره ژورې اړيکې درلودې په ځينو حالاتو کې مثبته ګټه هم ور څخه اخيستل شوي ده. عام ولس دغو کسانو او د دوي د نيکونو زيارتونو ته زيات اعتقاد لري. د دغسې اعتقاداتو په جريان کې کله کله ولسونه د ډيرو ناخوالو سره مخ شوي او د خلکو د باور څخه ناوړه ګټه اوچته شوی ده. ښه بيلګه يې د شادو شمشيري زيارت دي چې په کلونو د نارينوو او په ځانګړې توګه د ښځو د حاجت اخيستلو ځای و خو د فرخندې په ظالمانه وژولو سره د دغه زيارت هر څه بربنډ شول ويل کيږي چې دا کوم عرب قوماندان و چې په دواړو لاسونو کې تورې چلولي او ډير افغانان يې وژلي دي. داسې هم څرګنده شوه چې د ملنګانو په کوټو کې داسې شيان پيدا شول چې د ښځو څخه د جنسي اړيکو شاهدي يې ورکول. دا ډول زيات زيارتونه شته چې انګريزانو د اشغال ګټه ور څخه اخيسته او يې يو شمير مهم ځايونه د زيارتونو په نوم نومولي دي. د دې موضوع د اثبات لپاره غواړم د بغدادي پير د کتاب څخه ځينې بيلګې وړاندې کړم. د امان الله خان پر ضد

د دسیسیو جوړولو ډیر تفصیل ور په کښې شته چې د بغدادي پیر(ډیونډ جونز) خاطرات دي دا کتاب اوس ژباړل شوي دي او زما په واک کې په بریښنایي توګه شته:«ډیویډ جونز چې په بغدادي پیر مشهور و، کیسه کوي چې چارلس د کابل څخه فوري پیښور ته وغوښتلم په لومړی لیدنه کې را ته وویل چې نور به ږیره نه خریم... موږ څو تنه انګریزان یې د پکتیا غرونو ته بوتللو او دوي میاشتي مو د غرو په سمڅو (غارونو) کې تیر کړل. موږ ته به هندي، عرب، انګریزي او افغان استادان راتلل تر څو په کلتور، ژبو او عقیدو باندې مو وپوهوي. د جاسوسي نوي عصري وسایل یې راوړل، په استعمال او اهمیت یي پوهولو. تر دوو میاشتو وروسته یې نومونه را باندې کښیښودل لکه: مارګیر اغا، غیبګو، پیر کرم شاه، د مدینې خواجه...د هر یوه په نوم کې د پیر، خلیفه، حضرت، خواجه او اغا ټکي مهم و. پر ما یې د بغدادي پیر نوم کښیښود. موږ ټول اتیا کسه وو خو د هر کس باید فارسي یا پښتو ژبه زده واي. زموږ دوو تنو د ژبې ستونزه درلوده د هغوي څخه یې یوه نفر ته د پیر ګونګه اغا لقب ورکړي. نوموړي به په اشارو څه ویل، افغان همکار به یې د حرکاتو ژباړنه کول. دوهم نفر هندي صوفي و چې د هندي ژبې پرته یې بله ژبه زده نه وه هغه ته یې د دیوبندي پیر لقب ورکړي. بیا د اتیا نفرو څخه دوه نفري ګروپ جوړ کړي، هرې سیمې ته د ځیرې له مخې وویشلو خو د هر ګروپ سره داسې افغانان ملګري وو چې په اړونده سیمې کې بلد ول. ما او لارنس چې پیر کرم شاه نومول شوش و، امر را ته وشو چې د ډیورنډ غاړي په دوو مختلفو سیمو کې ځای پر ځای شو. زما سره یې قدم شاه افغان ملګري کړي چې ډیر چالاکه و. (۱۷ ص،ص ۵۴ ـ ۵۵)

د پورته لنډ مطلب څخه مې موخه دا ده چې زموږ ولس د نالوستي په وجه د مکار بهرني دښمن د لومو ښکار شوي دي. دا چې زموږ ولسونه د اسلام دین سره ډیره مینه لري نو هر ږیرور چې ویني پرته د ارزونې څخه سر ورته ټیټوي. د جهاد په وخت کې مو ولیدل چې په بهرنیو څارګرو ادارو پورې تړلو کسانو چې د اسلام تر نوم لاندې د جهاد غږ پورته کړي په میلیونونو خلک یې د جهاد په نامه ووژل خو اوس د قاروني شتمنیو سره د شهیدانو د کونډو او یتیمانو ننداره کوي دا لا څه چې خپل جنسي هوسونه ور باندې ماتوي. ښه بیلګې یې عبدالرب رسول سیاف، عطا محمد نور، برهان الدین رباني، شیخ اصف محسني، محقق، خلیلي او نور یادولای شوو. سیاف به ویل چې د کابل مځکه چټله شوي ده که څوک کافر ته لاس ورکړي د هغه لاس دومره چټل دي چې نه پاکیږي خو اوس په ډیر ویاړ د امریکایانو د ډوډۍ ورکولو کوربه وي، د جهاد نوم خو د امریکایانو په وړاندې پر خوله نه راوړي ځکه ډالر یې په ګیډه کې تاو را تاو کیږي.

**په افغانستان کې ترهګري يو بل اړخ هم لري**

«څو ورځې وړاندې (ډسمبر ۲۰۱۷ زکال) سهار مهال پوليس د کابل بنايۍ سيمې ته ورغلل چې د نشيي توکو د پلور دوکانونه وتړي، کاروباريان راولاړ شول پوليسو سره يې اخ و ډب شروع کړ، اصلي مافيا ننداره کوله، د پوليسو رينجر ته اور واچول شو او په غبرګون کې پوليسو دوه هغه کسان ووژل چې د شرابو له اصلي مالکانو يا دوکاندارو يې په فيصدۍ اخيستل او مشتريانو ته يې رسول.

**چاچې شراب خوړل چا چې شراب را وارېدول يوازې يې ننداره کوله.**

ماښام مهال د دوکاندارانو د احتمالي مظاهرې د امنيت او يا تشنج مخنيوي لپاره نيم کنډک پوليس سيمه کې له ډنډو سره کتار ولاړ وو، چې ځانمرګی راغی او ګڼ شمېر پوليس يې ووژل.

په دومره لنډ تنګ وخت کې ځانمرګی له کومه راورسېد؟

په نهيې عن المنکر پوليسو يې له دې کبله برید وکړ چې بدکار يې کړی يا له دې امله چې په سرو دوکمو يې ګوتې وهلې وې؟

ايا دلته هم هغه طالب داعش ماډله ترهګر برید وکړ که کومه بل ماډل ترهګري هم شته؟

ايا دا کابل، دا وطن واقعاً طالبانو او داعشيانو محاصره کړی که مافيا ده چې هم حکومت کوي هم ترهګري؟

ايا ځانمرګي لکه لوښي په ازاد بازار کې هم پلورل کېږي؟ زه او ته يې هم د حريفواله د پللو لپاره اخيستی پټاو کولای شو؟

هم په سفارتونو د ترهګرۍ شک دی، هم په ځينو اراکينو، هم په ځينو شرکتونو او هم په ځينو متنفذينو. طالب ددې لوبې يوه برخه ده يوازې څومه برخه.

د کانتيننتل پېښه کې د اقتصادي مافيا او زورواکو حاکمانو نقش هم لږ پلټل پکار دي.»

د شرابو د دوکانونو او پر کانتينيتال (۱۹ جولای ۲۰۱۸ زکال) بريدونه پرته د جهادي مافياء د مرستې څخه ممکن نه دي. نن ښاغلي حامد علمي د فيسبوک پر پاڼه ليکلي و، چې تيره ورځ کانتينينټال ته تللم دومره دقيقه تلاښي يې راڅخه وکړه چې د ترهګرو ور تلل را ممکن نه ښکاري. هيواد د همدغه جهادي مافياء څخه د اور په تنور کې سوځي ځکه د ژوند پايښت يې په جګړې پورې تړلي دي.

په افغانستان کې د پیړیو په اوږدو کې د دودیزو دیني زدکړو دود وو، په دې مانا چې لوی دیني عالمان به د مهمو کلیو ملایان وو، یوه یا دوې خونې به یې د حجرې په نوم د طالبانو د استوګنې لپاره درلودلې. خوراک او څښاک یې د کلیو د اوسیدونکو پر غاړه وو. په کلیو کې مسجد د کلي د مشر او یا خان لخوا اداره کیږي نو ځکه ډېر لګښت به هم د کلي د خان پر غاړه و.

د اوسني وسلوالو طالبانو د پیدایښت مختلف روایتونه شتون لري خو دوه ډوله روایتونه ډېر عام شوی دي. ځینې شنونکي د پاکستان د څارګرې ادارې آی اس ای او د امریکا د څارګرې ادارې ګډه پروژه ګڼي خو یو بل روایت دا دي چې د مجاهدینو د تاړاکونو او تر زغم وتلو ظلمونو په پایله کې د کندهار د کوکران په سیمه کې یوه کوچني ډله طالبان د خلکو د مکررو غوښتنو په نتیجه کې راپورته او د جهادي پاټکو پر ضد یې وسلې واخیستلې چې ملا محمد عمر مجاهد یې مشري کول. خو زما په آند دواړه روایتونه په خپل ځای کې سم بریښي چې وروسته به ژور بحث ورباندې وکړم.

**ولې طالبان را مینځته شوه؟**

کله چې د ملل متحد د سولې پلان د جنرال دوستم او احمدشاه مسعود لخوا د پرچم د ډلې د ببرک کارمل د ملاتړو د جنرال نبي عظیمي، جنرال اصف دلاور، عبدالوکیل د بهرنیو چارو وزیر او یو شمیر نورو لوړ پوړو پرچمیانو په نیغه مرسته ناکام شو نو په پېښور کې د مجاهدینو د حکومت بنسټ ایښودلو لپاره د پاکستان په مسقیم ګډون په ګورنر هاوس کې غونډه وشوه چې صبغت الله مجددي د دوو میاشتو لپاره د جمهوري ریاست دنده واخلي وروسته به برهان الدین رباني د څلورو میاشتو لپاره د جمهور ریس په توګه کار وکړي. د پیل څخه د مجاهدینو د دولت خښته کږه وه ځکه ځینو جهادي مشرانو د واک او شتمنیو په سر له پخوا څخه دښمنی درلودي، د یو اوبل جنګي قوماندانان یې وژلي وو. په دې برخه کې د ګلبدین حکمتیار او احمدشاه مسعود دښمني ډېره بارزه وه نو ځکه ګلبدین حکمتیار د لومړي ورځي څخه د جهادي حکومت سره پریکون وکړي. د ممثل حکومت تر رارسیدو مخکې د مسعود او دوستم وسلوال ښار ته ننوتلي وو، ژر ګلبدین حکمتیار هم لاس په کار شو د کورنیو چارو وزارت، ارګ او مرکزي کمیټه یې خپل تر ولکې لاندې راوستل. د جهادي حکومت د راتلو د لومړي ورځي څخه چور او چپاول پیل شو، تنظیمي جګړو د کابل په هره کوڅه او سړک کې جریان درلودي. په ځانګړي توګه « د جمعیت ګوند لخوا ټول دولتي دفترونه، دفتري تجهزات، ډیپوګان او د سوداګرئ وزارت له مالو نو ډک ګدامونه چې د ۵۷ تعلیمي غونډ څخه را شروع تر کابل بای پوري ټولې تولیدي فاریکې اوخست، افغان کارت، کام، نساجي، کابل ګمرک او

د هغه انګړونه يې د مثال په توګه يادولای سوو. د پيسود تبادلې مرکز (سراي شهزاده ... چور سول)» د خلکو کورونه لوټ شول پر ناموسونو باندې تيري وشو، تر ۶۵۰۰۰ کابل ښاريان ووژل شول او ډېر زيات د ړندو بمباريو او مستقيمو ډزو په پايله کې ټپيان شول. هر تنظيم ځانته پاټک جوړ کړي، په ولايتونو کې هم لږ يا ډير ورته حالت وو چې د چا مال او ناموس خوندي نه وو. عبدالحي مطمين په همدې تړاو ليکي:«په کندهار کې هم نا‌امنې تر زغم وتلي وه نو ځکه د تش لاسی ملا محمد عمر په يوه اواز ولس ډراماتيکه ملاتړ ور څخه وکړي.» (۱۶ ص ۷۱)

ملا محمد عمر څوک و؟ بيا هم غواړم د عبدالحي مطمين د کتاب څخه معلومات تاسو ګرانو لوستونکو ته وړاندې کړم: «ملا محمد عمر د کندهار د خاکريز ولسوالی د «چاه همت» په کلې په يوه علمي او ديني کورنی په ۱۹۶۰ ز کال زيږدلي دي د پلار نوم يي مولوي غلام نبي و. نيکه يي مولوي محمد رسول او او د غور نيکه نوم يي مولوي باز محمد و. د ملا محمد عمر پلار هم د خاکريز په ولسوالی کې دنيا ته راغلي او د همدي ولسوالي په بيلا بيلو ديني مدرسو کې ديني زده کړې کړی وي. نوموړي د تدريس او ديني دعوت په چارو کې زيات کوښښونه وکړه چې د خلکو په مينځ کې ډېر شهرت پيدا کړي.

ملا محمد عمر د پلار تر مړينې وروسته د پنځه کلنی په عمر د خپلو ترونو سره د روزګان ولايت د دهراود ولسوالي ته وکوچيدل او هلته يې د خپلو ترونو څخه په ديني زده کړو پيل وکړي. ملا محمد عمر چې اتلس کلن شو زده کړې پريښودي، د لومړی ځل لپاره يې د دهراود په ولسوالي کې جهاد پيل او د يوه زړه وړ قوماندان په حيث وځليد.

په ۱۹۸۳ زکال د ميوند ولسوالی ته ولاړ او هلته يې د حرکت انقلاب اسلامي د مشهور جهادی قوماندان حفيظ الله اخندزاده په جبهه کې د شورويانو پر ضد په جګړه کې ونډه واخيستل. ملا محمد عمر د ۱۹۸۳ ـ ۱۹۹۱ ز کلونو پورې د کندهار په مختلفو سيمو کې د شورويانو پر ضد په جګړو کې برخه درلوده او د شوبلو پر ضد د راکټ په ويشتلو کې ډېر مهارت درلودي. ملا محمد عمر وروسته تر خپل قوماندانی لاندې يوه وړه جبهه جوړه کړه. ملا محمد عمر هيڅ وخت د حرکت انقلابي اسلامي مشر مولوي محمد نبي ليدلي نه دي مانا دا چې يوازې هغه وخت پاکستان ته وړل شوی دي چې سترګه يې ټپي شوی وه نور هيڅوخت پاکستان ته تللي نه دي. د ډاکټر نجيب د حکومت تر سقوط وروسته ملا محمد عمر د خپلو څو تنو ملګرو سره د سينګسار په سيمه کې (د ښاغلي قيوم د معلوماتو له مخې ( د حاجي محمد ابراهيم توخي په مسجد کي چي تر ده مخکي ملامنلګ په دغه مسجد

کي استوګن وو.) یوه وړه مدرسه جوړه او د خپلو نیمګړو زده کړو د بشپړولو لپاره یې ملا وتړله.»

(۱۶ص، ص۷۵ـ۷۶)

مطمین دوام ورکوي:«د جهادي حکومت د پیل سره وحشتونه، د خلکو ازارول او پاټکونه د هیواد په ګوټ ګوټ کې رامینځته شوه. وحشت په ښارونو او اطرافو کې جریان درلودي. د هلمند ـ کندهار، سپین بولدک ـ کندهار تر مینځ د خلکو سره ډیر ناوړه چلند کیدي. د ملا محمد عمر د استونګنځي په نژدي کې هم د خلکو سره ډیر ظلم کیدي. له میوند نه تر کندهاره، دارو خان، صالح او نادرجان په وحشت کې ډیر مشهور پاټکوال قوماندانان وو. پر دې پاټکونو د خلکو سر، مال او عزت د ګواښ سره مخامخ و. د بولدک او کندهار تر مینځ د انځرګي په غرنۍ تنګي او تخته پول کې د منصور او قوماندان بارو پاټکونو په وحشت کې نوم درلودي. د ۱۹۹۴ زکال د جون په (۱۳) نیته د ملا محمد عمر په نوښت ملایان، دیني عالمان، د مدرسو استادان او د مسجدو امامان د سینګسار د یو پخواني مجاهد حاجي غوث الدین په جومات کې غونډه وکړه. په غونډه کې مولوي سید محمد (مولوي پاسني)، مولوي عبدالحکیم هم ګډون درلودي. په غونډه کې د نوي جنبش د مشر توب دنده مولوي پاسني ته وړاندیز وشو خو هغه مشرتوب و نه مانه نو غونډه بې پایلې پای ته ورسیدل. په سبا ورځ ملا محمد عمر د خپل ملګري مولوي عبدالصمد سره پر طالبانو وګرځیدل. په دې ډول د طالبانو تحریک پیل شو. په ۱۹۹۶ زکال د اپریل په (۴) په کندهار کې د لوي علماوو یوه سترغونډه جوړه شوه چې ملا محمد عمر ته یې د امیر المومنین لقب ورکړي. د طلبانو د تحریک لومړي ظهورپه ډنډ، حوض مدد او میوند کې و خو ځیني کسان یې پیل د بولدک څخه ګني چې دا واقعیت نه لري.» (۱۶ ص، ص ۸۲ ـ ۸۳)

( یوه یادونه: زه عبدالقیوم معلم یوه ورځ کله چې طالبانو کابل ونیوئ په کابل کې د استخباراتو د لوی رئیس عبدالصمد "خاکسار" سره د ده د کار په دفتر کې ناست وم، چې ده ته تلیفون وسوو. داسې راته معلومه سول کوم لوی طالب موتړ ټکر کړئ وو، خاکسار په تلیفون کې هغه ته وویل: « مشران باید خپله ډریوري ونه کړي، ستا هیر سول خدای نه خواسته چې بیا داسې کار و نه سي لکه څنګه چې زموږ او ستاسي(طالبانو) او لنی مشر چې په کوټه (کویټې ښار) کې چې یې موټرټکر او مړسوو» د خبرو څخه یې پوهه سوم چې طالبانو تر ملا عمر مخکې کوم بل مشر لاره او دا حرکت لا دمخه په پاکستان کې جوړ سوئ وو.)

عبدالحي مطمین د خپل کتاب په ډیرو برخو کې ټینګار کوي چې ملا محمد عمر په ژوند کې یو ځل د ټپ درملنې لپاره پاکستان ته تللي دي او بیا یې هیڅوخت پاکستان

ليدلي نه دي. مانا دا چې د طالبانو د تحريک سره د پاکستان مرسته نه وه. شک نشته چې طالبانو د خپل تحريک په پيل کې پاټکونه او جهادي قوماندانانو وحشتونه په ټپه ودرول. ولس د ارامۍ او سکون ساه وکښل، وسلې يې تر زياتي اندازي ټولې کړي. د غلاو، چور، چپاول او وژنو مخنيوي يي وکړي، تنظيمي جګړې يې په ټپه ودرولي. خلکو په بشپړ ډاډ د هيواد د يوې څنډې څخه بلې سيمې ته سفر کولای شو، د هيواد د تجزيې مخه يې ونيول. دا ټول هغه څه دي چې وياړ يې د طالبانو د تحريک دي خو ډير داسي مسايل شته چې طالبان او واکمني يې د تاريخ په محکمه کې د خلاصون لار نه لري.

**د پاکستان او طالبانو اړيکې:**

همدا شيبه مې د هغه دوست سره په ټليفون کې خبري وکړي چې د طالبانو د تحريک په پيل کې په کويټه کې استوګن و، دوست مې په تأکيد راته وويل چې ټولو خلکو د سر په سترګو ليدل چې د پاکستان مليشه د بولدک څخه تر کندهار تر ښاره لار د پاټکونو څخه تصفيه کړي. په دغه عملياتو کې زما يو پيژندګلوي چې په يو پاټک کې و، وژل شوي دي او د هغه دوستانو هم د پاکستاني پوځ د مليشو د شتون پخلي کړي دي.

زما د دوست شاه محمود حسرت د سترګو ليدلي حال د طالبانو په اړوند ولولئ:« په (۱۹۹۴عيسوي او۱۳۷۳هه ش) کال زه د ډيورنډ د کرښي پرهغه بله غاړه په چمن کي د لږ وخت د پاره کډوال وم. په چمن او کندهارکې اوازه وڅرخيدل چي طا لبان را پيدا سوي دي اوغواړي چي مجاهدين بې وسلې کړي او د هغوی د لارو پاټکونه ټول کړي. دا د خلکود پاره خورا په زړه پوري او د ډيرې خوشحالۍ خبر و.

څه چي اوس زه دلته بيانوم هغه په ټاکلو ځايونو کې د پيښو دقيقه نيټه نلري، ځکه چي په لومړي سر کي دا پيښې وړې اوکوچنۍ بريښيدي ما يې هغه وخت تاريخونه نه دي ليکلي اوپه حافظه کې هم راته پاته نه دي، خوپه عمومي ډول دا پيښې د (۱۹۹۴عيسوي او۱۳۷۳هجري شمسي) کلونو جريان او واقعات دي.

د کندهار د ولايت د ميوند ولسوالی د کشکي نخود په سيمه کي د (مورچې) په کاريز کي د حاجي بشر(نورزي) په نوم د حاجي محمدعيسی زوی ډير موړ، دنياداره او يو سوداګر شخص و؛ ( د ښاغلي عبدالقيم معلم په آند: زه چي يې پيژنم د حاجي بشر د پلار نوم حاجي رحمت الله وو، هغه يو له مخکنيو مشهورو قاچقبرانو څخه وو، ما له نژدې ليدلی وو. ، نه د حاجی محمد عيسی زوی.) د هغه ځای ته طالبانو تګ راتګ کاوه اوغونډې يې جوړولې. په دې وخت کې د حزب اسلامي يوه قوماندان يحی د عبدالعزيز زوی چي اصلي نوم يي سورګل و او نوموړی اصلاً د هلمند ولايت د ناوي ولسوالی د سرخ دَز اوسيدونکی و، د ژړی په

دښت کي يي د کندهار او هرات د لويي لاري ترڅنګ په جنوبي اړخ کي يو چهارديوالي ســراى جوړکړى و او د شکوني پاټک يې په کښې اچولى و. د دې لويي لارې د موټروانانو او مسافرو څخه به يي پيسي ټولولي. طالبان د حاجي بشرنورزي د ځاى څخه ورغله د يحى ســراى او پاټک يي ونيوه. دا لومړنى وار او ځاى دى چې طالبان په دغه ځاى کي راښکاره سوه. عبدالقيوم معلم: ( تر دغه اول پاټک نيولو وروسته حاجي بشر د دوى د تلو لپاره يو «ينو لارى» موټر او يو ټيله لرونکي تراکتور ورکړل) بيا د څو ورځو وروسته مخ د کندهار پر خوا په حرکت راغله. حوض مد د ته ورسيدل، ترحوض مدد وروسته په هرڅو مترى کې به د مجاهدينو يو پاټک و، د پاټکونو وسله وال کسان د طالبانو د بيرې څخه بيله مقاومته تښتيدل او پاټکونه يې ايله کول. طالبان ډير ژر د ارغنداب رود ته ورسيدل. د ارغنداب د رود په ختيځه برخه کي «عبدلقيم معلم: پر پاخه سرک جنوبي اړخ ته د ملا ملنګ پاټک اوشرق لوري يا د مرستون رستوران کي د عطامحمد(سرکاتب) اطاق وو» د رود د زاړه او نوي پله ترمنځ د کندهار ولايت د حزبي اسلامي د قوماندان عطامحمد (سرکاتب) قرارګاه او مرکز و، چې دغه مرکز په کوکران کې د ميرويس خان نيکه د مزار په څوسوه متري کې پروت و. سرکاتب تر يو سپک ډز وډَزٌ وروسته خپل مرکزطالبانو ته پري ښووه او پرخپله لار ولاړ. طالبان د دې ځاى څځه بيله ځنډه مخ د کندهار ښار پر خوا ور رهي سوه، تر ســرپوزې پورې يې ټول پاټکونه يومخ جارو کړه. پوهيږو چي ســرپوزه په کندهارښار پورې مُښتي سيمه ده. دلته طالبان تم سوه. د جنوب لوري د پنجوايي ولسوالى د سيمې څخه د طالبانو يوه بله ډله هم ورته راغله، ورســره يوځاى سوه. دا وخت د کندهار ښار د مجاهدينو او پاټکيانو خپل ناروا اعمال او غير انساني کړني مخته ودريدي، لينګي يي په ريږد راغله د تښتې په حال کې وه، چې په دې وخت کې د کويټې څخه د کوږک او چمن پرلار مخ پرکندهار د پاکستان تجارتي کاروان راروان و. څه وخت چي د کندهار ترنړيوال هوايي ډګر تيرسو، په ښوراندام کې ترهيدلو مجاهدينو کاروان د سړک څخه واړوه، د ښوراندام د غره لمنوته يې بوتلى. د سرپوزې څخه طالبان پسي ورغله، مجاهدين وتښتيدل که څه هم د کاروان ځني شيان يي غلاکړي وو خو کاروان يي بيرته سړک ته راوستى . طالبانو د دي ځاى څخه د کندهار پر نړى وال هوايى ډګر وسله وال بريد وکړ اوعملاً يي د مجاهدينو سره جګړه پيل کړه، ميدان يي د څو ساعتونو په موده کې ونيوه د ميدان د مجاهدينو قوماندان (منصور) يي وواژه ،د هوايې ډګر د دروازې په مخکې يې د روسي جنګي ټانک په ميل پوري وځړاوه. دغه قوماندان د کندهار ولايت د اوسني امنيه قومندان جنرال عبدالرازق کاکا (تره) و. طالبانو دري يا څلور ورځي وروسته لمرلويده مهال پرسپين بولدک علني اوښکاره بريد پيل کى. اوس به زه د دې کرښو ليکونکى د

يوعيني شاهد په توګه د بولدک د جګړې د خپلو سترګوځني ليدلی حالات بيان کړم:
کله چي جګړه پيل سوه زه او زوی مي(ميرويس) د چمن د ښارڅخه ووتو، کور ته تلو، چې د چمن د ښارپه شمالي برخه کې د شمال د خوا څخه زيات شمير موټرسايکلونه چي دري، دری کسان باندي سپاره وو او په افغاني سيمه ئيزو جامو ملبس وو، د چمن د ښار او د پاکستان د نظامي لوا د قرارګاه ترمنځ مخ پرسپين بولدک په ډيري تيزی سره وجګړې ته ور روان وو ، پدي وخت کې يوه موټرسايکل والا لارغلطه کړه د چمن ښار خواته ولاړ، ترشا بل موټرسايکل والا خپل دوه کسه ملګري کښته کړه په هغه نابلده موټرسايکل والا پسې ورغی، هغه يې بيرته راوګرځاوه، د کتار سره يې يوځای کی. ما تر يو وخته پورې موټرسايکلونه ترشل يا پنځويشت پوري حساب کړه آخر حساب راڅخه ګډوډ سو خو دغه موټرسايکلونه تر سل هم ډير وو، جګړه په دوه ، دوه نيمو ساعتونو کې پای ته ورسيده ، مجاهدين وتښتيدل بولدک طالبانو فتح کی.

د بولدک تر فتحې وروسته د کندهار ښار د مجاهد نما کسانو او غلو پاټکونه د طالبانو او مجاهدينو ترمنځ د مفاهمې يا د نورو بهرني کړيو د منځګړيتوب يا هم د هغوی د هدايت او امر په اساس ټول سوه، طالبان په بې غمه زړه راغله په کندهار کې ځای پرځای سوه واکمني يې راپيل سوه. ډير ژر د هلمند ولايت د مرکز لښکرګاه مغرورمجاهدين د سترګو په رپ کې يوې اوبلې خواه ته وتښتيدل. د کندهار او هلمند تر فتحې وروسته، د چمن په ښارکي د ټاپيونو په لوړ اواز سره د طالبانو تراني بړغيدلي، چې تراوسه پوري مې د يوې ترانې د کسر يوه جمله په غوږونو کې ازانګه کوي چي ويل يې(لښکرګاه ته رسيدلي طالبان دي) هغه د چا خبره ده (که حقيقت ووايم) دغو ترانو خوند را کاوه خود بلې خواه به مې د موټرسايکلونو هغه کتارمخې ته ودريدی چي د انګريزي ځالی څخه د بولدک وجګړې ته روان و، بيرته به مې خوشحالي په خواشينې بدله سوه حلق به مې تريخ سو.

رابه سو د بينظيرې او نصرالله بابر تجارتي کاروان ته. د دغه کاروان جوړول او منځنی اسيا ته يې ليږل تش په نوم خبره وه. دا د استعماري قوتونو له خوا د پاکستان پر لاس په غيرمستقيم ډول د افغانسان د لاندي کولو د پراخې توطيې اودسيسې د عملي کولو او د هغه پلان د تطبيق ، شروع او پيل وو.
حاجي بشر(نورزی) د قاچاق بر په نوم امريکائيانو په دوبی کي ونيوه امريکا ته يې بوتی آبدي حبس يې ورکی چي د ژوند ترپايه به د دوی په زندان کې وي، ټول هغه پټ معلومات چي د نوموړي سره و، هغه به پټ پاته سي. نو په لنډو ټکو کې به ووايو چي پردی ترمطلبه پوري يار وی. خصوصاً استعمارنه دوست پيژني نه هم

دښمن، یوازې خپلې ګټې پېژنې اوبس. د ثروت د لاسته راوړلو د پاره هرډول ظلم اوجنایت مُباح بولي.»

زما د دوست تر کیسې وروسته چې زه سل په سل کې پر حقیقت ویلو یې باور لرم د دې ځای نه پاته کیږي چې د عبدالحي مطمین خبرې چې طالبانو د پاکستان سره اړیکې نه درلودې، د باور وړ وګرځي. پرته له شکه طالبان د امریکا د څارګرې ادارې پروژه وه چې د پاکستان د څارګرې ادارې په مټ یې پیاده کړه. خو بیا هم د نورو اسنادو وړاندې کولو ته دوام ورکوم چې حقیقت نور هم برملا شي.

دا هم منم چې ځیني طالب مشران د پاکستان لخوا ووژل شول، د ملا عبدالسلام په څیر کسان یې امریکایانو ته تسلیم کړل او یا ملا برادر یې په مړ ژواندي حالت کې ساتلي دي خو د دې څخه هم سترګې پټولای نه شو چې همدا اوس د کویټې شورا د کلونو په اوږدو کې په کویټه کې استوګنه او د هغه ځای څخه پوځي او ترهګریز بریدونه پلان کوي. د طالبانو مشران ملا اختر محمد منصور او ملا هیبت الله په پاکستان کې اوسیدل چې وروسته ملا منصور ووژل شو. ملا هیبت الله د طالبانو اوسنی مشر د پاکستان څخه سر را ښکاره کوي په داسې حال کې چې د طالبانو زبده مشران پاکستان په فزیکي لحاظ له مینځه وړي خو ملا هیبت الله بیا هم د پاکستان په لمن کې د افغانانو د وژلو پلانونه جوړه وي.

مولوي عبدالغفار پکتیاوال د تاند په ویبپاڼه کې په یوه مقاله کې د نورو خبرو تر څنګ د ۲۰۱۶ زکال د اپریل په (۹) نیټه لیکي:«د پاکستان د صدر اعظم د ملي امنیت مشاور سرتاج عزیز څو موده وړاندې په امریکا کې ویلي چې د طالبانو مشران په پاکستان کې اوسي».

عبدالحي مطمین په خپل کتاب کې د بولدک د نیولو په وخت کې د پاکستان د اړیکو په تړاو داسې اعتراف کوي:«بل پلو د پاکستان میشتو افغان مهاجرینو او دین دوستو پاکستاني پښتنو د مینې او مرستې باران د بولدک او کندهار ښار د نیولو پر مهال د دې تحریک تبلیغاتي او مالي توان دوچنده کړي.» (۱۶ ص ۸۸)

که پاکستان مخالفت درلوداي نو لږه تر لږه د پاکستاني وګړو مخنیوي یې کولای شواي که مخنیوي یې په بشپړه توګه ممکن نه وو، خنډونه یې را مینځته کولای شواي خو دا کار یې هم و نه کړ. لکه پورته چې بیان شول وسلوال پر موټرسایکلو سپاره په منظمه توګه د سرحد څخه تیریږي خو د پاکستان پوځیان او څارګره اداره به خبره نه وي چې د منلو وړ نه ده. دا هغه واقعیتونه دي چې هیڅوک انکار ور څخه کولای نه شي.

احمد رشید د پاکستاني پوځ د اړیکو په تړاو لیکي:«زه د افغانستان په ټولو مسایلو کې پوره ښکیل وم، نو ځکه مې هر څه درک کړي وو. ما د افغانستان د جګړې د نیمې پیړۍ د قربانیانو سره مخامخ اړیکې لرلې. افغانستان او پاکستان د القاعدې پر ځالو بدل شوي وو، د اسلامي سخت دریځو او پوځ تر منځ کلکې اړیکې وې او د سپټمبر تر یولسمې مخکې ترهګرې ډلې د پوځ له لوري حمایه کیدې. پوځ د طالبانو ملاتړ کاوه. لکه څرنګه چې په کشمیر کې زر ګونه ځوانان له هند سره جګړې ته هڅول شوي وو. همداسې یې زرګونه ځوانان د طالبانو په لیکو کې جګړې او وژل کیدو ته هڅول.» (۱۹ ص ۱۶)

اوس د الجزایري ژورنالیست د کتاب څخه د طالبانو او پاکستان د اړیکو په تړاو دلته مهم ټکې را نقلوم:«هغه مهال په ۱۹۷۸ زکال چې ما په افغانستان کې څه لیدلي وو، د یو کتاب په بڼه چې زما لومړی کتاب هم و په بیروت کې چاپ شو. خو کله چې مې یو ځل بیا دغه کتاب ته مراجعه وکړه، د طالبانو او کمونستانو تر منځ پرتلې ته مې پام شو، دغه پرتله څو اړخه لري. دواړې ډلې په ایډیالوژیک فکر میدان ته را وتلې چې په افغاني ټولنه خپل فکر په زور ومني. که څه هم لومړۍ دورې (کمونیستي ایډیالوژۍ) سره افغانان نوی وو خو طالبانو بیا د اسلام نوم پورته کړی و، چې په افغانستان کې اوږدې ریښې لري.

د دواړو ډلو ملاتړ له بهر څخه کیده، د کمونستانو ملاتړ د وخت د شوروي اتحاد له خوا او د طالبانو ملاتړ د پاکستان له خوا. دواړې ډلې په ښکاره ډول له بهر څخه حمایه کیدلې.» (۱۸ص۲۸)

همدا لیکوال د خپلې ادعا د اثبات لپاره داسې دوام ورکوي:« طالبان د فتوا مرکزي اداره لري، د دغې ادارې مرکزي دفتر په کندهار کې د امیر المومنین تر څنګ دی. قاضي القضات چې د وزیرانو شورا غړی هم دی د ټولو هغو پریکړو د صادرولو مسولیت لري، چې هوکړه ور باندې شوې وي او که په کومه مساله کې اختلاف پیدا شي نو د فتوا مرکزي ادارې ته محول کیږي. د فتوا مجلس ځیني غړي پاکستاني عالمان دي لکه دکتور شیرعلي چې د مدینې منورې څخه یې په تفسیر کې دکتورا اخیستې ده او په ځینې دینې مدارسو کې تدریس هم کړی دی، دکتور نظام الدین شامزی نوموړي خپله دکتورا په حدیثو کې د سند له مدرسې اخیستې ده او په همدې مدرسه کې استاد هم دی. همدارنګه نوموړی د کراچۍ په اسلامي جامعه کې د دارافتاء ریس هم دی او مولوي عبدالعلي دیوبندي چې د هند د دیوبند له مدرسې فارغ دی، نوموړی د ډیر عمر خاوند دي. یو بله مهمه خبره دا ده: هغه مرجع چې طالبان ورته د شرعي چارو په برخه کې مراجعه کوي د فقهي د عالمانو په پرتله

پکې د حدیثو عالمان ډیر دي. د حدیثو د عالمانو اقوال او نظریات د فقهیانو په پرتله ډیر تنګ دي.» (۱۸ ص ۶۸)

که په غوره پورته مطلب ته پام وشي برسیره پر دې چې ډیر طالبان د پاکستاني دیوبندي مدرسو محصول دي خو برسیره پر دې د پاکستاني ملایانو شتون په داسې یو مهم مرکز کې چې د افغان ولس د ژوند او مرګ پریکړې کوي، څرګنده خبره ده چې د پاکستان د آی اس ای لاس په کښې دي. هیڅوک باید باور و نه کړي چې دا ملایان ملایکي دي او هره پریکړه به د خدای د احکامو مطابق کوي، حتماً به د پاکستان ګټې په نظر کې نیسي.

همهغه لیکوال په دې اړوند چې طالبان د پاکستان ملاتړ د ځان سره لري، داسې لیکي:«پوهیږم چې ډیرو خلکو د طالبانو د رامنځته کیدو په اړه ډیر څه ویلي او ډیرو یې دا یوه بهرنۍ عملیه هم بللې ده، ډیر څیړونکي په دې آند دي چې په دغې پروژې کې پاکستان او د امریکا استخباراتي سازمان سي آی ای شریک دي. دوی وایي چې همدوی وو چې دغه وړه ډله طالبان یې له جومات څخه د کابل تر ارګه ورسول. دوی د دې لپاره څرګند او کره دلایل هم لري.

د بیلګې په توګه د پاکستان د استخباراتو پخوانی مشر جنرال حمیدګل وایي، چې د ده هیواد (پاکستان) په افغانستان کې هغه پالیسي پلې کوي، کومه چې د امریکا لخوا دوی ته ورکول کیږي او په افغانستان کې د طالبانو تحریک جوړښت زموږ په لاس شوی دی. نوموړي دغه څرګندوني په (۱۹۹۵/۱۰/۱۸ زکال) کې په اسلام اباد کې د سیاسي څیړونو د مرکز په یوه ناسته کې کړي چې سترګې ورڅخه نشي پټیدای، بلکه دغو کلماتو ته باید په جدیت وکتل شي.

همدارنګه (نیوزویک) مجلې د ۱۹۹۴ زکال په سپتمبر کې په خپله یوه ګڼه کې ولیکل چې د امریکا مرکزي استخبارات د پاکستان د پوځ له لارې افغان طالبانو سره مرستې کوي، چې نوي میدان ته راوتلي دی. دا هم د پام وړ ټکی دی.» (۱۸ ص ۱۲۲)

بیا هم د هغه لیکوال د کتاب د یوې بلې برخې څخه د پاکستان تړاو د طالبانو سره داسې بیانیږي: «د لویدیځ او پاکستان د ورځپاڼو لیدلوری بیا د طالبانو په اړه داسې وو:«د پاکستان د کورنیو چارو پخوانی وزیر نصیرالله بابر هغه مهال چې د طالبانو تحریک د ۱۹۹۴ زکال د اکتوبر په میاشت کې تازه خپل غږ پورته کړی و، د جنوبي افغانستان یوه دوره پیل کړې وه. په دغې دورې کې نوموړی نږدې اته سوه کیلومتره وګرځیده. د کندهار او هرات په شمول یې د ځینو ولایاتو له ځینو چارواکیو او قوماندانانو سره هم لیده کاته وکړل. کله چې نوموړی د خپل دغه سفر

بیرته پاکستان ته راستون شو، نو د کندهار او هرات خلکو ته یې په مرستو او خوراکي توکو بار دیرش لارۍ واستولې. نوموړی په دې سربیره ترکمنستان ته هم د تجارت په پلمه ځینې کاروانونه روان کړل. نوموړی دا کار د ۱۹۹۴ زکال د نومبر په میاشت کې تر سره کړ. د دغه کاروان په رأس کې د پاکستاني استخباراتو یو کرنیل و، چې (نیوزویک) مجلې یې نوم (سلطان امیر) ښودلی، کله چې دغه کاروان کندهار ښار ته پر لاره و، نو د پیر ګیلاني د یوه قوماندان منصور اغا (نیوزویک د یو بل قوماندان نوم ذکر کړی چې نیاز ویاند نومیده) له خوا چور شو.

کله چې د کاروان د چورکیدو خبر په رسنیو کې خپور شو، نو یوه ډله د مدرسو طالبانو په (۱۹۹۴/۱۱/۳) زکال د سپین بولدک له سیمې حرکت پیل کړ او له هغه قوماندان سره په جګړه کې ښکیل شول. په پایله کې طالبان وتوانیدل چې قوماندان مات کړي او نوموړی له ځینو ملګرو سره یو ځای اعدام او کاروان هم وژغوري. ډیرو رسنیو دغه پیښه ډیره وپړسوله او د طالبانو دغې لومړۍ بریا ته یې ډیره پاملرنه وکړه.

هغه څه چې ملا محمد عمر وایي له دویم روایت سره ډیر په ټکر کې نه دي. ملا محمد عمر د تحریک د رامنځته کیدو نیټه ۱۹۹۴ زکال د جولای میاشت ښیي او بیا اوه میاشتي وروسته دغه تحریک په سپین بولدک کې په یادې ښې را څرګندیږي. دا نو ځکه نه شو ردولای چې د طالبانو حرکت د پاکستاني استخباراتو له طرحه شوي مهال ویش سره سم را منځته شو، ځکه هغه کاروان چې طالبانو نجات ورکړ مشري یې یو پاکستاني جنرال کول. دا هم له امکانه لرې نه ده، چې د پاکستان د کورنیو چارو پخواني وزیر نصیرالله بابر دې د خپل سفر په موده کې چې جنوبي افغانستان ته یې درلوده، دغه پلان طرحه کړی وي.» (۱۸ ص، ص ۱۲۸ ـ ۱۲۹)

زما په آند د پورته اسنادو پر بنسټ او د پاکستان د لوړو پوړو چارواکو تګ او راتګ و افغانستان ته د طالبانو د واکداري په وخت کې ثابته وي چې پاکستان د پیل څخه د طالبانو په جوړولو او واکمن کولو کې په نیغه لاس درلود.

احمد رشید د طالبانو او آی اس ای د اړیکو په تړاو لیکي:«د ۲۰۰۱ ز کال په اپریل کې آی اس ای د مولانافضل الرحمن ګوند جمعیت علمای اسلام ته پیسې ورکړې، چې پېښور ته نژدې د دیو بند علماوو درې ورځنی نړیوال کنفرانس جوړ کړي. دیوبند د سني مسلمانانو هغه ډله ده، چې تر ډیره په کې طالبان او نور پاکستاني افراطیان چې جهادي افکار لري، شامل دي. په دې کنفرانس کې سلګونو کسانو ګډون کړی وو او د طالبانو ملاتړ یې وکړ. په دې غونډه کې د اسامه بن لادن پیغام، چې له ملا محمد عمر څخه یې ملاتړ څرګند کړی و، ولوستل شو. په اسلام اباد کې د لویدیځو هیوادونو سفارتونه وویریدل چې د خلکو دا ډول راغونډیدل، خو د

طالبانو پر ضد د ملګرو ملتونو د بنديزونو او پرېکړه ليکونو خلاف دي. د اپريل په پای کې آی اس ای لشکر طيبه هم وهڅوله، چې دې ته ورته يوه بله غونډه په لاهور کې جوړه کړه. لشکر طيبه د اورپکو هغه لويه ډله ده، چې په کشمير کې له هند سره جګړه کوي. په دې غونډه کې پر بريتانيا نيوکې وشوې، چې ولې يې لشکر طيبه ډله د ترهګرو په ليست کې شامله کړې. په داسې حال کې چې پوځ پر نورو هر راز غونډو بنديزونه لګولي وو، خو د افراطي ګوندونو دا ډول غونډې په لويه پيمانه او ازادانه تر سره کيدې. دا په ځرګنده ملګرو ملتونو او امريکا ته د ناهيلۍ پيغامونه ورکول و، چې په پايله کې پاکستان د طالبانو ملاتړ ته دوام ورکړ او د ملګرو ملتونو هغه غوښتنه هم تر پښو لاندې شوه، چې په افغانستان کې يې د کورنۍ جګړې د پای ته رسولو لپاره کړې وه.» (۱۹ ص، ص ۹۳ ـ ۹۴)

په يوه بله پاڼه کې احمد رشيد بيا هم د پاکستان او طالبانو د اړيکو څخه پرده پورته کوي، داسې ليکي:«په ملګرو ملتونو کې روسيې او فرانسې امنيت شورا ته داسې استخباراتي معلومات وړاندې کړل، چې په کې ښودل کيدل، پاکستان د ملګرو ملتونو د غوښتنو خلاف عمل کوي. هغوی طالبانو ته تيل او نور لوژستيکي امکانات برابروي. د آی اس ای له لورې هره ورځ تر ديرشو زيات بار وړونکي موټر افغانستان ته استول کيږي. مشرف په ډيرې سپين سترګۍ د ملګرو ملتونو نيوکې او بنديزونه وغندل او ويې ويل:((طالبان په افغانستان کې حقيقي واکمنان دي، د طالبانو پر وړاندې يو اړخيزه بنديزونه لګول شوي، دا هر څه د تبعيض پر بنسټ تر سره شوي، دا به نور هم جګړې ته لار هواره کړي.))... يو مخکښ امريکايي ډيپلومات خپل پاکستاني سيال ته وويل:((طالبان او القاعده يوه شبکه ده...)) دغه امريکايي ډيپلومات د خپلو ګوتو په شميرولو د آی اس ای د هغو يوولسو جنرالانو نومونه واخيستل، چې په افغانستان کې يې د طالبانو ملاتړ کاوه او د هغوی چارې يې تنظيمولې.» (۱۹ ص، ص ۱۰۲ ـ ۱۰۳)

همدا ډول احمد رشيد داسې ادامه ورکوي:«د مشرف لوی درستيزوالۍ يو افسر ستر جنرال غلام احمد خان وويل:((موږ هڅه کوو امريکا د طالبانو له ځپلو را وګرځوو، هغوی دا کار له پاکستان پرته نه شي کولی، ځکه هغوی بله لار نه لري او موږ دې کار ته چمتو نه يوو.))»(۱۹ص۹۱)

د پورته کره شواهدو او عيني واقعيتونو پر بنسټ په ځرګندو ټکو ويلای شم چې طالبان د پاکستاني مدرسو زيږنده او د آی اس ای په لاسونو جوړه شوي پروژه ده چې پاکستان يې تر همدا شيبې د خپلو ملي ګټو د ساتلو په خاطر لوبوي. دا چې عبدالحي مطمين په ټينګار وايي چې ملا محمد عمر په ټول ژوند کې يو ځل په ټپې حالت کې پاکستان ته تللي دي، خبره يې کره نه ښکاري. دا چې د پاکستان تړاو د

طالبانو سره د عبدالحي مطمين په نظر واقعيت نه لري، موږ ته نور واقعيتونه را څرګنده وي:

۱ ـ ملا محمد عمر يو کليوالي ملا و چې زده کړې هم نيمګړې پاتې شوې وې، يوازې يې په پښتو ژبه خبرې کولای شوای. زه باور نه لرم چې د لوستلو او ليکلو وړتيا به يې لرل ځکه زموږ ډېر لوي ملايان (د مولوي په درجه) هم په سختي سره په ډېر پخواني ميتود سره ليکل او لوستل کولای شي. شک نشته چې ملا محمد عمر به ښه جنګي سړی و، او د راکټ په واسطه به يې ښه نښان ويشتلای شوای خو نړيوال سياست ډېر پيچلي دي او په ځانګړې توګه ځارګريز فعاليتونه او لوبې لا نورې هم پيچلي دي چې پوهيدل يې ملا محمد عمر ته نه يوازې ستونزمن وو، بلکې ممکن هم نه وو. ملا محمد عمر به په ټول ژوند کې د سياست په تړاو يو کتاب هم لوستي نه وي نو ځکه پر دريځ او د ژورناليستانو سره يې د خبرو کولو څخه ډه ډه کوله. که داسې اټکل وکړو چې د ملا محمد عمر په نظر نوموړی مستقل و، استخباراتي لوبې دومره پيچلي وي چې ملا محمد عمر پرته له دې چې پوه شي، ښکيل و. که تاسو د احمد رشيد کتاب ولولي په سلګونو شواهد شتون لري چې د پاکستان تړاو د طالبانو سره په اثبات رسوي.

۲ ـ موږ په تيرو څلويښتو کلونو کې وليدل چې د ګوندونو مشران په داسې لوبو اخته وو چې نژدې همکارانو يې هم معلومات نه درلودې. ليرې نه ده چې عبدالحي مطمين به هم د ملا محمد عمر د پټو اړيکو څخه باخبره نه و.

**د سراج الدين حقاني اړيکې د پاکستان سره:**

(جلالادين حقاني پلار) او زوی سراج الدين حقاني د طالبانو د مخکښو غړو څخه دي چې په اوس وختونو کې زوی د طالبانو د مشر د مرستيالی دنده هم تر لاسه کړي. سراج الدين حقاني، کورنۍ او ملاتړي په ښکاره د پاکستان د ځارګرې ادارې د ملاتړ څخه برخمن دي نو ځکه مرکز يې د پاکستان د مهرام شاه په ښار کې دي. لويديزو هيوادونو او په ځانګړي توګه امريکايانو ادعا کړې ده چې هر ځل پر سراج الدين حقاني د عملياتو بريد د پاکستان د پوځيانو په واسطه نوموړي ته خبرداري ورکول شوی دي. ټول شواهد را په ګوته کوي چې حقاني د پاکستان سره ډېرې نژدې اړيکې لري او د پاکستان د ځارګرې ادارې د بشپړ ملاتړ څخه برخمن دي. دا چې سراج الدين حقاني د طالبانو جګپوړي چارواکي دي نو د حقاني اړيکه د پاکستان سره طالبانو ته برأت ورکولای نه شي چې د پاکستان سره اړيکې نه لري.

**حقانيانو انس تر پاکستان جار کړ**

ليکونکی سرخط ورځپانه:

14.10.2017

دا مطلب کټ مټ د بی بی سي د فارسي په پاڼه کې هم خپور شوی دی«پر خوشې شوې امریکایي مېرمن درې ځله جنسي تېری شوی. شاوخوا پنځه کاله وړاندې د کایټلن کولمین په نامه امریکایي مېرمن او د هغې کاناډایي خاوند جاشوا بویل د حقاني شبکې جګړه مارو ته په لاس ورغلل چې تر تېرې چهارشنبې پورې یې له ځان سره ساتلي وو. د بند په موده کې د کولمین او بویل درې اولادونه زېږېدلي او سرخط ته داسې مالومات رسېدلي چې په دغه موده کې پر کولمین درې ځله جنسي تېری شوی دی.

حقاني شبکې په وار وار د دغې جوړې د خوشې کولو په بدل کې د انس حقاني په ګډون د حقاني کورنۍ د دریو نورو بندیانو د خوشې کولو غوښتنه کوله، خو اوس یې انس او دوه نوره حقانیان په خپل لاس، د پاکستان پښو ته حلال کړل.

وروسته له هغه چې د امریکا ولسمشر ډونلډ ټرمپ د افغانستان او سیمې په اړه خپله نوې ستراتېژي اعلان کړه او پر پاکستان د امریکا فشارونه زیات شول، د دغه هېواد پوځ، استخباراتو او ملکي حکومت له بېلابېلو لارو هڅې وکړې چې دغه فشارونه تر ممکن حد پورې کم کړي.

تر هغه وروسته پاکستان د امریکا لمن ونیوه او استازي یې افغانستان ته ولېږل او هڅې یې پیل کړې چې په دې توګه د امریکا له فشارونو ځان وساتي. د دغې لړۍ وروستۍ هڅه دا وه چې پاکستان دغه کاناډایي سړی او امریکایي ښځه او د هغوی درې اولادونه خوشې کړل چې پنځه کاله کېږي امریکا یې د خوشې کولو غوښتنه کوله، پاکستان پلمې کولې او جګړه مارو یې په بدل کې د حقاني کورنۍ د دریو تنو خوشې کول غوښتل.

د طالبانو یوې باوري سرچینې سرخط ته وویل چې له تېرو څو ورځو راهیسې ای‌ایس‌ای پر حقاني شبکه فشار راوستی و چې باید پر پاکستانیانو د امریکا د فشار کمولو په پار دغه کاناډایي امریکایي کورنۍ خوشې کړي.

دغه سرچینه وایي، د حقاني کورنۍ ټینګار کاوه چې باید د دغو کسانو د خوشې کولو په بدل کې د دوی د کورنۍ درې تنه خوشې شي، خو پاکستان بیا بیا ویل چې پر دوی د امریکا فشار زیات دی او اوس د دې وخت نه دی چې له امریکایانو سره چنې ووهي.

د سرچینې په خبره، وروسته د حقاني کورنۍ یوازې د انس حقاني په خوشې کولو غاړه ایسته او ویل یې چې په بدل کې دې یې یوازې انس حقاني خوشې شي، خو

پاکستان په دغه موضوع کې ځنډ نه غوښت. انس حقاني د دوه زره څوارلسم کال د اکتوبر په دوولسمه نېټه، امریکایانو په بحرین کې ونیو. وروسته یې عربي متحده اماراتو ته یووړ او له هغه ځایه یې بیا د افغانستان ملي امنیت ته وسپاره. پر انس حقاني د اعدام حکم شوی دی. داسې مالومات هم شته چې بالاخره ای‌ایس‌ای ګواښ وکړ چې که دغه کسان ژر تر ژره خوشې نه شي، دوی به خلیفه سراج حقاني امریکا ته په لاس ورکړي او یا به یې ووژني.

ای‌ایس‌ای ویلي وو چې امریکا ورڅخه د حقاني شبکې پر ضد اقدام غواړي؛ نو دوی مجبور دي چې د حقاني زوی ورته ووژني، خو که حقاني شبکه دغه کسان خوشې کړي، نه به دوی حقاني وژلی وي، نه به یې له شبکې سره اړیکې خرابې شوې وي او ښه لا دا چې امریکا به هم خوشحاله شي.

هماغه و چې حقانیانو د خپلې کورنۍ درې تنه د پاکستان پښنو ته حلال کړل او پر پاکستان د امریکا د فشار کمولو هڅه وشوه.

سرخط ته د رسېدلیو مالوماتو په اساس، کاپټلن کولمین او د هغې خاوند جاشوا بویل شاوخوا پنځه کاله وړاندې، تر جبل سراج را لاندې د پروان ولایت په مربوطاتو کې د شمالي ټلوالې پخوانیو توپکمارو وتښتول، بیا یې په طالبانو پلورلي او د حقاني د کورنۍ لاس ته چې رسېدل، دوه درې واره لاس په لاس او پلورل شوي دي.

د دوی د تښتول کېدو په لومړیو ورځو کې طالبانو انکار وکړ او ویې ویل چې د دوی کسانو څوک نه دي تښتولي، خو وروسته چې دغه کسان لاس ته ورغلل، خوله یې وربانديې پټه کړه او پاکستان ته یې ولېږل. پاکستان دا پنځه کاله دغه کسان د همداسې ورځې له پاره ساتلي وو. د لاس په لاس کېدو او پلور موده یې لنډه وه، خو له حقاني کورنۍ سره پنځه کاله برمته وو. په دغه موده کې د کولمین او بویل درې اولادونه زېږېدلي دي او سرخط ته داسې مالومات رسېدلي چې د بند په دغه موده کې پر کولمین درې ځله جنسي تېری شوی دی. سرخط ته باوري سرچینو د کولمین د مور، لین کولمین له خولې ویلي چې له لور سره یې خبرې شوې، هغه ښه ده، درې ماشومان یې زېږېدلي او درې ځله وربانديې طالبانو جنسي تېری کړی دی. بده لا ده چې وروستی جنسي تېری، د اولادونو په مخ کې وربانديې شوی دی. «سرخط ورځپانه»

کارپوهان پدې باور دي چې په یوې بهرنۍ مېرمنې باندې جنسي تېری، د پښتنو سپکه ده، پښتون حتی خپل دښمن ته هم په خپل کور کې د ورور او خور په سترګه کتلې دي. د جنسي - تېري دا خبره چې ټوله نړۍ کې خپره شوې ده، پښتانه او

مسلمانان یې ډېر سپک ښکاره کړې دي، په تېره بیا داسې شرایطو کې چې پښتانه تیار په سیند لاهو دي، دا ډول ناښایسته اعمال ښې پایلې نلري»

زما په آند اوس دا ډیره مهمه نه ده چې طالبانو پر کاناډایې ښځې جنسي تیرى کړي که یا! خو طالبنو دا ادعا رد کړه. که څه هم طالبان د جنسي تیریو په تورونو ډیر تورن شوي نه دې خو په جګړه کې هر څه ممکن دي. که د افغانستان د خلکو کلتور او دود ته په داسې کړنه زیان رسیږي دا زیان د مجاهدینو د جګړې او هم د واکمنۍ په دوران کې دومره لوړې کچې ته ورسیدي چې افغان کلتور څه بلکې د جهادي قوماندانانو انسانیت هم هیر کړي وو.

که غواړو چې د غازي وزیر اکبرخان د وختونو میړانې وساتو چې انګریزي لیډي سیل یې توصیفونه کړي دې او افغانان یې د ناموس په ساتلو کې که افغاني ښځې وي او که بهرنیاني وي په چلند او کړونو کې دومره ستایلي دي چې د تاریخ په زرینو پاڼو کې ثبت شوي دي.

مجاهدینو د افغانانو دغه د ویاړه ډک تاریخ او منلي دود ته داسې زیان واړوي چې بیا د رغیدو چانس نه لري. دلته دا مهمه ده چې ولې د حقاني شبکې د پاکستان په وړاندې د اطاعت سر ټیټ کړي چې د کورنۍ مهمو غړو ژوند یې قرباني کړي. اوس نو تر لمر سپینه ده چې د حقاني شبکه د پاکستان په اشاره هر څه ته تیار دي او حقاني شبکه د طالبانو د لیکو یوه مهمه څانګه ده.

**د طالبانو او داعش اړیکې:**

په دې تړاو به د عبدالحي مطمین د کتاب څخه لنډ مطالب وړاندې کړم:«کله چې په عراق کې داعش (دولت اسلامیه) سر راپورته کړ موږ د سني مسلمانانو سره د وحشت داستانونه ډیر اوریدلي وو نو طالبانو هم دې غورزنګ ته خوشالي وکړل او دا یې په سیمه کې د لویدیزو پالیسیو په وړاندې مثبت غبرګون وګڼي... لږ وخت وروسته د هغوي چلند د عام ولس او القاعده سره زړه بړونکي و، وروسته د هغوي د خلافت اعلان او په ټوله نړۍ په جبر منل په پیل کې لیونتوب ته ورته و خو وروسته یوه دسیسه وګڼل شوه. کله چې په افغانستان کې د دوي تشکیلات په مستقل ډول را مینځته شوه نو ملا اختر محمد منصور د خواخوږي ډک یو لیک البغدادي ته ولیږي. په لیک کې د افغانانونو او عربو جنګیالیو ګډ جهاد او سرښندونو ته اشاره شوي وه. د دوي لخوا د مستقلو تشکیلاتو اعلانیدل دښمن ته د یو فرصت په لاس ورکول وبلل شول...د هغه لورې د البغدادي د ویاند عدناني لخوا ځوابیه لیک چې په ډیرو غلیظو، سپکو او سورو لیکل شوی و، غبرګون وښودي په ځانګړې توګه ملا محمد عمر ته یې ډیر بد مطالب لیکلي و چې دا وخت د هغه د وفات یو کال تیر

شوی و. د لیک تر را رسیدو وروسته طالبانو د داعش پر ضد پوځي اقدام وکړي.» (۱۶ ص،ص ۳۵۴ ـ ۳۵۷)

عبدالحي مطمين شکایت کوي چې د داعش د ظلمونو په وړاندې طالبان جګړه کوي خو دولت پر طالبانو په همدغه وخت کې بریدونه کوي او کله کله امریکایان دواړې خواوې بمبارد کوي. پیچلي حالت دي. یوه خبره رښتیا ده چې په افغان دولت کې ډیرو کړیو دې ته خوشالي کول چې طالبان او داعشیان یو د بل پر ضد جګړې وکړي تر څو دواړه لوري کمزوري شي. زما په آند دا ښه پالیسي نه وه. سره د دې چې دولت د طالبانو او داعشینو په جګړو خوښي کول خو د ډیرو افغانانو وینې وبهیدلي، داعشیانو ډیر کورونه وسوځول. دولت باید د دې ستونزې په وړاندې سالمه او د ولس په ګټه پالیسي غوره کړي وای.

عبدالحي مطمين ادعا کوي چې داعشیانو ته وسلې ورکول کیږي، دلته یې لولو:«یو باریک جریان چې تر اوسه لا هم ډیرمحسوسیږي هغه د دولت د استخباراتو، د سیمې د ځینو نورو هیوادونو او د ځینو لویدیزو کړیو لخوا د طالب پر ضد د داعش مرموزه تقویه ده، چې طالبانو یې ګڼ اسناد تر لاسه کړي، خو ښکاره وربانديې خبري کول نه غواړي. کله ناکله دغه ډله په ناڅاپي ډول د وسلو، مهماتو او پیسو په برخه اکمالیږي او په لوی لاس د هیواد شمال ته د سرایت لپاره غیر مستقیم تشویقیږي. له دې سره دا شکونه زیات پیاوړي کیږي چې ښایي د شوروي د پخوانیو سیمو او چین ته دغه خلک له یو مبهم اړخ نه په یو ګواښ د بدلولو هڅې رواني دې.» (۱۶ ص ۳۶۲)

ښاغلي مطمين تر ډیرې کچې واقعیتونه بیان کړي دي. په عام ولس کې هم اوزاې تودې دې چې داعش ته لویدیز او په ځانګړې توګه امریکایان وسلې ورکوي دا کړنه یې په عراق کې هم کول چې د عراق حکومت څو څو ځله دا پخلي وکړي چې امریکایان د الوتکو څخه وسلې ورته غورځوي خو بیا ادعا کوي چې په تیروتنه دا کار شوی دي.

**طالبان او عصري زده کړې:**

طالبان د هر ډول عصري زده کړو سره مخالفت لري، د ادعا د ثبوت لپاره د طالبانو د واکمنۍ دورې ته ور ګرځو چې په هیواد کې تقریباً ښوونځي په نشت کې راوستلي د نجونو زده کړې خو په بشپړه توګه له مینځه یوړلې. په کتابونو کې د انځورونو سره دومره مخالفت وښودي چې ټول چاپ شوی کتابونه چې د ژوندیو موجوداتو انځورونه یې درلودل له مینځه یووړه. د عکاسي عصري دوکانونه یې وتړل، د اړتیا په وخت کې په کابل او نورو ښارونو کې یوازې ډیرو پخوانیو زړو فوري کامرو ته اجازه ورکړه. د موضوع په اړوند عبدالحي مطمين ستونزې ته

داسې اشاره کوي:«طالبان خپل عام پیروان په یویشتمه پیړۍ کې بیا هم د عصري تعلیم  په ارزښت نه پوهوي او نه یې قانع کولای شي، چې له امله یې د دې ویره شته چې طالبان د تل لپاره یوه جنګي ډله پاتې شي او د یو منظم نظام د رامینځته کیدو وړتیا و نه لري... دا وخت لا هم په طالب مشرانو کې داسې کسان شته چې د نړۍ له تعلیمه او ماډرن تخنیکه خبریدل اړین نه ګڼي.» (۱۶ص ۳۶۵)

ښاغلي مطمین د طالبانو ستونزې ته په نرمه لهجه اشاره کړې ده خو طالبانو د خپل واکمنۍ په دوران او هم اوس د جګړه ایزه حالت کې ولس ته د ښوونې او روزنې په تړاو دومره ستونزې جوړې کړې چې د افغان ولس بچیان یې د طالبانو تر واک لاندې سیمو کې تر سلو کلونو شاته غورځولي دي. په ځانګړې توګه د پښتنو سیمو زلمیان او پیغلګوټې تقریباً ټول د زده کړو څخه بې برخې دي. تر ټولو دردونکې دا ده چې طالبان د هزاره وړونو نجونو او هلکانو ته د زده کړو اجازه ورکوي خو پښتانه ځوانانو ته توپک ور زده کوي او زده کړو ته یې نه پریږدي.

غواړم درو مهمو موضوعګانو ته اشاره وکړم:

**۱ ـ د ډاکټر نجیب الله اعدامول:**

ډیر شنونکي او سیاسیون په دې نظر دي چې د ډاکټر نجیب الله اعدامول د پاکستان په نیغه مداخله او غوښتنه تر سره شوه. شک نشته چې پر طالبانو د پاکستان د څارګرې ادارې اغیزه ډیر زیاته ده خو عبدالحي مطمین دا کار د طالبانو لخوا پرته د نورو د لاسوهنې څخه بولي، په اړوند یې د عبدالحي مطمین نظر ولولئ:«د ۱۹۹۶ زکال د سپټمبر په (۲۶) شپه طالبان کابل ته ننوتل او (۲۷) په سهار یې نجیب الله تر وژلو وروسته د اریانا په چوک کې را ځوړند کړ... د نجیب الله د وژلو مشوره کابل ته د ننوتلو مخکې شوې وه چې ملا عبدالرزاق، ملا یارانه، ملا عبدالسلام راکټي او یو شمیر نور قوماندانان په دې مشوره کې وو. دوی فکر کاوه که نجیب پریږدي، ښایي نړیوال او سیمه ایز فشارونه یې ترې نه وژغوري چې دا به د ملت د یو ستر قاتل ژغورل وي. طالبانو د نجیب په اړه دا دریځ لاره چې هغه د پردي یرغل په چوپړ کې د خاد د ریس په توګه په لسګونه زره مسلمان افغانان په خپله خوښه او پریکړه وژلې چې له امله یې هغه د مسلمان ملت یو بربنډ قاتل دی» (۱۶ ص، ص ۱۳۹ ـ ۱۴۰)

جالبه ده چې په همدغه کتاب کې عبدالحي مطمین د تورن اسمعیل په تړاو لیکي: کله چې تورن اسماعیل مو بندي کړ سره د دې چې د طالبانو سره یې مخالفت کړی و او ډیر قتلونه یې هم کړی وو خو طالبانو هیڅوخت د هغه وژلو هوډ نه درلود که یې ۱۰۰۰ تنه هم وژلي وي خو ملي خاین نه و چې وژل شوی وای.

دا دی عادلانه قضاوت چې طالبان يې کوي که چا زر تنه هم وژلي وي بيا يې هم مرګ ناجايز ګڼي دا ځرګنده ده چې د هر څه امتياز د طالبانو د ورته ايډيالوژي او جهادي ملګرتيا وه. په داسې حال کې چې ملا عمر هر وخت د اسلامي قوانينو عادلانه تطبيق غوښتي خو د تورن اسماعيل په اړوند کې اسلامي قوانينو ته شاه کړه.

بايد په ياد ولرو چې د طالبانو په تحريک کې د پاکستان څارګرې ادارې په بيلو ډولونو نفوذ درلودي. ډير طالبان د پاکستاني مدرسو فارغان وو، چې د آی اس ای د اغيزې د هغو طالبانو په مينځ کې ردول زموږ ساده ګي وي خو بايد ووايو چې د فتوا په مرکزي اداره کې دري مقتدر پاکستاني عالمان شامل وو چې وروسته به ژور بحث ور باندې وکړم.

**۲ ـ د ملا عمر وفات:**

د عبدالحي مطمين د کتاب د ادعا له مخې ملا محمد عمر د توبرکلوز په ناروغۍ اخته و، د سيمې د ډاکټرانو تر معالجې لاندې و خو وروسته يې ناروغي دومره زياته شوه چې سيمه ايز ډاکټر ورته توصيه وکړه چې بهر ته د معالجې لپاره ولاړ شي خو ملا محمد عمر و نه منل. هغه و چې تر څه مودې ناروغۍ وروسته وفات شو. د دې خبرى مانا دا ده چې ټولې هغه اوازې چې پاکستان او يا ملا منصور يې په وژلو کې لاس درلودي، بې بنسټه ګڼل کيږي. خو جالبه دا ده چې احمد رشيد دا ادعا ردوي او وايي چې د سپټمبر تر يولسمې وروسته ملا محمد عمر ډير وخت په پاکستان کې اوسيدي. په دې اړوند به په بل څپرکی کې بحث وکړم.

**۳ ـ د بودا د مجسمې نړول:**

د طالبانو د واکمنۍ په وخت کې تر ټولو جنجالي موضوع وه چې په کور دننه او بهر کې د بودا نړولو د مخنيوي لپاره ډير هڅې وشوي حتی د اسلامي نړۍ ډير غټو اسلامي عالمانو او د اسلامي کنفرانس استازو د طالبانو څخه غوښتنه وکړه چې د بودا د مجسمې د نړيدلو څخه ډه ډه وکړي. د اسلامي نړۍ لوی عالمانو نه يوازې غوښتنه د نړيوالو د خوابدي په خاطر ول بلکې د اسماني کتاب او احاديثو پر بنسټ يې دا کړنه جايزه و نه ګڼله خو طالبانو د هيچا ونه منله او د زرو کلنو تاريخي اثار يانې د بودا مجسمې په باروتو والوزولي. د موضوع د روښانه کولو لپاره پر ځينو اسنادو مکث کوم.

عبدالحي مطمين د بتانو د موضوع په تړاو ليکي:«د بوتانو موضوع په ۱۹۹۷ زکال کې ځينو خلکو په لوی لاس وخوځوله. د غوربند او شيبر تنګي سيمو کې د طالبانو پوځي قوماندان ملا عبدالواحد په خپل سر د همدي کال د اپريل په اولسمه ميډيا ته

وويل که باميان ونيسي بتان به ونړوي. له دې سره د کابل راډيو دغه ترانه خپرول پيل کړل:

دښمن د پاکې خاورې د افغان به ماتوم

ملت د ابراهيم يمه بوتان (بتان) به ماتوم

همدا خبره د ځينو ملايانو او مشرانو خولې او ذهن ته ولويده. کله چې د ځينو فرهنګي کسانو له خوا د باميانو تر نيولو وروسته دا موضوع وښوريده، د ۲۰۰۱ زکال په لومړيو کې موضوع د سترې محکمې دارالافتاء ته ولاړه. له هغه ځايه کندهار ته خبره ملا محمد عمر ته وړاندې شوه.

ملا محمد عمر د علماوو نظر واخيست. علماوو د ماتولو حکم ورکړ چې له امله يې ملا محمد عمر د ماتولو فرمان صادر کړ. له دې سره د هر لورې چيغې او سورې پيل شوې. پر افغانستان د امريکا بنديزونه لګيدلي وو او هسې هم نړيوال فشارونه زيات وو. دې موضوع ته نړيوالی ميډيا او سياسي کړيو د يوې حربې حيثيت ورکړ.

پاکستان خپل داخله وزير معين کندهار ته را واستاوه چې طالبانو ته خپل انديښنه په ډاګه کړي.» (۱۶ص،ص ۲۵۰ ـ ۲۵۱)

د پاکستان د کورنيو چارو د وزارت د مرستيال خبري ډيرې نه اوړدوم که څه هم عبدالحي مطمين په تفصيل ليکلي دي ځکه زما او د ډيرو سياسيونو په آند پاکستان د بودا د مجسمو په نړولو کې لوي لاس درلودي. لنډيز يې دا و چې ملا عمر د رد ځواب ورکړ ځکه استدلال يې دا و چې زموږ د حکومت بنسټ پر اسلامي شريعت جوړ دي دا چې اسلامي شريعت يې د نړولو اجازه ورکوي نو بايد ونړول شي. عبدالحي مطمين د لوړ پوړو علماو په تړاو هم بيان کړي دي خو ښه دي چې د الجزايري ژورناليست کتاب ته مراجعه وکړم ځکه هغه خپله هم د هيت غړي و. نوموړي کيسه داسې راپيلوي:« له دې هم خبر وم، چې د يونسکو عمومي منشي کويشرا ماتسورا، هر در وټکاوه څو طالبان له خپل دې هوډ څخه راوګرځوي، چې په باميانو کې د بتانو مجسمې ړنګې نه کړي. د ځينو اسلامي هيوادونو مشرانو ته يې ليکونه واستول، همدارنګه يې له شيخ يوسف القرضاوي هم د مرستې غوښتنه وکړه. اسلام اباد ته خو يې د موضوع د حساسيت پر بنسټ يو فرانسوي ډيپلومات واستاوه.

د مصر د بهرنيو چارو وزير عمرو موسی راته وويل چې د مصر له مفتي ډاکټر نصر فريد واصل څخه يې هم غوښتنه کړې، چې په دې هڅو کې ورګډ شي او د مجسمو د ړنګولو مخه ونيسي. زه ځکه له دې پرمختګونو ليرې نه وم، چې ما په

خپله په ځینو سلا مشورو کې ګډون کاوه، خو دا هیله مې هیڅ نه وه، چې د شنبې په ورځ له ماپښین مخکې به د روغتیا د نړیوال سازمان سیمه ایزه مشر د مرستیال دوکتور هثیم الخیاط له خوا داسې ټلیفوني اړیکه تر لاسه کوم چې را نه غوښتنه کوي چې دري ساعته وروسته باید د قاهرې په هوایي ډګر کې ووسم. له قاهرې دوحې او له هغه ځایه په دویمه ورځ په یوه ځانګړې الوتکه کې د کندهار سفر لرو. هغه کسان چې له مصر څخه په بیړه راغوښتل شوي وو، مفتي او شیخ محمد الراوي، د اسلامي څیړنو د ټولنې غړي او د ازهر پیژندل شوي عالم. موږ دواړه په دوحه کې یوه شوو، چې د قطر د بهرنیو چارو وزیر سید احمد عبدالله ال محمود هم زموږ د سفر ملګری دی.شیخ یوسف القرضاوي او درې نور قطري فقهاء هم له همدې ځایه زموږ د سفر ملګري شول. همدارنګه د اسلامي کنفرانس د سیاسي چارو مسوول ابراهیم بکر او د قطر د بهرنیو چارو وزارت ځیني نور ډیپلوماټان هم د هیت غړي وو» (۱۸ ص، ص ۱۷۳ ـ ۱۷۴)

پورته لیکوال زیاتوي: « یوه اونۍ دمخه شیخ القرضاوي د طالبانو مشر ملا محمد عمر ته یو لیک استولی و، چې دوکتور هثیم الخیاط هم لاسلیک کړی و. الخیاط مخکې هم د طالب چاراواکیو سره په اړیکه کې و. (ل:د لیک متن ډیر اوږدي نو ور څخه ډه ډه کوم) ملا محمد عمر د لیک د لوستلو څخه وروسته یو ځل بیا امر وکړي چې موضوع دې د علماوو له خوا بیا وڅیړل شي خو پایله یې نه درلوده... (ل: زه یې لنډیز بیانوم) هیت کندهار ته ورسیدي خو غوره شوي دیني عالمان کابل ته تللي وو او د هیت د رارسیدو سره سم یې د کندهار لورې ته حرکت کړي وو نو ځکه بهرني هیت په هوایي ډګر کې معطل او د ځیني نورو ملایانو سره یې خبري وکړي. لنډه دا چې دا بلې ورځې ته مولایان د کابل څخه را ورسیدل او غونډه پیل شول: له پیژندګلوۍ وروسته ملا نور محمد ثاقب خبري پیل کړي. د توقع پر خلاف ملا له مقدمې پرته د مجسمو د ړنګولو پر موضوع بحث پیل کړ، زیاته یې کړه: د امارت عالمانو ځکه د دې بتانو د ړنګولو پریکړه وکړه چې شرعي نصوث له موږ غوښتنه کوي، چې باید دا کار وکړو. موږ په دې برخه کې ډیر کار کړی، اجتهاد مو کړی او ټول اړخونه مو سنجولي دي. د شرعي دلایلو تر څنګ تاسې پوهیږئ چې دلته انقلاب تیر شوي، ځیني خلک په تیر کې کمونستان شوي دي، خپل دین یې پریښي دی او موږ نه غواړو چې افغانان بې دینه شي ځکه د دې پوښتنه به د قیامت په ورځ الله (ج) له موږ کوي. موږ په دې نه پوهیږو چې نړۍ ولې د مجسمو د ړنګوولو د پریکړې په اړه دومره اندیښمنه ده! موږ د خپل دین اطاعت کړی او دا کار مو کړی، موږ خو پر چا تیری نه دی کړی، د خپلې عقیدې په چوکاټ کې مو دا کار کړی، په خپل هیواد کې دا کار کوو، موږ پوهیږو چې هغوی زموږ پر ضد دي، هغوی زموږ پر وړاندې له هیڅ ډول توطیې ډه ډه نه کوي، ځکه موږ په خپل

هیواد کې د خپل دین د اصولو پر تطبیق تاکید کوو. نو د دوی سره زموږ د دښمنۍ اساسي لامل دین دی. چې ملا ثاقب همدا موضوع را منځته کړه د دوی ځینو نورو کسانو هم د موضوع په اړوند ورته خبرې وکړې، خو ملا ثاقب هغه څوک و، چې په دې برخه کې هڅه کوله، چې ټولې خبرې په خپله وکړي. ملا ثاقب د سترې محکمې ریس یانې قاضی القضات و.

د. یوسف القرضاوي: موږ دلته د دې لپاره راغلي نه یاستو، چې له تاسې سره د بودا د مجسمو په اړه خبرې وکړو، ځکه پوهیږو چې تاسې خپله پریکړه کړې ده، خو موږ راغلي یاستو چې له تاسې سره د افغان محاصره ولس په اړه خبرې وکړو، مشورې وکړو او یو بل ته قناعت ورکړو چې هغه څه باید وشي چې په ټوله کې یې ټول مسلمان انسان ته ګټه ورسیږي، خو له ما سره د مجسمو د ړنګولو په اړه ستاسې د پریکړې په اړه چې تاسې یادونه وکړه، ځینې ملاحظات شته:

لومړی فتوا یوازې په شرعي حکم پورې محدوده نه ده، بلکې اړتیا لري څو ظروف، احوال او لومړیتوبونه په پام کې ونیول شي، چې مسلمانانو ته یې په عملي کیدو کې ګټه ورسیږي نه تاوان.

که فکر وکړو چې همدا اوس د طالبانو حکومت له غرب سره په ډیرو برخو کې مخالفت لري او د بودا د مجسمو په ړنګولو سره په ختیځ کې په ځانګړې توګه هغه هیوادو کې چې بودایزم یې د عقیدې او کلتور اساسي بنسټ دی هم ځانته نور دښمنان پیدا کوي. زه ویره لرم چې ستاسې دا کار به افغان مسلمانانو ته لا ستونزې پیدا کړي هغه ولس چې همدا اوس له فقر او غربت سره لاس او ګریوان دی. افغانستان هغه هیواد دی چې مرستو ته د اړتیا په برخه کې د ټولو په سر کې راځي. همدا رنګه تاسې د هغو لږکیو په میلیونونو مسلمانانو په اړه فکر کړی چې په بودایي او هندویي ټولنو کې اوسیږي (جاپان، تایلیند، سریلانکا، برما تر هند پورې)...» (۱۸ ص،ص ۲۰۱ـ۲۰۳)

دا غونډه ډیر اوږده وه د شریعت پر بنسټ طالبانو ته ډیر دلایل وړاندې شول ما یې دلته یوه وړه برخه را نقل کړه خو د طالبانو چرګ یوه پښه درلودل چې باید د بودا مجسمې ړنګې شي. د علماو هیت دومره وخت هم پیدا نه کړي چې د ملا محمد عمر سره ووینې نو ځکه هیت پرته د کومې لاسته راوړنې بیرته ستون شوو. لنډه دا چې د بامیانو تاریخي بودا مجسمې چې تقریباً ۲۵۰۰ کاله تاریخي قدامت درلودې د ۲۰۰۱ زکال د مارچ په میاشت منفجر او ړنګ کړل. دا د فغانو تاریخي اثارو سره چې په ارامو شرایطو کې میلیونونه عواید درلودل لویه جفاء وشوه.

لکه مخکې مې چې وویل چې په غونډه کې پر ټلویزیون ، پر سندرو ویلو بندیز، د ډموکراسۍ سره حساسیت، د ښځو او یو شمیر نورو موضوعاتو په تړاو چې طالبانو بندیز ور باندې لګولي وو هم بحثونه وشول. بهرني دیني عالمانو ور ته د نرم سیاست توصیه کول خو بیا هم طالبانو خپلې کړنې د شریعت سره برابرې ګڼلې. په همدغه خاطر غواړم چې د الجزایري ژورنالیست فهمي هویدي د نظر لنډیز د طالبانو په تړاو وړاندې کړم باید هیره نه وي چې فهمي هویدي ټینګ مسلمان او په دیني مسایلو پوه ژورنالیست دي نو ځکه هغه یې کړي چې د طالبانو په تړاو نرمښت وښیي په دې خاطر چې بهرنیان غلطه ګټه ور څخه پورته نه کړي. بیا هم د یو دیني عالم او مسلمان ژورنالیست چې په ډیره مهمه غونډه کې ګډون درلودي، لوستل یې ارزښت لري:

«په پای کې د طالبانو حکومت څه کړي؟ کولای شو ووایو چې له دې تجربې هغه څه زده کړو چې باید په راتلونکې کې د بشپړ اسلامي نظام واکمنیدو ته لاره هواره شي. زما په آند هغه څه چې دوی تر سره کړي او موږ باید زده کړه ورڅخه وکړو:

دوی د ټولنې د سمون او اصلاح چارې له پورته پیل کړې په دې مانا کله چې دوی واک تر لاسه کړ، نو امر بالمعروف او نهی عن المنکر یې په داسې طریقه پیل کړ، چې هر څه به یې په خلکو په زوره تر سره کول، دوی به پر خلکو هر څه منل که به د خلکو خوښه وه یا نه، په قرانکریم کې راځي (لا اکراه في دین....) سمه ده چې طالبانو په لومړي سر کې په دې فکر نه کاوه چې دوی به د ټول افغانستان واک تر لاسه کوي؛ خو کله چې دوی کابل ونیوه او د افغانستان په (۹۵٪) خاوره یې واک تر لاسه کړ؛ نو بیا متیقین شول چې دوی کولای شي افغانستان اداره کړي.

اسلامي تګلاره چې موږ یې پیژنو داسې ده: لومړی له خلکو سره خبرې کیږي، د هغوی اړتیاوې درک کیږي، مقابل لوري ته په احترام قایلیږي، څو هغه متأثره شي او هغه څه چې ته یې ورته وایې، له زړه ومني. بیا دا هر څه د ولس له منځه شروع کیږي او په تدریجي دول پورته ځي. په تعلیم، تربیه او عامه پوهاوي کار کیږي. خلکو ته قناعت ورکول کیږي او له هغوی سره خبرې کیږي. که چیرته برعکس دا هر څه تر سره شي لکه طالبانو چې دا کار وکړ؛ نو پایله به همدا وي چې هر څه به د کتابونو په منځ کې پاتې شي. که څه هم د لنډ مهال لپاره وتوانیږي چې په خلکو په زور دا هر څه ومني خو په اوږد مهال کې دا هر څه ممکن نه بلکې تیروتنه ده.

لکه دمخه مو چې وویل د دوی پروګرام له پاسه پیل شو، خلکو ته د خبرې حق ور نه کړل شو، سره له دې چې افغان ولس یو متدین او دین ته ژمن ولس دی او ورته کړنې کولای شي دوی متقابل عمل ته وهڅوي. موږ داسې فکر کوو هر نظام چې

غواړي شريعت تطبيق کړي او دا نظام پوهيږي چې په ولس کې يې اکثريت د داعې پلوي هم دی؛ نو بيا هم بايد ولس ته د ټاکنو او يا هم ټولپوښتنې له لارې اختيار ورکړی، چې همدغه نظام دوی په خپله وټاکي. په دې سره نه يوازې د اکثريت دريځ روښانه کيږي بلکې د ټولنې حقيقي ځواک هم را څرګنديږي او بيا د اکثريت دا حق دی چې رای ته يې درناوی وشي او غوښتنې ومنل شي. همدارنګه د فکري او سياسي لږه کيو په رول او غوښتنو هم بايد سترګې پټې نه شي. خو دا هغه وخت ډير موثر وي چې ټاکنې او ټولپوښتنې رڼې او ازادې تر سره شي.

سره له دې چې د طالبانو د واک نږدې پنځه کاله تير شوي وو، خو تر اوسه لا هم شورا خپلواکه نه وه. تر اوسه ټولې چارې د امير المومنين په لاس کې وې، دا چې امير المومنين څنګه ټاکل شوی و، په دې خبرې نه کوو، خو د نوموړي خبره په هر څه کې وروستۍ وه. دا نو هغه څه وو، چې ټولنه يې د ستونزو سره مخامخ کړې وه. د فکري قشر رول له صفر سره برابر و. په اسلامي نظام کې د شورا رول ته که متوجه شو نو د نظام اساسي جوهر ګڼل کيږي. د نظام له مهمو ستنو څخه ده، که د الله کلام ته لږ ځير شو؛ نو يو ځل يې يادونه هم نه ده کړې چې د امت رهبري د شخص په محدوده کې پاتې وي. بلکې تل يې د ډلې او شورا يادونه کړې چې يوه ډله (اولو الامر) دي نه فرد. په افغاني ټولنه کې دا هر څه د ملا عمر په واک کې پاتې دي. سمه ده چې نور جوړښتونه هم شته، يوازې سمبوليک دي، کومه ځانګړې دنده او موضوع نه لري.

طالب مشرانو هڅه کړې چې تيرو اسلامي نظامونو ته ورته يو ساده نظام را مينځته کړي او بيا يې په تطبيق کې له سختۍ کار واخلي، خو دې ته يې هيڅ پام نه دی کړی چې د ټولنو د اداره کولو طريقې اوس د تير په څير نه دي، په هر څه کې پرمختګ رامنځته شوی، نوې تجربې په ډيره ښه طريقه پکې ځای شوي دي. دوی دا نه ده درک کړې چې اسلام هيڅکله هم يو واحد ادري نظام نه دی مشخص کړی، چې ځانګړې بڼه ولري، بلکې په اسلام کې ارزښتونه ارزښت لري نه بڼې. امارت، خلافت، او اهل و عقد او يا هم محتسب دا په اسلام کې کوم لازمي نظامونه نه دي، بلکې دا هغه نمونې دي چې په خپل وخت کې مسلمانانو د ځان لپاره غوره ګڼلي وو. هره مسلمانه ټولنه کولای شي له دې پرته ځان لپاره داسې داسې اداري نظام چې اوسمهال د دوی غوښتنو ته ځواب ووايي، رامنځته کړي که څه هم له پورتنيو نظامونو په بڼه کې بدل وي. دا خو نو د دوی اسلام ته کوم زيان نه رسوي، بلکې تر ټولو مهم په اسلام کې دنده او ارزښتونه دي، چې بايد دفاع ترې وشي او څنګه وکولای شو د همدې نظامونو پر بنسټ اسلامي ارزښتونه پلي کړو.

کله چې هر څه په امیر المومنین پورې محدود پاتې کیږي، قوانین فرامین وي، دا نو د اسلامي نظام هغه نهیلي کوونکې نمونه ده چې د ګټې پر ځای اسلام ته زیان رسوي او ټولنه هم له خپلو حقه حقوقو محرومه پاتې کیږي.

طالبانو واک په خپل انحصار کې ساتلی او هڅه کوي د لومړنیو اسلامي دولتونو نمونه پلې کړي. ټول هغه شروط یې مات کړي چې اوسمهال د واک لپاره ورته اړتیا ده، لکه دمخه مو چې اشاره وکړه د شورا پر ارزښت یې هم خاورې اړولې دي، په ګڼ کلتوره او ګڼ فکره سیاستونو یې په ټوله کې چلیپا راکښلې ده. دوی پریکړه کړې چې خلیفه به د ژوند تر پایه امیر وي، په واک کې تر نامعلوم وخت او له شریک پرته پاتې کیږي، هیڅ مخالف نظر دلته د زغملو نه دی، د بیان ازادي محدوده ده، غونډې، خپرونې او د بیان ازادي... ټول هغه څه چې په یو نظام کې ورته اړتیا ده، دلته پرې بندیز لګیدلی دی. د طالبانو د نظام او کمونیستي دیکتاتور نظام تر منځ خو ماته هیڅ توپیر نه ښکاری هغوی هم هر څه په خپل انحصار کې ساتلي وو او پر ټولو یې د یوې واحدې عقیدې د پلي کولو هڅه کوله او طالبان هم ورته نمونه تجربه کوي، یوازې د عقیدو په توپیر.

یوازې دا نه، دوی له علم پرته فتواوې صادروي، بلکې پرته له کومې مخینې او تجربې سیاست کوي، پایله دا شوه چې ټولنه یې معلوله کړې، هیڅ پرمختګ نه شي کولای، پنځه کاله یې حکومت وکړ، له خلکو سره ډیرې پوښتنې دي، ولې لا هم نه دي توانیدلي چې په سمه توګه ټولنه اداره کړي، هغه هم یو داسې ټولنه چې ځانګړی کلتور لري، خپل تمدن لري. دا خو پریږده چې یوه سوچه اسلامي ټولنه ده، دوی یوازې ځان پر ټولنه تحمیل کړی، خلکو ته یې اجازه نه ده ورکړې، چې په سوله ایزه توګه هغه څه تر سره کړي چې په ټولنه کې د ودې او انکشاف لامل شي. دوی د تغیر دروازې بندې ساتلي؛ نو خلکو ته هم یوه لاره پاتې ده که تغیر غواړي نو د دوی پر وړاندې به پاڅون کوي، ځکه دوی ورته د حق غوښتنې لپاره سوله ییزې لارې تړلې دي.

نیمګړي شرعي علوم، په عامه او ځانګړې توګه د سیاسي ژوند کم تجربه ګی، طالبان په دوه اساسي تیروتنو کې ښکیل کړي؛ لومړی د لومړیتوبونو لیکلړ ور څخه په ډیره اندازه ګډوډ شوی، دوی هڅه کوي هغه څه چې دوی ته ښه ښکاري، په نورو په بیړه تحمیل کړي، د افغانستان هیواد کې چې جګړو ځپلی وي هر مشر باید په خپلو لومړیتوبونو کې د هیواد بیا رغونې ته له هر څه لومړیتوب ورکړي. خلکو ته د ژوند سهولتونه برابر شي نه دا چې په ړیره، د ښځو د جامو په بڼه او ځینو نورو فعالیتونو بندیز ولګول شي، خلک پرې ورټل شي، ووهل شي او حتی زندان ته ولیږل شي.

خو برعکس طالبانو په دې شرایطو کې ښځینه کارکونکې چې د ټولنې نیمایي برخه ده، په کورونو کینولي او حتی په ځینو حالاتو کې خو یې هغوی ته په کور معاشونه هم ورکول؛ خو دې ته یې پام نه و چې هیواد یې په کوم حالت کې دی. په دې وخت هر مرستندوی لاس ته اړتیا لري چې هیواد لپاره کار وکړي نه دا چې بندیز پرې ولګیږي. د ښځینه و او نرینه و کار مفسده په داسې نسخه علاج شوه چې ټولنې ته ډیر زیان ورسیده. غربت زیات شو او لاسته راوړنې او ابتکارات هم له پامه غورځول شوي. دوی غوښتل چې هر څه ډیر ژر اسلامي بڼه غوره کړي؛ خو دې ته یې پام نه و چې دا کار وخت، روزنې او کار ته اړتیا لري.

د ښځو د تعلیم پر وړاندې د دوی دریځ له اسلامي نړۍ څخه ډیر جلا و، موږ د دوی رای ته په دې برخه کې احترام لرو، چې ښځینه او نارینه دې ګډ کار نه کوي؛ خو سره له دې موږ په دې پوهیږو چې اسلامي تعلیماتو موږ ته د ژوند ټول اداب او لارې چارې را ښودلي دي. د ښځو د تعلیم مخنیوی په دې پلمه هیڅکله توجیه کیدای نه شي، چې امکانات نشته چې ځانګړې ځایونه او مدرسې ولري. دوی کله کله د حدیث په دې برخه هم استدلال کوي چې په حدیث کې (طلب العلم فریته علی کل مسلم) کې د مسلمته کلمه نشته خو چا لږ هم عربي لوستي وي نو پوهیږي چې د مسلم کلمه د جنس په مانا ده یانې هم ښځینه او هم نارینه پکې راځي. که څه هم د اړتیا پر بنسټ په وروستیو کې دوی ځینو ښځینوو ته اجازه ورکړه چې د قابله ګۍ او طب په برخه کې زده کړې وکړي، هیله ده چې په نورو برخو کې هم ورته کار وکړي. طالبانو د هنر پر وړاندې هم سخت دریځ درلود، ځکه خو یې ټولې انځوریزې رسنۍ بندې کړې وې، ټول هغه توکي یې حرام ګرځولي وو چې سینګار، لوبو او ځینو نورو تفریحي برخو کې کاریدل. خو دوی دا نه وو درک کړي چې هنرونه په خپل ذات کې بد نه دي، بلکې دا انسان دی چې څرنګه یې کاروي. عاقلان وایي چې هنرونه باید وسیله شي نه هدف او هڅه وشي، چې د خپلو ګټو پر محور را وګرځول شي. همدا رنګه ور سره دښمني کول هم سم کار نه دي.

په پای کې ویلای شو، چې طالبان ونوانیدل چې د باطل پر وړاندې په نسبي توګه بریا تر لاسه کړي؛ خو د حق په تطبیق کې پاتې راغلل. دوی ونوانیدل چې د مجاهدینو تر منځ لیونۍ جګړه پای ته ورسوي، ټولنه له ټولو هغو نادودو او کړاوونو خلاصه کړي، چې مجاهدینو ور سره مخامخ کړې وه، خو دوی هیڅکله داسې څه و نه کړل چې اسلام او مسلمان پرې وویاړي. الله (ج) د هر څه مالک دی. لیکوال د خپل کتاب په یولسمه پاڼه یانې مقدمه کې وایي: هغه توره چې د اسلام د ساتنې په موخه راویستی شوې وه، اوس ورباندې اسلام ژوبلیږي او له بده مرغه

توندلاري يې داسې فکر کوي چې په سمه لار روان دي» (۱۸ ص، ص ۲۲۸ ـ ۲۳۲ او ۱۱ پاڼه)

ليکوال فهمي هويدي د طالبانو حکومت د يو پوه، لايق او مسلمان ژورناليست په توګه په ډېر ښه توګه تحليل او ارزولي دي خو ښکاري چې د طالبانو پر چلند او افغانانو پر حال يې زړه ډېر بد شوي دي نو ځکه په مقدمه کې د طالبانو او نورو توند لارو تورې د اسلام د ژوبلولو لپاره ګڼلي دي. ليکوال په څو سفرونو کې ځينو مهمو مسايلو ته پام اړولي دي خو ډېر داسې څه د طالبانو په حکومت کې وشول چې کيدلای شي ليکوال ور څخه خبر هم نه وي. د افغانسان ولس د طالبانو د څو ښوو کړونو په وجه ډېره لوړه بيه پرې کړه. ښځې د کار ځای ته نه پريښودل په داسې يو هيواد کې چې د کونډيانو شمير تر حساب وتلي. د کونډيانو اولادونه ډوډۍ غواړي نو کله يې چې مور پر کور کښينول شي مانا دا چې بايد اولادونه يې د لوږي هلاک شي او يا په پټه نامشروع کار ته لاس واچوي تر څو د اولاد نفقه برابره کړي. ښځه پرته د شرعي محرم څخه دباندې تللای نه شي ورته ستونزه وه. پر هيواد ناورين و، طالبانو د هر ډول خوښيو سره مخالفت کولو حتی د کابل د سينډ پر غاړه يې بيوزله ښځې نه پريښودلې چې جامې ومينځې. د همدغو جامو په وينځلو دغو ښځو کلونه د خپل اولاد نفقه برابره کړي وه. ځوانانو هيڅ ډول لوبو ته اجازه نه درلوده، په خلکو د يوه وخت لمونځ دري څلور ځله اداً کيدي د طالب هر نوي ډله به چې را پيدا شوه لمونځ يې د شلاخو په زورورباندې کولو که څه هم بيچاره به مخکې لمونځ اداً کړي و.

د سړک پر غاړه ښځينه په شلاخو وهل کيدلي چې د افغاني دود او کلتور سره په ټکر کې وو، د ږيرې پريښودل خو د خدای رضاء وه خو پر مخ باندې د غيري منظم ځنګل جوړول د طالبانو حکم و، د ږيرې د اصلاح کولو کنترول په خاصه ټوکر باندې صورت نيوي. يو ډاکټر کيسه راته وکړه چې پر باسيکل روغتون ته تللم، ږيره مې تار تار هر لورې ته خپره وه نو يوه ورځ مې لږ منظمه کړه کله چې د روغتون مخې ته ورسيدلم د طالب د شلاخو تر ګذارونو لاندې راغلم. بل دوست مې ليک راته ليکلي و چې سهار د حاضري د لاسليک په وخت کې يو او بل نه سره پيژنو ځکه مخ مو د ږيرې په ځنګل کې پټ وي.

زما په آند د ملا محمد عمر څخه نيولي تر ډيرو طالبانو پورې ديني زده کړې بشپړې نه وې، ډيره کي يې ځوانان وو، کليوالي خلک وو، حتی ملا عمر بهر ته سفر نه وو کړي د دولتداري په سيستم خو بالکل خبر نه وو. نو همدغه وجه وه چې ټولې دولتي لوړې چوکۍ يې په ځوانو ملايانو ډکې کړې وې. خلکو ته د وزګار پيدا کول، طالبانو خپله دنده نه ګڼل ځکه شعار يې دا و چې رزق الله ورکوي.

طالبانو خپلو مخالفینو ته غیري انساني جزاوې ورکولي. کیدای شوای عادی سړی به یې ونیوي خو دومره به یې سخت وواهه چې که ژوندي پاته واي نو ضروراً به معیوب شو. یوه ملګری مې کیسه کول چې د ګاونډې یو زوی چې هزاره ګان وو، طالبانو بندي کړي و نو ماته یې عذر وکړي چې مرسته ور سره وکړم. زه اړوند زندان ته ورغلم او د لوړپوړې طالب چارواکي څخه مې د بندي د لیدلو اجازه تر لاسه کړل کله مې چې بندي ولیدي د مخ او شاه توپیر کول یې ماته ستونزمن و. همدغه ورځ د زندان د لوړ پوړي چارواکي سره ناست وم چې ځنې طالبان په ګیله ورته راغلل چې تحقیق ته موږ نه غواړي چې د مجرمینو په وهلو ثواب تر لاسه کړو. چارواکي ورته وویل تاسو د روژې تر میاشتي صبر وکړي په روژه کې به مو را غواړم چې د مجریمونو په وهلو، ټکولو او شکنجه مو د روژې ثواب څو برابره شي.

په داسې یوه جګړه ځپلې ټولنه کې چې په میلیونونو انسانان یې معیوب دي د لاس او یا پښې پریکولو جزاوې ډیرې ظالمانه دي. که د طالبانو حکومت تر اوس پورې دوام درلوداي کیدای شي چې د دوي د جزاو په پایله کې هم په سلګونو زره سالم انسانان معیوب شوي واي او د نورو معیوبینو په څیر یې ګدایې کولای.

د خلکو تنکي زلمیان یې جګړو ته بیول چې خپل واک پراخ کړي. ولس ته یې د جنتونو او شهادتونو وعدې ورکولي. د مزارشریف لومړي ځل نیول چې جنرال مالک طالبانو ته دوکه ور کړه، عبدالحي مطمین د وژونو شمیره تر لاندې سرلیک لاندې داسې بیانوي:

**لیلې دښته د زرګونو ځوانانو هدیره**

« له هراته تللي طالبان چې پوره نام نویسي یې نه وه شوې یوازې څو زره یې معلوم وو، خو څو زره داسې هم وو چې د نوموونو لیست یې نه و، خو ټول اتو - لسو زرو ته رسیده. دا اکثراً د مدرسو ځوانان طالبان او حافظان وو. په دې شوق راغلي ول، چې نور به هیواد د دایمي جګړې خلاصون مومي او دا به وروستۍ جګړه وي. وسله ور سره نه وه څوک په ښار کې وویشتل شول او څوک یې ژوندي ونیول بیا به د زندان څخه هره ورځ ویستل کیدل، په کانتینرونو کې یې اچول د لیلې په دښتنه کې په ګولیو غلبیل کول او د ګازو په څاګانو کې یې غورځول. څوک یې تر خاورو لاندې کول او یو لوی شمیر یې دغسې لمرونو ته پراته وو.

د جنرال دوستم د بیا واکمنیدو سره د څو زرو مړي را څرګند کړای شوو، ځینې بهرنیو ادارو هم ډله ایزه قبرونه معاینه کړل، زرګونه طالبان چې لاسونه یې شاته تړلي وو، پکې مړه پراته وو. د بیلا بیلو مدارکو او شواهدو له مخې په دې پیښه کې ټول ټال دیارلس زره او دوسوه طالبان شهیدان او یا ترې تم شول. په دوی کې

یوازې زر تنه وسلوال، دا نور ټول خالي لاس د مالک د مرستې لپاره د مالک په دعوت راغلي وو او د مالک میلمانه وو.» (۱۶ ص، ص ۱۶۰ ـ ۱۶۱)

اوس پوښتنه دا ده چې طالبانو پر وړو جرمونو د خلکو لاسونه غوڅ کړي ولې په دغه پېښه کې چې دومره تلفات یې درلودل د خپلو مشرانو قوماندانو سرونه غوڅ نه کړل. د یوې خوا پلان غلط او د بلې خوا د زرګونو بې وسلو طالبانو راغوښتل خو د غلطې رهبرۍ ګناه وه باید څو جګپوړي طالبان یې په دار ځړولي واي چې لږ تر لږه د زرګونو ځوانانو د والیدینو زړه ارام او بیا بل چا دومره لویه غلطي کړې نه واي.

کله چې طالبانو درانه تلفات ور کړل د دوهم ځل لپاره یې د مزار ښار د ۱۹۹۸ زکال د اګست په اتمه نېټه سهار وختي ونیوی. د نورې نړۍ د جګړو څخه هم تجربه شته چې ځبل شوي سرتیري په ډېره لوړه کچه د کسات اخیستلو تر اغیزې لاندې وي. د افغانستان جګړو خو څو ځله ثابته کړې چې د کسات اخیستلو سربېره په تنظیمي کچه هم د کسات اخیستلو روحیه لوړه وي. د بشري حقوقو د رپوټونو او عیني شاهدانو د خولې طالبانو هم په پراخه کچه وژنې وکړې تر څو خوټیدلي زړونه یې ساړه شي. اوس ستونزمنه ده چې پړه پر یوه لوري ور وتپوو خو دومره ویلای شم چې د طالبانو د غلط پلان په پایله کې د دواړو خواوو څخه په زرګونو بېګناه انسانان په یو او بل نوم ووژل شول.

د پورته موضوع په تړاو د (افغانستان و ظهور طالبان) کتاب څخه چې حسام الدین امامی لیکلي ځینې مطالب لیکم البته لیکوال را ته ایراني ښکاري، کیدلای شي لیکنې د غرضه ډکې وي خو بیا هم په کار ده چې د مخالفینو نظر ولوستل شي:« لاندې معلومات په ۱۳۷۷/۸/۱۶ ل.ل کال کې د نړۍ په مطبوعاتو کې خپور شو: ملګرو ملتونو د طالبانو د تحریک د ظلمونو په تړاو چې مزار یې ونیوی، لیکي چې د (۵ ـ ۸) زره کسانو پورې وژل شوي. د فرانسي د خبري اژانس په حواله د دغه ګذارش متن د بشر د حقوقو ځانګړي ژورنالست شونګ هیون باک په واسطه جوړ شوي وو. په ګذارش کې راغلي چې په لویه کچه د هزارګانو په وړاندې ډېر ظلم شوی دي...

لیکوال لیکي چې په بامیانو کې د انسانانو وژل د طالبانو په واسطه تر مزار څو برابره په وحشیانه توګه تر سره شول. نوموړي ادعا کوي چې ملا منان نیازي د طالبانو یو جګپوړي چارواکي د جمعې تر لمانځه وروسته وویل:موږ د مخالفانو ۷۰۰ تنه د کورونو څخه راویستل، تر وژلو وروسته مو په ریګو کې ښخ کړل. هر څوک چې زموږ سره مخالفت کوي نو ښه ده چې هغه ګورستانونه وګوري او بیا د خپل سرنوشت لیدلوري هم اټکل کړي.» (۱۹ص،ص۲۰۳ـ۲۰۴)

غوارم یو شمیر هغه قوانین چې طالبانو د خپل واکدارۍ په وخت کې پیاده کړل، ځیني بیلګې یې وړاندې کړم تر څو چې د الجزایري ژورنالیست اندیښنې مستندې شي:

فرمانونه تر هغه نه وروسته چې طالبان څه آرام شول اود نفوذ ساحه یې پراخه شوه، یانې د ۱۹۹۷ز کال د اکتوبر د میاشتې په پیل کې په لاندې متن اعلان کړ:

۱ ـ ټول نارینه باید ږیره پریږدي او د اصلاح کولوحق یې نه لري. تر هغه کچې چې امکان لرې باید ږیره پریښودل شي . سلمانیان حق نه لري چې د نارینو ږیرې اصلاح کړي د تخلف په صورت کې به جزا ورکړل شي .
۲ ـ نارینه حق نه لري بیله خولۍ او یا لنګوټې له کورڅخه بهرته ووزي او په همدې ډول حق نه لري چې د اروپایي جامو څخه کار واخلي ځکه اروپایي جامې غیراسلامي دي .

۳ ـ سپورت مینان د سپورت کولواو یا سیالیوپه وخت کې حق نه لرې داسې جامې واغوندي چې د بدن ځیني برخې یې ښکاره شي ، سپورت مینان نه شی کولای چې د سپورټي نیکر څخه کار واخلي .

۴ ـ ښځې د کاراو تحصیل حق نه لري .

۵ ـ ښځې رنګه ، روښانه جامې چی پاملرنه جلبوي ، د اغوستلوحق یې نه لري .

۶ ـ ښځې په بازارونو کې د اړتیا وړ موادو د رانیولوله پاره د تګ او راتګ حق نه لري ، مګردا چې ورور یا میړه ورسره مل وي . وروراو میړه هم باید د خپل محرمیت شواهد ولري .

۷ ـ د پلورنځیو خاوندان حق نه لرې چې پرهغو ښځو چې یوازې مراجعه کوي ، مواد وپلوري. د دغه حکم څخه په سرغړونه سزا ورکول کیږي .

۸ – ښځې دسپین پرتوګ د اغوستلو حق نه لري.

۹ ـ ښځې دهغو بوټوچې پوندې یې لوړې وي ، د پښو کولو حق نه لري ځکه چی د ښځو د بوټونو آواز نارینه تحریکوي.

۱۰ ـ ښځې روغتونو اوحتی د زیږون صحي مرکزونو ته محرم له ملتیا پرته، د ورتګ حق نه لري .

۱۱ ـ د کور د کلکینانو(کړکیو) ښیښوته باید تور رنګ ورکړل شي ترڅو چې ښځې هغه نارینه چې د کور نه بهرپه کوڅه کې تګ او راتګ کوي ونه لیدلای شي .

۱۲ ـ د انځور درلودل ، د انځورجوړول، د انځورځړول که د انسان وي او يا د حيوان وي يو غيراسلامي عمل دی.

۱۳ ـ موټرچلوونکي بايد د موټرد منځ د مخ هينداره ليري کړي ترڅوهغه ښځې چې د شاه په سيټونوکې کښيني ونه ليدلای شي . د پورته موادو نه برسيره يې ځوځانګړي مواد د ښځوله پاره په لاندنې متن علاوه کړي :

ـ د ښځو د حمامونو تړل په کابل اوهرات کې چې ټول ۲۲ حمامونه ول .

ـ د ښځو د کورنی شخصي ښوونځيو تړل . داسې ويل شوي و چې هيڅ ښوونځی اجازه نه لري چې تراتو(۸) کالونه پورته نجلۍ ته زده کړې ورکړې پرته د قران مجيد د ويلونه.

ـ د ښځو د کارونو بشپړمنع کول د بهرنيوخيريه موسسوسره که چادري هم ولري .

ـ ماشومان په هغوشيانو چی ژوندي موجوداتو ته ورته والی لری ، د ساتيري کولوحق نه لري.

ـ نارينه ډاکټران حق نه لري چې د ښځينه ناروغانو په معالجې اوجراحي عملياتو پيل وکړي.

ـ د ښځو د کالوګنډونکي حق نه لري چې د ښځواندازه واخلي او د جامو د نمايش پلورنځی پرانيزي

ـ هيڅ چلوونکی حق نه لری :

هغه ښځې چې داسې پوړنی يې اغوستي وي چې ټول بدن يې نه شي پټولای ، يا هغه ښځې چې جامې يې تحريک کوونکی وي او يا هغه ښځې چې يو نارينه محرم ورسره نه وي، په خپله وسيله کې سپره کړي . د سرغړونې په صورت کې چلوونکی بندي او د ښځې ميړه ته سزا ورکول کيږي.

ـ هغه ښځې چې د رود پر څنډه په کالو پريوللو لګياه وي ، په درناوي سره دې د موټرپه واسطه کورونو ته ورسول شي اوهلته دې ميړونو ته شديده سزا ورکړل شي . (۲۰ ص، ص ۵۰۲ ـ ۵۰۳)

بيا هم د نوموړی کتاب څخه د طالبانو يو بل فرمان لاندې لولو:

کله چې طالبانو کابل ونيو. له پورته بنديزونو نه برسيره د روغتيايي چارو په هکله يې هم ځانګړي مقررات رامنځته کړل چې دلته يادونه ورڅخه کوم :

« په شخصي او دولتي روغتونو او صحي مرکزونو کې د کارکولو شرایط د شرعي مقرراتو پر بنسټ تنظیمیږي. د روغتیا وزارت د امیرالمومنین ملامحمدعمر د فرمان له مخې د کارپه ځای کې دغه لاندې پرنسپونه د اجرأ له پاره اعلانوي. نوامبر ـ ۱۹۹۶زکال » :

۱ ـ ښځینه ناروغانې باید ښځینه ډاکټرانو ته د معاینې اومعالجې له پاره ورشي . که اړینه وي چې د نارینه ډاکټرڅخه دعلاج له پاره مرسته غواړي، باید ښځه د خپل شرعي محرم په ملګرتیا نارینه ډاکټرته ورشي .

۲ ـ د معایناتوپه جریان کې باید ناروغه ښځه اونارینه ډاکټرشرعي اسلامي حجاب ولري .

۳ ـ نارینه ډاکټران په هیڅ وجه باید د ښځینه ناروغانو د وجود نورې برخې ونه ویني او یا یې لمس نه کړي ، په استثنا د هغې برخې نه چې ناروغي لري .

۴ ـ د ښځینه ناروغانو د انتظارکوټه باید په اطمینان سره د نورو نه بیله او پوښلې وي .

۵ ـ هغه څوک چې ښځینه ناروغانې د نوبت له مخې د معایناتو له پاره را بولي ، باید ښځه وي .

۶ ـ د شپې له خوا نوکریوال نارینه ډاکټرحق نه لري چې ښځینه کوټو ته ورشي ، بیله دې چې ناروغ غوښتی وي .

۷ ـ د نارینه اوښځینه ډاکټرانو تر منځ خبرې کول جواز نه لري . که چیری اړینه وي چې نارینه او ښځینه ډاکټران پرکومه موضوع خبرې وکړي، باید ښځینه ډاکټره بشپړاسلامي حجاب واغوندي.

۸ ـ ښځینه ډاکټرانې باید ساده اوعادي جامې واغوندي. د دوی جامې باید په زړه پورې، یانې لوکسې نه وي اوهم باید آرایش ونه کړي اونه هم د آرایش اړوند مواد وکاروي.

۹ـ ښځینه ډاکټرانې اونرسانې بایدهغو کوټو ته ولاړې نه شي چې نارینه ناروغان ور پکښې بستردي .

۱۰ـ د روغتونو کارکوونکي باید په مسجدونوکې په ټاکلو وختونوکې پنځه ځلې لمونځونه وکړي .

۱۱ ـ مذهبي پولیس( د امربالمعروف اونهی عن المنکرکارکونکي) حق لري چې په هروخت کې څارنه اوکنترول وکړي ، هیڅوک یې مخنیوی کولای نه شي .

هرهغه څوک چې سرغړونه وکړي د اسلامي شرعي قوانینو په بنسټ مجازات کیږي .

پورته متن د دري ژبې څخه لومړی وانګلیسي ژبې ته ژباړل شوی دی او وروسته وډنمارکې ژبې ته ژباړل شوی دي چې ماله ډنمارکي متن څخه اخیستی دی.

**په همدی ډول د امربالمعروف او نهی عنی المنکر مشرتابه په کابل کې د پورته فرمانونو د ښه تطبیق له پاره لاندې بندیزونه تصویب کړل. ډیسمبر ۱۹۹۶زکال ـ کابل:**

۱ ـ د دې له پاره چې د دښمن لاس لنډ شي او بې حجابې له منځه ولاړه شي:

هیڅ ډریورحق نه لري، داسې ښځې چې ایراني چادري ولري ، په خپله وسیله کې سپرې کړي که سرغړونه وشي نوموړی چلوونکی په جیل کې اچول کیږي. که داسې ښځه په بازارونو او یا کوڅو کې ولیدل شي ، کور به یې په نښه شي او میړه ته به یې سزا ورکړل شي . که چیرې ښځې تحریکه آمیزه او زړه خوښوونکې جامه ولري او د کورنۍ محرم نارینه ورسره ملګری نه وي ، چلوونکی حق نه لری چې نوموړې ښځه په خپله وسیله کې کوم ځای ته بوزي .

۲ ـ د دی له پاره چې د موزیک ږغول منع شي . باید د عامه رسنیو له لارې د خلکو په اطلاع ورسول شي چې : په دوکانونو، هوټلونو، ترانسپورتي وسایلو، او ریکشاو کې د کستونواو موزیک ږغول منع دي . دا موضوع باید د پنځو ورځوپه موده کې وڅارل شي . که چیرې د موزیک کسیتونه په کوم دوکان کې وموندل شي ، باید د دوکان خاوند په جیل کې کښینول شي او دوکان یې وتړل شي . که چیرې پنځه کسان یې ضمانت وکړي، دوکان یې بیرته خلاصیدای شي او مجرم وروسته خوشي کیږي. که چیرې په کومه موټري وسیله کې د موزیک کسیتونه وموندل شي ، موټرچلوونکی او موټر دواړه باید زنداني شي . که چیرې پنځه نفره یې ضمانت وکړي، موټري وسیله باید ایله کړای شي اومجرم دې وروسته خوشې شي.

۳ ـ د دی له پاره چی د ږیرې د خریلو اوغیچی (قیچي، یا بیتي) کولومخه ونیول شي باید :

د یوې او یوې نیمې میاشتې ترتیریدونه وروسته که چیرې بیاهم ولیدل شي چې کوم چا ږیره خریلی او یا هم غیچی(قیچي یا بیتي) پر وهلې ده، نوموړی نفردې ترهغه مهاله زنداني شي ، ترڅو دوباره یې ږیره لویږي .
۴ ـ د دی له پاره چې په کوترو او نورو مرغانوساتیري منع شي باید :

د لسو ورځو په موده کې دغه عادات اوساتيري بالکل ودرول شي . د لسو ورځو په جريان کې دې وڅارل شي چې کوترې او نورهرډول د ساتيري مرغان ووژل شي .

۵ ـ د دى له پاره چې کاغذبادونو د الوتنې ساتيري منع شي، ټول د کاغذبادونو د جوړولو دوکانونه دې له منځه يووړل شي .

۶ ـ د دى له پاره چې د ژونديو موجوداتو د انځورونو ځړول منع شي بايد:

په دوکانونو، هوټلونو، موټرې وسايلو، کوټو او يا بل هرځاى کې د انځورونو او تابلوګانو موجوديت منع شي، د څارنې مسولين پرهمهغه ځاى بايد انځورونه څيرې کړي .

۷ ـ د ورقو(دټيکې ، تورې) او يا دې ته ورته لوبو د منع کولوله پاره بايد :

له امنيتي پوليسوسره په ګډه د دغو ساتيريو مرکزونه ولټول شي او د دغو ساتيريو لوبغاړي يو مياشت زندان ته واچول شي .

۸ ـ د دى له پاره چى د مخدره موادو د استعمال مخه ونيول شي بايد :

د مخدره موادو استعمالونکي بايد زنداني شي، پلټنه وشي چى د مخدره موادو اصلي تحويلوونکي او دوکان پيدا شي. دوکان دې وتړل شي، پيريدونکى او د مخدره موادو استعمالوونکي دې زنداني او مجازات شي.

۹ ـ د دى له پاره چې د امريکايي او انګليسي ډوله ويښتانو جوړولو دود له منځه يووړل شي بايد:

هغه کسان چې د سرويښتان اوږده پريږدي ، بايد په لومړي سرکې زنداني شي او وروسته د امربالمعروف اونهى عنى المنکر اداري ته بوتلل شي او ويښتان يې وخريل شي. د ويښتانو خريلو اجوره مجرم شخص خپله بايد سلماني ته ورکړي.

۱۰ ـ د دى له پاره چې د پيسود قرضولو په وخت کې د ګټې اخيستلو، د کوچنيو لوټونو د تبديلو په وخت کې د کميشن اخيستل او يا د حوالې استولو په وخت کې د ګټې اخيستل منع کړاى شي بايد :

ټولو صرافانو ته خبر ورکړل شي چې پورته درې حالته د پيسو د تبديلولو په وخت کې په نظرکې ونيسي . د سر غړونې په وخت کې مجرم بايد په اوږده موده بند محکوم شي .

۱۱ـ د دې له پاره چې د ځوانو ښځو په واسطه د جامو پريولل د کابل د سيند پرغاړه منع شي بايد:

هغه ښځې چې د دې قانون څخه سرغړونه کوي ، باید د اسلامي طریقې په درناوي سره راتوليې شي او کورونو ته ورسول شي ، مګرمیړونه یې سخت مجازات شي .

۱۲ ـ د دې له پاره چې د ودونو په خوښیو کې د موزیک ږغولو او نڅا مخنیوی وشي باید: د داسې سرغړونې په وخت کې د کورنۍ غړي زنداني شي او جزا ورکړل شي .

۳۱ ـ د دې له پاره چې د موزیک د وسایلواستعمالول د منځه ولاړشي باید :

د دغو وسایلو د استعمال منع کول د عامه ولس په اطلاع ورسیږي . که بیایې هم څوک وږغوي، باید د سیمې مذهبي مشران پریکړه ورباندې وکړي .

۱۴ـ د دې له پاره چې د ښځینه ګنډونکو او د ښځینه جامواندازه کول او ډیزاین منع کړل شي باید:

که چیری د فیشن ښځینه مجله د ګنډونکی په دوکان کې ولیدل شي ، باید ګنډونکی زنداني شي.

۱۵ـ د دې له پاره چې جادویي نمایشات (مداریان) او چارې منع کړل شي باید :

ټوله داسی کتابونه باید وسوځل شي او جادوګر دې ترهغه وختـه پورې زنداني وي ترڅو چې پرخپله دغه کړنه پښېمانې څرګندوي .

۱۶ ـ د دې له پاره چې د لمانځه د اداکولو له پاره اړتیا پیدا نه شي چې هرځل خلکوته د لمانځه د ادا کولو لپاره بلنه ورکړل شي باید :

د لمانځه ادا کول باید پرټاکلو وختو د ښارپه ټولوسیموکې ادأ شي . ترانسپورتي خوځښت په دغه وخت کې په جدي توګه منع دی او ټول خلک مکلفیت لري چې د لمانځه د ادا کولو له پاره مساجدو ته ولاړشي . که چیرې ځوانان په دوکانوکې ولیدل شي په فوري ډول باید زنداني شي. (۲۰ص،ص۵۰۵ ـ۵۱۰)

دا چې طالبان او مشران یې د منظم دولتي نظام سره اشنایي نه درلوده نو هر طالب چې د کتابونو څخه څه لوستي او یا اوریدلي و د هغه پر بنسټ یې په بې پروا ډول اجرأت کول. د امر با المعروف او نهي عن المنکر ډلې ځانونه مسقل ګڼل نه یوازې کورنیو حساسیتونو ته یې پام نه کاوه بلکې د بهرنیانو سره هم په کړونو کې ډیر بې پروا وو. بیلګه یې د پورته کتاب څخه ولولئ: « د طالبانو کړنې د ښځوپه مقابل کې د دوی پر واک په نړیواله کچه پوښتنې اونیوکې را پورته کړې، چې دا نیوکې په ځانګړي ډول هغه وخت ډیرې جدي شوي چې :

د اروپايي ګډ بازارکميشنره په بشري چاروکې د ۱۹ لويديزو اروپايي (ايما بونينو) [14] ژورناليستانو او مرستندويو موسسو د کارکوونکوسره په کابل کې د ۱۹۹۷ز کال دسيپټمبرپر۲۷ مه نيټه د امربالمعروف ونهی عنی المنکرد مسولينوله خوا د درو(۳ )ساعتوله پاره توقيف شوه. نومورې په هغه ښځينه روغتون کې چې د اروپايي ټولنې له خواجوړشوی و، د خپلو ملګروسره د ناروغانو او روغتون په کتلو بوخته وه، دا ځکه توقيف شوه چې د نومورې سره ژورناليستانو په روغتون کې عکاسي کوله. په داسې حال کې چې د انځورونو اخيستل د طالبانو له خوا په قطعي ډول منع شوي ول . د دې کړنې نه وروسته مشرې کميشنرې ژورناليستانو ته وويل چې دا دی افغان ولس په دغسې ترهګرحالت کې ژوند کوي . که څه هم د طالبانو لوړ پوړو چارواکو د دې کړنې څخه وروسته پښيماني وښوده او بخښنه يې وغوښته ،خو د نړيوالې ټولنې غصه يې ډيره وپاروله.» (۲۰ ص ۵۱۰)

د طالبانو پورته ليکل شوي فرمانونه د اوسنۍ نړۍ د حالاتو سره هيڅ سر نه خوري، د فرمان هره ماده يې عجيب ډول ښکاري خو تر ټولو دوې مادې ماته ډيرې عجيبې ښکاره شوې: د کور د کړکيو د هندارو تورول مانا چې ښځه په واقعي بڼه په هغه زندان کې بايد و اوسيږي چې د رڼا شتون هم پرې منع شوی دي. بل دا خبره چې د ښځې سره محرم کس که ميړه او يا ورور وي، د محرم والي ثبوت بايد ولري. جالبه ده چې ميړه يې بايد نکاح خط د ځان سره ولري په داسې حال کې چې د نکاح خط جوړول په لويه کچه په افغانستان کې رواج نه دي خو ورور بيچاره بايد کوم سند وړاندې کړي؟

تر ټولو خطرناکه دا ده چې د طالبانو سره بايد سوله وشي که هيڅ نه وي د دوي د غوښتنو يوه برخه بايد ومنل شي. زما په آند د طالبانو او جهادي مافياء شتون په افغانستان کې د ځان وژنې په مانا دي خو ولس اړ دي چې دغه تريخ غړپ تير او د څه مودې لپاره يې وزغمي ځکه سوله تر هر څه ډيره اړينه ده.

دا ډول کړنې په لويه کچه امر بالمعروف او نهي عن المنکر د ادرې لخوا کيدلې ځکه دا ادارې ځان تر ټولو طالبانو ځواکمن ګڼي. د طالبانو يو شمير لوړپوړو هم د دغې ادارې د زور زياتي څخه شکايت درلودي چې عبدالحي مطمين يې په خپل کتاب کې داسې بيانوي:«د امر بالمعروف د ادارې په تړاو د ملا محمد عمر سره مباحثه: د طالبانو د غورځنګ بنسټيز شعار او هدف د اسلامي شريعت تطبيق و، چې په دې لاره کې د نورو ادارو او قضايي ارګانونو تر څنګ د امر بالمعروف د ځانګړي اجرايي ځواک د شتون اړتيا هم وه، خو د دې ادارې او کار کوونکو ته

---

[14]- Emma Bonino

يوې ځانګړې روزنې اړتيا وه. همدا راز په دې اداره کې د توظيف لپاره يوه ځانګړې معيار او محتاطانه انتخاب اړين و، چې له بده مرغه طالبانو دغه اساسي ارزښتونو ته توجه و نکړه او د دې ادارې مشران باحکمته او دورانديشه خلک نه ول او عامو افرادو يې په عامه توګه ځانګړې روزنه او ژوره ديني پوهه نه لرله، چې له امله يې ډير افراطي اجرأت کول او په ځينو کارونو کې ځينې غيري ضروري شدت هم کاوه... په دغه اداره نيوکه ډيرو مشرانو په زړه کې ساتله، ماته يو ملګري وويل که په کندهار کې د ملا محمد عمر تر څنګ نه واى نو د دې ادارې مخالفت به دروند درته تمام شوى واى... کله چې په ۲۰۰۰ زکال کې د المپيک رياست په بلنه د پاکستان د چمن له ښار ګوتې د کرکټ يو لوبډله کندهار راغلي وه... تر لوبې وروسته د امر بالمعرف وزير لوبغالي ته ور غلی وو او د دغې ميلمنې لوبډلې ځينې غړې يې د انګريزي سټايل ويښتو او ږيرى خريلو په تور تهديد کړى وو... زه عبدالحي مطمين، د پوهنې ريس مولوي نيک محمد، او د کندهار د جهادي مدرسې مدير او د شمال د لومړيو جنګي کرښو قوماندان قاري فيض محمد هم را سره ملګري شول او ملا محمد عمر ته ورغلو... تر ډيرو دلايلو او خبرو وروسته ملا محمد عمر وويل: مولوي صيب! دغه جګړو او وحشت بې لارې کړي خلک يوازې په خبرو ديني اوامر نه مني چې رعب او دولتي مراقبت نه وي.» (۲۰ ص ، ص ۲۴۳ ـ ۲۴۴)

د پورته بيان څخه څرګنديږي چې د ملا عمر په ګډون ډيرو لوړ پوړو طالبانو د زور او شدت لار د ولس په وړاندې خوښول.

غواړم د طالبانو پر پورته قوانينو يو څه رڼا واچوم: د الجزايري ژورناليست خبره ډيره کره او دقيقه وه چې طالبانو د غمځپلي ولس د ارامې، د بهرنيو مرستو د راجلبولو، د بيا رغونې پر بهير او يا افغاني ځوانانو ته د زده کړو د زمينو برابرولو په بدل کې افغان ولس ته افغانستان په يوه بنديخانه بدل کړى و. افغانانو او په تيره ځوانانو د هيڅ ډول خوښې او ساتيريو اجازه نه درلوده. جالبه دا ده چې د کاغذباد الوزول ولې د شرعي احکامو سره ټکر کولو. د طالبانو په مقرراتو کې مې داسې څه تر سترګو نه شوه چې د کونډيانو لپاره چې شرعي محرم يې نه درلودي کومې ځانګړنې په نظر کې نيول شوي وي، د هغوي د نفقې په تړاو خو يې هيڅ فکر کړي نه وو. ټول مقررات يې دومره خنداوره دي چې په يويشتمه پيړۍ کې په هيڅ اسلامي حکومت کې نه تر سترګو کيږي. د پورته مقرراتو څخه داسې څرګنديږي چې ولس کولاى شواى وانبه وخوري خو د طالبانو مقررات او په ځانګړي توګه د ملا محمد عمر فرامين عملي کړي. د ږيرې د نه اصلاح کولو موضوع ډيره جالبه ده ځکه که ږيره اصلاح نه شي انسان په يوه ببر بدليږي که داسې وه نو ولې ملا

محمد عمر ږیره دومره بی نظمه او لویه نه وه؟ د لمانځه په وخت کې ټول ډاکټران باید په مسجد کې حاضر وي او ترافیکي خوځښت بشپړ بند وي مانا دا چې عاجل ناروغان که مړه شوی هم واي طبي مرستې ورته حرامي وي باید مرګ ته یې لبیک ویلای وای. د الجزایري ژورنالیست د خبري مطابق دا ډول نظامونه پایښت نه لري.

باید دا هم ومنو چې طالبانو پرته د هغو وژونو څخه چې د جګړې په ډګر کې کړی دي په انفرادي توګه یې خپل مخالفین ترور کول، ډیر وختونه به یې ټاکلي کسان د شپې لخوا د کور څخه ویستل ورځ یا دوي ورځې وروسته به یې مړي په یوه دښته کې وموندل شو چې د بیلګې په توګه د جنرال ظاهر سوله مل نوم یادولای شم البته په لسګونو بیلګې شته. (عبدالقیم معلم لیکي: په کندهار ښارکي یې د مشرقي لیسې مخکنی مدیر شیرمحمد خان په بازارکي موټر ته پورته کړه، پنځلس ورځې وروسته یې مړي د شاولي کوټ ولسوالۍ په یوه دښته کي پیداسوو، چې په شکنجو وژل سوی وه، کابل ته په رارسیدو یې هرشپه خلګ له کورونو نیول او هغه ورکیدل، د مثال په توګه: معلم صاحب حبیب الله د ارغنداب، ولسوال محمد اسمعیل دارغنداب، فیض محمد د خان محمد ورور د ارغنداب، منصور د بولدک او په لسګونو نور.)

د افغانستان د خلکو کړاونه د جهادیانو او طالبانو په واکمنۍ کېدوسره دومره ډیر دي چې دلته یې د ټول بیان څخه عاجز یم ځکه ډیرو پنډو کتابونو لیکلو ته اړتیا شته چې ټولې ستونزې او خونړۍ پیښې بیان شي.

## اتم څپرکی

**د طالبانو د خولې څخه د جهادیانو جنایتونه**
**د جنایتونو څو بېلګې:**

عبدالحي مطمين ليکي:«کابل ښار کې لومړی د عبدالرشید دوستم په مشری د ګلیم جم ملیشو پر مهال د ښار په ډېرو برخو کې چور، تالان، د ښځینه وو او کشرانو هلکانو په زوره کانتیرونو ته بوول او هلته د شرابو او موزیک په محفلونو کې د دغو یرغملو بې عفتي او د مخالفت په صورت کې وژنه د ډېرو کابلیانو د سترګو لیدلې کیسې دي. له هغه وروسته د نظار شورا سرګروپانو او افرادو هم دې ته ورته اعمال پيل کړل.

وژنې خو یو معمول و، چا به چې د وسلوالو د غوښتنو سر غړاوه، وژل کیده. د حزب وحدت سړیو چې د سیاف د وسلوالو سره یې د ځمکو نیولو پر سر جګړه وه، د عامو پښتنو سړي نیول، په ژوندني به يې په سر کې میخونه ور ټکوهل.

د پښتنو تور سرې به یې بې عفته کړې او بیا به يې په ژوندني سینې ترې غوڅې کړې... د سیاف وسله وال چې اکثره یې چرسیان او نشه یان وو، د هزاره ګانو ښځې يې وړلې او جنسي تیرې پرې کولو، ماشومان او بوډاګان یې وژل، نه د چا په مال بند وو نه په سر او عفت. مشران یې داسې شوي وو چې که به هر ډول ظالم او وحشي وسلوال وو، خو چې د ده لپاره یې وژل کوولای شول نور یې هر ډول امتیازات ورکول.

د حکمتیار قوماندان زرداد فریادي له خپل یوه وسله وال سپی جوړ کړی و.

د دې وسله وال تیره غاښونه وو، چا به چې پیسې نه ورکولې، همدغه جعلي سپی به یې ور خوشې کړ، لارویان او مسافر به يې پرې وداړل، تر څو د دوی له خوښې سره سمې پیسې ورکړي.» (۱۶ ص، ص ۶۵ ـ ۶۶)

**د خلکو له خولې څو خاطرې:**
عبدالحي مطمين داسې دوام ور کوي:

لومړی خاطره: «د طالبانو د واکمنۍ ستر مفتي او د هیواد په کچه عالم او زاهد شخصیت مرحوم عبدالعلي دیوبندي صاحب نه مې دا کیسه اوریدلې چې ویل یې، یو قوماندان له یوه کندهاري څخه میرمن بوتله او خپل اطاق ته یې د بې عفتۍ لپاره

وخيژوله. سړی پښتون و نور وس يې کار نه کاوه، په ډير لوړ اواز يې کوکې او ناري پيل کړې چې د خدای په خاطر دا مې عزت دی، قومندان يو څو د غښتلو ملېو وسله وال ور ته را واستول، سړی يې چپه کړ او په زوره يې تناسلي اله ور تاوول، تر څو ور نه بيله يې کړل او سړی ځای پر ځای مړ شو.

دوهمه خاطره: د کندهار د راډيو مامور د خپلو سترګو ليدلې کيسه کوله، چې د کندهار د شهرنو په سيمه کې يو کشر هلک روان و، د پوستې والا پسې ږغ کړل، دې خوا راشه، هلک پوهيدي چې د بد فعلی لپاره يې غواړي، هغه منډه کړه، ټوپکوال کلشينکوف پسې ونيو ضربه يې کړي. هلک ځای پر ځای شهيد شو. دغه تنکی زلمی په وينو کې لغړيده او دوی چرت په کښې نه وهه.

دريمه خاطره: د کويټې څخه يو ځوان مهاجر ملا د خپل پلار جنازه د پاکستانه د زابل شاه جوی ته وړه. د کندهار ـ زابل پر لار شهر صفا سره د حزب اسلامي (ګرانو ) قوماندان پوسته وه. ملا وايې زما او زما د کورنی جهادي تعلق د حزب اسلامي سره و، ما غوښتل د ګرانو د پاټکيانو ځان خلاص کړم، خپل حزبي تعارف مې ورته ورکړي، هغوی له غوصې په خندا شول راته ويې ويل موږ يوازې پيسې پيژنو، خو ما د پلار د ناڅاپې مړينې په وجه دومره پيسې را اخيستې وې چې د لارې کرايه مې ورکړه او نورې په لاره کې پاټکونو واخيستې. دا ځوان مولوي صاحب وايي چې د جنازې سره يې په ولسوالی دننه کړم، جنازه يې پر ميدان کښيښږده. ماته يې مخ راواړاوه چې دا دې د پلار جنازه ده؟ ما ورته وويل، هو. چې پيسې نشې پريکولای، اوس به د پلار جنازې ته ګډيږې، اتڼ به کوې، ما عذر او زاری شروع کړي، چې د پلار مرګ او ګډا، بيا زه ملا سړی يم! اتڼ مې زده هم نه دي، خو هغوی نور مرمی کلاشينکوف ته تيره کړه، زه پوه شوم چې پيسې خو هم نشته يا دې وژني يا اتڼ وکړه. پس مجبور شوم په نه زړه مې د دوی د حيوانی نفس د تسکين لپاره اتڼ شروع کړ او تر هغو يې ګډولم چې نور د پښو ولويدم. مولوي صاحب وايي بيا مې په ستړی بدن جنازه پورته کړه او تر ننه مې کور کې کيسه نه ده کړې، خو د الله فضل و چې کومه تور سرې راسره نه وه.

د کندهار د ټوپکيانو چور، تالان، مرګ، بې عفتی، د قومندانانو تر مينځ د هلکانو ودول او دې ورته کيسې مشهورې دي. خو د لنډون لپاره دغه پورتنی د خلکو او عيني شاهدانو د خولې کافي وګڼلی. (۱۶ ص، ص ۶۹ ـ ۷۰)

بايد ووايم چې دا ناروا او وحشي کړنې نه يوازې په کندهار کې وې بلکې په کابل کې تر دې کيسو څو برابره دردونکې او زړه بنګونکې کيسې هره ورځ پيښيدې. په ټول افغانستان کې د جهاد دغه ناوړه ثمره هر افغان وڅکل خو لا د جهادي مشرانو او قوماندانانو د ظلمونو څخه اوس هم ولس خلاص شوي نه دي دا ځل جهاد په نيغه

د امریکایي پوځ او درنو الوتکو په ملاتړ پر ولس روا ګڼي. شیخ الحدیث عبدالرب رسول سیاف رښتیا وایي چې:**(د جهادیانو او عام وګړو برابرول مطلق کفر دي!)** رښتیا هم عام ولس د جهادیانو څخه په انسانیت کې توپیر لري. جهادیانو خو تر حیواناتو هم داړونکي وختل. وحشي حیوانات هم په خپل مینځونو او یا د انسان په وړاندې د ټوپکوالو په څیر جنایتونه نه کوي، وحشي حیوانات هم د خپل مور درناوي لري د خپل همجنس سره ګذاره کوي حتا د کمزوري حیوان په وړاندې صله رحمي لري. نو سیاف او نور یاران یي وحشیان خو څه د نازیانو لاسونه یي هم تر شاه ور تړلي دي.

**په جهاد کې د مشهورو دیني عالمانو رول**

پر ځای یې بولم چې د عبدالحي مطمین د کتاب څخه د مشهورو جهادي او طالبي اسلامي علماوو نومونه ذکر کړم:«څرنګه چې د کمونیستي کودتاه پر ضد ملي پاڅون او جهاد فتوا او رهبري تر ډیره پورې په ولسي ملایانو پورې اړه لرله، له همدې امله په اکثرو برخو کې رهبري هم دیني طبقې وکړه. په لویه پکتیا کې مولوي جلال الدین حقاني، مولوي نصرالله منصور، مطیع الله خان، مولوي فرید محمود او نور علماء د دې پاڅون په مخکښانو کې وو. په غزني کې قاري بابا، مولوي حیات الله (ملاکاکا)، مولوي ګل محمد، مولوي نیک محمد، مولوي بهادرخان، مولوي موذن، مولوي عبدالحکیم، مولوي عبدالرحمن، مولوي فقیر، د ناوې امیر، مولوي عبدالسلام، قاري عبدالله دانش، قاري عبدالله د جناح اباد او د یو شمیر نورو مشهورو دیني عالمانو، طالبانو او قاریانو جبهات وو. په کابل کې تر ټولو ستره جهادي څیره مولوي شفیع الله او ورور یې مولوي صدیق الله وو. له هغه وروسته د مولوي محمد یونس قوماندانان وو. په زابل کې د جهاد پیل ملا موسی کلیم وکړ چې د جبهې ټول یا اکثر غړي یې طالبان وو. د هغه له شهادت وروسته ملا مدد خان، ملا عبدالسلام راکټي، ملا عبدالکریم، ملا عبدالقهار او د شاجوي د طالبانو مشر ملا عبدالغني ټول طالبان وو. په ننګرهار کې تر ټولو زیات نفوذ د مولوي محمد خالص و. په کنړ کې مولویي جمیل الرحمن زیات نفوذ درلود. په لغمان کې مولوي عبدالرحیم حنیفي د جهاد له مخکښانو و (چې د حزب اسلامي لخوا ترور شو). په لوګر کې مولوي عبدالاحمد چې په حاجي عبدالاحمد مشهور و ( د حرکت انقلاب اسلامي ولایتي امر و)، ملا خوشال، ملا داود، مولوي منور، ملا کاتب ( چې د رباني د واکمنۍ په لومړۍ دوره کې د لوګر والي و) او نور ډیر علماء او طالبان د مشهورو جبهاتو قوماندانان وو.

د پیښور پر سیاسي ډګر د لوګر د ولایت د مشهوروو علماوو نه پر مولوي محمد نبي ( د حرکت انقلاب اسلامي مشر) سربیره چې د بره کي ولسوالۍ د عباس کلا

اوسیدونکي و، مولوي ظبطو خان، مولوي محمد میر، مولوي موسی جان، مولوي فضل احمد، مولوي هاشمي، مولوي سید اکبر دلاور (د مولوي شهاب الدین پلار) او مولوي فرقاني د یادونې وړ دي.

په کندهار کې ملا نقیب الله، ملا ملنګ، لا لا ملنګ، ملا محمد رباني، ملا بورجان، حاجي ملا محمد، ملا نیک محمد، ملا عبیدالله، ملا محمد صادق، ملا یار محمد، ملا حفیظ الله اخدزاده، ملا محمد عمر مجاهد، ملا نورالدین ترابي، ملا عبدالغني برادر، ملا مشر، ملا محمد حسن رحماني، مشر ملا محمد حسن، مولوي حمدالله ناني، مولوي نسیم، ملا محمد عباس، ملا محمد عباث، ملا محمد غوث او یو زیات شمیر نور مشهور ملایان او طالبان وو چې یا خو یې سوچه خپله د طالبانو جبهې لرلې، او یا د یو شمیر نورو مشهورو جبهاتو د مشرانو، مرستیالانو او یا عامومجاهدینو په توګه په جهاد بوخت وو.

په هلمند کې مشهور جبهات د نسیم اخند زاده، ریس ملا عبدالواحد، مولوي عطا محمد او مولوي باز محمد جبهات وو. په اروزګان کې ملا عبدالرحیم، مولوي عبدالغني، ملا عبدالله، ملا محمد شفیق، ملا عبدالمالک، مولوي عبدالجبار، ملا روزی محمد، ملا محمد عباس، قوماندان عبدالودود، ملا محمد صادق، ملا مشر، مولوي محمد شریف او داسې نور.

خوست او پکتیا د مولوي جلالدین حقاني او مولوي نصراله منصور د نفوذ سیمه وه، مولوي منصور د پکتیکا او غزني په ځینو سیمو کې هم نفوذ لاره.» (۱۶ ص، ص ۵۱ ـ ۵۲)

دا لیست مې په دې خاطر وړاندې کړي چې هیوادوال پوه شي چې کومو کسانو د هیواد پالو افغانانو، عادي بزګرانو او عام وګړو په وژنه کې لوی لاس درلودي. د پورته قوماندانانو څخه زه نسیم اخدزاده او مولوي عطا محمد پیژنم چې ډیر بې ګناه انسان یې په ظلم او وحشت ووژل.

د حقاني کورنۍ په تړاو هیوادوال خبر دي چې د پاکستان په مهرام شاه کې د آی اس اي تر څارنې او ملاتړلاندې مرکز لري او د هیواد دمیړنۍ ولس په وینو تویولو یې لا اوس هم تنده ماته شوي نه ده. مولوي تراب چې امر بالمعروف او نهي عن المنکر مشر و، په ځانګړې توګه یې د کابل پر خلکو د ژرندې میچنې وګرځولې.

**پر افغانستان د امریکا د برید عوامل**

د دې موضوع د ژورې څیړنې لپاره پکار ده چې د طالبانو او د القاعده د مشر اوساما بن لادن او هم د پخواني ولسمشر حامد کرزي اړیکې د طالبانو او وروسته د طالبانو په وړاندې دښمنې په تړاو مهم مطالب ولیکم ځکه اسامه بن لادن په خپلو

تحریک امیزه حرکتونو امریکایان وهڅول چې پر افغانستان یرغل وکړي خو حامد کرزي ډېر منډي وکړي تر څو امریکایان قانع کړي چې د طالبانو نسکورول اړینه چاره ده ځکه د افغانستان ولس یې یرغمل کړي دي:

**ـ حامد کرزي او طالبان د سپټمبر تر پيښې مخکې**

احمد رشید په خپل کتاب کې د حامد کرزي د خولې څخه لیکي:(د ۲۰۰۱ زکال د اکتوبر تر میاشتي وړاندې چې کرزي افغانستان ته تللی و، ماته یې له طالبانو سره د خپلې همږغی په اړه وویل:« د ډیرو نورو مجاهدینو په څیر کله چې طالبان د لومړي ځل لپاره په ۱۹۹۴ زکال کې راڅرګند شول، ما فکر کاوه چې هغوی به په هیواد کې ټوپکسالارۍ ته د پای ټکی ږدي، قوانین به ایجاد او لویه جرګه به جوړوي، چې په کې د افغانستان لپاره یو مشر وټاکي. له هغو طالبانو سره چې په لومړي سر کې ما ولیدل، را ته یې وویل چې په هیواد کې د کورنۍ جګړې د ختمولو یوازنۍ لار د نوي جهاد پیل دی. کله چې هغوی کندهار ونیوه، ما ور سره پنځوس زره ډالره مرسته وکړه، هغوی ته مې هغه سلاکوټ هم وښود، چې کندهار ته نږدې مې وسلې پکې پټې کړې وې، ما څو ځله له ملا محمدعمر سره ولیدل، هغه له ما غوښتنه وکړه چې زه یې په ملګرو ملتونو کې د استازي دنده پر مخ یوسم، هغوی په لومړیو کې ډېر ښه خلک بریښیدل، خو خبره هلته ورانه شوه، چې طالبان د آی اس ای تر نفوذ لاندې راغلل او د هغوی نیابتي جګړه ماران وګرځیدل، کله چې طالبانو غزني ونیوه، ماته داسې راپورونه راتلل چې د هغوی په لیکو کې بهرني جنګیالي ځای پر ځای شوي او طالبان یې دې ته هڅول چې د نجونو ښوونځي وتړي. زه د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت وغوښتم، څو له ما سره خبرې وکړي چې ایا په ملګرو ملتونو کې د طالبانو د رژیم استازیتوب وکړم که نه؟ په دې وخت کې پاکستان د طالبانو لپاره ډیپلوماټان استخدامول، نو ما له دې کاره ډه ډه وکړه او له دفتره ووتم، وروسته طالبان د القاعده په منګلو کیوتل، په دې وخت کې ما د هغوی په مخالفت لاس پورې کړ. په ۱۹۹۸ زکال مې څو ځلې امریکایانو او بریټانویانو ته وویل چې اسامه بن لادن د طالبانو په منځ کې د یو رهبر ځای خپل کړی، خو زما خبرو ته تر پایه پام و نه کړ.») (۱۹ ص ۴۸)

شک نشته چې د حامد کرزي فعالیتونه د طالبانو پر ضد د دې باعث شول چې د کرزي پلار د طالبانو لخوا ووژل شو، خو پاکستان د کرزي د دې کړونو څخه ډېر ناراضه و. په دې تړاو بیا هم احمد رشید د حامد کرزي سره د یو خصوصي مجلس بیان کوي چې زه یې لندیز وړاندې کوم:«د ۲۰۰۱ زکال د سپټمبر تر یوولسمې شپږ اونۍ وړاندې مې په لاهور کې یو پخوانی ملګری کورته راغی او ټوله ورځ یې له ما سره تیره کړه. د غرمې له ډوډۍ وروسته مو ډېر اوږد او جدي بحث وکړ، هغه

د یوې ځانګړې موضوع  په اړه ماته د مشورې لپاره راغلی و، دا د هغه د هیواد د راتلونکي برخلیک موضوع وه...دا زما نږدې ملګری حامد کرزي و...د پاکستان څارګرې ادارې آی اس ای هغه ته د سپټمبر تر دیرشمي مهلت ورکړی و، چې له پاکستانه ووځي. د پاکستان حکومت نور د کرزي ویزه نه تمدیدوله او له هغه یې غوښتي و، چې له خپلې کورنۍ سره یو ځای له پاکستانه ووځي. آی اس ای د پاکستان د پوځي ځواک یوه پیاوړې او ویرونکې استخباراتي اداره ده. دغه اداره له تیرو دوو لسیزو راهیسې د افغانستان او کشمیر جګړه په پټه پر مخ وړي او هغه هم په کور دننه د اکثریت خوښې ته نه ګوري او د طالبانو د اصلي ملاتړې شبکې په نوم یادیږي. کرزي په پاکستان کې په ۱۹۸۹ زکال کې میشت شو، خو په ۱۹۹۰ زکلونو کې به کله، کله په کابل کې هم راڅرګندید، موږ دواړه پر دې پوهیدو، چې له پاکستان د هغه د شړلو تر شا د طالبانو د مشر ملا محمد عمر لاس و. د کرزي کورنۍ هغه مهال د بلوچستان په کویټې ښار کې اوسیده... دا چې آی اس ای له طالبانو سره نږدې اړیکې لرلې او د هغوی په خدمت کې وه، نو په خپل قلمرو کې یې د طالبانو پر وړاندې د کرزي هلې ځلې او سیاست نه شو زغملی. موږ دواړه پر دې هم پوهیدو، چې له پاکستانه د هغه وتل د ژوند سره لوبه وه او دې مسلې ته باید په کمه سترګه نه وای کتل شوي. د کرزي پلار عبدالاحد کرزي په ۱۹۹۹ زکال کې طالبانو وواژه. کرزي پر دې باور دی چې د پلار د وژلو تر شا یې د آی اس ای لاس و... ملا محمد عمر یو دیني ملا و، هغه د کرزیانو په اړه معلومات لرل، د طالبانو په لاس د مشر کرزي تر وژل کیدو وروسته، طالبانو او د هغوی اجنټانو په پاکستان کې ګڼ نورهغه مخکښ افغانان ووژل، چې د دوی د رژیم مخالف وو.(ل: چې یوه بیلګه یې پر هیواد مین جنرال نظر محمد د دفاع پخواني وزیر یادولای شم). پاکستاني پولیسو د وژل شویو افغانانو یو قاتل هم ونه نیوه، ځکه هغوی د څارګرې ادارې آی اس ای له لوري رهبري کیدل.» (۱۹ ص، ص ۳۶ ـ ۳۷)

د پورته معلوماتو په رڼا کې ویلای شم چې پاکستان او طالبانو تر وروستۍ شیبې پورې پخې اړیکې سره درلودلې او تر اوسه د پخوا په شان دوام لري. دا چې مشر کرزي (د حامد کرزي پلار) او یو شمیر نور مخکښ افغانان د طالبانو سره د مخالفت په وجه په پاکستان کې وژل کیږي او کرزي ته ټاکلې موده تعینوي چې پاکستان باید پریږدي، څرګنده خبره ده چې د طالبانو او آی اس ای ګډه مشوره وه. د تعجب ځای دا دي چې عبدالحي مطمین په کلکه پر طالبانو د پاکستان اغیزه رده وي خو د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت د کرزي سره د طالبانو د استازي په توګه په ملګرو ملتونو کې بحث کوي. یو ټکی د پام وړ دي چې د حامد کرزي بخت بیداره وه چې د سپټمبر پیښه رامینځته شوه چې د جبري استولو څخه خلاص شو، که جبراً افغانستان ته لیږل شوی واي کیدی شوای اوس یې سرنوشت بله بڼه درلوداي.

**ـ د اسامه بن لادن اړیکي د سیاف، برهان الدین رباني او طالبانو سره**

د اسامه بشپړ نوم (أسامه بن محمد بن عوض بن لادن) دي چې په ۱۹۵۷ زکال د مارچ پر لسمه د سعودي عربستان په ریاض کې زیږیدلي او د ۲۰۱۱ زکال د مى پر دوهمه نیټه د امریکایي کوماندو لخوا د پاکستان په ایبټ اباد کې ووژل شو. د بن لادن پلرنۍ ریښه یې یمني ده. نوموړی د جدې د ملک عبدالعزیز په پوهنتون کې د اقتصاد څانګه لوستي ده. کله چې د امریکا په نیغه مداخله په افغانستان کې د شورویانو پر ضد جهاد پیل شو نو د سي ای ای او آی اس ای د ګډې پروژې له مخې په زرګونه تند لاري بهرنیان په ځانګړي توګه د عربي هیوادونو څخه راټول او په پاکستان کې میشت شول تر څو په جهاد کې برخه واخلي. د عربو جنګیالیو د روزنې اصلي مشر فلسطیني عبدالله اعزام و، چې وروسته ووژل شو. د عبدالله عزام له نظره ، مجاهدین ټول سره وروڼه دی او ده یې په منځ کې بیلوالی نه غوښته، عزام غوښتل چې د مجاهدنو تر منځ باید فرق موجود نه وي او ټول په یوه سنګر کې څنګ په څنګ سره وجنګیږي. د ټولو دښمن یو دی ، نو بیلوالی د مجاهدینو په لیکو کې د بې اتفاقۍ لامل ګرځي. خو اسامه بن لادن له دغه نظر سره موافق نه وو، اسامه غوښتل چې عربي مجاهدین له افغاني مجاهدینو نه جدا کړي ، په همدې خبره د اسامه او عبدالله عزام ترمنځ اختلاف راغی، او بلاخره ، وروسته له ډیرو بحثونو او خبرو اترو اسامه وتوانید چې د القاعده شبکې بنسټ د۱۹۸۸کال د اګست د میاشتې په ۷مه کیږدي . اسامه بډای عرب و نو ځکه یې د عربو جنګیالیو او مجاهدینو لپاره د جګړې لپاره د روزنې او ژوند نورې اسانتیاوي برابرولي. د شورویانو تر وتلو وروسته کله چې امریکایانو پر صدام حصین برید کولو نو یو شمیر امریکایي پوځیان په عربستان کې ځای پر ځای شول چې د اسامه غوصه یې وپاروله. اسامه بن لادن د سعودي حکومت ته وړاندیز وکړي چې اسلامي جهادي لښکر به جوړ کړي نو ځکه باید امریکایانو ته ځای ور نه کړي. کله چې سعودي یې وړاندیز رد کړ، د اسامه او سعودي شاهي کورنۍ اړیکې ترینګلي شوې چې وروسته یې اسامه د سعودي څخه وشړی، ځیني ملکري یې ور څخه بندیان او د اسامه څخه یې د عربستان تابعیت واخیستي.

عبدالحي مطمین د اسامه راتګ افغانستان ته په لاندې ډول بیانوي:«د عربستان څخه اسامه سوډان ته په ۱۹۹۲ زکال ولاړي. هلته یې ځینې د عامه ګټو پروژې لکه د لویو لارو جوړول پیل کړل (ل. شک نشته چې اسامه بن لادن په سوډان کې د القاعدې د شبکې د پراخوالي هڅې ګړندي کړي وي نو ځکه امریکایانو فشار واچولو چې اسامه د سوډان څخه وشړي.) په ۱۹۹۶ زکال په پسرلي کې د ننګرهار څو تنه قوماندانان په یو کنفرانس کې د شرکت لپاره سوډان ته ولاړه. په دې ډله کې د سیاف قوماندان سازنور، د حزب قوماندان فضل الحق مجاهد، د مولوي یونس

خالص قوماندان انجنیر محمد او د فضل الحق مجاهد ترجمان صفت الله قانت شامل وو. دوی په سوډان کې د اسامه بن لادن سره ولیدل چې د سیاف قوماندان ساز نور د سیاف په استازي توب د سوډان څخه د شړلو په صورت کې افغانستان ته د راتګ بلنه ورکړه... لنډه دا چې اسامه او کورنۍ یې د اریانا الوتکې په واسطه ننګرهار ته راوستل شول، د سیاف قوماندان ساز نور په هوایي ډګر کې هرکلی ورته ووایه وروسته د مولوي خالص قوماندانانو د اسامه د ساتنې مسولیت واخیستي... کله چې په ۱۹۹۷ زکال طالبانو کابل ونیوي نو اسامه یې کندهار ته د یو مسلمان ورور په حیث راوستي.» (۱۹ ص ۱۸۹ ـ ۱۹۲)

ستونزه دا وه چې دغه مسلمان ورور د خپلو کړونو څخه د افغانستان په خاوره کې لاس پر سر نه شو، د عبدالحي مطمین په قول که څه هم د طالبانو مشر ملا عمر غوښتنه ور څخه وکړه چې د افغانستان د خاورې څخه دې د سعودي عربستان پر ضد تبلیغات نه کوي ځکه چې اړیکې یې د طالبانو سره ترینګلې کیږي. سره د دې چې عبدالحي مطمین لیکي چې د ملا محمد عمر غوښتنه دا وه چې اسامه بن لادن یوازې د میلمه په توګه پرته د سیاسي فعالیت څخه ژوند وکړي خو زما باور نه راځي چې د ملا محمد عمر د زړه غوښتنه به داسې وه ځکه هغه هم د واک د پراخیدو سخت لیوال و. د عبدالحي مطمین څرګندونې به د موضوع په تړاو په لنډه توګه ولیکم:«اسامه بن لادن د ۱۹۹۷ زکال د مارچ په میاشت کې په بشپړه توګه د خپلې کورنۍ سره په کندهار کې ځای پر ځای شو. د همدې کال د مارچ پر (۲۲) نیټه د اسامه لومړۍ مطبوعاتي مرکه د لندن انډیپیډنټ ورځپاڼې خپره کړه چې سعودي عرب او امریکا ته یې پکې ګواښ کړی و. تر مرکې وروسته ملا محمد عمر د مارچ پر (۲۵) د اسا مه سره ولیدل او عربستان پر ضد یې د څرګندونو څخه منع کړي... بیا هم د ۱۹۹۸ زکال د فبوري په میاشت کې اسامه یوه اعلامیه خپره کړه چې د امریکا پر ضد یې تنده ژبه کارولې وه... د همدې کال د مې د میاشتې په (۲۶) اسامه او ملګرو یې په خوست کې د طالبانو د اجازې پرته مطبوعاتي غونډه جوړه کړې وه چې د سي آن آن او نورو نړیوالو خبري رسنیو استازیو ګډون درلود. نوموړې غونډې نړیوال سخت وپارول او طالبان هم په غوصه شول خو اسامه بن لادن وویل چې ګواکي یوازې د عربستان پر ضد د منفي څرګندونو څخه منع شوی دي. اسامه بن لادن د خپلو کړونو څخه ډه ډه نه کول.»

(۱۶ ص، ص ۱۹۰ ـ ۱۹۶۹

د ملا محمد عمر مینه د واک پراخولو او د نړۍ څخه ناخبرتیا دا شوله چې افغانستان یې د لوي ښامار په خوله کې ورکړي. اوس خپله مړ دي خو د افغانستان

خلک د ملا محمد عمر د تیروتنو قرباني ورکوي ځکه هره ورځ د امریکا د جنګي ماشین په اور کې سوځي.

ملا محمد عمر پر اسامه بن لادن دومره مین و چې د هغه ساتل يې د افغاني کلتور مهمه برخه ګڼل په داسې حال کې چې پناه اخیستونکي میلمه ستا د هیواد پر ضد لوی داړه ماران هڅول چې پر افغانستان خپل د زړه براس وکاږي. دا چاره د یوه میلمه نه وه بلکې د دوست په جامه کې امریکایانو ته ټول هغه شرایط برابر کړل چې پر افغانستان خونړۍ برید وکړي. سره د دې چې امریکایانو په نظر کې درلودل چې په یوه یا بله پلمه منځني اسیا ته لاره پیدا کړي چې د منځني اسیا د بډایو طبعي منابعو څخه ګټه واخلې د بلې خوا چین او روسیه هم تر خپل بشپړ څار لاندې ونیسي. دا چې تقریباً ټوله نړۍ یې پر افغانستان د برید پر مهال د ځان سره ملګري کړل، د اسامه بن لادن د فعالیتونو پایله وه.

## نهم څپرکی

**د امریکا یرغل او د طالبانو سقوط**

ما په خپل یو بل کتاب (د امریکا پټې موخې او بربنډ جنایتونه) کې د امریکا د برید په تړاو ډېر معلومات وړاندې کړي دي نو ځکه اوس به ډېر د ملا محمد عمر او د هغه سره د لوړ پوړو طالبانو د غبرګون او تګلارې په تړاو معلومات وړاندې کړم چې په څه ډول د دوي د کلیوالي افکارو او د نړیوال سیاست څخه په ناخبرتیا د طالب په نوم د افغانستان ډېر تنکي زلمیان د مرګ خولې ته ټیل وهل. که د شمالي ټلوالي پلورل شوي جهادي مشران د سیاف او دوستم په ګډون د افغاني زلمیانو په وړاندې د وحشت څخه کار واخیست یاني د ډالرو په بدل کې هیواد د امریکا په منګلو کې ورکړي، د دې وحشتناکې فاجعې مسولین دي په همهغه کچه د ملا محمد عمر په ګډون د طالبانو لوړ پوړي چارواکي چې د تصمیم واک یې په لاس کې وو، د امریکایي یرغل او د ډیرو بیګناه افغانانو د وژونو مسول بولم.

امریکایانو په روښانه ټکو طالبانو ته د اسامه بن لادن د تسلیمولو خبرداري ورکړي او د هغه تسلیمول یې پرته د کوم قید او شرط څخه وغوښتل مګر د طالبانو مشرتابه په ډیره بې پروایي او پرته د افغانستان او ولس د ګټو او سر ساتلو په تړاو د سوچ کولو څخه د امریکا خبردارۍ ته وچ ځواب ویلو. دا هم منم چې امریکایانو به د اسامه بن لادن د تسلیمولو برسیره برید کړي واي خو د برید پلمه به بل ډول واي او که اسامه په پیل کې افغانستان ته راغوښتل شوي نه واي، طالبانو لږ تر لږه د روڼ اندو خبرو ته د حکومتداري په تړاو غوږ نیولي واي، کیدلای شوای په هیواد کې سوله تأمین شوي واي، خو طالبانو په یویشتمه پیړۍ کې ټول هیواد په څو ملایانو او طالبانو چې د لوست او زده کړو کچه یې په ځانګړي ډول په سیاست او دولتداري کې په نشت کې حسابیدل، اداره کاوه او د ملا محمد عمر هره خبره د کاڼي کرښه وه. کله چې د ۲۰۰۱ زکال د اکتوبر پر (۷) نیټه پر افغانستان د هوا څخه برید پیل شو، عبدالحي مطمین حالات داسې بیانوي خو زه یې لنډیز وړاندې کوم:« د اکتوبر پر اومه نیټه د خپل کور څخه را روان وم چې د الوتکو درانه ږغونه مې واوریدل په وارخطایي مې ځان دفتر ورسولو خو هر څه مات او ړنګ ښکاریدل لنډه دا چې د طیب اغا سره مې په مخابره کې خبري وکړي او نوي قرارګاه ته ورغلم. هغوي را ته وویل چې د ملا محمد عمر کورنۍ ارغنداب ته استول شوي خو خپله ملاصاحب نه غوښتل د استوګنځي څخه را ووزي دلیلی یې دا

و چې کوم ځای مرګ را ته ليکلي وي هغه به کيږي ولې موږ په ډيرو زاريو او ننواتو راويستي.» (۱۶ ص، ص ۲۷۰ ـ ۲۷۲)

د هيواد په ګوټ ګوټ کې د شمالي ټلوالي په مرسته امريکايانو ډير مرګوني هوايي بريدونه وکړل، ځيني زلميان يې د طالبانو په نوم بنديان او ډير شمير يې د توپونو او بريدونو خوراک شول خو په دغه بريد کې پاکستان خپله سياسي لوبه مخته يووړه. ستاسو پام (په افغانستان کې د امريکا پټې موخې او لوڅ جنايتونه) کتاب ته چې ابراهيم نعيمي ليکلي دي، اړوندې برخې ته را اړوم:«د پاکستان لوړ پوړی افسران او د پاکستان د څارګرۍ ادارې غړي د واشنګټن په تاييد د طالبانو او القاعده سره يو ځای شوي وو. د بهرني جنګياليو لويه برخه عدالت ته و نه سپارل شوه بلکې د امريکا د دفاع وزير، دانالد رامسفلډ په امر پاکستان ته په الوتکو کې واستول شول. په حقيقت کې د جنرال پرويز مشرف د فشار په اثر امريکايان حاضر شول چې هوايې پل جوړ او زياته برخه پاکستان ته وليږي ځکه د پرويز مشرف سياسي ژوند ته خطره متوجه وه.» (۲۱ص۱۱۱)

پورته موضوع د پاکستان مشهور ليکوال احمد رشيد هم په خپل کتاب کې داسې ليکلي ده: «پاکستان په کندوز کې له لويې لانجې سره لاس و ګريوان و. د آی اس ای هغه افسران او سرتيري چې په کندوز کې د طالبانو د مرستې لپاره ورغلي وو، بند پاتې وو. هغوی ته د سپټمبر له يولسمې وروسته ويل شوي وو، چې افغانستان پريږدي او دوې مياشتې فرصت يې درلود. خو هغوی پاتې شول څو له طالبانو سره اوږه په اوږه جګړه کې ونډه واخلي. مشرف له بوش سره پر ټليفون خبرې وکړې. له هغه يې وغوښتل چې د امريکا پوځ دې هوايي بمبارئ ودروي او پاکستان به خپل کسان د جګړې له سيمې د الوتکو په مرسته بهر کړي. بوش او د هغه مرستيال چيني په دې موضوع هوکړې ته ورسيدل. دا عمليات پټ پاتې شول او آن د کابينې ډير غړي هم پرې خبر نه شول.» (۱۹ ص ۱۴۱)

که پورته معلوماتو ته ځير شوو په څرګنده توګه د پاکستان ملاتړ د طالبانو څخه را په ګوته کوي د بل لورې امريکايان هم د آی اس ای د جنګياليو شتون د طالبانو په ليکو کې د پوښتنې وړ نه ګڼي پرته د کومې ستونزې هوايې پل جوړه وي چې پاکستانيان، د القاعده يو شمير غړي او هم ځيني طالبان د فرصت څخه ګټه اخلي. په افغانستان کې د پاکستان د بربنډې لاسوهنې نور کره اسناد هم شتون لري چې وروسته به بحث ور باندې وکړم.

د کندهار د تسليميدلو لپاره د ګل اغا شيرزي په لارښوونه امريکايان ليوال وو چې سختي بمباري ور باندې وکړي خو د حامد کرزي په هڅو او د ملا نقيب په مرسته د دغې سترې فاجعې مخه ونيول شوه، د موضوع د روښانه کولو لپاره ابراهيم نعيمي

د خپل کتاب په حواله لیکي:«حامد کرزي د ملا نقیب سره اړیکې نیولي وي چې طالبان قانع کړي تر څو په سوله ایزه توګه د کندهار ښار څخه ووزي. دا چې طالبان او د دوی عرب ملګري د کندهار ښار څخه سالم ووتل، د حامد کرزي او ملا نقیب کار وو. که طالبانو او عربانو مقاومت کړي واي موږ کافي جنګي قوه نه درلوده . پایله به دا وای چې امریکایانو د شمالي ټلوالي په مرسته د طالبانو مقاومت مات کړي واي چې د وژنو او د ښار د ورانولو سبب کیدي. داسې یو حالت به د وسلوالو مخالفینو تر مینځ د یوالي سبب شوي واي.» (۲۱ ص ۱۰۹)

په نورو ولایاتونو په ځانګړې توګه په شمالي ولایتونو کې د طالبانو انساني تلفات ډیر زیات وو ځکه دوی د جګړې عمق او قوې ته هیڅ سوچ نه کولو خو کندهار د دغه حالت څخه بچ شو.

کله چې امریکایان برلاسي شول نو طالبانو د پاکستان سره د پخوا په شان تودې اړیکې درلودې ځکه پاکستان غوښتل چې د طالبانو په واسطه خپلې ګټې وساتي او د امریکایانو څخه امتیاز تر لاسه کړي چې دا چاره تر اوسه دوام لري. احمد رشید په دې اړوند لیکي:«د ۲۰۰۱ زکال په ژمي او ۲۰۰۲ زکال په سر کې طالبان له افغان خاورې د پاکستان خاورو ته په وړو او لویو موټرو، موټرسایکلونو، ټراکټرونو، اوښانو، اسونو او آن په پښو وواښتل. شاوخوا لس زره جنګیالي له خپلو وسلو سره یو ځای په کندهار کې بند پاتې وو. له دې طالبانو ډیری یې پاکستان ته د تیښتې لپاره نه راتلل، ځکه د هغوی کورونه د بلوچستان په کمپونو او نورو ځایونو کې وو. .. هغوی چې پاکستان کې کورونه نه لرل، د پاکستاني افراطیانو، یاغیانو او د پاکستان د جمعیت العلماء ډلې له لوري ورته کمپلې، پاکې جامې او د پیسو بنډلونه ورکول کیدل. له افغانستان سره پر پوله چمن (ډیورنډ کرښه) کې به د آی اس ای مامورینو د سرحدي ځواکونو او د ګمرک د مامورینو تر څنګ د طالبانو هرکلی کاوه. مشرف نه غوښتل دا طالبان ونیسي یا یې له هیواده بهر وباسي، ځکه هغوی له پوځ سره له دوو لسیزو ملګرتیا لرله او د پوځ له لوري ورته روزنه ورکول کیده... په راتلونکو پنځو کلونو کې هیڅ یو طالب قوماندان هم د پاکستان له لوري امریکایانو ته تسلیم نه کړای شو.» (۱۹ ص ۳۲۰)

که څه هم پاکستان هر وخت د پاکستان اړیکې د طالب مشرانو سره نه مني خو احمد رشید پاکستاني تکړه ژورنالیست دي چې د پاکستان د اړیکو څخه پوره خبر دي د طالبانو او پاکستان د نژدي اړیکو څخه پرده پورته کوي البته دا هم نه پټوي چې پاکستان او پوځ د طالبانو څخه د افغانستان پر ضد د یوې وسیلې په توګه کار اخیستي. که څه هم عبدالحي مطمین د ملا محمد عمر راتلل پاکستان ته یوازې یو ځل د ټپي کیدو په وخت کې مني خو احمد رشید د ملا محمد عمر په تړاو لاندې

 څرګندونې کوي:«د ۲۰۰۲ زکال په ژمي کې ملا محمد عمر د پاکستان کويټې ښار ته راغی. آی اس ای هغه ته ځای ورکړ او جمعیت العلماء اسلام ډلې ته يې د هغه پالنه وسپارله، ځکه د بلوچستان صوباني حکومت هم د همدې ډلې په لاس کې و. ملا محمد عمر په څلورو سويلي ولايتونو، هلمند، کندهار، روزګان او زابل کې څلور طالب قومندانان په دندو وګمارل. ملا برادر اخند، چې د طالبانو د واکمنی پر مهال د دفاع وزارت مرستيال و، ملا اختر محمد عثماني، چې د طالبانو د واکمنۍ پر مهال د قول اردو مشر و، ملا داد الله چې د طالبانو د واکمنۍ پر مهال د جګړه يزې کربښې او اردو مشري يې پر غاړه وه او ملا عبدالرازق چې د طالبانو د واکمنۍ پر مهال د کورنيو چارو وزير و. دې څلور طالب قومندانانو له اسامه بن لادن سره نږدې اړيکې لرلې او د نړيوال جهاد پر مفکوره يې باور درلود. ملا محمد عمر عثماني خپل ځای ناستی وټاکه. هغه ته يې وويل، چې تر مرګ وروسته به يې چارې پر مخ وړي. ملا عبدالرزاق ته يې د استخدام او مالي چارو مشري وسپارله، هغه به مسجدونو او مدرسو ته سفرونه کول او هلته به يې افغانان هڅول، چې له نوي جهاد سره يو ځای شي.» (۱۹ ص ۳۲۲)

د احمد رشيد د څرګندونو څخه ښکاري چې پاکستان نه يوازې طالب لوړ پوړو ته د امن چاپيريال برابر کړي وو خو د افغانستان او امريکايانو پر ضد يې د نوی جهاد د پيل د تنظيم په چارو کې هم مرسته ور سره کول.

**ولې په افغانستان کې طالبان يو ځل بيا غښتلي شول؟**

دا چې ولې طالبان د دوهم ځل لپاره د جګړې په ډګر کې پياوړي شول، ډير دلايل لري چې د پاکستان د رول څخه سترګې پټولای نه شو چې پورته مې لږ رڼا پر واچوله خو نورې انګيزې او علتونه يې هم درلودل چې په لنډه توګه (د امريکا پټې موخې او لوخ جنايتونه) کتاب ته ستاسو پام را اړوم:«امريکا د بن تر کنفرانس وروسته پر طالبانو برى په خوښيو ونمانځه، حامد کرزي د انتقالي حکومت مشر اعلان شوو، په وزارتونو کې غوښينه برخه د شمالي ټلوالي په لاس کې وه. سر بيره پر نورو وزارتونو دري امنيتي وزارتونه او د بهرنيو چارو وزارت يې هم په ولکه کې وو. شمالي ټلوالي، حزب وحدت، د سياف ډلې «اتحاد اسلامي» او نورو ډلو مخکې لا خپلو وتلو قومندانانو ته د جنرالي رتبې ورکړي وي. دا مهمه نه وه چې مدرسه يې لوستي او که نالوستي وو، ډګرجنرالي او سترجنرالي رتبې ورکړل شوي وي. نو ځکه پرته د وزارتونو څخه په امنيتي او ملکي چوکيو هم ډير ونازول شول. سره د دې چې امريکايي پوځونو د جګړې په پيل او وروسته کې ډير خونړي بريدونه کول ولې امنيت په ټوليزه توګه تأمين وو. ولسونو د امنيت او هوسا ژوند هيلې درلودې. ورځ تر بلې امريکايي او لويديزو پوځونو پرته د کم دليل څخه د

خلکو په ازارولو او وژلو بوخت وو. د کرزي د حکومت لوړ پوړو چې د نیویمو کلونو ښامار جګړه ماران وو، د بهرنیانو سره اوږه په اوږه د ولسونو د شتمنیو په چور او تالان بوخت وو. د خلکو پر ناموس باندې تیري، د مځکو غصب، اداري فساد، رشوت او د پیسو اخیستلو له پاره د طالب په نوم د بی ګناه خلکو زندان ته اچول ورځنی معمولي کار و. ما د ۲۰۱۲ ـ ډسمبر څخه تر ۲۰۱۷ زکلونو پورې د ښځو د تیري په تړاو اسناد راټول کړي چې د جنسي تیریو، تاوتریخوالي، د ښځو د پزې، غوږونو پریکول او وژلو په ګډون په زرګونو پیښې شوي دي چې د امریکایي اشغال او ډموکراسی پایله یې ګڼلای شو، دا ځکه د امریکایي اشغال پایله ګڼم چې پخواني جګړه مار یې ولس ته ور خوشې کړي چې څه یې زړه غواړي هغه کوي. په هره پیښه کې د غیري مسولو جګړه مارو چې په یوې یا بلې جګړه ماري ډلې پورې اړه لري، لاس وي. امریکایي پوځیانو هم د جهادي مافیاء په څیر په غیري اخلاقي کارونو کې تر غوږونو ډوب وو.» (۲۱ ص ۱۴۷)

د امریکایانو او جهادي مافیا په تړاو ډیر لاسوندونه شته چې افغان ولس یې اړ ایست چې د طالبانو څخه پناه وغواړي او د هغوی په لیکو کې ځانونه تنظیم کړي. جهادي مافیاء د مځکو په غصب، د اداري فساد په تقویه کولو، د بیوزلو ښځو پر عزت تیري او نور ډیر جنایتونه وکړل. امریکایانو د شپې د تلاښیو او وژنو سربیره په هوایي بې مسولیته بمبارونو کې ډیر بې وزله افغانان، ښځې او ماشومان ووژل چې دا پروسه اوس تر پخوا ډیره ګړندي پر مخ بیایي. د ټرامپ د نوي ستراتیژي د پیاده کولو سره جګړه او بمباردونه تر پخوا ډیر شوي دي، دا هم ویل کیږي چې د کرایې قاتلانو (بلک واټر) شخصي کمپني اجیر امریکایان به هم افغانستان ته را ولیږي. دا قاتلان د هیڅ بشري قانون رعایت نه کوي چې په عراق کې ډیر زیات جنایتونه وکړل. د دې ټولو خبرو تر څنګ امریکایي سرتیري په ډیره لوړه کچه په اخلاقي فساد اخته دي چې د خلکو غوصه یې ډیره پارولي ده. هغه وخت چې د بګرام، کندهار او نور زندانونه د امریکایانو په واک کې وو په زرګونو بیګناه افغانان یې په بیرحمانه توګه شکنجه کړل او حتا د افغاني کلتور سره په ټکر کې د بندیانو سره غیري انساني چلند کاوه یاني بندیان به یې لوڅ کړل او امریکایي ښځینه افسرانې به هم لوڅې ورته ګرځیدلې.

زه غواړم یو ځل بیا د احمد رشید د کتاب څخه د پاکستان پر رول بحث وکړم. احمد رشید لیکي: «تر ۲۰۰۲ زکال وروسته کله، چې په پاکستان کې ټاکنې تر سره شوې، ځکه خو پاکستان د تښتیدلو طالبانو ملاتړ لا پسې قوي شو. جمعیت علماء اسلام ډلې په ختیزو سرحدي ولایتونو او بلوچستان کې واک واخیست. جمعیت العماء اسلامي ډلې په ۱۹۹۴ زکال کې د طالبانو په راپورته کولو کې مرسته کړې

وه... د دولت امکانات اوس د طالبانو په لاس کې وو. آن د وزیرانو په کچه ور سره مرستې کیدې... د جمعیت العلماء غړي او د بلوچستان د کرنې وزیر مولانا فیض الله، د بلوچستان د اطلاعاتو وزیر، حفیظ حسین شرودي يې مهم همکاران وو. مولانا نورمحمد د کویټې د شالدرې مدرسې مشر و، چې په ۱۹۹۴ زکال کې يې د رژیم د نیولو لپاره طالبان د جګړې لپاره افغانستان ته واستول. د دې مدرسې مرستیال مولانا عبدالقادر را ته وویل:(موږ په دې ویاړو، چې ، چې طالبانو د همدې مدرسې سرچینه اخیستې او موږ د هغوی لپاره تر خپله وسه هر څه کوو او امکانات ورته برابرو).» (۲۱ ص ۳۲۳)

د پورته لاسوندونو پر بنسټ په څرګنده ټکو ویلای شو چې د اوسنۍ جګړې د دوام اصلي عامل پاکستان، د امریکایانو او جهادي مافیاء د ناوړو کړونو پایله ده چې زموږ ولس په وینو کې لمبیږي، میندې بورې او خویندې بې وروره کیږي.

په افغانستان کې جګړه ورځ تر بلې پیچلي پړاو ته ننوزي، امریکایان د سیمې لپاره د راتلونکې لپاره ستراتیژي لري او غواړي دا ستراتیژي د افغانانو په قربانینو باندې بریالي کړي.

د ۲۰۱۷ زکال د نومبر د میاشتي په (۲۴) نیټه د امریکا ولسمشر ډونالد ټرامپ په یوه تصویري مرکه کې امریکایي سرتیرو وویل:«غواړم په نیغه امریکایي سرتیرو ته په افغانستان کې ووایم. په تیرو وروستیو میاشتو کې چې کوم صلاحیت ما تاسو ته درکړي، هر څوک ستاسو د بریالیتوبونو په تړاو بحث کوي. ما ویلي چې غواړو د بریالیتوب لپاره وجنګیږو، له دې وروسته موږ یوازې د پاته کیدلو لپاره جګړه نه کوو. تاسو واقعاً په ورستیو درو، څلورو میاشتو کې جهت ته بدلون ورکړي دي. (سپوتنیک دري)

د ټرامپ د خبرو څخه ښکاري چې جګړه اوږده ده خو د بل لورې طالبانو هم د پخوا په پرتله څو برابره د جګړې ډګر تود ساتلي دي چې پایله د مظلومو افغانانو وژل دي. امریکایان ډیرې وحشیانه بمباري کوي خو طالبان هم د افغانانو په وژنو کې تر امریکایانو پاته نه دي. هیڅ لورې د بیګناه کسانو د وژلو پروا نه لري. په ریښتیا هم د ۲۰۱۷ زکال د پیل څخه انساني تلفات ډیر زیات شوي دي په ځانګړي توګه د افغان امنیتي قواو تلفات د باور وړ نه دي. په ډلو ډلو افغان سرتیري وژل کیږي، د یو راپور پر بنسټ په تیرکال یاني (۱۳۹۵ ل.ل کال) کې ۶۷۰۰ افغان امنیتي ځواکونه ووژل شول، چې ډیر يې پولیس وو. د بل لورې داعش ډله ورځ تر بلې پیاوړي کیږي د ځینو خبرونو پر بنسټ د داعش ډله اوس د هیواد په شمالي ولایتونو کې ډیره پیاوړي او شمیر يې (۲۰۰۰۰) تنو ته رسیږي ولې باید ووایم چې د شمیرې په تړاو کره اسناد نه لرم.

د ۲۰۱۷ زکال د نومبر په میاشت کې د ملګرو ملتونو عمومي غونډه وشوه. په غونډه کې د روسیې استازي لاندې ټکي چې د سپوتنیک خبري سرویس خپاره کړي دي، د پاملرنې وړ دي: «په ملګرو ملتونو کې د روسیې دایمي استازي، واسیلي نبنز غوښتنه وکړه چې باید طالبان په ترهګرۍ لیست کې شامل شي او دا ادعا یې هم رد کړه چې ګواکې روسیه د طالبانو سره د وسلو مرسته کوي. نوموړي وویل چې یوازې روسیه وه چې په ترهګري لیست کې د طالبانو د ډلې غوښتنه کول. نوموړي د افغانستان پر اوسنۍ امنیت وضعیت اندیښنه وښوده او علاوه یې کړه چې د داعش ډله ورځ په ورځ په افغانستان کې پیاوړي کیږي.»

د پورته مطالب د بیان وروسته نوی حیرانونکي خبر ولولئ:« رهبر طالبان شمال کي است؟ امروز روسیه از عطا نور حمایت کرد. روزنامه روسیه.

۱۳۹۵ شهریور ۴, پنجشنبه

**روزنامه روسی، تشکیلات طالبان روسیه را فاش کرد**

فهرستی که روسیه از طالبان ارایه کرده، همه اش در حوزۀ روسیه است؛ فرماندهانی که طالبان خاص خود را دارند، همه اش علیه پاکستان و عربستان اند واین هزاران طالب می توانند هزار سال علیه داعش بجنگند تا اسلام گرا های بربری به روسیه و ایران نزدیک شده نتواند.

**حامیان مالی طالبان در افغانستان به خصوص در سمت شمال!**

روزنامه گابرک چاپ روسیه نگاشته که امروز همه طالبان تحت فرمان ملا هیبت الله نیستند و در جریان گزارش خود چنین اضافه کرده:

عطا محمد در حدود ۳۰۰۰ طالب دارد.

امان الله گذر ۲۴۷۰ طالب دارد.

بسم الله محمدی ۱۸۵۰ طالب دارد.

ادیب فهیم ۱۲۰۰ طالب دارد.

محمد محقق ۲۵۴۰ طالب دارد.

فضل هادی مسلمیار ۱۵۰۰ طالب دارد.

اسماعیل خان ۲۲۰۰ طالب دارد.

جنرال ملك ۷۰۰طالب دارد.

رووف ابراهیمی ۴۰۰ طالب دارد.

اینها افرادی را حمایت نموده بنام طالب حمایت مادی و مالی مي کنند تا به اعمال غیر مشروع و اهداف غیر انسانی شان دست یابند.

بالفرض اگر ملا هیبت به پروسه صلح بپیوندد و همه سلاح و مهمات خود را تسلیم دولت کند باز هم ریشه طالب خشك نخواهد شد.

طالبان دیروز از ملا عمر دستور مي گرفتند ولی امروز نمیتوانیم از چنین وضعیتی سخن زد. طالب امروز ریشه مافیایی افراد بلند رتبه دولتی دارد که خاتمه دادن به این مافیا ، کار سهل نیست.

**بیشترین طالب امروز به فرمان عطا محمد فعالیت مي کند.**

ما پورته خبر په پښتو ژباړلي نه دي ځکه دا خبر له یوې خوا حیرانونکي خو د بل لورې تر ډیره باور ور باندې لرم ځکه د هیواد په مهمو ځایونو کې ځانمرگي بریدونه دا جوته کوي چې د طالبانو د کړیو سره د دولت په دننه کې ډیر لوړپوړي چارواکې اړیکې لري. پرته له دې څخه په داسې ځایونو کي چې ډیرو لوړپوړو دولتي چاروکو ته یي هم ورتلل ستونزمن وي خو بیا هم د طالبانو ځانمرگي د وسلو ډک موټر هلته دننه کولای شي. راتلونکي به واقعیتونه بربنډ کړي.

شک نشته چې د داعش ډلې په ننگرهار کې د خلکو پر ضد ډیرې ناروا کړنې کړې او لا هم دوام لري. د ډیرو لاسوندونو پر بنسټ امریکایان غواړي چې داعش ډله د افغانستان شمالي ولایتونو ته انتقال تر څو روسیې ته سرخوږي جوړ کړي. دا ډله که څه هم د اسلام تر بیرغ لاندې فعالیتونه کوي خو داسې کړنې سرته رسوي چې انسانیت ور باندې شرمیږي. د ۲۰۱۷ زکال د نومبر په (۲۴) نیټه په مصر کې د جمعې د لمانځه پر وخت پر یو جومات ځانمرگي برید وشو چې تلفات یې تر ۲۰۰ نفرو زیات دي، ویل کیږي چې دغه برید هم د داعش ډلې لخوا شوی دي.

په افغانستان کې هم پر جوماتونو بریدونو رواج موندلي دي، دا ځل د داعش ډلې په کابل کې د غبرگولي ۲۵مه ۱۳۹۶ل) په شپږمه امنیتي حوزې اړوند د دشت برچي په سیمه کې د شیعه گانو پر یوه جومات چاودنې درنه مرگ ژوبله واړول. پرته له شکه دا ډول بریدونه د سني او شیعه مذهبونو تر مینځ د نفاق اچونې موخه لري. هر څه چې دي افغانستان او نړۍ د ترهگرو او بنسټپالو تر گواښ لاندې ده.

د نومبر په میاشت کې د اجرایي ریس دوهم مرستیال د افغانستان په استازیتوب ایران ته د محبانو د غونډې د گډون د پاره ولاړي. په غونډه کې وویل:« په سوریه کښی افغانانو په جگړه کښی گډون کړی، زه دا ستایم او ملاتړ یی کوم ) همداسی یی

په سوریه کښې د فاطمیه د لښکر مشر او د لبنان د حزب الله مشر دکفارو پر ضد د اسلام سا لار او برادر بزرګ و با له»

سره د دې چې افغان ولسمشر او اجرایه ریس دا ډول څرګندونې د افغنستان سیاست و نه ګڼي او د محقق شخصي نظر یې معرفي کړي خو بیا هم دا ډول ویناوې د شیعه او سني ډلو تر مینځ تاوتریخوالی زیاتوالي شي چې د افغان ولس سره ستره جفاه ده. د پورته موضوع په تړاو **د حزب اسلامي مشر ګلبدین حکمتیار** د الجزیرې تلویزیون سره په مرکه کې وویل:« متأسفانه ایران د افغنستان د مظلوم ولس له فقر او جنګي حالت نه په استفادې سره، په وړیا او ارزانه بیه جنګیالي استخداموي ، هم یې په افغانستان کې د خپلو ګټو لپاره جنګوي او هم یې بهر سوریې او عراق ته لیږي. شمیر یې هم لږ نه دی، نږدې ۳۰۰۰۰ جنګیالي یې په وړیا بیه جګړو ته لیږي.»

**په اروپا کې پر ځوانانو د بنسټپالي اغیزې**

دا بحث ډیر خواشینونکي دي ځکه هره افغانه کورنۍ په ډیرو ستونزو تر لویډیزو هیوادونو ځانونه او کورنۍ را رسولې دې. ډیرې کورنۍ په سیندونو کې غرق شول، د قاچقچیانو په واسطه یې د بدن غړي پلورل شوي دي. هر کډوال ځانته د کړاونو ډکه کیسه لري او زه نه غواړم د کډوالو د کړاونو کیسې بیان کړم. زما موخه دا ده چې په دومره ډیرو ستونزو تر بډایو هیوادونو را ورسیدلو او د خپلې کورنۍ سره هم یو ځای شولو نو اړینه ده چې د دغه فرصت څخه سالمه ګټه واخیستل شي. په تورو کارونو د ځوانانو مشغولول چې ګواکې ډیره شتمني به ټوله او په افغانستان کې به ښایسته کورونو رانیسو، د ځوانانو د راتلونکي سره لویه جفا ده. اصلي دلیل دا دي چې ډیر کم شمیر او یا هم هیڅوک به بیرته زړه ښه نه کړي چې جګړه ځپلی هیواد ته ستون شي. دا فورمولا که پر دوهم او دریم نسل تطبیق کړو، هیواد ته د پلار د شتمنیو د ساتلو لپاره دوباره تګ ناممکنه ښکاري. هغه دلیل چې ځوانان وهڅوي چې بیرته خپل هیواد ته ولاړ شي د لوړو زده کړو درلودل دي. که یو ځوان د علم په ګینه ښکلي شوي وې او په خپله ټاکلي څانګه کې وکولای شي چې مظلومو ولسونو ته ښه خدمات وړاندې کړای شي نو څرګنده ده چې لومړي انتخاب به یې خپل پلرنی هیواد وي. موږ وینو چې د خیریه بنسټونو بهرنیان جګړه ځپلو هیوادونو ته د خلکو سره د مرستو لپاره ځي، ښه بیلګه یې د سرحد څخه دباندې ډاکټران دي چې په دغه چوپړ کې حتا ځانونه قربانوي. په باور ویلای شم چې زموږ راتلونکي نسل به هم دا ډول احساس ولري که په یوه علمي څانګه کې تخصص ولري.

په اروپاه کې هم د بنسټپالئ او افراطیت سیوري غوړیدلي دي چې ځوانان د مچیو په څیر پر راټولیږي. دلته زه یوازې د افغاني ځوانانو او والیدینو په تړاو بحث کوم. زموږ ډیر والیدین له دې ډار څخه چې خدای مه کړه چې کلتور، دین او اسلامیت به د لاسه ورکړو نو ځوانان د زده کړو پر ځای ډیر د جوماتونو ورتللو ته هڅوي. دا ډیره ښه خبره ده چې په پردی هیوادونو کې جوماتونه ولرو، د مړو د فاتحو او د ژوندو د دوعا ویلو ټاکلي ځای شتون ولري. تر نیمې پیړې مخکې موږ افغانانو ته د خوښیو او غمونو د تسلیت او راټولو ځای جوماتونه وو. پنځه وخت لمونځ، د کلي د ملا څخه د دیني فرایضو زده کول یو دود و، چې د کلي ماشومان به جومات ته ورتلل او هغه دیني زده کړې به یې کولې چې خپل ورځني عبادت ور باندې وکړای شي. اوس زمان بدل شوي دي، جماتونه د پخوا په څیر نه دې. په ډیر جوماتونو کې د دې پر ځای چې دیني فرایض تدریس شي ځوانان خطرناکو چارو ته هڅول کیږي. ډیرې بیلګې شته چې ځوانان د ترهګرو ډلو سره اړیکې پیدا کوي، علمي زده کړو ته شاه ګرځوي او د جهاد په لټه کوي. والیدین اګاهانه او یا غیري اګاهانه خپل تنکي ځوانان داسې چاپیریال ته ټیل وهي چې را ایستل یې ناممکن بریښي. د الله (ج) د عبادت پر ځای د شهادت په تړاو ورته تدریس کیږي چې زه خپله د داسې یوې موعظې شاهد یم. د والیدینو پر ضد تحریک کیږي، علمي زده کړې د کفر په مانا ورته تعبیریږي. نن په لویدیزه اروپا کې د زرګونو ترهګرو پیښو شاهدان یوو چې په ډیرو پیښو کې دغه ځوانان چې مغزونه یې پریولل شوي وي، ګډون لري.

دا ستونزه په نورو ملیتونو کې ډیره وړاندې تللي ده خو په افغانانو کې هم تندلاري د ودې په حال کې ده چې اصلي دلیل یې د والیدینو غیري اګانه هڅونه ده. داسې والیدین شته چې خپل د عمر ډیره برخه یې په عصري او موډرن ژوند کې تیره کړې خو اوس یو ځل د کوم نامعلوم ډار څخه اولادونه په تنګ چاپیریال کې تربیه کوي. باید په څرګنده ټکو ووایم هغومره چې د افغانستان په دننه کې د ځوانانو د تیر ایستلو چانس دیر دي او بنسټپالي د پرمختګ په حال کې ده په همدغه کچه په پرمختللي اروپا کې هم ورته خطرونه شته چې ډیر ځوانان یې د زده کړو څخه راګرځولي او د بنسټپالئ لاره یې خپله کړې ده.

د ځوانانو د مغزو پریولولو او بنسټپالي ته د تشویق یوه بیلګه ولولئ: سرچینه: بی بی سی ۲۰۱۷/۱۱/۲۶ زکال. « د داعش یوۀ قومندان مېرمن خپله کیسه کوي، تانیا جورجلاس: زموږ ذهنونه یې له بوږونکو تصویرونو ډک کړي وو، تانیا جورجلاس چې له ختې برتانیوئ ده او له خپل امریکایي مېړه سره پر انلاین اشناه شوې وه. هغې خپلې لومړنۍ زده کړې په لندن کې کړې دي. تانیا وایي په دې خاطر په ۱۷ کلنئ کې مذهبي شوه چې غوښتل یې یوه ځانګړې پیژندګلوي پیدا کړي، په همدې

خاطر يې له سخت دريځو کسانو سره ناسته ولاړه درلوده چې په وينا يې همدې کسانو يې ليد لورى او ايډيالوژي بدله کړه.

«زموږ ذهنونه يې له بوږونکو تصويرونو ډک کړي وو، موږ ته به يې مثالونه راکول چې په بوسنيا کې څه پېښ شول، داسې خبرې به يې راته کولې چې موږ د جرم احساس کاوه او موږ ته يې ويل چې بايد يو څه وکړو.»

په ۲۰۰۵ م کال په لندن کې په ترهګريزو بريدونو کې د تانيا يوې ملګرې او همټولګۍ «شهارا» ووژل شوه، خو له دې سره سره هغې دا بريدونه روال بلل، دا هغه وخت و چې تانيا له جان جورجلاس سره چې امريکايي و، واده شوې وه. تانيا له جان جورجلاس سره چې اسلام يې منلى و، پر انلاين اشناه شوې وه. تانيا وايي «جان جورجلاس ښايسته هوښيار سړى و او د هغې ورسره مينه وه.»

تانيا له واده وروسته له خپل مېړه سره امريکا ته لاړه، او وروسته له هغه چې په عربي نړۍ کې پاڅونونه وشول دواړه له خپلو بچيانو سره مصر ته لاړل، تانيا وايي جان فکر کاوه چې د ماشومانو د لويولو لپاره مصر ښه ځاى دى، خو تانيا له دې خبرې سره موافقه نه وه، هغه وايي:

«يوه ورځ زما زوى کور ته راغى او په لاس کې يې يو مصنوعي ګرنيټ و، ما ته ډېره غوسه راغله، پخلنځي ته لاړمه او چاړه مې واخيسته او جان ته مې وويل هېڅکله بيا زما له بچيانو سره داسې کار ونه کړې، زه نه غواړم چې بچيان مې له وسلو سره اشنا شي.»

په ۲۰۱۳ز کال کې جان پرېکړه وکړه چې له خپلې کورنۍ سره سوريې ته لاړ شي. په دغه وخت کې تانيا د څلورم ځل لپاره ميندواره وه. تانيا وايي په سوريه کې يې په ناوړه شرايطو کې ژوند کاوه.

«په هغې ودانۍ کې چې موږ اوسېدو کړکۍ يې الوزول شوې وې، دا د پخوانيو پوځيانو کورونه وو، هر شپه به مو د ډزو غږونه اورېدل، ژوند ډېر سخت و، ما ليدل چې زما واده ماتېږي او نه پوهېدم چې څه وکړم.»

تانيا له خپل مېړه سره په سوريه کې درې اوونۍ تېرې کړې او په دغه وخت کې يې خپل مېړه راضي کړ چې هغې او بچيانو ته يې اجازه ورکړي چې له سوريې ووځي. همداسې وشول او تانيا له خپلو دريو زامنو سره له سوريې نه د جان جورجلاس په مرسته ووته، خو جان په سوريه کې پاتې او له «اسلامي دولت» ډلې سره يوځاى شو.

وروسته له هغه چې تانیا له خپلو بچیانو سره له سوریې ووته جان له داعش ډلې سره یو ځای شو.

له څه مودې وروسته تانیا نه پوهېده چې مېړه یې ژوندی دی کنه خو یو کال وروسته جان تانیا ته خپل احوال ورکړل.

تانیا وایي، «وروستۍ خبره چې هغه ماته وکړه دا وه چې د هغو ناسمو کړنو له امله چې زما او د بچیانو په حق کې یې ترسره کړې وې ښښنه غواړي، هغه وویل که په شپږو میاشتو کې یې بیا احوال ور نه کړ په دې مانا به وي چې وژل شوی دی، ځکه چې جګړه له هغې سیمې سره نژدې وه چې جان په کې اوسېده.»، «زه پر خپلو هغو پرېکړو پښېمانه یم چې کړې مې وې.»

## لسم څپرکئ

**د ځینو دوستانو سپاربښتنې او نظریات**

**۱ ـ د ښاغلي مجید راغستاني ګټورې تبصرې**

د ښاغلي انجینر محمد ابراهیم نعیمي نوی کتاب چي« افغانستان اونړئ د بنسټپالنې په تورجال کې» نومیږي تر ما راورسید. ښاغلي نعیمي غوښتنه کړی وه چي خپل نظر پر ولیکم:

کتاب نژدي په ۲۵۰مخونو کي لیکل سویدې .سربیره پر دې چي کتاب د حجم په لحاظ د موضوع په پرتله وړوکی ښکاري خو لیکوال هڅه کړیده چي د بنسټپالنې او اخوانیزم ریښې او تاریخچه په نړئ کي راوسپړي، د یادې ایډیالوژئ لاملونه، مرکزونه ، موخې او ملاتړي سازمانونه په ګوته کړي. لیکوال همدا راز د یادې مفکورې تاریخچه او شالید زموږ په ګران افغانستان کې مطالعه کړي ، او تر ټولو مهمه دا چي لیکوال خپله تقریباً څه کم ۵۰ کلونو راهیسي د اسلامي بنسټپالو او اخوانیانو د کړو وړو شاهد دی. د کتاب منځپانګه په زړه پوري ده او ویل یې لوستونکو ته ډیر څه ورکولای سي هغه څه چي زما اخیستنه له یاد اثر نه وه په لاندي ډول یې وړاندي کوم :

ـ ایا دا ربښتیا د یو شمیر اسلامي علماوو مفکوره وه که یې مخترعین غیر مسلمان استخباراتي سازمانونه وو؟

- بنسټپالي او اخوانیزم هدف که وسیله وه؟

- په افغانستان کي د جګړې د پیل سره دا بنسټپالي د چا په ګټه او د چا په زیان د کومو موخو لپاره استعمال سوه؟

- او بیا تر اوسه له یادې پدیدې نه څوک ډیره ګټه اخلي او څوک یې د اور په لمبو کي سوځي؟

پورته اساسي پوښتنو ته په یاد کتاب کي مستند جوابونه ویل سویدي .

که په لنډه توګه ووایم د کتاب لیکوال دا ثابتوي چي دا د بهرنیو سوپر طاقتونو د استخباراتو خصوصاً د امریکا د متخصصینو ابتکار او طرح وه چه په لومړي ځل اسلام د شوروي د سیوسیالیزم پر ضد وکاروي، او په را وروسته کې د خپلو موخو لپاره تل د خپلو سیاسي، اقتصادي او پوځي غلیمانو پر ضد استعمال کړي.

اکثراً د ترهګرو او بنسټپالو سازمانونو جوړول کله، کله خپل ایجادونکی یا بادار ته خطر وي د هغه څه دي چي امریکائیان او انګریزان ورڅخه ویره نه لري او په

ډيرو منطقي دلايلو دا خطر ردوي توجه وکړئ د يادې مفکورې يو اساسي مبتکر جوابونو ته :

د برژنسکي سره د مرکې مهم ټکي :

پوښتنه :د اسلامي بنسټپالو د ملاتړ څخه هم پښيمانه نه ياست، تاسو د ترهګرو په واک کې معلومات او وسله ورکړه؟

برژنسکي : د نړۍ د تاريخ له پاره کوم څه ډير ارزښت لري؟ طالبان او که د شوروي د امپراطوري سقوط؟ ځيني مسلمانان تحريک شول خو د اروپا ازادۍ او د سړې جګړې پای .

پوښتنه :ځيني مسلمانان تحريک شوی دي؟ خو په تکرار ويل کيږي چې اسلامي بنسټپالي د نړۍ له پاره ګواښ دي؟

برژنسکي : يوه پوچه خبره! ويل کيږي چې لويديز د اسلام په وړاندې نړيوال سياست درلودي. دا احمقانه ده. هيڅ سرتاسري اسلام شتون نه لري. اسلام ته بايد په منطقي توګه وکتل شي پرته د خطا ايستنې او احساساتو څخه. اسلام د نړۍ لوی دين دی چې يو نيم ميليارد پيروان لري. د اسلامي هيوادونو لکه د سعودي عربستان بنسټپالي، منځلاري مراکش، پوځ غوښتونکي پاکستان، مصر، لويديز ته متمايل او يا منځنی اسيا، سيکولاريستان شتون لري. بل هيڅ نشته پرته له دي چې د لويديزو هيوادونو تر مينځ د وروري مزي ټينګ کړي.»

په يوه جمله کې هغوی پوهيږي چي يو سراسري اسلامي مفکوره نسته هر هيواد او ډله خپل تعبير له اسلامه لري او دا غربي نړۍ ته د زيان پر ځای ډيرې ګټې لرې.

زه نه غواړم د کتاب پر منځپانګه ډير وږغيږم لوستونکي به د کتاب په لوستلو خپله قضاوت وکړي.

ما غوښتل په افغانستان کې د بنسټپالنې او اخوانيزم پر ځينو خواوو خپل نظر شريک کړم. په لومړي سر کې هم د بنسټپالۍ مفکوره له څو کړکيو زموږ هيواد ته راغله، يوه ډله د ايران د بنسټپالو شعيه ګانو له خوا په فعاليت بوخت وو، بله ډله د پيرانو، حضرتانو له خوا او دريم ډله يې د سيد قطب او محمد قطب له مکتب نه ريښه اخيستل، که د پيرانو او حضرتانو کيسه پريږدو او هغه شعوري او خشن سازمان چې د اخوانيزم تر نامه لاندې زموږ هيواد ته راغئ او تر ډيره د هغه وخت د مصر له اخوانيانو نه متاءثر کيده، په لومړنيو کې تقريباً په يوه خوله اخوانيان وو، که نيازی و، که رباني او سياف وو او يا ګلبدين او نور، خو په وروسته کې د جګړو په شروع کيدو سره بيلې، بيلې ډلې سوې او يقيناً يې موخې او هدفونه هم وويشل سوه.

جمعيت اسلامي د برهان الدين رباني تر مشرئ لاندې د قوماندان احمد شاه مسعود تر تاثير لاندې سو. مسعود په ظاهره د يوه اخواني مجاهد تر نامه لاندې خو په حقيقت کې لومړی شعله ای ټيپه سيکولر وروسته په يوه عقدوي ستمي او ناشيونالست بدل سو. مسعود د رباني نه په حقيقت کې د جميعت واک واخيست او هڅه يې دا وه چې د تاجک قوم په منځ کې بل تنظيم را منځ ته نسي. د شمالي او سمت شمال تاجيکان چې د نورو ګوندونو سره وو، دعوتول او که نه له منځه يې وړل. دومره جنګونه چې په پروان ، کاپيسا او د هيواد په شمالي ولايتونو کې د اسلامي حزب او مسعود تر منځ سوي دي، بې ساري دي. يوازې په شمال کې په يوه ورځ د اسلامي حزب ۲۵ قوماندانان د جمال په ګډون يې اعدام کړل، خو له دې ويرې چې مبادا رباني او نور جمعيتي اخوانيان يې کوم وخت مخالفت ونه کړي نو يې د جمعيت په منځ کې د نظار شورا جوړه کړه او مسعود د پنجشير قوماندانان عملاً د ټول جمعيت قوماندانان سول. په نظار شورا کې د پروان، کاپيسا، پنجشير، بغلان، تخار، قندوز، بدخشان، بلخ، فارياب، سرپل... قوماندانان غړي سوه او د ټولو قوماندہ عملاً مسعود په غاړه واخيستل .

يو وخت مو په پنجشير کې د مسعود يوه قرارګاه د ګوډ واحد سره چې په امرصاحب پنجشير مشهوره و، و نيول. يوه ټيپي فيته لاس ته راغله چې مسعود خپلو پلويانو ته بيان ورکوي او وايي«برادران ! ما وشما جهاد عليه کفر ميکنيم و انشاء الله پيروز ميشويم ولي از ياد نه بريم که در پهلوی اين ارمان بزرگ الاهي ما اهداف ديگر هم داريم که همه تان ميدانيد، درين روزها خبر شدم که شايد روسها بجای ببرک کارمل يک کمونست دو آتشه که از قوم اچکزائهاي قندهار مربوط دراني ها است، حاکم سازند، اينجا کار ما با مشکلات روبرو ميشود، ساختار های ارتباطی ما از هم ميپاشد و در نهايت باز يک فاشيست سر قدرت ميآيد»...

د دې فيتې يو نقل مې بيا مرحوم محمد ظاهرافق (د افغانستان د خلق ډموکراتيک ګوند د مشرتابه غړی) ته ورکړئ.

**لا په جمعيت ږغيږو**

په يوه ورځ له تاشکند نه پيښور ته راغلم سبا ته مي خيال و، کابل ته ولاړ سم، مرحوم جنرال خان اقا بانډيزی مي وليد تر روغبړ وروسته يې را ته وويل چې«که کار نلرې زه ، شهنواز تنی د دفاع پخوانی وزير ، او ډګروال غني د شيخ الحديث مولوي صاحب تره خيل پوښتنې ته ورځو ډيردلچسپه سړی دی، لوړ روحاني شخصيت دی او اوس يې د ملي تفاهم شورا د جنرال حکيم کټوازي، قوماندان عبد الحق ...سره جوړه کړې ده»... ما هم هو کړه وکړه. د شيخ الحديث مولوی تره

خيل نوم مي اوريدلی و، يو شمير مصاحبې مي اوريدلي وي خو خپله مي نه وو ليدلی.

په هر صورت د پيښور په تهکال کې د مولوي صاحب ليدو ته ورغللو په ديره او انګړ کې ډير خلک چي ښايي تر سلو به زيات وو، ناست وو. مولوي صاحب دا وخت تر ۸۰ اوښتی معلوميدئ، د يوې سترګي تکيلف يې ډير جدي و، ويل يې دوستانو او خپلوانو راته د فرانسي د تګ شرايط برابر کړيدي، ښايي ولاړ سم.

د مولوي صاحب تره خيل سره زموږ صحبت ازاد او بې پردې وو، مولوي صاحب ويل « د ګلبدين په ګډون مي ډير رهبران او قوماندانان شاګردان دي. د مولوي صاحب تره خيل دوه کيسې درته ليکم.

«د جهاد په کلونو کې آی،ايس،آی او سي،آی،ای په ګډه د جهادي رهبرانو، مشهورو قوماندانانو، ديني عالمانو يوه غونډه په کويټه کې پلان کړه، زه هم غوښتل سوی وم، هسي هم زه مريض وم بيا په الوتکه کې له پيښوره تر کويټې نور هم په عذاب سوم، له هوائي ډګر نه د پوج موټر يوه کورته ورسولم. کور ته په ورتګ مې د ميلمه پال نه غوښتنه وکړه چي ماته يوه جلا کوټه راکړه مريض يم هيڅ هم نه خورم فقط يو ساعت ارام کوم». ميلمه پال يوې کوټې ته رهنماي کړم کور ډير لوی وو ممکن ۸ يا لس کوټې يې درلودې. ما پر کټ ځان واچاوه خو دردونو او ستړيا خوب ته نه پريښودم. نيم ساعت وروسته د حويلۍ په انګړ کې ږ.غ سو، تر لږ غالمغال وروسته د کور برنډې ته دوه کسان را داخل سوه او په برنډه کي سره ودريدل، زما د کوټې يوه کړکۍ برنډې ته وه ، اوازونه راته اشنا وو، پرده مي لږ پورته کړه چي ګورم برهان الدين رباني او صديق چکري کاغذونه سره اړوي، وروسته مي واوريدل چي چکري و رباني ته وايي استاده! ټولو قوماندانانو او آمرينو زما سره تماس و نيوئ چي استاد د بلوچستان مرکز کويټې ته ځي اوس به بيا د پکتيا، پکتيکا، غزني، کندهار، فراه ... پښتنو جمعيتي قوماندانانو ته وسلې، مهمات او موټران ورکوي د دوی غوښتنه دا وه چي دا فاشيستان مه راته چاغوه. استاد رباني، صديق چکري ته په جواب کي وويل چي دوی تر تا بيعقلان دی او ته تر دوی بېعقل يې ، تاسو خو ما پريږدئ چي يو ځل هدف ته ورسيږو بيا که چا په پښتو وويل چي «څوک يې؟» يا يې د نان پر ځای ډوډۍ وويل ما مړ کړئ. اوس شرايط بل ډول دي، ګذاره په کار ده زما له طاقته ووتل او ور ږ.غ مي کړه خائينه څه دې وويل ، دوی دواړه په يوه دړدم له حويلۍ ووتل .

**د شيخ الحديث مولوي تره خيل بله کيسه**

"«د رباني او ګلبدین تر منځ جنګونه وو کابل په سخت حالت کي و، د اسلامي کنفرانس مشرتوب له سوډان هیواد سره و، د سوډان د بهرنیو چارو وزیر اسلام اباد ته راغئ، د ګلبدین او جمعیت استازي راغلي وو. د پیر سید احمد ګیلانی، محمد نبي، مولوي خالص، او نورو رهبرانو او یوشمیر مخکښو جهادي څیرو په ګډون یې را ټول کړو. زما هیر دي تراب نومیدی که ترابي د سوډان خارجه وزیر وړاندیز وکړ چي د خپل هیواد او اسلامي کنفرانس په استازیتوب راغلی یم، باید یو د حل لاره پیدا کړو، هر چا خپل نظر وړاندي کړ زما نه یې پوښتنه وکړه ما ورته په یوه کیسه جواب ورکړ، کیسه داسي وه :

«زه چي ځوان وم د افغانستان د اردو عسکر وم، هغه وخت موږ موټر او ټانکونه نه درلودل میکانیزه قوه مو (سوار یآ اسان) وو، توپونه هم اسانو کشول او پیاده هم په اسانو سپریدل. کوم وخت چي به یو لوړ دولتي چارواکی پوځي قطعي ځخه لیدنه کوله نو به مربوطه قوماندان هدایت وکړ چي یو یابو آس ښه ښایسته ځین کړئ که لوړ امر صاحب د سوارلۍ شوق کاوه چي بیا یې ونه غورځوي، نو تاسو خو موږ ته دوه یابوګان (رباني او ګلبدین) ځل کړی وو، موږ یې هم وغورځولو او تاسو هم پرې خوند وانه خیست، اوس غواړئ کوم یابو راته ځین کړئ؟ د دې خبرو په اوریدو پیر ګیلاني، محمدي او نور جګ سول چي مولوي صاحب جهادي رهبران «یابو اسان» بولي او زه هم له غونډي راووتم.»

احمد شاه مسعود په وروستیو کې د قومپرستی خبره نه پټوله په یوه بیانیه کې وایي چي «پښتانه کوچیان له بله ځایه راغلي دي، تاجیکان د دې خاورې بومي اوسیدونکي دي او ادعا کوي چي هر ځای چي اوس پښتانه اباد دي د نورو قومونو له برکته، د ارګون مرکز، د پکتیا مرکز ګردیز او د جلال آباد ... ښارونه یادوي چي په مرکزونو کې تاجیک میشت دي، ګویا ښاري ژوند پښتنو ته تاجیکانو ور ښودلی دی. دا ویډیو په یوټوپ کې هم سته.

د مجاهدینو له راتګ سره مسعود دستور ور کړې و، چي خلقیان، پرچمیان او نور دولتي کسان چي په قوم تاجیک وي بیله توپیره ورته دندې ورکړئ او داسي هم وسوه. یوه پخواني دوست مي چي وروسته مسعود ته ډیر نژدې و، را ته وویل «چي آمر صاحب مسعود د رباني سره د اوبو او بریښنا پخواني وزیر منصور هاشمي پر وژل کیدو ډیر جنجال وکړ.»

د پیښور په ډیفینس کالوني کې د سلام جان تجار په کور کې ناست وو چي صدیق چکري راغئ زه یې ورته د کویټې تاجر معرفي کړم دا وخت د طالبانو تحریک په کندهار او یو شمیر نورو سیمو کې د پر مخ تګ په حال کې وو، صدیق چکري وویل « پرون له کابل نه راغلم آمر صاحب مسعود د قوماندانانو یوې پراخې

غونډې ته په پروان کې بیانیه ورکړه او ویې ویل چې د طالبانو قوماندانان هغه پخواني پښتانه خلقیان او پرچمیان دي، ملا بورجان د شهنواز تڼي مستعار نوم دی ، جنرال علومي او جنرال فقیر د نورو ملایانو په جامه کې سوق او اداره کوي نو که غواړئ چې تاریخ تکرار نه سي او بیا ستاسو ښځې پکتیا او کندهار ته یونسي، نو دفاع وکړئ.»...

د دې خبرو په اوریدو زما ګومان په حقیقت بدلیدی چې مسعود له لومړي سره جهاد یوازې د وسیلې په توګه کاراوه .

په غرب کې تورن اسماعیل هم ورته دریز غوره کړی و، یو چا د سترګو لیدلی حال داسي راته بیان کړ :

د هرات د پل پښتون څنګ ته خلګ راټولیدل چې اسماعیل خان بیانیه ورکړي ، نوموړی د غونډې له ځای نه ۵۰۰ متره لیري ولاړ و، موږ عریضه ور وړې وه ، هلته څنګ ته یو تازي روان و، اسماعیل خان خپل باډیګارد ته وویل چې ډز پر وکړه، وله یې، باډیګارد ورته وویل تازي دی. آمر صاحب وویل پوهیږم چې تازي دی چې «زي» په آخر کې راځي پر دا سر یې ولئ که تازي وي، محمد زي وي، علیزي وي... که نورزي دا د ملت دښمنان دي .

خپل غښتلي قوماندان د هغې جملې نه علاوالدین خان او نور یې په مختلفو توطیئو ووژل ځکه چې په ختّه پښتانه وو.

زه په دې شک نلرم چې د جمعیت یو شمیر غړي به پخوا اخوانیان وو، خو وروسته د مسعود او نورو ستمیانو او قومپرستانو په مرسته یې لاره بدله کړه او جهاد یوازي وسیله او سرپوښ و.

په دې برخه کې به په حزب اسلامي افغانستان باندي تبصره ولرم، خو یادونه کوم چي ولې ما په اووګونو او اته ګونو اسلامي تنظیمونو کې یوازې جمعیت اسلامي او حزب اسلامي را واخیستل، دلیل دا دی چي د پیر او حضرت تنظیمونو کې د نړیوال اخوانیزم بیلګې ډیري نه وي. هغوی یوازي خپلو پیروانو او غربي استخباراتو ته ژمن وو. د سیاف، اتحاد ملي یوازي د وهابیت او سعودي تر نوکری پوري بند پاته سو. د مولوي خالص او مولوي محمد نبي تنظیمونه د کلیوالو ملایانو پوري محدود وو، د بنسټ پالۍ او اخوانیزم ریښې په حزب اسلامي او جمعیت په صفوفو کې په شعوري ډول تر یو وخته پاته وې او د نړیوال اخوانیزم (نړیوالي اسلامي وروړګلوۍ) پیښې یې کولې، د پاکستان د استخباراتو او مذهبي ډلو خاصه توجه هم دوی ته وه .

حزب اسلامي لکه په کتاب کي هم یادونه سوېده، د اخوانیت د لومړنیو شاګردانو په وسیله چې په راس کي یې ګلبدین حکمتیار ښایي تر «جوانان مسلمان» وروسته لومړنی بنسټ و، چې سیاسي او نظامي مبارزه یې شروع کړه. د ګوند مشر ګلبدین د یو شمیر تروریستي منفردانه حملو نه وروسته پاکستان ته ولاړ او د آی،ایس ،آی غیږ ته ولویدی. یوه بله یادونه هم کوم چې تر ګلبدین د مخه دوه نور کسان هر یو عزیز الله مشهور په حاجي دین محمد او قاضي امین وقاد لا پخوا د پیښور په بالا حصار کي د نصرالله بابر میلمانه ! وو. زه یقین لرم چې حکمتیار او ورسره ملګري چي احمد شاه مسعود هم ورسره یو ځای سو، په همغه لومړنی ورځو کې پوه سوي چي نور د اخوانیزم کیسه د استخباراتو لاس ته ولویده او کوربه هیواد ته د دوی دیني او مذهبي ایډیاوي د یوه توت ارزش هم نلري ، خو د یو سرپوښ او افغان ولس د غولولو لپاره یې همدا بنسټپالنه او اخوانیزم ور وساته .

حاجي عزیز الله مشهور په حاجي دین محمد داسي کیسه کوي:« یوه ورځ مو د پیښور په بالا حصار کې له نصرالله بابر سره غونډه درلوده، بابر، له ګلبدین نه و پوښتل چي تاسو په اوس وخت کې زموږ نه څه مرسته غواړئ چي د سردار داوود خان پر ضد خپل فعالیتونه منسجم کړئ؟ ځوان او احساساتي ګلبدین ورته وویل تاسو یوازي د ننګرهار د ۱۱ فرقې په نیولو کي مرسته وکړئ، موږ د داوود نظام چپه کوو. بابر پوښتنه ځیني وکړه که د جلال اباد فرقه زموږ په غیر مستقیم کومک ونیسئ نو بیا تاسو دا فرقه او ګروپونه کابل ته په څه ډول او څومره زمان کې رسولای سي؟ ګلبدین وویل په دوه ساعتونو کي. ما ورته وویل حکمتیاره زه د جلال اباد یم، په دوو ساعتونو کې ټویټا موټر تر کابله نه سي تلای نو ته څنګه توپونه، ټانکونه ... په دوه ساعته کې رسوې؟ ګلبدین راته وویل ته د الله ج پر مرسته او د جهاد پر کراماتو سم باور نلرې ، بابر یوازي په بریتو کې و خندل ښایي همدا ورځ وه چي بابر تصمیم ونیسي چي څوک تر تربیې لاندي راسي او په راتلونکي کي لوی کارونه ور وسپاري.»

باید ووایم په کابل کې د نجونو پر مخ د تیزاب پاشلو او د سیدال سخندان تر مرګ وروسته د حزب اسلامي ګلبدین لوی جنایت په کنړ کې د حزب د یوه غړي او قوماندان کشمیر خان ګجر په واسطه د څو تنو معلیمینو شهادت وو. وروسته بیا دندې تقسیم سوې د لغمان پر محبس حمله ، پر ارګون حمله او د مسعود په واسطه د پنجشیر پر ولسوالۍ مسلحانه حملې وې، البته دا د سردار داودخان ریاست جمهوري کلونه وو.

په کابل کې د پلان د وزیر علي احمد خرم مرګ هم پر ګلبدین تاوان و، سربیره په دې چې یو شمیر بیا وروسته د حفیظ الله امین لاس هم په یاد قتل کې یاد کړی دی خو کره شواهد تر اوسه چا ندي وړاندي کړي .

د پاکستان دښمني او موخې روښانه وي. د ډیورنډ تش په نامه کرښه په رسمیت پیژندل، د هند سره د دوستۍ لغوه کول او د افغانستان په بهرني، اقتصادي او نظامي برخو کې د پاکستان رول او امتیازات .

یقیناً د دې هدف لپاره پاکستان خپلو نویو میلمنو!څخه هیله دا وه چې د یادو اهدافو د لاس ته راوړلو لپاره باید پاکستاني ضد شخصیتونه او رژیمونه لومړني اهداف وي. کوم وخت چې د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند قدرت اخلي یقناً د ګلبدین او پاکستان تبر نوی لاستی پیدا کوي. سربیره پر دې چې ای،ایس،آی پوهیږي چې د پاچا ظاهر خان ، او سردار داوود خان طرفداران پخواني وزیران، قومي مشران د خلق ډموکراتیک ګوند سره په تضاد کې دي خو زړه دښمني نه هیروي، او د راتلونکي تشویش هم له یاده نه باسي. ګلبدین تشویقوي چې د خلق ډیموکراتیک ګوند د حاکمیت سره د مبارزې تر څنګ هغه پخواني مطرح شخصیتونه چې ډیورنډ یې نه مانه یا د پاکستان ضد وو، باید له منځه ولاړ سي. البته حکمتیار ته دا پیغام ډیر ماهرانه په بل ډول رسوي. لیستونه ورته جوړوي او ورته وایي دا هغه بانفوذه اشخاص دي چې د کامیابۍ په صورت کې بیا به د دوی تر شا قومونه ولاړ وي او ستا رهبرۍ به څوک نه منۍ، حتی د غلجي او دوراني کیسې ور په یادوي .

حکمتیار د خپل مسلحانه جګړې تر څنګ ټول هغه ملي او پخواني شخصیتونه ترور کړل چې د آی،ایس ،آی په لیست کې وو.

مجروح، سردار حمید ګل، سناتور عبد الرزاق، وزیر محمد ځدړان،الفت... او په سلګونو نور د لومړنیو قربانیانو نه وو.

د صبغت الله مجد دي زوی ذبیح الله مجد دي کیسه کوي چې « د جهادي رهبرانو او آی،ایس آی د رهبرانو په یوه غونډه کې حضرت صاحب د ګلبدین نه پوښتنه وکړه چې پوهاند مجروح دي ولي او په څه ګناه وواژه؟ حکمتیار ورته وویل ښه مي وکړل چې و مي واژه هغه چا چې مجروح مردار کړ د نورو مکافاتو تر څنګ مي خپل لاسي ساعت هم تحفه ورکړ.»عیسی محمد عصمت قانع هم څه وخت مخکي یاده کیسه کټ مټ لیکلې وه .

د ګلبدین حکمتیار مبارزه تقریباً د آی، ایس ،آی مبارزه وه، د وخت د دولت پر ضد د سختو جګړو په څنګ کې یې ملي او پاکستان ضد شخصیتونه په نخښه کول او

تروورول. وروستني قربانيان يي د کندهار د سرې کلا حاجي حبيب، د سروبي غلام حسن کړوخيل او مشهور جنرال او ملي شخصيت حکيم خان کټوازی وو .

مشهور ليکوال ژورناليست او داستان ليکونکي د امريکا غږ پخواني وياند اروابناد سعد الدين شپون ليکي چي:« د ګلبدين له تروريستي کړونو سره اشنا وم خو مخ مي چپاوه، يوه ورځ په پيښور کې د حزب اسلامي وياند قريب الرحمن سعيد را پسي راغئ او په يوه سوزکي موټر کي يې د ګلبدين اقامتګاه ته بوتلم دا وخت زه د امريکا بږغ خبريال وم. ماته خلکو ويلي وو چې حکمتيار که چا ته د خبرو په جريان کې موسکی سو(په بريتو کې يې وخندل) نو مانا دا چې د ژوند وروستی يې ده خو د خدای فضل وو پر ما په خير تيره سوه .

مولوي محمد يونس خالص د ګلبدين په هکله دوې مشهورې مقولې لرې :

١ ـ ګلبدين لکه د اور پرتوګ داسي دی که يې آغوندي کونه دي سوځوي که يې وباسې کونه دي لوڅيږي.

مانا دوستي او دښمني يې دواړه غم دی .

٢ ـ ګلبدين که د جماعت په لمانځه کې مخ ته کوو چې امامت وکړي شين آمي دي نه ملا دی نه عالم او که يې د مقتدي په شکل شاته دروو څپلي غلا کوي.

مانا نه د رهبری اعتماد پر کولای سو او نه په موږ پسي تلای سي «څپلي غلا کول» مانا له شا دي په خنجر وهي .

د دغسي شخصي خصوصياتو د آی،ايس،آی د وفاداری او اخواني مفکورې سره حزب اسلامي رهبري کيدئ .

د پاکستان د استخباراتو پخواني جنرال چې د مجاهدينو په پلار هم شهرت لري، جنرال حميد ګل په يوه ټلويزوني مرکه کې وويل « زه په اطمينان وايم چي ګلبدين حکمتيار دومره چې د پاکستان ګټو ته ژمن دی په لسمه برخه يې هم د افغانستان ګټې په نظر کې نسته.»

د کندهار دوه مشهور قوماندانان حاجي لطيف چې په حاجي بابا مشهوره و، او د اڅکزو غريب شاه چې په حاجي مغاش مشهوره و، د ډاکټر نجيب الله په وخت کې د کندهار په هوايي ډګر کې ماته (ليکونکي) ته وويل «په الله ج قسم خورو که موږ د خلقيانو يا پرچميانو پر ضد سلاح اخيستې ده، موږ د ګلبدين له ناکردو په خاطر سلاح ته لاس واچاوه.»

ګلبدين يو بل خصوصيت هم درلودئ چي د سهيل لويديزې حوزې له خلکو سره نه وو جوړ، ښايي دا به د نوموړي عقدې له ظاهرخان او داود خان سره وې که تاسو

وګوري د حزب په مرکزي شورا ، په اجرائيه هيات او په رهبري کې هيڅوخت د زابل، کندهار، هلمند، روزګان ، فراه او حتی هرات هم څوک نه وو. فقط د څه وخت لپاره يې محمد يحيى مشهور په ډاکتر حنيف د نظامي چارو مسول وټاکه هغه هم څه وخت وروسته د اجرائيه هيات له اکثريت غړو سره د حزب څخه دسته جمعي استعفاء ورکړه چې استاد سياف هغوی ته د «تاميل پړانګان» ويل. اما ولي ډاکټر حنيف د جنوب غرب حوزې په استازيتوب؟

دا ځکه هغه لومړنی په اصطلاح مجاهد او سرګروپ و چي لا نور تنظيمونه نه وو جوړ سوی، د ګوډ محبوب چي د مکتب چپراسي و، څخه شروع تر قومي مشرانو پوري يې په هر قوم کي وژنې او قتلونه په وکړل مانا هغه بيا خپلو خلګو ته مخ نه درلود. دوهم ډاکټر حنيف په داسي يوې کورنۍ پوري مربوط و چي نژدې نيکه ګانو يې هم په افغانستان پوري اړه نه درلوده. کورنۍ يې تعويذګره او په اغاخيلو مشهوره وه خو نه سيدانو په ځان ګډوله او نه هم حضرتانو او خواجه ګانو. په ټول افغانستان کي يې قومي ريښه نه وه، فقط نيکه يې د خلګو په ياد و چي ملنګ صفته او ګويا نيک سړی و او د ارغستان اديني په نامه کلي کي ميشت سوی و. هدف دا و چي بې قومه او قبيلې سړی و، هر وخت چي يې ليري کاوه اسانه وه . همداسي وسوه ، کوم وخت چې حنيف او نورو احتيجاج وکړ او د حزب له رهبرۍ نه ووتل تر آخيره د پيښور په يوه مکتب کې هغه هم د حزب اسلامي په کمپ کې د مکتب معلم او همهلته مړ سو.

حزب اسلامي او حکمتيار نه د دين سوه نه د سادين. مشهور ديني عالم شيخ الحديث مرحوم مولوي تره خيل ويل « د جهاد تر بريالیتوب وروسته د مصر د اخوان المسلمين يوه ډله راغلې وه له ډيرو جهادي رهبرانو سره يې ليدلي وو، زما سره په خبرو کي ما ورته وويل مبارک مو سه د اخوان المسلمين تهداب تاسو ايښی وو، خو لومړی بريالیتوب ته موږ ورساوه. هغوی را ته وويل چي تاسو نه يوازي اخوان المسلمين ته کوم خدمت ونه کړ، بلکه د اخوان المسلمين نوم مو په نړۍ کي و شرماوه. موږ هيڅکله د افغانستان په اصطلاح جهادي تنظيمونه د اخوان المسلمين پيرو، پلويان...نه بولو دا د شخصي، تنظيمي ګټو جنګياليان، د پرديو، د سيمې او ابرقدرتونو د جاسوسانو په توګه يادولای سوو. د مصر اخوان المسلمين ته په لومړۍ درجه کې د مصر د ولس او خلګو ګټې او عقيده اوليت لري. تاسو د امريکې د پياده پوځ په توګه له شوروي سره و جنګيداست او شوروي ماتې و خوړه، اما د شوروي په شکست غرب په راس کې امريکا دوه چنده قوي سوه. پخوا الحاد په خپل منځ کې په شخړو اخته وه او موږ ترې ګټه پورته کولای سوه اوس قدرت د لوی ښامار په خوله کي ولويد چې تر شوروي په کراتو موږ ته خطرناک دی، نو ځکه دا مبارکی امريکا ته ور کړئ نه موږ ته، او تاسو په خپل بريالیتوب او د قدرت پر سر

جګړو دا وښودله چي نه یوازي د سیاست ، اخوانیزم له الفبا خبر نه یاست د سنتي اسلام په اړه مو خپل ولس او جهانیان شکمن کړل.»

د دې یادونې نه مې هدف دا و، چي د حزب اسلامي اخوانیت یې هغه اصلي مرکز هم تائید نکړ برعکس یې دوی د پردیو او امریکا عسکر وبلل .

په دې اړه چي ګلبدین او حزب لکه جمعیت قوم ګرایي ته چي حریفان یې متهموي رښتیا مخه کړه او که نه؟ پښتون نه اخوانی سو یوازي پاکستانی پاته سو بل بحث دی .

مخکي مو وویل چي حزب اسلامي نه د دین سو نه د سادین (مانا نه یې اخوانیزم قبول سو او نه یې قوم ور پاته سو). اخوانیزم پاکستان ترې واخیست په استخباراتي لوبو یې بدل کړ، قوم ته یانې پښتنو ته ده هم چنداني علاقه نه درلوده او یقناً پاکستان خو اصلاً د پښتنو سیوری په ټوپک ویشته. مرحوم شیخ الحدیث مولوی تره خیل ویل « د مصر له اخوان المسلمین د هیاءت خبرو ډیر بد اثر را باندي وکړ دلیل مي نه سو ویلای ځکه د دوی خبري واقعیت وې، کابل د اور په لمبو کې سوځیدئ په لسګونه زره بې ګناه افغانان شهیدان او زخمیان وو، میلیونونه پاکستان، ایران، روسیې او غرب ته د تیښتي په حال کې وو، نو مي خپله وجداني دنده وبلله چي ږغ پورته کړم، له بهرنیو نړیوالو راډیوګانو سره مي مصاحبې شروع کړې، جګړې مي وغندلې. په یوه مرکه کې مې د اووګونو او اته ګونو تنظیمونو رهبران واجب القتل اعلان کړل. په سبا یې ګلبدین حکمتیار راته تلیفون وکړ چي استاده! پر ما دي د مرګ فتوا ور کړیده؟ ما ویل ما خو په کومه مرکه کې ستا نوم ندی اخیستي ، ګلبدین وویل تا د ټولو جهادي رهبرانو مرګ روا کړیدی ما ورته وویل ښه ، هو په هغوی کي خو ته لومړی کس یې چي باید په دار سې.»

د دفاع پخواني وزیر جنرال شهنواز تني را ته کیسه کوله چې:

«د کابل د خپلمنځي جګړو په وخت د حکمتیار په بلنه چهار اسیاب ته ولاړم د نورو خبرو او کیسو وروسته ما ورته وړاندیز وکړ چي دا راکټونه او توپونه پر کابل مه ور شړه، لومړی خو ډیر بې ګناه انسانان وژل کیږي، کورونه ورانیږي، ټول دولتي او ملکي تاسیسات سوځل کیږي، دوهمه خبره دا چي د یو چا زوی، لور یا خپلوان وژل کیږي وایي دا د حزب اسلامي حکمتیار په راکټونو لګیدلی دی، بد نامي ستاسو ده، که د دولت یا نورو تنظیمونو ګولۍ هم پر ښار و لګیږي وایي دا د حزب اسلامي لخوا دي، د مبارزې ډیر ډولونه دي کیدای سي بله لاره غوره کړئ. حکمتیار را ته وویل چي تنی صاحب پوهیږم چي دا تلفات او ورانۍ به زموږ په نامه ثبت وي خو موږ هم معین مشکلات لرو چاره نلرو.»

ما (ليکونکي) له جنرال تني نه و پوښتل چي ستاسو په نظر هغه معين مشکلات او ستونزې نو څه وي؟

تني وويل « مانا د مشاورينو پلان يې همداسي وو.» ماته د ضياءالحق ، اختر عبد الرحمن او جنرال حميد گل خبري را يادېږي چي «کابل بايد د اور په لمبو کې لولپه سي.» لکه لولپه چې هم سو.

د پکتيا د منگلو يو مشهور قوماندان فکر کوم فيض محمد منگل نوميده، حکمتيار ته يوه لويه غونډه جوړه کړې وه. په غونډه کې يو شمير قومي مشرانو د حکمتيار څخه غوښتنه وکړه چي« ته پښتون يې او زموږ مشر يې، په کابل کي ټول واک د جمعيت او په خاصه توگه له پنجشيريانو او بدخشانيانو سره دی دا پښتانه د خپلو حقوقو په خاطر ټول ستا تر شا درېږي، دوی متحد کړه او له حقوقو يې دفاع وکړه ته به په يوه ملي مشر بدل سې.»

حکمتيار په جواب کې ورته وويل چي« موږ په ختيځ حزبيان يوو د اسلام لپاره جنگيږو د پښتون ډرامه په جرمني کي کبير ستوری او دلته نور افغان ملتيان ډنگوي، هغوی ته ورسئ .»

يقيناً د گلبدين شخصي کرکتر ته په کتو له نورو خصوصياتو علاوه د «ارگ يا مرگ » شعار له ياده نه وو وتلی. خودخواهي ، قهرمان طلبي ، يکته تازي او ديکتاتوري د نوموړي ځانگړي خصوصيات دي. همدا دليل وو چې حزب اسلامي له همهغه تاسيس نه سختي ضربې وليدلې:

- د جمعيت او مسعود سره اختلافات د دښمنۍ او مرگ تر سرحده .

- د مولوي محمد يونس خالص جلاکيدل د حزب نيمه بدنه له ځانه سره يوړه .

- د قاضي محمد امين وقاد جنجال د حزب د رهبرۍ په سر او بيا جلا کيدل حزب نور هم کمزوری کړ.

- د مولوي محمد نبي د حرکت اسلامي سره جنجالونو او جگړو، حزب ضعيف کړ ښه مثال يې په هلمند کې د حرکت د قدرتمند قوماندان ملا نسيم اخندزاده ترور و چې وروسته په سختو جگړو واوښت او حتی ويل کيده چي د ملا نسيم ورونو د حزب اسلامي د کسانو پر سرونو يوه د ناستي صوفه جوړه کړې وه .

- د سياف په وينا د تاميل پرانگانو (چي د حزب داجرائيه هيات اکثريت غړي د نظامي مسول ډاکټر حنيف په شمول) دسته جمعي استعفاء اوله گونده وتل، حزب اسلامي بې اعتباره کړئ .

سربيره پر دې چي شعوري اخوانيانو د ګلبدين حکمتيار له کړونو سره لاره بدله کړه او له ګونده ووتل خو يو شمير يې اميدواره وه چي ښايي حکمتيار به د پاکستان سره تکتيکي روان وي خو د کابل د ناروا جګړو، بيا د طالبانو سره په شخړو کي نه يوازي همفکره ملګري ترې جلا سوه، مشهور قوماندانان يې هم ترې ولاړل. په آخير کې يو زرداد ور پاته سو، چي د هغه جناياتو نور هم ګلبدين بد نامه کړ او ناچاره د دوهم ځل لپاره له مسعود سره يو ځاى سو، د طالبانو په راتګ کابل، تاجيکستان ته وتښتيد او بيا ايران ته ولاړئ.

د بن د کنفرانس وروسته آى، ايس، آى چي د طالبانو پر ضد د امريکا غوسه ليدله فکر يې کاوه دا سيستم به نور کار ور نه کړي نو يې حکمتيار يو ځل بيا د طالبانو د يوه احتمالي بديل په توګه اسلام اباد ته ور وغوښت او د راتلونکي لپاره يې هلته وساتئ. خو دا وخت د حزب اسلامي بدنه (۹۵ سلنه) د حامد کرزي له حکومت سره په کابل کي وه، يو شمير يې وزيران، معينان، مشاور وزيران او نور يې د پارلمان او ولايتي شوراګانو غړي سوه. حکمتيار يوازي د خپلي کورنۍ سره بهر پاته سو .

د افغانستان پخواني ولسمشر حامد کرزي چي د مجاهدينو د راتګ سره سم د بهرنيو چارو وزارت سياسي مرستيال سو په يوه ليدنه کي د مرحوم جنرال يحيى نوروز، جنرال زلمي ويسا، زما ورور سردار ارغستاني په مخ کي زما د يوې پوښتني په ځواب کي داسې کيسه وکړه :

«کوم وخت چي پرخوست او مشرقي د مجاهدينو حملو زور واخيست د اکمالاتو يوه کميټه جوړه سوه چي د پاکستاني پوځ، آى، ايس، آى او مجاهدينو له استازو نه جوړه سوى وه، هره ورځ به په لسګونو لارۍ خوراکي او نور مواد جبهاتو ته ليږل کيدل. د مجاهدينو له خوا زه د هياءت مشر وم. د خوست او ژورې استقامت ته مو د حقاني او حکمتيار جبهو ته اکمالات کول، ډيرې لارۍ بار سوې. دوې، درې لارۍ يواځي لبنيات لکه پنير،شيدې،کوچ، مستې...او نور مواد وو، ما وړانديز وکړ چي دا مواد خو ډير ژر خرابيږي، ګرمي هم ده، هلته سړې خوني او يخچالونه هم نسته ښه به دا واى چي پر ځاى مو نور وچ مواد ليږلي واى. پاکستاني کرنيل راته وويل پروا نه لري چي د نيمائي هم استفاده وکړي هم غنېه خبره ده. که نور خراب سوه بيا به نور ورليږو، غرمه چي د کار په دفتر کي پر ډوډۍ سره کښيناستو د پاکستاني لوري او مجاهدينو په مخ کي مې له پاکستاني کرنيل نه وپوښتل چي زه په يوه خبره نه پوهيږم چي د غزني نه بيا تر هراته چي مجاهدين هر څومره لويې حملې کوي يا څومره قربانۍ ورکوي څوک د کچالوو اکمالات او وچه ډوډۍ نه ور رسوي، خو دلته په لبنياتو بار لاري رواني دي، توپير څه دئ؟ کرنيل ډير په دقت را ته وکتل او و يې ويل چي ته تر اوسه په دې راز نه پوهيږي؟ ما ورته وويل نه، ځکه مي

پوښتنه وکړه. کرنیل وویل هر وخت چې تاسود ظاهرشاه او ډیورنډ کرښه..ایله کړه لکه حکمتیار او حقاني او د پاکستان اوسني سرحدات مو په رسمیت و پیژندل تاسو به هم داسي نازول کیږي. ما پوښتنه وکړه چي مانا دا چي حکمتیار اوحقاني دا خط په رسمیت پیژندلی دی؟ کرنیل راته وویل ډیر پخوا.»

وروسته له دې چي طالبانو یو ځل بیا خپلي لیکي منسجمې کړې او پاکستان ته دا امید پیدا سو چې طالب بیا په یوه غښتلی قوت بدلیږي نو د اوس لپاره یې د بدیل ضرورت نسته. د طالبانو فشار هم دا وو چي پاکستان دې حکمتیار د سیاسي او نظامي ساحې وباسي ځکه طالبانو نه غوښتل د دولت او امریکا پر ضد مبارزه کې بیل، بیل مرکزونه وي. د بلې خوا حکمتیار هیڅ ډول سیاسي او نظامي ځواک نه درلود اما یقیناً نوم او شهرت یې لا یو شمیر حریفان ډارولای سوه او پلویان یې چې د جمعیت د ناکردو نه سخت په تنګ وو، امیدواره کولای سوه. د بلې خوا په کابل کې د اسلام اباد ضد روحیه ورځ تر بلي قوي کیدله، د پاکستان لپاره پر ګلبدین بې ځایه پانګونه (کورونه، موټران،اعاشه...) او نور بې فایدې وه. پاکستان تصمیم ونیو چي ګلبدین کابل ته ولاړ سي او له هغه ځایه د پاکستان ګټې خوندي کړي او په سیاسي بهیر کې فعاله سي .

د کابل دولت لپاره دا یوه تبلیغاتي کیسه وه، په عمل کې د حکمتیار په راتګ ولایت او ولسوالي خو څه یو کلی هم ارام نه سو، اما د پاکستان ګټې ډیرې وې او دي :

- د حکمتیار له مصارفو او امنیته یې ځان خلاص کړئ .

- د طالبانو له نیوکو نه بې غمه سول .

- په کابل کي یې د کابل پر ضد سنګر جوړ کړ .

- د پاکستان د ګټو یو ډیر قوي تبلیغاتي مرکز یې پرانیست .

تاسو وګورئ د حکمتیار تبلیغاتي کمپاین اسلام اباد ته په لنډه موده کي کوم خدمتونه وکړل :

- د پاکستاني تلویزون سره په مرکه کې حکمتیار وایي«د افغانستان په جګړه کې تر ټولو ډیر ضرر پاکستان وکړ نه افغانستان او بل کوم هیواد.»

- په خوست کې یوې پراخې غونډې ته ګلبدین وایي« د چاه بهار بندر یا بله لاره نه باید د کراچي د بندر بدیل وي دا زموږ په ګټه نده.»

- یوازې دوې ورځې مخکي حکمتیار له طلوع تلویزون سره د پښتونستان او ډیورنډ موضوع «د مسکو او ډهلي او په داخل کې د ځینو خاصو کړیو ډرامه وبلل، نه د افغان ملت غوښتنه.»

په پای کې عرض دا و چې زموږ اوه ګوني سني تنظيمونه چې فکر کيدی د نړيوال اخوانيزم يوه برخه به وي داسي ونه سول. د بنسټپالۍ کيسه خو هغه وخت ختمه سوه چې مجاهدين کابل ته داخل سوه، پيسې، موټران، درې، ځلور ودونه، زناوي، بچه بازۍ، قاچاق، دولتي موقفونه ، دولتي او شخصي ملکيتونو غصب ... يې په نصيب سول. د بن د کنفرانس وروسته غربيانو په شعوري توګه دا نالوستي قوماندانان داسي و پړسول چې نور د تنظيمونو له ايډيالوژيکي او شعوري اخوانيانو نه يې لاره ورکه کړه. دوبۍ، تاجکستان، مسکو، اروپا ، امريکا، استراليا او نورو هيوادونو ته يې لاري ورته خلاصي کړې. سفرونه شروع سوه، په خارج کې د کورونو رانيول ... د بچيانو تحصيل په اروپائي او غربي هيوادونو کې په يو دود بدل سوه .شعوري اخوانيان يا له صحنې ووتل يا په دا برګ اتڼ ور کښيوتل .

د اته ګونو شعيه تنظيمونو په اړه بايد دومره ووايم چې هغوی قومي او مذهبي چاري سره ګډې کړې. ځرنګه چې دوی اکثريت قاطع هزاره ګان دي او ټول شعيه مذهبه دي نو دوه شعاره يې هميشه تعقيبول :

- د هزاره ګانو حقوق .

- دايران (چې د شعيه ګانو اصلي مرکز دی) ګټي .

يوازي په را وروسته کې ډيری د سوريې په جنګ کې د بشارالاسد په ملاتړ جنګ ته ولاړل چې د ۸۰۰۰ په شا و خوا کې مړه او ټپيان سوه خو هغه هم د ايران په دستور وه .

په اوسني وخت کې تر ټخوانيو تنظيمونو او کړيو د بنسټپالنی دوې ډيرې خطر ناکې ډلې په کابل او ټول افغانستان کې فعاله دي :

ـ حزب التحرير

ـ جمعيت اصلاح

دا دوې ډلې تر ټولو ډيرې په مکاتبو، تعليمي موسيسو، پوهنتونونو او حتا دولتي اداراتو کې ډيرې ريښې غزولي دي. د دې تر څنګ په کليوالي سميو کې هم د کليوالي ملايانو په واسطه خپل کارونه کوي چې زه يې د راتلونکي لپاره ډير بد عواقب وينم. پای

**۲ ـ د بنسټ پالني دکتاب په هکله د افغان نظريې او سپارښتنې:**

سپارښتنه مي دا ده چې:

ترهرڅه دمخه دبنسټ پالنې د کتاب محترم ليکوال محمدابراهيم(نعيمي صاحب!)

بنسټپالنه  بايد په علمي، ادبي او په قوي دلائيلوسره تعريف کړي چي ځوان لوستونکی ته مخکي له مخکي د بنسټ پالنې مقاصد روښانه وي چي د مطالعې په جريان کې د ستونزو سره مخامخ نه وي او د کتاب محتويات په شوق اوښه علاقه سره ولولي او پدي وپوهيږي چي دغه د مذهب ترسيوري لاندې د بنسټ پالنې سياسي بهيرتولنه او ولس پرکوم لوري بيايي؟ هدف او مقصد يې څه شی دی؟ دا هم بايد روښانه سي چي دا ډول ډول نومونه يي څنګه او ولې نيولي دي.

لکه:ـ (اخوانيزم، بنسټ پالنه، ترهګري، توندلاري، افراطيت، سخت دريځې، اورپکي او داسي نور...)  چي د محترم ورور ليکوال څخه دغه مهم ټکي پاته دی. دا هله کيدای سي چي نعيمي صاحب پخپل علمي تبحرسره په خوږه ژبه په منطقي دلائيلو بنسټ پالنه تعريف کړي. او لوستونکو ته حقايق بيان کړي او پدي يي وپوهوي او قناعت يي حاصل کړي چي په حقيقت سره ليکوال خپل رسالت د دې منفي پديدې په اړه په ښه توګه سرته رسولی دي. زما په نظر يوازي د بنسټ پالنې د تاريخچې بيان کفايت نه کوي. عمومي تګ لاره يې بايد واضح سي، چې د لوستونکي پرليکنه باور راسي نه دا چي لوستونکی فکر وکړي چې ليکوال د يوه سياسي مخالف په ډول د مذهبي او ديني رهبرانوسپکاوی کوي. بيا نوهغه د کتاب و محتوياتوته کفري رنګ ورکوي او ليکوال ته يي د مُلحد خطاب کوي. ځکه اوس پدې بدو او ناوړو شرايطو کې استعماري کړيو خلکو ته داسي بده مفکوره ورکړي ده چې هرمخالف لوري خپل عارف په مذهبي ډول بدناموي او ټکوي يي. د اسلام پاک او مقدس نوم او د جهاد سپيڅلي کلمه اوس يوه تجارتي متاع ګرځيدلي ده، د هرمجاهد نما شخص په جيب کي د کفر ټاپه پرته ده، که هرچايي د رايي مخالفه خبره وکړه، سمدلاسه پر هغه شخص د کفر ټاپه لګوي او خلک د حقايقوپه اړه په شک او ترديد کي اچوي. پداسي حال کې چې د ده به خپل يوعمل هم پراسلامي شريعت برابر نه وي. يعني  حلال او حرام به نه پيژني، هرڅه چي لاسته ورځي، هغه غنيمت بولي. منافقت به يي د لجوج او جنون حالت رسيدلی وی. د دي ترڅنګ د عامه ولس ذهنيت د استعماري تبليغاتو په واسطه دومره پربل مخ اوښتي دي چي د حقيقي انځور بيان يي مبالغه معلوميږي. ځکه پاکستاني ملايانو اوهلته نورو روزل سوو ملايانو زموږ د خلکومغزونه داسي مسموم کړي دي، چې هيڅ ډول اتکل يې نه کيږي. د پاکسان په ديني مدرسو کي ملايان افغاني طالب شاګردانو ته په ښکاره اوعلني ډول وايي: چي د رخصتی د پاره کورونو ته ولاړ سی، د مور و پلار او نورو مشرانو ترتاثيرلاندې رانسی، ځکه په افغانستان کې اسلام ډيره ضعيفه او

کمزوری دي. د بلي خوا د افغانستان خاوره د جهاد مقدسه خاوره بولي. دلته به نو د ملاسلام ضعیف د ګوانتانامو د کتاب د(۳۳) مخ یوه قصه راوړم. هغه وايي:

«د سالم سقر وررورقصه مي تر اوسه په غوږوکې ده، چي د اوښکو په ډکوسترګو به یې راته کوله ښار و نیول شو (د کندهارښارلیکونکی) ما خپل بچیان چمن ته ورسول، زما ښځه ا ونورې عربې ښځې راسره وې، کله چي ترافغانستان وتلې(د امریکا د بمباریو په وخت کي لیکونکی) نو د افغانستان خاوره یي په پلوونو پوري تړله. ما ځيني پوښتنه وکړه، چي پردي څه کوی؟ هغوی ویل: بیا به موږافغانستانووینو اوکه نه؟ د افغانستان مقدسه خاوره د جهاد خاوره ده او د الله(ج) د دین د نافذیدو یوازنی پاته ځای دی.»

دا چي زه افغان وایم چي دعامه ولس ذهنیت اوس پربل مخ اوښتی دی او پاکستاني ملایانو او هلته نورو روزل سوي ملایانو زموږ د خلکومغزونه مسموم کړي دي لومړی مثال یي: هغه چي وايي په افغانستان کي اسلام ضعیفه اوکمزوری دی دوهم مثال یي د ملاسلام ضعیف تبلیغاتي بیان دی.

وګوری دا څومره دعقل اومنطق څخه لیري خبره ده چي د مځکي پرمخ اوپه نړی کی د الله(ج) د دین د نافذیدو د پاره بل ځای نسته دا یوازي افغانستان دی چي د الله(ج) دین به پکښي نافذ او جاري کیږي. پوښتنه دا ده چي ایا تراوسه پوري په افغانستان کي د الله(ج) دین نافذ او جاري نه و؟ زه پردې خبره شک لرم چي عربي ښځو دې د بیرې او تښتې په وخت کې چې د امریکا د الوتکوبمباری هم روان وي، پخپلو پلوونو پورې د افغانستان خاوره غوټه کړي وي. دا د ملاسلام ضعیف ناوړه تبلیغات بولم. هنوزهم د نوموړي سد سرته نه دي راغلي چي څه پر راغله، څه ورسره وسوه، او اوس په کابل کي د یوه زنداني په ډ ول د حسرته ډک ژوند تیروي . د طالبانو نور رهبران چي پاکستان ته ولاړه هغوی په کوم سرنوشت اخته سوه. لکه (ملامحمدعمر، ملا اخترمحمد منصور، د طالبانو د واکمنی پخوانی وزیرملاعبیدالله، ملا عبدالغني (برادر) ملا اخترمحمد(عثماني)، ملادادالله او د هغه وررورمنصوردادالله، ملامحمد حسن او نورپه لس ګونوحتی په سلګونو نورطالبان د چا د لاسه په داسي بد سرنوشت اخته سوه. ملاسلام ضعیف بیا هم زموږ پر وطن مین خلک د پاکستان د ګټو د پاره جنګ ته راپاروي. ښکاره ده چي دا هر څه د طالبانوسره پاکستان وکړه. عجیبه خو لا دا ده چي ملاسلام ضعیف د یوه ملا، د لوړ پوړي طالب او د یوه سیاست وال په صفت و داسي بیځایه پوچو تبلیغاتو ته معتقد دی چي پخپل کتاب کې د هغه څخه ذکرکوي. زموږ سپیڅلي وطنوال باید فکروکړي

چي د پردیو په تبلیغاتو تیر نه ایستل شي او چا چي ځان خرڅ کړی دی او د وطن پرسر یي د پردو سره معامله کړي ده، په هغوی پسي ولاړنسي.

**بنسټ پالنه زماافغان له نظره:**

زه د بنسټ پالنې د مقاصدو او اهدافو په هکله پوره معلومات نلرم، خو بیا هم په سرسری ډول تر کومه ځایه چې زه د هغوی په تګ لارو او اعمالو پوهیدلی یم، لنډه یادونه ځیني کوم.

په ټوله کې بنسټ پال د تمدن ضد دي. د پرمخ تګ په مخ کې خنډونه جوړوي، ځکه ارتجاعي خاصیت لري. د نوي فکر او د هغه د پراختیا سره ضدیت ښیي، فکرونه په سرپوښه ظرف کې ساتي، د نوی عصر د فرهنګ د جذبیدوسره ښکاره دښمني کوي، د صنعت د پراختیا مخنیوی کوي. د ټولنې د تحلیل او ارزیابی په اړه باالکل عاجز دي. د خلکو د اقتصادي او د هیواد د پرمختګ د پاره د خپل عدم توانایي او درک له امله هیڅ ډول فکرکولای نسي نه هم د خپلې سیاسي مفکورې په اساس دې ته تیاردي چې د خلکو د ژوندانه د سمون د پاره څه وکړي. نه هم په طبعي لحاظ د دې شیانو سره علاقه لري. په روانو سیاسي مسایلو کې یوازې او یوازې خپله وروسته پاته سیاسي مفکوره تعقیبوي. او پرخلکو یي د زور او وحشت د لاري تپي. هغه هم د دیني او مذهبي مُقدساتو څخه په ناوړه ګټه اخیستنه سره. هر څومره قتلونه چې کوي ګناه یي نه بولي، د جهاد نوم ورکوي. چې پدي ډول د ټولني اوعام ولس رهبري ترلاسه کړي. د دنیایي اوعصري علومو د زده کړي مخنیوی کوي، چې ډیرښه مثال یي په افغانستان کي د مکتبونو سوځول دي. د ساینسي علوموسخت مخالف دي. د علم له مخي د طبعي پیښو او افاتو وړاندوینه په مطلق ډول ردوي. ناروا او کفري نظریات یي بولي. د فضایي تحقیقاتو او څیړنو نتائیج قطعاً نه مني. د بشریت په تیرتاریخ هیڅ نه پوهیږي. ملي احساس یي ډیرکمزوری دی. د ملي اتلانو او قهرمانانو درناوی نه کوي. د هغوی د ستاینې څخه کرکه کوي. سربښندنو ته یي اهمیت نه ورکوي . لکه: ملي زعیم حاجي میرویس خان هوتک، د هند فاتح او د پاني پت اتل لوی احمدشاه بابا، خوشحال خان ختک، د وروستي وخت د عدم تشدد د لاري نامتو مبارز پاچاخان(خان عبدالغفارخان) اوداسي نور نومیالي.

په خوله چې هرڅه وایي، ولې عمل یي د بنسټ پالنې په تنګ او لنډ چوکات کي محصور دی. هرچیري اوهرکله د ازاد فکرسره دښمني کوي. نه غواړي چي څوک د طبیعت په اسرارو پوه سي. هڅه یي دا ده چي انسانان د کوچني والي څخه د خپل فکرپه شډل جال کې وساتي. په سیاسي مسایلو کې تل د واکمنانو سره ناروا سازش

کوي. همیشه د پردو په چوپړ کې وي. واک ته د رسیدو په لارکې وهرډول ناروا عمل ته چمتو دي. د ولس سره هیڅ ډول همدردي او خواخوږي نلري. تعصباتو ته لمن وهي، د خلکو ترمنځ کرکه خپروي. د خپلو پلویانو جرم او ګناهونه پټوي. قضاوت یي پرګټو بنادی. کبر او خودخواهي یي په ختیه اخښل سوي ده. بنسټ پال عادي او معمولي خلکو ته په سپکه سترګه ګوري. د رحم او ترحُم څخه خلاص دي. شتمني او دارایي چي د هري لاري څخه لاسته ورځي ولو که د چا په قتل هم وي دریغ نه پر کوي. عجیبه خو لا دا ده چي بنسټ پال خپله عقیده ترهرچاغوره ګڼي د نوروعقیدي ته د شک په سترګه ګوري. او د داسي نورو منفي خواصو اوعاداتو معتاد دي.

دلته مي د رحمن بابا د شعردوه بیته مخي ته راغله هغه وایي:

دین یي دام وي د دنیا په لارکي ایښی

پري را اړوي وحشیان د مخلوقات

د هغو پرلوریې سترګې وي ختلي

چي په لاس کي سرسایه وي یا ذکات

ځیني کوچنی اصلاحي خبري.

په نوی عصر کې د اسلامي بنسټپالي تاریخچه تر سرلیک لاندې:

دتاریخ عرب د کتاب د(۳۳۴) مخ په حواله په مفتوحه سیمو کې چي کوم مسجدونه جوړسوي دي هغه دادي:

لومړی مسجد په (۱۶هجري) سنه کې عتبه بن غزوان په بصره کې، دوهم مسجد په(۱۷هجري) سنه کې سعد بن وقاص په کوفه کې او دریم مسجد په(۲۲هجري) سنه کې د مصر فاتح عمر و بن عاص په فسطاط (پخوانی مصر اوسنی قاهره) کې جوړکي، په مفتوحه سیموکې تردغو مسجدونو دمخه د بل مسجد څرک نسته.

د مدرسو جوړولو لړۍ تر سرلیک لاندې:

د مدرسو په هکله چي رسمي ارقام هرڅه وي وي، زه دلته د خپلوسترګو لیدلی حال بیانوم:

په ۱۳۹۵هجري لمريزکال د هلمند ولايت مرکز لښکرګاه ښارکي د پخواني کامازانو د موټرونو په تم ځای کي چي په سوونو جريبه مځکه ده، تجيرونه او زياتې خيمې درول سوي وي. د ديني مدرسوو ځينو شاګردانو ته د حفظ، بعضو ته د تجويد او ځينوته يي د مولوي توب لنګوټې تړلي. سړی نه پوهيدی چي دومره زياتو طالب شاګردانو چيري درسونه ويل اوچيري اوسيدل. نن د دومره ملايانو او هلکانو راټوليدل د چا په لارښوونه او د چاپه لګښت دلته راغلي دي. د هر طالب د پاره(۳په۲) متره کي پلاستيکي بينر جوړسوي و، چي پرهر يوه د شاګرد نوم مسلک او ځيني قرآني آياتونه او د ځينو مولويانو نومونه ليکل سوي وه، ورکول کيدل. پدي هم څوک نه پوهيدی چي دغه بينرونه د چا په مصرف او د چا له خوا جوړ او ويشل کيږي. د افغانستان په ټولو ځايونو کي د پايتخت څخه نيولي ترکليو پوري مدرسې جوړي هلکان ديني سبقونه پکښي وايي. د مدرسو مشران د عصري او دنيايي علومو د زده کړي سره علاقه نلري. په خصوصي مجلسونوکي وايي: په مکتبونو کي نور نورشيان ورته وايي.

د خصوصي مجلسونو څخه علاوه ځيني په پردو پوري تړلي ملايان د راډيو په سويه د تعليم، تمدن او پرمختګ پرضد ښکاره تبليغات کوي دمثال په ډول:

د۱۳۹۶ هجري لمريزکال د جدي د مياشتي ۱۳پر۱۴شپه پر۸ نيمو بجو په تعليم الاسلام راډيو کي مولوي عبدالرحيم وويل:

ځيني کسان د دنيايي تعليم د پاره ليري ليري ملکونو ته ځي، ديني علم ته زړه نه ښه کوي دا د قيامت علامه ده. د ښځو امريت او د ښځو له خوا د ساز او غزلو ويل هم د قيامت علامه ده.

د مولوي عبدالرحيم مدني ضد تبليغ به يوي خوا ته پريږدو، د تعليم الاسلام راډيو او دي ته ورته د(۱۷۰) نورو غيردولتي او غيررسمي راډيوګانو پر شاوخوا چي د ټولو مصارف د بهرنيانو له خوا ورکول کيږي، نو دغه مدني ضد تبليغات حتماً د بهرنيانوسره په تفاهم کي سرته رسيږي.

په هرصورت! د پورته يادي ورځي د مراسمو په جريان کي مي د يوه۱۷يا۱۸کلن طالب څخه پوښتنه وکړه، چي د کوم ځای يي؟ ما فکرکاوه چي د هلمند ولايت د کومي ولسوالی اوسيدونکي به وي. ده ويل: د بادغيس ولايت د جوند ولسوالی يم. يو سپک (کوچنی) هلک ورسره و، هغه ته يي اشاره وکړه، چي دغه مي ورور دی. ما بيا پوښتنه ځيني وکړه چي د هغه ليري ځای څخه دلته څنګه راغلی يي؟ .ويل يي:

قسمت دی. بیا مي پوښتنه ځیني وکړه چي تر شا څوک لري؟ وی ویل: مور، پلار او دوي کوچنی خویندې. ما ویل چیري درس وایي؟ هغه د بُست د پنبي اوحلاجُو فابریکي لویدیځ ته د بُست د عمومي واټ د چوک د جنوب لویدیځ کنج کوچنی مسجد یي راته وښووه. ما بله پوښتنه ځیني وکړه په وطن کي دي د مور، پلار ژوند څنګه دي ګذاره یي کیږي؟ ستاسي ډوډی او مصرف څوک درکوي؟ طالب وخندل ویل یي: خدای تعالی یي رسوي.

دبنسټ پالني(۸۰) مخ

زه افغان د(۱۳۷۱هـ،ش) کال د لیندی د میاشتي په آخرکي کابل ته ولاړم د همدي کال د کب د میاشتي تر(۱۷)سمې نیټې پورې د کابل د ښاري نو د ګل فروشی د کوڅې په منځ کې د یوه کور په دوهم پوړکې یوازي اوسیدم.

د افشارو جنګي عملیات مې د نژدو څخه ونه لیدل خو د لیري څخه مي د دې خونړۍ او ویرجن حالت ننداره وکړه.

سهار وختي پورته سوم. پخلنځی ته ورغلم چي د سهارناري د پاره چاي جوش کړم ، ټکان مې ترغوږسوه. که ګورم د باغ بالا پر خوا د انټرکانټیننټل هوټل ترشا دغره په سرکې د اور دومره جګې لمبې پورته کیدي، هغه د چا خبره ده چي اسمان ته رسیدي. د درنو او سپکو وسلو فیرونو قیامت جوړکړی وو. چاې مي د یاده ووتي، د اور ننداره مي کوله او ډزو ته مې غوږنیولی و. لاندي پرسړک کوم څوک تیریدی په سترګه یي سوم ، را ږغ یي کړه«او برادر اي چی ګف است؟» په جواب کې مې هغه ته وویل: طرف انټرکانټیننټل جنګ است. ورځ تیره سوه سبا خلکو ویل چي احمدشاه مسعود اوعبدالرب رسول سیاف پرافشارو باندي یرغل کړي وو. خلکو د جنګ ډول ډول قصې کولي. چا به ویل چي پنځه سوه نفرمړه دي، چا به ویل زرکسه مړه دي. د چور، چپاول او بي عزتی داسی خبري اوریدل کیدي، چي انساني او افغاني وجدان ته یي تکان ورکاوه او د منلونه وي.

دبنسټ پالنې (۸۱) مخ

د شورویانو سره د احمدشاه مسعود اړیکې: د نوموړي شخصي باډي ګارډ روسی و. ما افغان دغه باډیګارډ لیدلی دي، خبرې مې ورسره کړي دي او د یوه ځای څخه وبل ځای ته د هغه په کوچني سوزکې موټر کې ورسره تللی یم. دغه خبره لږ وضاحت ته ضرورت لري په لاندي ډول یي بیانوم:

په (۱۳۷۱)هـ ش کال د رباني او احمدشاه مسعود د واکمني په وخت کي د سوداګري په منظور د تجارتي مال د رانیولو د پاره، د هلمند او کندهارځینو کسانو پرلاري د غلو او د مجاهدینو د پاټکونو او د هغوی د چور او د لاري د نه امنیت د بیرۍ خپلې پیسي د افغانستان بانک د لاري و کابل ته انتقال کړي، چې د هغو د جملې څخه یوهم زه افغان وم. په کابل کې زموږ بانک چکونه د افغانستان په مرکزي بانک کې معامله سوه.

د بانک د مامورینو د وینا له مخې فزیکي پیسي نه وي. هغوی ویل په څو ورځوکې پیسي د شوروي څخه راځي بیا به ستاسي پیسي درکړو.

پیسي راتلي بانک ته ننوتلي، خو موږ ته یي نه راکولي. په دغو را روانو پیسو کې چي شوروي د افغانستان د پاره چاپولي، د هغه ځای څخه د څلورو کسانو هریوه ونډه جلا جلا معلومه وه لکه (برهان الدین رباني، احمدشاه مسعود، عبدالرشید دوستم او د هرات تورن اسماعیل). یوه ورځ موږ ټوله په ګډه و جمهوري ریاست ته ورغلو،عریضه مو ولیکل چي زموږ پیسي باید راکړه سي. غوښتنه مو وکړه چي موږ د رباني صاحب سره هم ګورو. د جمهوري ریاست استاځی راغی ویل یي: تاسو یو نفر وټاکی عریضه دې هم ورسره وي، چي زه یي دننه ارګ ته بوزم. ټولو زه افغان وټاکلم. زه او استاځی روان و، د ارګ منځ ته چي ورسیدو د چهاراسیاب له خوا د توغندیو بوږه هارسو، موږ ځای پرځای ودریدو، ګولۍ تر ارګ واوښتي، د بهرنیو چارو وزارت او صدارت پر خوا وموښتي. ورغلو د محترم رباني صاحب په لیدو مشرف سوم. زموږ د طمع برخلاف هغه د خپلو اداري مامورینو او مجاهدینو په مخکي راته وویل: ستاسو پیسي جعلي دي د اجرا وړنه دي. مایوسه د ارګ څخه را ووتم ملګرو ته راغلم.

بله ورځ موږ ټوله په ډله په وزیراکبرخان مینه کې د احمدشاه مسعود د اوسیدو ځای ته ورغلو ، شخصي روسي باډیګارډ یي د یوه وسله وال کس سره راغی، ویل یي: وزیرصاحب (احمدشاه مسعود) نن ډیرمصروف دی، تاسو یو نفر وټاکی، زه به یي هلته ورولم. ملګرو بیا هم ماته دنده راکړه چي احمدشاه مسعود ته ورسم. څه وخت چي زه را ولاړسوم، مرحوم عبدالوهاب مشهور په (قاضي صاحب) ویل چي ویس هم درسره بوزه ( ویس د قاضي صاحب ورور اوس په هالنډ کې کډوال دی.)

موږ دواړه د احمدشاه مسعود د روسي باډي ګارډ سره د هغه په سوزکي موټر کي سپاره سوو، په لږ واټن کې د بې بې مهروغونډی تر څنګ یو بل کورته ورغلو. هلته په زیات تعداد جنګي ټانګونه، زري پوښونه، جنګي محاربوي ماشینونه،

داشکي، دافع هواوي او پلي وسله وال کسان ولاړ وو. باډي ګارډ دمخه موږ په پسي بيله پوښتنې اوتلاښۍ څخه سيده په دفتر ورننوتو. په سالون کې نورډيرخلک هم ولاړ وو. په سالون کې ټيلفون ته سر پر سر زنګونه راتله، احمدشاه مسعود يي په کار و. څو لحظې وروسته نوموړی د دوهم پوړڅخه را کښته سو، ويل يي: زه د چا په کار يم. ما افغان ورته وويل، زموږ په کار يي. لاس يي راکی، روغبړ يي راسره وکړ، ويل يي: چي ترټيلفون وروسته به خبري سره وکړو.

د ټيلفون ترخبرو وروسته راتيرسو بيا يي هم لاس راکی، دواړه ولاړ وو، ويل يي څه خبره ده. ما په لنډو ټکو کي ورته وويل چي بانک زموږ پيسي نه راکوي. زما او د ده د خبرو په جريان کي زما محترم ملګري(ويس) چي څه موده مخ کې يي شوروي ته سفرکړي و، د خپل سفر يادګاري ياداښتونه د احمدشاه مسعود باډي ګارډ ته ښوول. د احمدشاه مسعود به سترګې ور واوښتي. زه د خپل ملګري (ويس ) دغه کارپه انديښنه کي کړم چي احمدشاه مسعود به موږ ته د عادي خلکو پرځای د سياسي يا استخباراتي کسانوپه سترګه وګوري.

په هرصورت ما په پښتو ژبه، احمدشاه مسعود په پارسي خبري کولي. ماته يي ويل:زه خو رئيس د بانک نه يم، وزير د ماليي هم نه يم .ستاسي کار په ما اړه نلري.

بيا يي وويل:استاد (رباني) ته ورسی. د هغه د ورتګ قصه مي هم ورته وکړه. نو د پښتو متل مي ورته تيرکی هغه چي وايي:«پښې چيري ځي؟ هلته ځي چي زړه ځي» موږ تا ته په طمع راغلي يو، نا اميده کوه مو مه. دا پلا يي بيا لاس را کی، وي ويل: چي داسي ده نوحتماً کمک هم کوم. تاسي دوي ورځي وروسته وزارت ته راسی هلته به پراخي خبري سره وکړو. خپل روسي باډي ګارډ ته يي وويل: دوی ته پرنجيب خط ورکړه چي دوي ورځي وروسته دوي راځي بيايي ماته راوله. کاغذ نه و زما د ملګري(ويس) په هغه کتابچه کي يي خط په پارسي ژبه وليکه چي د شوروي د سفر ياداښتونه پکښي وو. دا مضاء پرځای يي مسلم ورته نوشته کي. دا يي هم ماته وويل: چي ته ډاکټرصاحب عبدالله ته هم ورسه، زه به هغه ته ټيلفون وکړم چي ستا سره وګوري.

سبا چي موږ بانک ته ورغلو، بانک ته يي امر کړی و چي صرف د دغوخلکو دلاري خرچه ورکړی نوري پيسي يي ګنګل کړي. وزارت ته تګ، د عبدالله سره زما ليدنه هرڅه پاته سوه. ذکرسوی خط راسره دي خو اوس سمدستي نه معلوميږي، په کاغذونو کي ورک دی.

دا چي د احمدشاه مسعود شخصي باډيګارډ هم روسی وي، نو د شورويانو سره به يي اړيکي په کومه اندازه وي؟ قضاوت به خلکوته پريږدو. خو تل بايد دا خبره په ياد ولرو چي: مسعود نه د خلقيانو د حکومت نه هم د پرچميانو او نه هم پرافغانستان باندي د شوروي د يرغل له امله پاکستان ته تښتيدلی دي .هغه د داود خان د حکومت په وخت کې او دوه نورکسان لکه ګلبدين (حمکتيار) او برهان الدين(رباني) دري واړه په هغه وخت کې پاکستان ته وتښتيدل هلته يي وپيښورته نژدي په چراټ کي د نصرالله بابر تر مشری لاندې د افغانستان د ورانۍ د پاره ګوريلايي زده کړې کولې.
په هرحال څه وخت چي احمدشاه مسعود طالبانو د کابل څخه وشړلو ته اړ يوست او پنجشير يي هم پريښووه، خواجه بهاوالدين ته ولاړ، د روسانو زړه ته ولويده چې هغه نور په افغانستان کې ژوند نسي کولای. هغه وخت نړۍ والو اژانسونو په کراتو کراتو وويل:چې روسانو د تاجکستان په کولاب کې د احمدشاه مسعود او د ده د پلويانو د پاره په سونو کورونه خالي کړي دي، چي که چيري ماته وکړي هلته به يي ځای پرځای کړي. بي له دي چي پدي هکله کوم دليل وړاندي سي دا ثابته ده چي احمدشاه مسعود د روسانو خاص سړی و، چي په سوونو کورونه يي ورته خالي کړي وو. تر دي چي تيرسو، مرحوم جنرال رحمت الله صافي (مسعودپيژنی؟ ملي اتل که ملي خاين) رساله کې د ده په باب (۹۳) اسناد راټول کړي دي، لوستونکي دي هغي رسالي ته مراجعه وکړي چي د مسعود د خيانتونو څخه خبرسي.

د دي نه علاوه په کابل کي به زه د خپل سفر(۱۳۷۱/۱۰/۱تر۱۳۷۱/۱۲/۱۷) پوري دوي په غم لړلي دعام قتل پيښي چې د احمدشاه مسعود د نظارشورا قاتلينو ترسره کړي او زما افغان د سترګو ليدلی حال دی بيان کړم.

**د عام وژنې لومړی پيښه:**

کومه ورځ د بانک ومخته په سوونو خلک ولاړ وو، چې ځينو تنخواوي غوښتي، ځينو بانکي حسابونه درلوده، بعضو د ولايتونو څخه زما په ګډون پيسي را انتقال کړي وي، ولاړ وو. يو دم د خلکو په منځ کې هی وهوی جوړسو، چي عبدالرشيد دوستم کودتا کوي. خلکو د وارخطايي څخه يوې اوبلې خوا ته مُنډې کړي. په عين حال کې د اسمايي دغره د سرڅخه پر ميوند جاده او د هغې جادې پر دواړو اړخونو يعني د کابل سيند او کوه شير د غره ترمنځ پراخه سيمه د داشکو، دوه ميله دافع هوا ماشيندارانو او نورو درنو وسلو ترشديدو،سختو او دوامداره ضربو لاندي ونيول سوه. بي هدفه ړندې مرمي پراوريدلي. نورهم په ټول ښارکې د درنو وسلو ټکان

وو. موږ د محمود طرزي پر واټ د کابل ولايت وخواته په ځغاسته سوو.(که خطا ونکړم پدي وخت کي محترم جعفر پيلوټ هم راسره و او حاجي محمد نوزادی به مي هم کله کله د بانک په مخکي ليدو). ځانونه مو خپلو ځايوته ورسول. سبا د شهداپي صالحين او د مرنجان غونډۍ هديرې د مړو د ښخيدو د پاره خلکو پرسر اخيستي وي.

**دوهمه پيښه اوعام وژنه:**

د کب (حوت) د مياشتي لومړی ورځي وي. د ښاري نو څخه د شهزاده سرای ته روان وم. د پُلي باغ عمومي د پله د پاسه رفيق سرورمخي ته راغی ويل يي: چيري ځي؟ ما ويل شهزاده سرای ته ځم. راته ويل يي: څه بدبختی اخيستی يي. هغي خوا ته د هوانونو ګولۍ اوري. مه ځه. ما فکر وکی چي کوم ځای به يو يادوه فيره سوي وي پروا نلري. خو کله چي د رفيق سرورڅخه مخ د شهزاده د سرای پرخوا د کابل رود پرښی اړخ رهي سوم د هوانونو د مرميو د لګيدو اوازونو او ډبهار ډير وو، وبيريدلم خو افغاني ننګ ونيولم شاته بيرته ونه ګرځيدم. کله چي د شهزاده سرای دروازې ته ورسيدم، دروازې ته مخا مخ د سيند پرکيڼ اړخ د هوان ګولی ولګيده، د انسانانو د جامو ټوټې هواته پورته سوي. ما او دوو کسو نورو هڅه وکړه چي د سرای د دروازې په برنده کې چې سر يي پوښلی و، ودريږو. ولي پهره دار نه پريښوولو، خو موږ زور وکی، ودريدو. نور کسان هم راغله. دغه د هوانونه فيرونه د کارتوګرافی او جيوديزی د رياست تر شا د اطفايي ترځنګ د دوهمې امنيتي حوزې څخه د شورای نظار نفرو کول. چي بيايي پرګلبدين تاوان کړي او پرهغه باندې عام ښاريان را وپاروي. موږ تر ډيره ولاړ وو، کله چي د شورای نظار د خلکو په وژنه ارمان وختی او زړه يي سوړسو، بيا يي فيرونه ودرول. څه وخت چي فيرونه ودريدل موږ څو کسه د پُلي خشتي جامع جومات خوا ته ورغلو، د جومات مخ، غولی او ديوالونه د انسانانو په غوښو او وينو لړي وو. د جومات په احاطه اوعمومي هغه سړک چي د ميوند جادې خوا ته ځي، مُړي او ټپيان پراته وو. موږ وبيريدو بد تاثير يي راباندي وکړ، بيرته شاته را وګرځيدو. د دي جرئت يوه هم ونکړ چې وژل سوي کسان د نژدو څخه وګورو.

دا وه د احمدشاه مسعود په اړه په کابل کې زما افغان د دوونيمو مياشتو ليدنې اوکتنې.

دبنسټ پالني دکتاب د (۱۳۵) مخ په اړه.

دوه مخی، متعصب مکار او ډارن شخص تورن اسماعیل چي د جهاد په پاکه جامه کې يې ځان پيچلی دی، طالبانو ونيو، مړ يي نه کی، ځکه د ايران خوا په بديده. خو علاوالدين قوماندان چي لاس ته ورغی سمدلاسه يي و واژه. خو تورن اسماعيل يي کندهار ته ژوندی بوتی، د سيمي خلکو د هغه په نيونه ډيره خوشحالي وکړه. چي د ده د شر ځخه خلاص سوه. تورن اسماعيل تر يو وخته په کندهار کي بندي و. بيا د طالبانو له خوا اوازه ګډه سوه، چي نوموړی د محبس ځخه وتښتيدی، او دا خبره به يي هم ورسره کول چي د يو بلوڅ شخص په واسطه د هلمند ولايت د لاري ايران ته ورسول سو. يعني( د ده اصلي تکيه ګاه) که چيري په دغه ډول تيښته او ايران ته رسول يي رښتياوي نو تورن اسماعيل خپل اعمال سترګو ته ولاړ وو، په افغانستان کي يي بل ځای د اوسيدو او پټيدو نه درلود.

د تورن اسماعيل دا ډول تيښته او ايران ته رسيدل اصلاً د خلکوغولونه او تيرايستنه وه. د افغانستان اکثريت خلک پدي پوهيږي چي تورن اسماعيل د ايران سړی دي. هغه  د ايران دغوښتني او د پاکستان په موافقه د محبس ځخه وايستل سو. په هغه وخت کي ډيرو سياسي باخبرو کسانو ويل چي: تورن اسماعيل د پاکستان ځخه ايران ته په الوتکه کي وليږل سو. د تورن اسماعيل د محبس ځخه تيښته د روسانو د هغي الوتکې وتيښتې ته ورته قصه ده چې د کندهار د نړی وال هوايي ډګرځخه وتښتيده او ولاړه.

د روسانو هغې طيارې د دوبی ځخه د برهان الدين(رباني) او احمدشاه مسعود تش په نوم حکومت ته يانې کابل ته وسله او مرمي وړي. طالبانوهغه الوتکه د کندهارپه نړی وال هوايي ډګرکې د جنګي الوتکو په وسيله وکښته کيدو ته مجبوره کړه. هرڅومره چي سياسي هڅې وسوي، طالبانو الوتکه نه خوشي کول.حتی د پيلوټانو اقارب کندهار ته راغله چي په هغو کې يوه مسلمانه تاتاره ښځه هم وه، چي د الوتکې په پيلوټانو کي يي زوی درلود که بل کوم خپلوان ؟ خو طالبانو د هغوی غوښتنه ونه منل. بالاخره طالبانو اوازه واچول چي الوتکه وتښتيدل. نو په لومړي قدم کې سوال دلته دي، چې د الوتکي پيلوټان د محبس ځخه څنګه ووته، الوتکې ته تيل د کومه سوه، په څه ډول چارج او الوتنې ته تياره سوه. څو مياشتي ولاړه وه، چکيدل يي غوښته. ايا په هوايي ډګر کې هيڅوک نه و؟ چي مخنيوی يي وکړي. نو د تورن اسماعيل په باب هم داسي ګډوډ درواغ  جوړ سوه او د ايران ځخه د امتياز د ترلاسه کولو د پاره داسې بې منطقه اوازې يې واچولي.

علاوالدین په هرات کې غښتلی قوماندان او باوري شخص و. کله چې د طالبانو جګړو زور واخسیتی، احمدشاه مسعود شینډنډ ته ولاړ. د شینډنډ په نظامي هوایې ډګرکې یي د تورن اسماعیل د بي کفایتی له امله د خلکو په مخ کې علاوالدین ترلاس ونیوه، خپل او د هغه لاسونه یي پورته ونیول په لوړ اوازیي وویل:اسماعیل یوازي نوم دی نورهغه ستاسي قوماندان نه دي علاوالدین ستاسي عمومي قوماندان دی.

د حامد کرزي د حکومت په وخت کي چي تورن اسماعیل په هرات کي والي و، هلته د نائبي په نوم یو قوماندان و، تورن اسماعیل د هغه څخه سخت بیریدی، خپل زوی میرویس یي پسي ور واستوه چي رایي وله. نائبي پرخپل بي عزتی وبیریده، د راتګ څخه یي ډډه وکړه. د اسماعل زوی په ډیري مغرورتیا سره پرهغه وسله وال یرغل وکی. په نتیجه کې د اسماعیل زوی په قتل ورسیدی. د بي،بی،سي راډیو په وینا تورن اسماعیل د خپل زوی په غچ کې د نائبي پلار او د نورو خپلوانو په ګډون او د هغه پلویان پوره سل (۱۰۰) کسه ووژل. حتی په روغتون کې یې داخل بستر ناروغان هم په قتل ورسول. وګورئ، دا د د تورن اسماعیل مسلماني او جهاد. اوس یي د هرات د ښار یوه ډیره اوږده د نفوسو ډکه اود ډیرتګ راتګ جاده د خپل زوی په نوم کړي ده، چي دی شهید صادق ورته وایي. نائبي یي تعقیباوه هغه د مزاري شریف څخه وکابل ته تلي پر لاري د اسماعل د توطیې ښکارسو او ترور یې کي . ما پورته تورن اسماعیل ته ډارن هم ووایه. د شینډنډ د زیرکوه د وړې سیمې امان الله خان جګړه ورسره پیل کړه، شین ډنډ یي ځیني ونیو، هرات ته پسي ورتیر سو، کله چي میرداود ته ور ورسیدی، اسماعیل د ایران پرلورمنډه واخیسته. د هرات ښارپه هغه ورځ ټول وترل سو، خو د امریکي سفیر رامخته سو، اخطاریي ورکی چي د هرات سقوط د زغم نه دی. دا یوه پلا نه ده چي دی د ایران پرخوا ځغاستی، نوموړی د ببرک کارمل، نجیب او د طالبانو په وختونو کي په وارو، وارو د ایران پرخوا منډي وهلي دي. آخر یي و امان الله خان ته هم توطیه جوړه کړه په قتل یي ورساوه.

ما پورته تورن اسماعیل ته متعصب هم ووایه. څه وخت چي مجاهدینو واک ترلاسه کی. تورن اسماعیل هرات قبضه کی، هراتیان متمدنه ، ارام او صلح دوسته خلک دي. نور یي جګړه نه غوښته ځکه روسان وتلي وو، د هغوی پلوي رژیم له منځه تللی و. د تورن اسماعیل و رهبری او مشرتوب ته یي غاړه کښیښوده. پر هرات دوه بندرونه (تورغونډي، او اسلام قلعه) را ایله وه، ګمرک یي په لاس کي و چي زیات عاید یي درلود وامکانات یي ډیروو، ظاهرًا یي مدني حرکتونه پیل کړه. ځیني

بیکاره کسان یې د عسکرو په توګه د ځان سره ودرول، چې ځان په وساتي، تنخواوي یې ورته وټاکلي، عسکري دریشی یې ورکړي. اکثریت یې په فرقه کې ځای پرځای کړه. د خلکو یقین سو چې نور نو دولت جوړسو. بیایې د تابعت د تذکرو توزیع شروع کړه. زه د دې کرښو لیکونکی او محمدلعل کارګر په(۳۰۲) لمبر بس کې هرات ته تلو، پر لاري په شینډنډ کې دوه نفره دریشي والا عسکر موټر ته راپورته سوه، خالي چوکی نه وې په منځ کی ودریدل. د راپورته کیدو سره سم د دغوعسکرو ترمنځ جنجال و. یوه عسکر د جیب څخه د تابعیت تذکره را وکښل، وهغه بل عسکرته یې په ښکنځلوسره وویل:(کدام زن طلاق...) در تذکره ما تاجک نوشته کرده. ما افغان هستم، علیزایي میباشم. وروسته موږ د دغه افغان علیزایي څخه پوښتنه وکړه چې قصه څنګه ده؟ د هغه بل عسکرپه مخکې یې راته وویل: تورن اسماعیل خلکو ته نوي د تابعیت تذکرې ورکوي. د هرات ټولو پښتنو ته تاجک نوشته کوي. دغه دی تاسو زما تذکره وګوری، ما ته یې تاجک لیکلی دی. تورن اسماعیل د پښتنو سره سخت تعصب لري، غواړي چې په هرات کې د پښتنو نوم ورک کي.)

نو زه د دې کرښو لیکونکی اندیښنه لرم چې په راتلونکې وخت کې د دې ویره سته چې په هغو ولایتونو کې چې پښتانه په اقلیت کې دي د تورن اسماعیل په څیرمتعصب واکمانان به د پښتنو میلیت او قومیت په نورو میلیتونو پوري وتړي. چې د مملکت په سطحه د پښتنو فیصدي را کمه کړي او د اکثریت څخه یې اقلیت بوزي.

د دې لیکنې په پیل کې تورن اسماعیل ته ما مکارهم وویل:

کله چې په ۱۳۵۷هـ ش کال د کب د میاشتې پر۲۴ویشتمه د هرات په ۱۷سمه فرقه کې د خلقي رژیم پر ضد د فرقې افسرانو بغاوت وکی او ځینو ښاري کسانو یې ملاتړهم وکی، بغاوت کوونکو فرقه ونیول. ځینې صاحب منصبان اوعسکر یوي او بلي خواته ولاړه.

د امریکا د ازادی راډیو د(۱۳۹۰) هـ ش کال دحوت پر۲۴ ویشتمه نیټه وویل: «۳۳ کاله مخکې یعني په (۱۳۵۷) هـ ش کال کې په هرات کې د کمونست پلوه حکومت پرضد پاڅون د کندهاریانو په محله کې راپیل سو، چې ډیرقربانیان یې هم کندهاریان وو. چې د هغو په ډله کې د ګل محمد نوم یادیږي.» په هرصورت بغاوت ډیر ژر وځپل سو. د بغاوت کوونکو رهبر د فرقې په قوماندانی کې ناست و، ونیول سو، د خپلو ځینو پلویانوسره اعدام سو. خو تورن اسماعیل هغه وخت هیچا نه پیژندی.

اوس د حوت د۲۴ ویشتمې نیټې د پا څون ابتکار او حرکت په ځان پوري تړي.هر کال د حوت پر۲۴ویشتمه یي د مکتب هلکان په اوږدو تیلري موټرانو کي اچولي وي، د ښارپر سړکانو یي ګرځوي د حوت د پاڅون تر یادولو د تورن اسماعیل په نوم ډیرشعارونه ورکول کیږي. په ډیرافراطي ډول د حوت د۲۴ویشتمې د بغاوت په هکله تظاهرکوي. د هرات د هوایي ډګرڅخه ترښار پوري څو ځایه پرلوحو لیکل سوي دي: بیست وچهار(۲۴) حوت شکست کمونیزم.

**د روسانو سره د تورن اسماعل نژدي اړیکې:**

د۱۳۸۲هـ ش کال د مرغومي د میاشتي پر۲۱ویشتمه نیټه د بی،بی،سي راډیو د سهار د پنځو، شپږو، او اوونیمو بجو په پښتو او فارسي خپرونه کې وویل:

تیره شپه (۲۰پر۲۱) نیټه د مسکوڅخه و اسماعیل خان ته خبر ورکړه سوی و چي په هرات کي زلزله کیږي. اسماعیل خان د هرات د مسجدونو د لاري و ټولو هراتیانو ته د لوډسپکر د لاري خبرورکړی و چې د خپلو کورونو څخه ووځي، دښتو او سړکانو ته ولاړسي. هراتیان لوی او کوچنی، نر او ښځي د زلزلې د بیرې کورونه پري ایښي وه د ژمي سړه او توره شپه یي دباندي، په سړه هواکي تیره کړي وه. چي د بي،بي،سي راډیو خبریالانومستقیماً د خلکو له منځ څخه خپل راپورونه ورکړه.»

مطلب دا چي مسکو د دي پرځای چي د افغانستان مرکزي حکومت ته د زلزلې خبرورکړي راساً یي اسماعیل ته خبرورکړ. پداسي حال کي چي د زلزلې خبر دورواغ هم و اوز لزله ونه سوه.

روسانواصلاً ازموینه وکړه چي تورن اسماعیل اوس هم د پخوا په ډول اړیکې ساتي که څنګه ؟ او تورن اسماعیل هم د روسانوخبره سل په سل کي ومنل او د ژمي سړه شپه یي پرهراتیانو دباندي تیره کړه. په هرات کي د زلزلې خبره داسي یو کارو، چي د تورن اسماعیل او د روسانو د نژدي اړیکوڅرګندونه یي کول.

د تورن اسماعیل او احمدشاه مسعود څخه روسانو قهرمانان جوړ کړل، نه دا چي د دوی پر ضد یي حقیقي عمل نه کاوه، صحنه سازی به یي جوړي کړي. چي پرتورن اسماعیل او احمدشاه باندي نظامي عملیات کوو. د مثال په ډول: په څو واري یي د هرات ښار د لویدیځ پر خوا د زنده جان اوغوریانو ولسوالیو پرلوري قواوي مارش کړي او تبلیغات به یي کول چي پرتورن اسماعیل باندي عملیات کوو. هلته به

ولاړه، د خلکوکورونه، دښتونه اوغرونه به يي ويشتل. څو ورځي به يي هوري تيري کړي. د بيرته راتګ په وخت کي به يي سلاح اومهمات په ټاکلو ځايونو کي هغه ته پري ښوول. بيا به نو تبليغات پيل سوه چي اميرصاحب اسماعيل خان شورويانو ته ماته ورکړه. چي دا د نوموړي د شخصيت د جوړوني د پاره دستوري تبليغات وو. د احمدشاه مسعود سره هم پدي ډول معاملي رواني وي.

دبنسټ پالني(١٣٠) مخ

دنړی والو اژانسونو په حواله ملا محمدعمر په کراچي کې د ملا اخترمحمد منصور او ملا اغاګل په واسطه په قتل ورسيدی.

دبنسټ پالني (١٣٦) مخ

ميرغلام محمد(غبار) د الماني ډاکټر(ترنک لر) له قوله وايي:مغاري د عيسوي په لومړی پیړۍ او بُتان د پنځمې ميلادي پیړۍ دمخه زمانې پورې اړه لري. (جغرافيای تاريخي افغانستان ١٥١مخ)

محمداسحق(ابراهيمي) وايي:چې د وروستيو کوشانيانو په دورې، يعني په هغه زمانه پوري چي(١٢٠) فوټه بت پرماحول رنګه تصويرونه رسم سوي دي، اړه لري (آيين بودايي در افغانستان ٨٩ مخ ) د دواړومأخذونو زمانه يوه کيږي. نو د دغو او نورو اسنادو پر بنا ويلای سو، چي د باميانو بُتان لږ تر لږه٠(١٥٠٠) کالوڅخه زيات عمردرلود.

د بنسټ پلني (١٥٩) مخ

په تأسف سره د رئيس عبدالواحد باغراني (قاتل) نوم درڅخه پاته دی.

د بنسټ پالنې (١۶۶) مخ

په دغو استول سوو کسانو کې په ښنه پري ملا دادالله (کاکړسنځرخيل) چي يوسرسخته جنګيالی هم و، شامل و. په افغانستان کې د عراق زرقاوي و. دا چې ښتون و، نو پاکستانی ورته ويلای نه شو. نوموړی اصلاً د ډيورنډ د منحوسي کرښې د هاخوا د کاکړو د سيمې اوسيدونکی و.

دبنسټ پالني(١٧٢) مخ

د بي سرحده ډاکټرانو د توصيف څخه مې سخته کرکه کيږي، ځکه هغوی اوس د لويديځ د استعمارګرانو د پاره عملاً جاسوسي کوي. باور دا دی چې د ځان مرګو د پاره شرايط برابروي. ځکه دوی خوندي دي، د امريکي او انګريزانو ترمستقيمې حمايې لاندې دي څوک څه نسي ورته ويلای.

دبنسټپالني(۱۷۸) مخ

دلته و داعشيانو ته سلفيان وايي.

بنسټ پالني(۱۸۹) مخ

راحل شريف خپله د ترهګری د قاتلانو او رهبرانو څخه دی. د ده ټاکنه پردغه ځای باندې د استعماري کړيو کاردی او د خلکوغولونه ده.

د ځينو نيمګړتياو يادونه:

۱ــ املايې ستونزې لري. په ځينوځايونوکي حروف کم اوپه بعضوکي بيا اضافه راغلي دي. د تجربې له مخې د دي کاراصلاح هغه وخت ښه کيدای سي چې د کاغذ پرمخ پرنټ سي.

ګرانه وروره! ځای ځای دي ليکنه د پښتو د روانې محاورې څخه لرڅه ګوښه کيږي(ليري کيږي) او ژورناليستيکي سبک اختياروي. لکه د راډيو يا تلويزيون وياند (نطاق) چې ووايي: زموږ د خبريال رپوټ ته غوږسی، زموږ خبريال پدي هکله وايي، زموږ خبريال د کابل څخه رپوټ راليږلی دی او داسي نور.

ترکومه ځايه چې ما ستا ليکنه وکتل او ولوستل د ګزارش ښه لري. اکثره ليکوالان چې کوم اثر ليکي د ليکنې په جريان کي خپل مأخذ ته لمبرئيږدي.مثلاً(۱ـ۲ـ۳) د پاڼې په آخرکې په ترتيب سره دهرمأ خذ دکتاب نوم اوصفحه اود ليکوال نوم ذکرکوي. پای

**د کتاب وروستۍ ارزونه**

افغانستان د دوهمې نړيوالي جګړې وروسته په ارام قدمونو د پرمختګ په لار کې تګ پيل کړي خو پرمختګونه دومره ارام او اهسته وو چې په ټولنه کې نه محسوس کيدل. د سردار هاشم خان د جبر زمانه تيره شوی وه، په کابل کې د روڼ آندو څخه د زندانونو تورې کوټې خالي شوي وي. په نړۍ کې صنعت د پرمختګ په حال کې و او ښځو تازه د کار په مارکيټ کې لار موندلي وه. د نړۍ د ټولو پرمختګونو سره سره زموږ په ګران هيواد کې نالوستي (بې سوادي) واکمنه وه، د ګوتو په شمير درباريان او يا دربار ته نژدې د لوړو زده کړو خاوندانو شتون درلودي. ښوونځي لا هم د کفارو د درسونو مرکز ګڼل کيدل. په هيواد کې لوږه او فقر لوړې کچې ته رسيدلي و، روغتيايي خدمتونه په نشت کې حساب وو، د ډيرو عادي ناروغيو په وجه انسانانو ژوند د لاسه ورکولو. زما په ماشومتوب کې د کولرا ناروغې را په زړه کيږي چې د کندهار په ښار کې په زرګونه خلک ووژل. داسې هم کيدل چې خلکو به جنازې د ښخولو لپاره پر اوږو اخيستي وي، د لارې په اوږدو کې به يو يا دوه د جنازې وړونکي مړه شول. حيرانونکي دا ده چې اوس د کولرا ناروغې ته ورته پيښې تکراريږي. دا ځکه طالبانو نوي کولرا کشف کړي ده. خلک د مړي د ښخولو په مراسمو بوخت وي، کله چې مړي ته لمونځ ورکوي، د حورو مست شوقي او د جنت وږی ځان ته انفجار ورکوي او په لسګونو بيګناه انسانان په شهادت رسوي. د دې ناوړه جنايتونو يوه بيلګه ولولئ: امريکا ږغ نيټه ۱۰ جدی ۱۳۹۶ ليږديز لمريز کال« د ننګرهار د ولايت مرکز جلال اباد ښار ته څيرمه د مقام خان په سيمه کې د غرمې وروسته د جنازې په مراسمو کې يو ځانمرګی بريد شوی، چې له امله يې تر پنځلس تنه شهيدان شوي او ديارلس نور ټپيان شوي دي.

د ننګرهار ولايت د والي وياند عطا الله خوږياڼي امريکا غږ ته وويل، د يکشنبې په ورځ پاو باندې دوه بجې يو ځانمرګي بريدګرد بهسودو د ولسوالۍ د مقام خان په سيمه کې د جنازې په مراسمو ځان پورې تړلو چاوديدونکو توکو ته چاودنه ورکړې چې له امله يې پنځلس تنه شهيدان شوي او ديارلس نور ټپيان شوي دي .د ښاغلي خوږياڼي وويل، چې بريد د ننګرهار ولايت د هسکې مينې ولسوالۍ د پخواني ولسوال حاجي ګل ولي د جنازې په مراسمو کې شوی دی.

په سيمه کې د امريکا غږ خبرياِل ذبيح الله غازي چې د بريد له ځايه يې ليدنه کړې وايي، د پيښې يو ساعت وروسته هم د بريد په ځای کې په وينو لړلې لونګۍ، څپلۍ

، بوټان او جای نمازونه لا هم پراته وو. **تر اوسه مو هديرو ته مړی وړل، اوس به له هديرو مړي راوړو(نوې دنده د جهاد برکت)**

د دې ټولو خبرو تر څنګ ملايانو او د کليو خانانو د دولت په ادرو کې لوي لاس درلودي، هر څه د دوي په خوښه اجرأ کيدل. خو يوه خوشبختي دا وه چې اسلام سياسي بڼه نه درلوده او په عنعنوي توګه د حاکمانو په څنګ کې واکمن و. خلکو د اسلام د دين سره زياته مينه درلوده، د هر غم او مصيبت د ليري کولو لپاره يې د خدای پاک مرسته غوښته. هر افت يې د خپل نصيب يوه برخه ګڼل. لوږه، ناروغې، بې کورې او ورته ستونزې د الله ج له طرفه ګڼلي نو ځکه حاکمانو پرته د سردردي څخه حکومت چلاوه. که به کوم چا اعتراض وکړي د ملايانو لخوا د خدای (ج) د اوامرو څخه په سرغړونه محکوم او پر خوله يې پلستر ور وهل کيدي.

کله چې د انسانانو په منځ کې د اقتصادي ويش روحيه زيږيدلې، هر انسان د خپلو ګټو پر بنسټ د نورو همنوعانو سره معامله کوي. مذهبونه را مينځته شوه چې د انسانانو تر مينځ عدالت تآمين کړي، دا په دې مانا ده چې په مذهبونو کې عيب نشته دا انسانان دي چې د مذهب څخه د خپلو ګټو د تأمين لپاره ناوړه ګټه پورته کوي. د اسلام مبارک دين چې وروستۍ او کامل دين دي، د انسانانو په مينځ کې د ورور ګلوي، پاکي، د ګاوندۍ سره ورور ګلوي، د قتل او وژنو څخه پرهيز او نورې په سلګونو ښې چارې يې انسانانو ته ښودلې دې. د اسلام دين انسانان د خرافاتو، بت پرستي او د لوږو ژوندې ښخولو څخه منع کړل او د انساني ټولنې بنسټ يې کښيښودي.

لکه د مخه مې چې وويل په مذاهبو کې بدي نشته نو ځکه د انسانانو د ژوند په ټولو مراحلو کې د ټوکمارو او ظالمو حاکمانو چل دا و چې دين او مذهب به يې د خپلو ګټو د تأمين لپاره کارولو. که ډير لري تاريخ ته نظر واچوو، ورته چارې مو تر سترګو کيږي. سينوهه چې د فرعون شخصي ډاکټر و، خپل خاطرات يې ۳۵۰۰ کاله پخوا ليکلي او د وخت د حاکمانو ناوړه استفاده يې بيان کړي چې زه يې دلته يوه بيلګه وړاندې کوم:«سينوهه يوه نجلۍ چې مينا نوميده ور باندې عاشق و، نجلۍ «نعوذ بالله» پر مصري خدايانو ډيره عقيده درلوده. سينوهه په (کرت ښار ) کې د نجلۍ سره يو ځای د هغه ځای لوی فرعون ته چې د غوايي سر يې په سر اغوستي و، ورغلل. د غوايي سره د دې لپاره چې دوي غوايي ته اعتقاد درلودي. دوي عقيده درلوده چې د دوي نيکمرغي په ستر خدای اړه لري چې په يو لوي غار کې اوسيږي او هميش يوه نجلۍ او يا هلک چې وټاکل شي، هلته ور استوي او نوموړي کس ځان ډير خوشبخته احساسوي. که څه هم هغه د بيرته تللو اجازه ورکوي خو استول شوي کس په خپله خوښه بيرته نه راځي. دا ځل د سينوهه ملګری مينا ټاکل

شوي وه نو ځکه هغه د سینوهه سره نه ځملاستله او ځواني یې لوی خدای ته ساتلې وه. سینوهه د ورځې په پای کې واوریدل چې لوی خدای مړ شوي دي نو هیله یې زیاته شوه چې مینا به بیرته را وګرځي. لنډه دا چې د دود سره سم د مشر کاهن (د وخت مشر روحاني) په بدرګه مینا غار ته ننوتله خو د سینوهه مریي ولیدل چې مشر کاهن پر بله د رواز را ووتې. د سینوهه مریي په بیړه سینوهه د دغه راز څخه خبر کړي. سینوهه په مصنوعي خدایانو باور نه درلود نو ځکه د مریي په ملګرتیا په پټه غار ته ننوتل، ویې لیدل چې په غار کې یو لوی مار شته چې دغه ور استولې کسان خوري خو اوس مړ شوي و، نو ځکه ستر کاهن مینا په چړو وهلو وژلې وه او د سمندر ماهیان یې په خوړولو لګیاه وه.» (۲۳ ص ۲۷۴ لومړی ټوک)

که د سینوهه کتاب ټول محتویاتو ته نظر واچول شي، انسان په څرګندو ټکو لیدلای شي چې ۳۵۰۰ کاله مخکې هم د واکمن فرعون د حاکمیت د پایښت لپاره د دین څخه په لویه کچه ناوړه ګټه اخیستل کیدل. باید ووایم چې د دربار سره تړلي کاهنان (روحانیون) په ټولو رازونو خبر وو خو د خپل هوسا ژوند د دوام لپاره یې د دین څخه د فرعون د حاکمیت د ټینګښت لپاره کار اخیستي. نالوستي او مظلوم ولس یې په چوپړ کې درولي وو.

که د عیسویت دین تر مطالعې لاندې ونیسو، د تاریخ په بیلو بیلو مرحلو کې د واکدارانو او د کلیسا د حاکمیت لپاره د رعیت په وړاندې ګټه ورڅخه اخیستل شوي ده. صلیبي جګړې هم د عیسوي روحانیونو او د وخت د وکدارانو د ګټو د ساتلو لپاره وشولې چې په لکونو انسانان په ډیره بیرحمي قرباني شول. همدا عیسویت و، چې د جنت قبالې یې پلورلې. ولټر په اتلسمه پیړۍ کې  د فرانسې ډیر مشهور فیلسوف تیر شوی دي. دا چې په عیسویت کې د انسانانو پر ضد ډیر وحشیانه چلند کېدې نو ولټر د اسلام په دفاع کې دریدلي که څه هم تر مرګ پورې عیسوي مذهبه و. د ولټر د کتاب په یوه برخه لیکي:«په ۱۷۲۸ زکال کله چې ولټر انګلیستان تبعید شوي و، د خپلو انګلیسي دوستانو سره یې اختلاف پیدا کړي نو د ټولو په مخ کې وویل: دا چې د مسیح د پیروانو څخه بیزاره یم نو ځکه غواړم مسلمانانو ته پناه ور وړم. (ل: مقصد یې دا و چې ترکیې ته ولاړ شي.» (۲۴ ص ۲۰)

د ولټر په نظر ترکیه د اسلام هغه ټاټوبي و چې ټولو ادیانو پرته د مزاحمت څخه ګډ ژوند کاوه او هر چا د خپلو دینو مراسمو د اجرأ حق درلودي. ولټر د عیسویانو د مذهبي جګړو او ظلمونو سره ځانګړي حساسیت درلودي نو ځکه د کتاب په یوه برخه کې لولو:(د ولتر دوستانو یو اوبل ته ویل: اشتباه ونکړي دغه جګړه خوښونکي فیلسوفان د ټولو ادیانو سره کینه لري او د ټولو سره یې جګړه پیل کړي ده، موږ باید د دغه ګډ خطر په وړاندې ارام کښینو! ولې که په رښتیا اشتباه و نه

کړو او په قضاوت کې د غلطیو څخه لیري اوسو، باید د مځکې پر مخ د ټولو ادیانو په مینځ کې د اسلام دین ته په ځانګړي مقام قایل شوو، ځکه هر څومره چې د ولټر مبارزه د عیسویت د تنګو نظریاتو پر ضد جدی کیږي نو قهر یې د اسلام په وړاندې ارامیږي. دا چې د مسلمانانو تر مینځ په ټولیزه توګه د وروړګلوي چاپیریال ټینګ دي نو ولټر غواړي د ازادي بیرغ د اسلام په نوم لوړ کړي. ولټر لومړی لیسبن ته ځي چې هلته (۴۲) انسانان قرباني کیږي چې په مینځ کې مسلمانانو هم شتون درلودي. په داسې حال کې چې دا وحشیان (ل:عیسویان) شاهد دي چې د محمد (ع) پیروان په خپل هیواد کې د عیسویانو او یا د هر دین ، یهودانو او پارسیانو په وړاندې څومره مهربان دي او څومره یې هغوی د خپلو دیني مراسمو د اجرأ لپاره ازاد پرې ایښي دي. څومره شرم!

د انسانیت او تقوی دغه نمونه کولای نه شي چې په پرتګال کې د څو وحشیانو زړونه نرم کړي. مګر د دغو مسلمانانو هغه ګناه او جنایت چې د بخښولو نه دي، څه شي دي؟ هیڅ!

دوی په وحشیانه ترینو او بیرحمانه ترینو شکنجو محکوم شول، ځکه پلرونو یې دوي سنت کړي وو ولې وحشیانو د تناسلي الې دغه چټل پوست پر ځای پری ایښي دي، دري ځله اودس کوی... دا یوازې ولټر وه چې د عیسویانو سره یې دومره کینه درلوده خو کینه یې بې علته نه وه. د مذهبي عقایدو د سازمان تفتیش (ل: نهي عن المنکر ته ورته دي) یو عیسوي ملا، ژزوییت چې مالاګریدا لقب یې درلودي د یو کتاب د نوشته کولو په تور (زنده ګی افتخار امیز انای مقدس، مادر مریم عذراء) او بل کتاب (حکومت دجال) د کفر ټاپه ور باندې ووهل او (۷۰) کلن بوډا یې ژوندي په اور کې وسوځوي او (۳۳) تنه نور یې د هغه سره وسوځول. دا پیښه په ۱۷۶۱ زکال د سپټامبر په ۲۱ نیټه وشوه.» (۲۴ ص، ص ۱۷۲ ـ ۱۷۳)

د پورته معلوماتو څخه څرګندیږي چې د عیسویت په واکمنی کې ډیر ظلمونه تیر شوی دي، د ولټر په کتاب کې نورې ډیر بیلګې هم بیان شوی دي تر څو ولټر یې اړ باسي چې د اسلام ملاتړي پاته شي. که اوس ولټر یو ځل بیا را ژوندي شي او په نړۍ کې د رنګا رنګ ترهګري ډلو چارې چې د اسلام تر بیرغ لاندې تر سره کوي، په خپلو سترګو ویني، پر خپل تیر وخت به ډیر پښیمانه شي ځکه د اسلام د مقدس نوم څخه ډیره ناوړه ګټه پورته کیږي. زه چې ګورم د تاریخ تکرار دي. غواړم د طالبانو او داعش تر مینځ چې دا وړې ډلې د واقعي اسلام د خپریدو دعوه لري، د غوښتنو یوه بیلګه وړاندې کړم: « آریانانیوز:۲۰۱۷/۱۲/۲ زکال: داعش چې ډیر غړي یې وهابي او پنج پیري دي د حنفي مذهبه ټول پیروان واجب القتل ګڼي. داعش د پاکستان په پیښور او جلال اباد ښارونو کې ډیر مشهور دیني عالمان

وژلي دي. داعش په وروستيو وختونو کې په ننګرهار کې يو ديني عالم چې په يوه مدرسه کې د امام بخاري په تدريس مشغول و، په دار ځړولي دي. دا چې داعش او يا نورې ورانکارې ډلې د چا لخوا حمايه او تجهيزات ورکول کيږي بيله پوښتنه ده. يوه موضوع چې په ټولو حالاتو کې صدق کوي هغه دا ده چې د دين د نوم څخه ناوړه ګټه اخيستنه د شخص، ډلې او يا يو هيواد د ګټو د ساتنې لپاره تر سره کيږي.

بودايي دين په پرتليزه توګه د سولې ملاتړ دين دي خو د برما د واکدارانو ګټې چې په خطر کې ولويدي د همدغو سوله دوستو بودايي کشيشانو څخه يې ګټه واخيسته او د مسلمانانو پر ضد يې دومره بشري جنايتونه وکړل چې په ليکلو يې قلم شرميږي. سان سوچې چې د نوبل جايزه يې هم تر لاسه کړي او اوس د برما حکومت اداره کوي، پر دغو ټولو جنايتونو يې غوږونه کاڼه دي او همدا ډول لويديز هيوادونه هم ځانونه ناخبره نيسي. خبره د ګټو ده چې بودايي دين د خپلو او لويديزو د ګټو د پاره کاروي.

زموږ په ګران هيواد کې هم دوديزه اسلام چې ولس ور سره اشناه و، بله بڼه خپله کړې ده. وهابي، سلفي او ورته اصطلاحات کارول کيږي. څوک د مړو فاتحه اخيستل بدعت ګڼي، څوک د زيارتونو شتون بدعت ګڼي او داسې نور ډول ډول تعبيرونه را مينځته شوی دي. لنډ که ووايم په افغانستان کې د واک ساتلو او شتمنيو ټولو لپاره په پراخه کچه د دين او مذهب څخه ناوړه ګټه اخيستل کيږي. بدبختي دا ده چې په نړۍ کې د کوم هيواد لخوا زموږ منلي پيغمبر او قرآن کريم ته سپکاوي وشي، هغه افغانان دي چې بايد قرباني ته ودانګي. په داسې حال کې چې سعودي عربستان د اسلام ټيکه دارې لري او د اسلامي مقدسو ځايونو څخه په کال کې په ميلياردونو ډالر لاسته راوړي چې عربي شيخان يې په عياشيو لګوي.

د بيلګې په توګه کله چې د محمد (ص) کاريکاتور د يو ډنمارکي لخوا وکښل شو او بيا د قران کريم سوځيدل د امريکايي کليسا د مشر ګنګويچ لخوا اعلان شول، زموږ په هيواد کې داسې حالت راوستل کيږي چې خپل دوکانونه سوځي خپل خلک وژني په داسې حال کې چې نور اسلامي هيوادونه د اعلاميې په صادرولو بسنه کوي. په زړه پورې دا ده چې (۲۰۱۷/۱۲/۶ زکال) ډونالډ ټرمپ د امريکا ولسمشر د بيت المقدس په تړاو اعلان کړل چې د امريکا سفارت به هلته انتقال شي او امريکا به بيت المقدس د اسراييلو د پلازمينې په توګه وپيژني. تر ټولو مخکې افغانانو د فيسبوک پر پاڼه داسې ليکنې کوي چې غواړي تر عربو مخکې جهاد ته ځان تيار کړي. دفيسبوک په پاڼه ځينو دوستانو د بيت المقدس تاريخي شاليد بيان کړي خو احساساتي مسلمانانو چې د خپل هيواد غميزه يې هيره کړي په ښکنځلو ځوابونه ورکوي. د يو چا د ليکنې په ځواب کې د يو احساساتي مسلمان ورور ځواب

ولولئ.:....! اول ته اسلامی تاریخ ولوله بیا رمباړی ووهه، دا چی نن د مسلمانانو دا حالت دی دا تاغوندی بی وجدانه بیغیرته مسلمانانو شتون دی، اول زه په دغه خبره نه پوهیږم چې ته مسلمانه یی او که د بل دین»

اوس نو قضاوت وکړي چې د یوې خوا د مسلماني دعوه لرو خو د بلې خوا دومره جذبه لرو چې د قلم عفت ساتلای نه شو. دا لا څه چې په زرګونو ځوانان مو په میاشت کې خاورو ته سپارل کیږي. دا هر څه ولې؟ د دې پوښتنې ژور ځواب ته وروسته راځم.

کله چې محقق د اجرایي ریاست مرستیال او د وحدت ګوند غړی د ۲۰۱۷ زکال د ډسمبر په میاشت کې د ایران په پلازمینه کې د محبانو په غونډه کې برخه واخیستل، په عراق او سوریه کې د افغاني جنګیالیو ستاینه وکړه نو یو دوست د فیسبوک پر پاڼه ډیر په زړه پورې مطلب لیکلي دي: «محقق هم هزاره ځوانان د خپلو دیني مقدساتو دفاع ته لیږل؛ هغه ولې خاین بولئ؟ که د هغه د مذهب او مقدساتو ارزښت له خپلو ټیټ ګڼئ؟ یو وخت د ټولې نړۍ ترهګر افغانستان ته راغلل څو د دین په نوم له روسانو د لویدیځ ګټې وژغوري؛ بیا حزبیانو(ل: حزب اسلامي) آذربایجان ته خلک جهاد ته لیږل. څه موده مخکې هم کشمیرخان په یمن کې د عربو جګړې ته د کنړ د ځوانانو د لیږلو کیسې کولې. د ټرمپ له دې احمقانه حرکت سره به خدای خبر بیا څومره مسلمانان د احساساتو او پردیو لوبو قرباني شي. یو ځل بیا وایم چې لومړی په ځان زړه وسوځوئ؛ بیا د امت د دفاع غم وخورئ.»

ما څو ځله یوه کیسه په لیکنو کې راوستلې ده. کیسه داسې وه: د ۱۹۹۱ زکال و، د ډنمارک د اغوس په ښار کې د ټولو اتحادیو (افغانان، ترکان، سومالیان او نور) استازي یوې غونډې ته را وبلل شول. په غونډه کې د ډنمارک د کډوالو د ادارې استازي، د بخښنې د نړیوال سامان استازي او د څو نورو موسیسو استازو ګډون درلودې. هر چا په خپل نوبت د کډوالو پر ژوند، په ټولنه کې د انټیګریشن او کار پیدا کولو په تړاو بحثونه وکړل. په پای کې د کډوالو د ادارې استازی چې ځوان و او د کډوالو د ادارې د معلوماتي څانګې مشر و، وویل:« شوروي اتحاد ماته وخوړله، دا ځل وار د اسلام دي. ناټو پریکړه کړي چې په سیستماتیکه توګه د اسلام پر ضد حرکتونه تنظیم کړي.»

دا دي اوس یې په سترګو وینو چې دومره اسلامي ترهګرې ډلې رامینځته کړي چې د یو او بل وینو ته تږې دي. دومره تلفات چې اسلامي تندروه ډلې مسلمانانو ته اړولي دي، د غیري مسلمانو د تلفاتو سره د پرتلې وړ نه دي. د سلمان رشدي په واسطه یې د پیغمبر د سپکاوي کتاب ولیکي، د محمد (ص) کاریکاتورونه یې رسم کړل، قران کریم ته یې اور واچاوه او دا دي د مسلمانانو پخواني قبله (بیت المقدس)

يې په رسمي توګه د يهودانو په واک کې ورکړل. دا هر څه د دې لپاره چې مسلمانان تحريک کړي چې په خپلو هيوادونو کې لاريونونه وکړي، دوکانونه وسوځوي، يو اوبل سره ملامت کړي تر څو په لوړه کچه يې کمزوره کړي. د بده مرغه مسلمانان د نړۍ د تمدن او صنعت څخه ليري دي، هر وخت مو کچکول په څنګ کې وي، هغه چې شتمني لري، په عياشيو کې ډوب دي او د امريکا تر اسارت لاندې شپې ورځې سبا کوي. داسې يو حالت يې رامينځته کړي چې د اسلامي تندروه ډلو په واسطه ښوونځي سوځوي تر څو نور مو هم په توره تياره کې وساتي.

زموږ د اسلامي ډلو مشران د پرديو په ډالرو رانيول شوي نو ځکه افغاني زلميان په سوريه، اذربايجان، عراق او په نورو هيوادونو کې قرباني ورکوي خو خپل په کور کې د لګيدلي اور د خاموشه کولو لپاره قدم نه اوچتوي. موږ يې په سترګو وينو چې د اسلامي ډلو مشرانو د امريکايانو او نورو لويديزو هيوادو په برکت قاروني شتمني راټولي کړي دي. د اسلام او ولس د غم څخه ناخبره دي.

تر ټولو جالبه دا ده چې فلسطين او بيت المقدس څه د پاسه (۷۵) کاله کيږي چې اسراييلو (نړيوالو صيهونيستانو) اشغال کړي دي. په دغو کلونو کې مختلفې تندروه اسلامپالې ډلې جوړې شوي دي چې د زياترو ډلو سره د عربي حکومتونو او شيخانو مالي ملاتړ ملګري وو خو په دومره کلنو کې چې د اسلامي حکومت د جوړولو دعوه درلوده، ښه به دا وای چې مسلمانان يې متحد کړي واي او فلسطين يې د اسراييلو څخه ازاد کړي واي. خو په دغو کلونو کې عربانو او تندروه اسلامي ډلو په ميلياردو ډالرونه د نورو اسلامي هيوادونو د ورانۍ لپاره ولګولي چې ښه بيلګه يې افغانستان دي چې د امريکايانو سره اوږه پر اوږه د افغانستان پر ضد په دې نوم چې افغانستان د شورويانو څخه ازاد کړي، جنګيدل. د جهادي مافياء په دوران کې د امريکايي او عربي ډالرو په مرسته د افغانستان زيربنايي بنسټونه وران او په ميليونونو انسانان ووژل شول چې پايله يې د امريکا اشغال شو.

ولې په دغه موده يا مخکې د افغانستان په جګړه کې ښکيل عربي تندروه د اساما بن لادن په ګډون د بيت المقدس د ازادي لپاره د جهاد شعار نه ورکولو. دا چې د عراق او سوريې د ورانولو لپاره يې په زرګونو تندروه مسلمان ليږل ولې يې د فلسطين او بيت المقدس د ازادي لپاره ګام اوچت نه کړولو په بدل کې په ميلينونو مسلمانان په نوموړو هيوادونو کې په بيرحمي ووژل او لا دوام لري. نو څرګنده خبره ده چې اخواني تندروه ډلې د اسلام او مسلمانانو په غم کې نه دي بلکې د خپلو سياسي ګټو او بهرنيو څارګرو ادارو د موخو د پياده کولو لپاره په اسلامي هيوادونو کې مسلمانان وژني او اسلامي هيوادونه د تمدن د کاروان څخه وروسته پاتې والي ته

هځوي تر ځو په اصطلاح غیري مسلمانان بډای هیوادونه د خپلو استعماري موخو د پیاده کولو د پاره موږ د جګړو د توکو په څیر استعمال کړي.

پام وکړي د پاکستاني طالبانو هغه نوي نوښت ته چې د بی بی سي په قول یي د خپلو ناوړه کړونو په تړاو کتاب خپور کړي چې زه د خبر لنډیز خپروم:

**پاکستاني طالبان: باج مو اخیستی او شوکې مو کړې**

هارون رشید بي بي سي اسلام اباد

۲۰۱۸/۱/۱۵ زکال

دغه کتاب کې تحریک له ۲۰۰۱ کاله د ۲۰۱۷ کال تر ډسمبر پورې د خپل تاریخ لیکلو هڅه کړې. پاکستاني طالبانو لومړی ځل اعتراف کړی، چې د دوی ځینو ډلو پخوا د خپلو لګښتونو لپاره د تحریک په نامه باج اخیستی، شوکې یې کړې او ان د پیسو لپاره یې وژنو کې لاس درلود. تحریک پاکستان طالبان یو ۹۶۰ پاڼې کتاب خپور کړی، چې «انقلاب محسود، ساوت وزیرستان-فرنګي راج سې امریکي سامراج تک » نوم یې ورکړی دی.

د کتاب لیکوال مفتي نور مسېد دی چې د ابو منصور عاصم په نامه هم پېژندل کېږي. لیکوال ادعا کوي، چې د کتاب هدف د ماضي له تېروتنو زده کړه کول او راتلونکي کې یې له تکرارولو ډډه کول دی. یو بل هدف یې وایي، د تاریخ لیکونکو، شنونکو او څېړونکو (اصلاح) ده.

پاکستاني طالبانو په دغه کتاب کې د خپل عاید په تړاو ویلي، چې د حکومتي کسانو تښتولو تر څنګ یې ۲۰۰۷ کال کې د پوځ یو کاروان له وسلو او ګاډو سره وتښتاوه او ادعا کوي، چې له حکومت سره د یوې هوکړې له مخې د ۶۰ میلیونو پاکستاني روپیو بدل کې یې هغه کاروان بېرته حکومت ته وسپاره.

دغه کتاب کې لومړی ځل طالبانو منلي چې د پاکستان پر پخوانۍ لومړۍ وزیرې بینظیر بوټو په کراچۍ کارساز او راولپنډۍ سیمو کې دوی بریدونه کړي وو. له دې مخکې طالبانو د دغو بریدونو له منلو ډډه کوله.

پاکستان کې د سخت دریځو ډلو مالي سرچینو په اړه تل ناوده بحثونه کېږي. که څه هم حکومت کوم څرګند ثبوتونه نه وړاندې کوي، خو ادعا کوي، چې نور هېوادونه او په ځانګړي ډول هند وسله والو ته، په پاکستان کې د ګډوډۍ رامنځته کولو لپاره پیسې ورکوي.

مفتي نور مسېد په دغه کتاب کې وايي، چې له ۲۰۰۳ کال نه تر ۲۰۱۶ کاله پورې طالبانو او په ځانګړې توګه مسېد ډلې له هېڅ یوه مسلمان یا نا مسلمان هېواده څخه مالي مرسته نه ده موندلې، خو نوموړی مني چې یو شمېر ډلو د ۲۰۱۵ کال له وروستيو راهيسې دغه چاره پیل کړې.

د کتاب ليکوال همدغه چاره په تحریک کې د درز یا بېلتون سبب بولي. دا لومړی ځل دی، چې د تحریک دننه څوک دا ډول لیکنه کوي او د خپلو نیمګړتیاوو یادونې تر څنګ پر خپل سیستم غږېدلي وي.

**د اسلامپاله تندروه ډلو د پیاوړي کیدلو علتونه**

که څه هم دا موضوع به تکراري وي خو د مهمي موضوع سپړل که څو ځله هم تکرار شي، ښې پایلې لرې.

د اخوانيزم او د توندلارو ډلو پراخيدل، پیاوړي کیدل په نیغه د سړې جګړې پایله ده، په خواشيني باید ووایم چې اساسي قرباني یې افغانانو ورکړل. د سردار محمد داودخان د جمهوريت تر اعلان وروسته امریکایي سیاستوال متوجه شوه چې د شورويانو د واکمنۍ لمن د نړۍ په ګوټ ګوټ په ځانګړې توګه په افغانستان کې په بیړه پراخيږي. د امریکا ستراتیژیستانو سپینې ماڼۍ ته مشوره ورکړه چې هم دا اوس باید لاس په کار شو پرته له دې به د قابو کولو توان ونلرو. د (د امریکا پټې موخې او لوځ جنایتونه) کتاب څخه د امریکا د جهاد د وخت د امنیت مشاور برژنسکي د مرکې ځینې مطالب را نقلوم:

« پوښتنه: کله چې شورويانو د پوځي مداخلې په دفاع کې ویل چې علت یې د امریکا د پټې مداخلې سره جګړه ده، هیچا باور نه ورباندې کولو. سره د دې چې علت او دلیل یې تاسو بیان کړي ایا اوس پر خپل تیر شوي چاره پښیمانه نه یاست؟

برژنسکي: د څه شی څخه پښیمانی؟ پټ عملیات یو ډیر عالي نظر وو چې شورويان مو د افغانستان د جګړې په تلکه کې بند کړل او تاسو زما څخه غواړی چې پښیمانه شم؟ کله چې شورويانو په رسمي توګه د افغانستان د سرحد څخه راتیر شول، جمهور ریس، کارتر ته مې ولیکل: اوس هغه وخت را رسیدلي دي چې شورويانو ته د ویتنام د جګړې ځواب ور کړو. شورويانو لس کله داسې جګړه مختته یوړه. دا داسې وه جګړه وه چې د دوي روحیه یې کمزوري کړه، پایله د شوروي اتحاد د امپراطوري سقوط شو.

پوښتنه: د اسلامي بنسټپالو د ملاتړ څخه هم پښیمانه نه یاست. تاسو د ترهګرو په واک کې معلومات او وسله ورکړه؟

برژنسکي: د نړۍ د تاریخ له پاره کوم څه ډېر ارزښت لري؟ طالبان او که د شوروي د امپراطوري سقوط؟ ځیني مسلمانان تحریک شول خو د اروپاه ازادي او د سړې جګړې پای.

پوښتنه: ځیني مسلمانان تحریک شوی دي؟ خو په تکرار ویل کیږي چې اسلامي بنسټپالي د نړۍ له پاره ګواښ دي؟

برژنسکي: یوه پوچه خبره! ویل کیږي چې لویدیز د اسلام په وړاندې نړیوال سیاست درلودي. دا احمقانه ده. هیڅ سرتاسري اسلام شتون نه لري. اسلام ته باید په منطقي توګه وکتل شي پرته د خطا ایستنې او احساساتو څخه. اسلام د نړۍ لوی دین دی چې یو نیم میلیارد پیروان لري. د اسلامي هیوادونو لکه د سعودي عربستان بنسټپالي، منځلاري مراکش، پوځ غوښتونکي پاکستان، مصر، لویدیز ته متمایل او یا منځنی اسیا، سیکولاریستان شتون لري. بل هیڅ نشته پرته له دي چې د لویدیزو هیوادونو تر مینځ د وروري مزي ټینګ کړي.» (۲۱ ص ۶۲)

که د برژنسکي مرکه او مخکې خبري په ژوره توګه وڅیړو، ښکاره ده چې امریکایانو د خلق دموکراتیک ګوند تر واکمنۍ مخکې هم د تند لارو اسلامي ډلو سره په افغانستان او نړۍ کې د خپلو ګټو د ساتلو له پاره اړیکې درلودي. غوره بیلګه یې د برژنسکي نظر د ایران اسلامي انقلاب په تړاو په ګوته کولای شوو. نن که نړۍ د اسلامي تند لارو د خشونت او وژنو د اور په لمبو کې سوځي، مسولیت یې د برژنسکي په ډول د امریکایي سیاستوالو پر اوږو بار دي او باید د نړۍ ولسونو ته ځواب ووایي. دا چې برژنسکي ادعا لري چې لویدیزو هیوادونو د اسلام له پاره ځانګړی پلان نه درلودي ځکه مسلمانان په خپلمنځي اختلافونو اخته دي، تر یوې کچې سمه ده خو د دغو خپلمنځي اختلافاتو ته د لمن وهلو له پاره هم امریکایانو ډیري پیسي لګولي دي. اوس چې په اسلامي هیوادونو کې بیشماره تندروه ډلې رامینځته شوي په یو یا بل ډول د لویدیزو هیوادونو یا د امریکا د ملاتړ څخه برخمن دي. له یوه لورې ترهګر ګروپونه په وسلو سمبالوي د بل لورې د جنایتونو دروند بار یې پر مسلمانونو او اسلامیت باندې اچوي.

د افغانستان تر جګړې مخکې په نړۍ کې پرته د مصر د اخوان المسلمین د ډلې څخه بله داسي واکمنې تندروه ډلې شتون نه درلود. کله چې د داود خان د جمهوریت پر ضد د افغانستان د اخوان ډلې، برهان الدین رباني، ګلبدین حکمتیار او احمدشاه مسعود د پاکستان د ګورنر نصرالله بابر به غوښتنه ناکامه بریدونه وکړه، نوموړي کسان پاکستان ته وتښتیدل او د آی اس ای تر روزنې لاندې ونیول شول. وروسته د ثور پوځي پاڅون وشو چې د سي ای ای او آی اس ای د ګډ کار لپاره ښه پلمه پیدا شوه چې د نورو اخوانیانو په جذب او روزنه کې تلاښونه ګړندي کړي تر څو د

شوروي اتحاد په اشغال، د جنرال ضياالحق په علاقه او تندروه عقيده سره امريکايانو هم د مرستو تږر وتړکاوه. جنرال ضياالحق د جنرال اختر په مرسته د هغو اسلامي ګوندونو تهداب کښيښودي چې د پاکستان د اوامرو بشپړ تابع وو.

د پورته معلوماتو څخه څرګنده شوه چې امريکايانو د جهاد تاريخي او اسلامي بنې ته د خپلو ګټو د تأمين او په ځانګړي توګه د پخواني شوروي اتحاد پر ګونډو کولو په خاطر بشپړ بدلون ورکړي. البته د خپلو څارګرو ادارو پرمټ يې د اسلامپالو ګوندونو لپاره داسې مشران په ګوته کړل چې اسلامي کړونو ته يې کلکه څپيړه ورکړه. د جهاد په دوران کې د اوو ګونو او اته ګونو ګوندونو مشران په ډالرو روږد کړل او داسې ذهنيت يې ورته ورکړي چې د څارګرو ادارو سره اړيکې د شرم په عوض د وياړ چاره وګڼله نو همدغه علت و چې جهاديانو پر کابل باندې د واکمنيدو سره سم د خلکو شتمني او ناموس غنيمت وګڼي او په چور يې پيل وکړي.
د افغان ولس ژوند او مرګ يې هم خپل د صلاحيت په حدودو کې ګڼل.
که نن افغانستان ته نظر واچوو، جهادي مشران، لومړی او دوهمه درجه قوماندان يې په مافيا بدل شوي دي، قاروني شتمني لري، د خلکو په ناموس لوبې کوي او هره ورځ د زرګونو جنايتونو شاهدان يوو. جهادی مشران د امريکا، ايران، پاکستان، روسيې او نورو لويديزو هيوادونو د څارګرو ادارو سره په اړيکو وياړ کوي. تر ټولو بده دا ده چې په هيواد کې د ولسونو تر مينځ د توکميزو، ژبنې، مذهبي او سيمه ايزو توپيرونو په ګټه اخيستنه د نفاق اور بل کړي دي. جالبه ده چې همدغو په نوم مسلمانانو د نړۍ د مسلمانانو يووالي غوښتي خو اوس په تبعيضونو کې تر غوړونو ډوب دي. ګلبدين حکمتيار چې تازه د سولې د پروسې سره يو ځای شوي، په يو بل ډول هڅه کوي چې خپل تر نورو حريفانو وروسته پاته نه شي نو ځکه د خبرو او چلند څخه يې ښکاري چې دا ځل افغان ولس د پښتون د داعيې څخه د دفاع په پلمه په لومه کې راګير کړي. د ښاغلي عبدالمجيد راغستاني د ليکنې يو برخه ولولئ:

« د ګلبدين حکمتيار ظهور !په خوست کې

مولوی محمد يونس خالص د جهاديانو په منځ کي د شوخ، ،طنزي ،او شاعرانه مزاج خاوند وو د ګلبدين په باره کي يې کله ،کله يو شمير واقيعتونه ويلي دي چې د ده د سياسي او اجتماعي شخصيت څرګندوي کوي .

خالص وايي«ګلبدين لکه د اور پرتوګ داسي دی که يې آغوندې سوځوي دي که يې باسې کونه دي لوڅيږي.»

په بل ځای کي بيا وايي« ګلبدين که په لمانځه کي مخ ته کوو عالم ندئ او که يې شاته کوو څپلۍ پټوي.»

د مولوي خالص خبري يقناً د حکمتيار په باره کي صدق کوي. ګلبدين حکمتيار په خوست کې ډيري ضد او نقيص خبري درلودې چي هوښيارو اوريدونکو او لوستونکو ته هغه انديښني بيا را پورته کوي چي د نوموړي د ظهور !سره په لغمان کي را ټوکيدلي وې او هغه دا وې :

- پاکستان او په خاصه توګه آی،ايس،آی چي له يوې خوا مستقيمه او غير مستقيمه جګړه مخ ته وړي او د افغانستان د دولت مخالفين (طالبان، داعش) په پاکستان کي کورونه او د پوځي زده کړو مرکزونه لري او ټول جنګي مهارتونه او وسلې هلته تکميلوي، څرنګه د افغان يو مشهور مخالف ته اجازه ورکوي چي له دولت سره سوله وکړي؟

- تر کاسه لاندي نيم کاسه خو به نه وي؟

- ايا پاکستان د مخامخ او يا نيابتي جګړې نه بله لار غوره کړې ده «کلا له داخل نه فتح کوي»؟

د دې پوښتونو په اړه ما په هغه وخت کي خپلي انديښني څرګندي کړي وي چي په تاسف اوس کرار، کرار بربنډيږي .

حکمتيار له اخوان المسلمين نه اخوت الپښتون ! ته مخه کړيده .

لومړی يې د خوستوالو او لويې پکتيا سره خواخوږي و ښوده چي «حق! يې ندی ورکول سوی.»

دوهمه خبره يې داوه چي «موږ نه بايد د چاه بهار بندر تر کراچي بندر په ګټه وبولو.»

**تاريخ رښتيا چي حافظه لري دا موږ يو چي حافظې مو ضعيفه دي ، د مجاهدينو د راتګ سره همدې پکتياوالو(د منګلو په غونډه کي) حکمتيار ته ويلي وو چي "زموږ د پښتنو ونډه په اسلامي حکومت په نشت حساب ده « حکمتيار ورته ويلي وه » زه د پښتنو رهبر نه يم زه د اسلامي مجاهدينو رهبر يم. د پښتنو د حقوقو په باره کي له کبير ستوري سره خبري وکړي په جرمني کي اوسيږي او د افغان ملت ترانه ږغوي .»...**

اما اوس د دايکنډي او لويې پکتيا مقايسه د رهبر په نظرياتو کي تغيرات ښيي دا چي دا تغير صادقانه دی او که د شخصي ګټو لپاره دا به وخت وښيي، خو يو خبره جوته ده چي حکمتيار د پښتونو له احساساتو ګټه غواړي .

اما د چاه بهار او کراچي بندرونو په اړه يې بيا ځرګندوني بهرنۍ اړخ لري. زه د حکمتيار دا انديښنه پر ځای بولم چي چاه بهار هم زموږ په خاوره کي ندئ اما دا هم له ياده ونه باسو چي موږ هر څومره ډيري بديلي لاري ولرو هغومره مو تجارت او اقتصاد وده کولای سي او موږ د يوه دښمن ګاونډي له انحصاره خلاصولای سي. له بله پلوه زموږ صادرات د هند ميلياردي ټولنه کي تر ټولو ښه بازار لري او دا کار تر کراچي له چاه بهار نه ښه کيږي .

ولي حکمتيار پر کراچي تاکيد کوي؟ يقناً د پاکستان لپاره چاه بهار بندر پرانيستنه ښه خبر نه وو، د اقتصادي ترانزيت د ګټو تر څنګ يې تل دا لاره د سياسي فشار لپاره استعمالوله او حکمتيار بايد د خپل پخواني کوربه او ۵۰ کلن دوست انديښني په ډاګه کړي وای .

د هغه څه په باره کي چي حکمتيار ښتني سيمي له نورو ولايتونو سره مقايسه کوي، خو له دې نه بيا په څنډه تيريږي چي د هغوی جهادي رهبران که ښه دي که خراب دي د خپلو خلګو په منځ کي دي. مسعود په پنجشير کې ، تورن اسمعيل په هرات کې،عطا په مزار کې، خليلي او محقق په باميان او دايکنډي کې... ظهور! وکړي خو ته خپل ولايت ته نسې تلای. تر خوست د کندوز غم کول په کار دي» د عبدالمجيد راغستاني د خبرو پای.

د ګلبدين حکمتيار د نوي نظرياتو په تړاو ښاغلي قيوم معلم په لنډو جملو کې فيسبوک پر پاڼه (۲۰۱۸/۱/۵) د هغه څيره داسې افشاء کوي:« ښاغلي حکمتيار صاحب! سلام، نه پوهيږم چي ستا کومه اړتيا ده هميش د خپل ولس له عمومي روحې خلاف خبري کوې، څه وخت مخکي دي وويل: په افغانستان کي د جهاد له شروع څخه تر اوسه پاکستان تر هرچا ډېر ضرر ليدلی دئ ، حال دا چي د هغه غلاوو له برکته هغوی د اتومي سلاح څښتنان سول. نن چي امريکا د دې څلورويښتو کلونو په جريان کي د پاکستان په مخالفت کي يوه خبره کړېده (د پيسو نه ورکړه) بيا پرتا چا دا فرض کړه چي ته د پاکستان له دريزه څخه ملاتړ وکړې؟ زما په خيال ته فکر کوي دا ټول خلګ نه پوهيږي چي په جهان يا منطقه کي څه روان دي تنها ته ښه پوهيږې. مثلاً وايې : دا خو پاکستان له شوروي، چين ... سره نژدې سوئ دئ، بې ادبي معاف د امريکا په يوه ږغ پاکستانيانو... وکړل. ته ولي خلګ ستړي کوې، ادعا لري، انتخاباتو ته ګوند ودروې، ښاغلې بيله تا څخه د افغانستان ټول ولس له پاکستانه نفرت لري، يوازی ته يې په دفاع کي ويناوي کوې. هيله لرم راڅخه خفه نسې.»

په يوه لنډه جمله کې ويلاي شو هغه جهاديان چې د اسلام نوم يې د پاکستان د څارګرې ادارې په ګټه داسې وکاروه چې د ضياء الحق د ارمانونو د پوره کولو

لپاره يې افغانستان ټوټه کړ، مجبور دې چې د خپل هغه بادار د ګټو څخه چې دوي يې په لمن کې روزلي د ژوند تر پايه دفاع ورڅخه وکړي. دوي د ولس او افغانستان دښمنان دي او دښمني ته به دوام ورکوي ځکه د ژوند پايښت يې په آی اس ای او نورو څارګرو ادارو پورې تړلي دي.

عطا محمد نور د بلخ والي، د مسعود کورنۍ، د وحدت، سياف او نورو اسلامپالو (اخواني) ګوندونو ټول د خپل واک د پايښت لپاره په مذهبي، توکميزه، ژبني او سيمه ايزو تربګنيو لګياه دي. کله د (ما افغان نيستم) شعار ورکوي، کله ځانونه د تاجک او هزاره قومونو استازي ګڼي. اوس د ۲۰۱۷ زکال په وروستيو ورځو کې عطا محمد نور د ولسمشرف اشرف غني په فرمان د ولايت مقام څخه ګوښه شوي دي خو د خپل مقام د ټينګولو لپاره وسلوال چلينجونه ورکوي او غواړي د خپل مقام د ساتلو لپاره بيا کورنۍ جګړه تازه کړي. خبره د اسلام او جهاد نه ده بلکې د شتمنيو او واک ټينګولو ده. يو وخت ګلبدين حکمتيار ويل ځم په نورو اسلامي هيوادونو کې د کفارو پر ضد جهاد کوم خو اوس د ګلبدين په ګډون ټول جهادي مشران په زرهي موټرو کې ګرځي او لوکسو بيلډنګونو کې استوګنه کوي. دا يې د اسلاميت او جهاد پايله شوه.

جهادي مافيا د ژوند دوام په جګړو کې ويني نو په ځکه د افغانانو وژل، په ځانمرګو بريدونو کې د دوي رول حتماً شتون لري چې بيلګه د کانتينيتال پيښه ( ۲۰۱۸/۱/۲۰ زکال) او د جمهوريت د شفاخانې بريد( ۲۰۱۸/۱/۲۷) يادولای شم. په دې تړاو ارزښت پاڼه ليکی :نيټه:۲۰۱۸/۱/۲۵ زکال

**د کابل پر کانتينينتل هوټل د بريد ريښه چيرته ده؟**

د کانتينينتل هوټل امنيتي چارې فقط څوهفتې دمخه له پوليسو نه د کابل- بلخ سيکورټي سرويس په نوم امنيتي شخصي کمپنۍ ته ورليږدول شويدي.

د يادې کمپنۍ مشر سعيد رحيمي د پنجشير اوسېدونکی او د نظار شورا + جمعيت اسلامي غړی دی چې په دوه زره او څلورم کال کې يې خپله کمپنۍ له آيسا سره راجستر کړې او د افغانستان د دولت، امريکايي قواوو او اروپايي اتحاديې نه د کار جواز لري.

افغانستان کې شخصي سيکوريټي کمپنۍ د لومړي ځل له پاره د امريکايانو تر راتګ وروسته راپيدا شوې. دغو کمپنيو به د امريکايانو او خارجي قواوو د لوژ ستيکي کتارونو د ليږد راليږد امنيت تامیناوه، په دې ډول نه چې له دښمن نه يې دغه کتارونه ساتل، بلکه دا کمپنۍ د هوښيارو معامله ګرو لاس کې وې چې هر چيرته يې د طالب د بريد خطر احساساوه، هلته به يې له طالب محلي قومندانانو سره

معامله کوله، حق یې ورکاوه او نغدي یا تسلیحاتي اکمالات یې ورته کول او کتارونه یې سلامت رسول. تر اوسه د افغانستان په هیڅ نقطه کې څوک د دې شاهد نه دي چې دې کمپنیو دې له طالب بریدګرو سره نښته کړې وي او د خپلو بادارانو کتار ته دې یې لاره پرانیستې وي، بس له باد راوړیو ډالرو یې څه طالبانو ته ورکول څه یې خپله اخیستل چې دولتي امنیتي ارګانونو یې هم نه په کار کې کار درلود، نه یې پر دوی زور بر وو او نه یې د څارلو صلاحیت درلوده. حتی ویل کیږي چې د یو شمیر شخصي امنیتي کمپنیو اصلي مالکان هم طالبان دي چې خپله په کویټه او کراچۍ کې چکر وهي خو پنجشیري ذري یې کمپنۍ په خپلو نومونو چلوي.

په ډیرو مواردو کې ویل کیږي چې د طالب بریدګرو لیږد راليږد او ان د وسلو اکمالات هم همدا کمپنۍ ترسره کوي.
افغانستان کې د تنظیمونو تر منځ د جګړو او تربګنیو ، همدا شان د جنګ د شرایطو سابقې ته په کتو ډیر داسې مثالونه شته چې جنګیالي، حرفوي قاتلان، جنګي وسایل او وسایط لکه نور توکي خرڅیږي او اخیستل کیږي. همدا اوس هم ډیر خلک په دې پوهیږي چې ځانمرګي لکه د بازار نور توکي خرڅیږي او زورور یې د خپلو موخو له پاره کاروي، په پیښور کې د قاري احمد ازبک مدرسه د انتحاري بلهاریانو د پیرو پلور له پاره مشهوره ده.

اوس چې د کانتیننټل د پیښې پل پسې واخلو نو د دې احتمال شته چې د امریکا د سفیر له وروستیو څرګندونو، د ښاغلي عطا له عزل او د جمهور ریس غني له اصلاحاتو سره یې اړیکې پیدا کړو.

د پیښې په ورځ هوټل کې د امریکا سفیر یوه مهمه غونډه درلوده او له پیښې فقط څو دقیقې دمخه له هوټل نه وتلی وو، نو و دې شي چې د برید سازمان ورکونکو غوښتل هغه ته د نوموړي د وروستیوڅرګندونو سزا ورکړي کومې چې استادعطا هغه د هیواد له قوانینو سره په تضاد کې وبللې، ځکه د لړم بچي چې غټ شي اول خپله مور خوري.
غني ته د مافیا یې کړیو له خوا د خپل زور نمایش هم د دې پیښې تر شا د لیدلو وړ دی.

په هر حال، وروستۍ خبره دا چې طالب به د پیښې مسولیت منلي وي خو دا ممکنه نه ده چې دا برید دې طالب په تنهایي کړی وي، بلکه عقل حکم کوي چې برید ګر د کې بي ایس ایس کمپنۍ په مرسته، د حکومت دننه د ناراضي مافیایي سیاسي کړیو په هماهنګي د ولسمشر غني د اصلاحاتو د چلینجولو له پاره ترسره شوی.

د امریکاه تحقیقاتي تیم آو افغان امنیتي تیم یو ځاي د تیري شپي تروریستي حمله چي پر هوټل وشوه تحقیقات پیل کړي دي ، ابتدایي تحقیقاتو کي داسي نښي آو نښانو ته اشاره شوي ده ، چي پر هوټل شوي برید د جمعیت ډلي عطا نور لاس دي، په دغه تروریستي حمله کې چې پر هوټل وشوه یوازي لوړ پوري کسان په شهادت رسیدلي آو ټول پښتانه دي. نوموړي کمپنۍ چي د هوټل امنیتي چاري په لاس کي وي مربوط په محمد سعید رحیمي د پنجشیر سیمي اوسیدونکي دي ، د مسعود شورای نظار او د هلاک شوي رباني جمیعت د افغانانو په بدن کی د سرطان دانه ده.

په انترکانتینینتل هوټل له برید راهیسي په ټولنیزو شبکو کی د ابر مردان کولاب زمین ښځینه او نارینه پلویانو د تل پشان زهرجن تبلیغات پیل کړی دي تر څو د هوټل د خصوصي امنیتي شرکت کابل ـ بلخ مسول پنجشیري مشر محمد سعید رحیمی او د شرکت نورو شورائ نظاري او جمعیتی ساتونکو ته برأت حاصل کړي

او په افغانستان کی د هر جنایت پړه پر پښتنو واچوي، همدا بی هویته او کم ذاته کولاب بچګان دي چی تل د دوښمنو هیوادونو په اشاره د افغانستان د ملي ګټو په خلاف راپورته شوی دي او د هر کافر او مسلمان سره یی د افغانستان په ضد لاس یو کړی دی

امریکایانو د خپلو همدغو جاسوسانو په مرسته برسیره په نفاق په هیواد کې د افراطیت او بنسټپالي د پراخیدو لپاره مجهز مرکزونه جوړ کړي نو ځکه لسګونه نوي افراطي او بنسټپاله ګوندونه، ډلي او د پوهنتونونو په نامه علمي مرکزونه (د افراطیانو د روزنې مرکزونه) او مدرسې جوړې کړي دي چې د ولس افکار یې په زهرجنو افکارو ککړ کړي دي. د نړۍ په کچه که نظر واچوو، امریکا او نورو لویدیزو هیوادونو د اسلام تر بیرغ لاندې قاتلان او وحشیان د سیاست ډګر ته داخل کړي دي، بیلګه یې داعش او نور په لسګونو افراطي ډلي دي چې په حقیقت کې د مسلمانانو قاتلان دي. ما په کتاب کې په کراتو کراتو ویلي دي چې په نړۍ کې د ترهګري بنسټ د امریکا په مشري د لویدیزو او عربي هیوادونو په مرسته کښیښودل شو.»

تر ټولو حیرانونکي پیښه دا وه چې تر ځانمرګو بریدونو وروسته چې په سلګونو ځوانان ور په کښې په شهادت ورسیدل او ټپیان شول، همدغې کړۍ د ملي قیام په نامه ډنډوره خپره کړه. د ۲۰۱۸ زکال د فبوري لومړي نیټه یې په کابل کې د ملي قیام لپاره اعلان کړل، البته ملاتړي همغه د نیویمو کلنو د عطا محمد نور په څیر کسان وو خو ولس وشرمول او قیام یې د څو تنو په راټولولو او د پاکستان د بیرغ د سوځولو پر ځای د نایجریا د بیرغ په سوځولو پای ته ورسیدي. جالبه دا ده چې دوي قیام د چا پر ضد کوي؟ د فساد، وژنو، امریکایي اشغال، حکومت، طالبانو ...؟ که د

پورته مطلبونو پر ضد قیام کوي خو د دغو ټولو بدبختیو زیږونکي دوي خپله دي، په دولت او پوځ کې دومره ماشیني جنرالان ونډه لري چې باید دوي ولس ته جواب ووایي نه دا چې د بل چا څخه ځواب غواړي.

پاملرنه وکړي د نوام چامسکي مرکې ته:« بحران های امروز جهان در گفتگو با نوام چامسکی (یورونیوز)

نوام چامسکی در هفتم دسامبر ۱۹۲۸ در فیلادلفیای آمریکا متولد شد

او کارش را در سال ۱۹۵۵ در ام آی تی (موسسه تکنولوژی ماساچوست) آغاز کرد

او زبان شناسی مشهور، فیلسوف و فعال سیاسی است
کارهای او از دهه ۱۹۵۰ انقلابی در زمینه زبان شناسی بوجود آورده است

شهرت او در جریان فعالیت هایش در مخالفت با جنگ ویتنام، افزایش یافت

او منتقد تند و تیز نخبگان حاکم و سیاست های خارجی آمریکا و غرب است

او نویسنده صدها عنوان کتاب در زمینه های گوناگون می باشد

یورونیوز: موضوع دیگری که می خواهم مطرح کردم، تروریسم است. بخاطر اینکه تروریسم واقعا آفتی جهانی است و برخی از مردم و فکر می کنم از جمله شما، می گویند که این مسئله مقاومتی در برابر سیاست های ایالات متحده در سراسر جهان است. مسوولیت آمریکا و متحدانش در ارتباط با آنچه امروزه در سراسر جهان شاهدش هستیم، چیست؟
چامسکی: «به یاد داشته باشید که بدترین کمپین تروریستی در جهان در واشنگتن سازماندهی شده است. و آن کمپین ترور و کشتار جهانی است. تاکنون هرگز چنین کمپین تروریستی در این مقیاس وجود نداشته است.»

یورونیوز: منظورتان از کمپین ترور جهانی چیست؟
چامسکی: «منظورم، کمپین هواپیماهای بدون سرنشین است. در بخش بزرگی از جهان، ایالات متحده آمریکا بطور سیستماتیک و علنی از آنها استفاده می کند. هیچ چیز مخفی ای در آنچه من می گویم وجود ندارد، ما همه از آن مطلع ایم. این اقدام، کمپینی است که بطور منظم کسانی را می کشد که از نظر ایالات متحده مظنون بحساب می آیند و آمریکا می خواهند آنها را از بین ببرد. و این مسئله، همانطور که شما اشاره کردید، یک کمپین ترور و کشتار است و هنگامی که شما روستایی در یمن را بمباران می کنید، کسی را می کشید، شاید آن فرد کسی باشد که هدف شما

بوده و شاید که آن فرد نباشد و افرادی که در همسایگی محل بمباران شما آسیب می بینند، فکر می کنید چطور واکنش نشان خواهند داد؟ آنها دست به انتقام می زنند.»

جالبه ده چې له یوې خوا په اسلامي هیوادونو کې د ترهګري ضد ایتلافونه جوړېږي چې سعودي یې مشرتوب کوي خو د بلې خوا په پاکستان کې هره ورځ نوي تندروه ډلې سر را پورته کوي. د ۲۰۱۷ زکال په وروستۍ میاشت په پاکستان کې یوه نوي ډله را وزیږېدل. پام وکړي د خبر لنډیز ته:

سرچینه : نشنال اینترست

په پاکستان کې د خادم حسین رضوي په مشرتوب لاریون وشو نوموړي د خپل سیاسي ګوند نوم « تحریک لبیک یا رسول الله» معرفي کوي. که څه هم لاریونکونکو په ښار کې ګډوډې جوړه کړي وه خو بیا یې هم خپل لاریون مسألمت امیزه وګڼي. د پاکستان د عدلیې نوي وزیر زاهد حمید د قسم خوړولو په جریان کې څه پیښ شول چې د خادم حسین رضوي د تعبیر له مخې حضرت محمد (ص) ته سپکاوي وګڼل شو نو ځکه دوي ویل موږ اړ یو چې د رسول (ص) د عزت څخه دفاع وکړو. باید د عدلیې وزیر سمدستي استعفاء وکړي. مرګ پر کفارو شعارونه یې هم ورکول. د عدلیې وزیر استعفاء وکړه او لاریون کوونکو ته اوښتي تاوانونه د دولت لخوا ورکول کیږي. لاریون پای ته ورسیدي. دا یو سیګنال دي چې په پاکستان کې تندوره اسلامي ډلې ورځ تر بلې مخ پر ډیریدو دي.

د نړۍ ترهګرو ته په ځانګړي توګه سعودي عربستان په میلیونه ډالر ورکړل چې نړۍ یې د ګواښ سره مخ کړي. په افغانستان کې د سعودي د څارګرې ادارې مشر الفیصل ترکي په ویاړ سره د ترهګرو سره د خپلو مرستو یادونه کول چې افغانستان یې په وران کړي. جالبه ده چې اوس د سعودي شیخان غواړي د ترهګري پر ضد د جګړې اعلان وکړي. زما په آند د عربي شیخانو واک ته د اسلامپاله ډلو لخوا ګواښ رامینځته شوي چې د سعودي شاهي کورنۍ یې وارخطا کړي ده. پام وکړي د سعودي عربستان د هغې غونډې د اعلامیې یوې برخې ته چې د ترهګري پر ضد یې د جګړې اعلان کړي دي.« سعودي د ترهګرۍ ضد جنګ اعلان کړ، افغانستان هم ورسره دی.

۲۰۱۷/۱۱/۲۷ امریکا ږ.غ

د سعودي په مشرۍ اسلامي پوځي ایتلاف کې شاوخوا ۴۰ هېوادونه شامل دي. د یکشنبې په ورځ د شاوخوا ۴۰ هیوادونو چې اکثریت یې مسلمانان دي، د ترهګرۍ ضد مبارزې دپاره سره ولیدل او وروسته یې په خبري کنفرانس کې خپل پلانونه څرګند کړل.

افغانستان هم د سعودي په مشرۍ د ترهګرۍ ضد د دې«اسلامي نظامي ایتلاف» غړی دی او د افغانستان د دفاع سرپرست وزیر جنرال طارق شاه بهرامي پدې غونډه کې ګډون کړی و.

د افغانستان د دفاع وزارت په خپله رسمي اعلامیه کې لیکلي چې د دفاع وزارت سرپرست وزیر بهرامي د اسلامي ایتلاف په کنفرانس کې ګډون او وینا کړې ده او په افغانستان کې یې د تروریزم پر موجودیت، د غیر انساني اعمالو او د ترهګرۍ د تمویل په منابعو خبرې کړي دي.

سعودي عربستان د یکشنبې (نومبر۲۰۱۷- ۲۶) وویل چې د دی ایتلاف د مرکزي قومانداني جوړولو دپاره ۱۰۷ میلیون امریکایي ډالره ورکړي، او وایي د دې ایتلاف جوړولو هدف دا ندی چې کوم سني فرقوي بلاک جوړ کړي، بلکې د غړو هیوادونو یوازنی وظیفه به دا وي چې د تروریزم سره مبارزه وکړي. د ترهګرۍ ضد ایتلاف د نومبر په ۲۶ په ریاض کې اعلان شو

**د ایتلاف هدف**

د سعودي ۳۲ کلن شهزاده محمدبن سلمان غونډه پرانسته او وویل چې نوی اتیلاف به ترهګرو ته اجازه ورنکړي چې د اسلام نوم بد کړي. هغه وویل «د تروریزم او افراطیت ترټولو لوی خطر دا دی چې د اسلام مقدس نوم بدوي او بلاخره زمونږ د ټولو أصول بد معرفي کوي. مونږ باید د دی اجازه ورنکړو چې زمونږ ښکلې دین بدنامه شي.»

شهزاده محمد بن سلمان چې د سعودي عربستان د دفاع وزیر هم دی، وی ویل «په تیرو لندو کلونو کې، زمونږ د ټولو په هیوادونو کې ترهګري شوې ده او دا ډلې په ډیرو هیوادونو کې فعالیت کوي خو د همدغو إسلامي هیوادونو ترمنځ بیا سمه همکاري نه وه. خو نن دغه ایتلاف لرو. او نن د څلویښتو زیات إسلامي هیوادونه دا پیغام لري چې مونږ به ګډ کار او همکاري وکړو او د یو بل ملاتړ به کوو.»

دا ایتلاف لمړی ځل دوه کاله پخوا د همدې شهزاده محمدبن سلمان لخوا اعلان شوی و. شهزاده بن سلمان د سعودي سلطنت یوه نوې واکمنه څیره ده چې د دفاع د وزیر په حیث وظیفه هم لري. سږکال، هغه ژمنه وکړه چې د سعودي ډیره محافظه کاره سلطنت به بیرته په یو مترقي او د زغم وړ اسلام په بڼه بدل کړي.

سره لدې چې جدي اقدامات باید وشي، مقاماتو وویل دا ایتلاف د دی زمینه برابروي چې غړي هیوادونه یو د بل سره د هغو ډلو پرضد جګړې کې همکاري وکړي چې دوئ یې ترهګر بولي.

د ترهګرۍ ضد اسلامي پوځي ایتلاف عمومي منشي ډګرجنرال عبدالله الصالح وویل «کله چې د ترهګرۍ ضد د إسلامي پوځي ایتلاف عمومي قوماندانۍ په ریاض کې جوړه شوه، د سعودي شاهي سلطنت به یې لازمي اړتیاوې او ټول قانوني او ضروري پړاونه ترتیب وتنظیم کړي ترڅو ټاکلې دندې ته تیار شي.»

پدې مرسته کې به نظامي ځواک، مالي کومک، اکمالات یا امنیتي تجربې شاملې اوسي او مرکز به یې په دایمي ډول په سعودي عربستان کې وي. دا ایتلاف به یوازې په نظامي، امنیتي او استخباراتي برخه  کې کار نه کوي، بلکې کوښښ به وکړي چې د ترهګرو مادي سرچینې او د سخت دریځۍ مفکورې هم له منځه یوسي.

د اسلامي نړۍ د اتحادیې رئیس محمد العیسی ګډونوالو ته وویل چې د ټولو هغو منظمو پلانونو پرضد به اقدام وشي چې په ټولنو کې د بې نظمۍ یا اندیښنې رامنځ ته کولو سبب کیږي چې د یوې خاصې عقیدې او مفکورې له مخې ملکیتونه ورانوي.

عراق او سوریه، چې د تیرو دری کلونو راهیسې د داعش د ډلې پرضد جنګیږي، د دی ایتلاف غړي ندي. او نه د سعودي سیال، ایران چې سعودي یې د ترهګرۍ په ملاتړ تورونوي، د دی ایتلاف غړیتوب نه لري. د ترهګرۍ ضد إسلامي پوځي اتیلاف قوماندان جنرال راحیل شریف وویل چې دا ایتلاف د ترهګرۍ ضد دی او د کوم خاص هیواد یا مذهبي فرقې پرضد ندی. قطر، چې د سعودي عربستان او عرب اتحاد لخوا د تیرو شپږو میاشتو راهیسې د ترهګرۍ په همکارۍ تورن شوی و او منزوي شوی، په لمړي سر کې د دی ایتلاف غړی و، خو د یکشنبې په غونډه کې یې حضور نه درلود».

که د نني افغانستان حالات په ژوره توګه وڅیړو، د خلکو اذهان یې د هر ډول پرمختګ په وړاندې مسموم کړي دي. د ورځني خوښیو پر ضد په مسجدونو کې په ښکاره تبلیغ کیږي، د هنر او هنرمند سره دښمني، د سینما او تلویزیون سره دښمني د طالبانو د حاکمیت د وخت په څیر تبلیغیږي. که څوک ووایي چې دیني مناسک د هر چا خپل کار دي او خصوصي حریم ته داخلیدل هیچا ته اجازه نشته، فوراً د سیکولر ټاپه لګول کیږي. د سیکولر اصطلاح د کفر په نامه پیژندل شوي ده. د فیسبوک پر پاڼه مې د ښاغلي ا. ستانکزی تحلیل د سیکولر په تړاو ولوستي، چې زما په آند ډیر منطقي او پر ځای تعریف یې ورڅخه کړي دي. ستاسو پام هم ورته راګرځوم:

«د سیکولر کلمه بیا ډیره تر سترګو کیږي، د ځینو لپاره به یې ساده کړم:

• سیکولر وايي خپله هم پخپله خوښه ژوند وکړه او نور هم د خپلې خوښې ژوند ته پرېږده. خو غیرسیکولر بیا وايي چې زه به د خپلې عقیدې یا مفکورې په اساس ژوند کوم او ته به هم زما د عقیدې یا مفکورې په اساس ژوند کوې. کنه زما او ستا ترمینځ مشکل جوړیږي.

• سیکولر وايي چې عقیده د یو کس له خپل خدای سره رابطه او د هر چا شخصي کار دی. راځه داسي قانون جوړ کړو چې د ټولني د نن ورځې د ضرورتو په اساس وي نه د چا د عقیدې په اساس. خو غیرسیکولر وايي نه زما عقیده یا مفکوره سمه ده. باید زما د عقیدې یا مفکورې په اساس قانون جوړ شي او ټول دغه قانون ومني کنه تر مینځ مو مشکل جوړیږي.

• سیکولر وايي ملي ګټي باید تر ټولو لوړ ارزښت وي خو غیرسیکولر وايي چې نه عقیده یا مفکوره باید تر ټولو لوړ ارزښت وي.

خو دلته یوه بله خبره هم شته هغه دا چې ډیری دا غیرسیکولران په قواره او عمل کې خپله هم سیکولران دي ولې په خبرو کې د سیکولریزم کلک مخالفین. دوی دا کار یا له سیکولریزمه د ناخبرتیا په وجه کوي او یا هم د منافقت په وجه تر څو خپلو همفکرانو ته وښیي چې دوی سیکولران نه دي.»

**دولتي ترهګري**

دا هم یول لوی بحث دي چې ډیر کتابونه او مقالې وربانديې لیکل شوي دي چې زه یې د ډیر تفصیل څخه ډه ډه کوم خو لنډه معرفي به یې وکړم:

که ډیر لیري ولاړ نه شوو د څو تیرو کلونو جګړو ته نظر واچوو نو جوته کیږي چې امریکایانو د یو اسامه بن لادن په بدل کې په میلینونو افغانان، کډوال، ټپي او ووژل خو په پای کې اسامه بن لادن یې په پاکستان کې پیدا کړي. البته امریکایانو دا اخلاقي جرأت هم ونه کړي چې د مظلومو ځوریدلو افغانانو څخه د ور رسیدلو ضررونو بخښنه وغواړي. د سپټمبر د یولسمې پیښې قربانیانو چیغې نړۍ واوریدلې، ولې د هغو میلیونونو شهیدانو چیغې څوک نه اورې چې پرته د کومې ګناه تر درنو بمونو لاندې ژوند د لاسه ورکوي. په درنو بمونو جمعي وژنې د ترهګری بدترینه شکل دي. عراق ته د دروغو پلمه جوړول چې اټومي وسلې لري په میلیونونو عراقیان تر اوسه پورې قرباني ورکوي، ښکلي هیواد یې په خرابه بدل شو، لیبیا یې په خرابه بدله کړه، په سوریه کې د دولتي ترهګري ناوړه بیلګه ده چې جریان لري.

د قدرتمنو هیوادونو څارګرې ادارې لکه، سي اي اي، ک ګ ب، موساد، د انګریزانو څارګره اداره او ورته په نړۍ کې د حکومتونو د نړولو لپاره هیواد پال سیاستوال په نښه او وژني. داسې بیلګې په زرګونو شته چې په وروسته پاته هیوادونو کې پلي شوي دي. د چلي د حکومت نسکورول، د ویتنام پر ضد جګړه، په افغانستان او عراق کې جګړې ډیر هیوادپال سیاستوال د څارګرو ادارو په نیغه مداخله ووژل شول. او اوس هم ورته کړنې دوام لري.

قدیر مرزا لکنوال په لنډو جملو کې د بنسټپالنې په اړوند لیکي:

۲۰۱۸/۱/۲۴ زکال

«دښمن ستا په هوټل ،ښونځي، جمات، او میکده بند او واز نه دی. او نه هم ستا په کفر او اسلام خبر دی. هغه د بیخ باسي. تیره ورځ یې په جمات کې شهید کړي، پروني په هوټل کې ننني په ښونځي کې. دا ته ساده یې چې د دین او مذهب تر پردې شاته دوي پټوي.»

غواړم چې خبري را لنډې کړم. تر څو چې په افغانستان کې ځوانان په پرمختللو علومو مجهز نه شي او پراخ لید لوري پرته د مذهبي توپیر غوښتنو څخه په ځان کې و نه روزي، د هیواد پرمختګ ناشوني دي. باید ملا مسجد ته ولاړ شي، دیني مسایل مخته بوزي، سیاست مدار خپله دنده مخته بوزي په دغه ترتیب ډاکتر، انجنیر... هر څوک خپلې دندې تر سره کړي تر څو هیواد د نړۍ سره سیال شي. باید په یاد ولرو که ملایان او تندروه ډلې زموږ د سرنوشت په ټاکلو کې اغیزه ولري تر قیامته به دا آش او دا کاسه وي.

غواړم د سینوهه خبرې د کتاب په وروستۍ برخه کې ولیکم چې ۳۵۰۰ کاله پخوا لیکل شوي خو اوس هم د تطبیق وړ دي.

**د سینوهه وروستۍ خبري**

«کله به مې خپل روح ته په خطاب کې وویل: ولې د هغو اعمالو له امله خواشینۍ یې، چې په تیر وخت کې دې کړي دي؟ ته هیڅ ګناه نه لرې، ځکه چې ستا اعمال د دې نړۍ او ژوند یوه برخه ده او په دې نړۍ کې رحم او ښېګڼه هیڅ مانا نه لري. دلته رحم او ښېګڼه له واقعیته لرې شیان دي. هغه څه چې ریښتوني دي حرص، شهوت، ظلم او بې رحمي ده او د ژوند قانون د ظلم، حرص او بې رحمۍ پر اساس ایښودل شوی دی. اوس ناممکنه ده، چې څوک د دې قانون پر خلاف عمل وکړي او هغه کسان چې ځانونه مهربان او بشردوسته بولي، درواغ وايي، د دوی هدف دا دی چې په دې پلمه خلک وغولوي، چې ښه ظلم وکړای شي، خپله حرص او تمه سړه

کړي او شهرت ومومي. که باور نه کوئ د هغوی زړونه وخیرئ او وګورئ چې د هغوی په زړونو کې د غوسې او حرص او شهوت څومره اورونه پټ دي. که نه غواړئ د هغوی زړونه پرانیزئ، نو داسې کار وکړئ چې د هغوی د ګټو او شهرت سره لږ په ټکر کې شي، بیا به پوه شئ چې تاسو څنګه له منځه وړي. ځکه چې تاسو جرأت کړی چې د هغوی د حرص او شهرت په لاره کې خنډ رامنځته کړئ.

سینوهه! ته بیځایه دا تمه کوې چې د وخت په تیریدا سره به بشر ښه شي، که د بشر له عمره څو ځله، لسګونه ځله، لسګونه ځله تیر شي بیا به هم دغه بشر اصلاح نه شي.» (۲۳ص ۸۳۳ دوهم ټوک)

په رښتیا هم که زرګونه کلونه نور هم تیر شي د سینوهه خبره به پر ځای وي او بشر به د خپلو ګټو لپاره نور انسانان په مختلفو پلمو قرباني کوي. پای

خپل کتاب د ښاغلي سعود بنګښ په لاندې شعر پای ته رسوم:

زه تر څو به بنیادګر هېواد کې اوسم؟

یاره ځم چېرته کافر هېواد کې اوسم

بې له ږیرې مسلمان یې، خو نیمګړی

خدایه! داسې ږیراور هېواد کې اوسم

کاڼي بوټي یې یو بل ته کافر وایي

زه یو دا رنګ فتواګر هېواد کې اوسم

هر وګړی یې خسي دی، حقیقت دی

وهم لاپې، چې زه نر هېواد کې اوسم

ترې نـه لنګ ترړل هـزار ځله بهتر دی

تش په نوم یو شمله ور هېواد کې اوسم

تورو شپو پکې تش تګ دی، او راتګ دی

سحر نشته، بې سحر هېواد کې اوسم

نو تر څو به تور اسمان ته ګورم خدایه؟

نو تر څو به زه بې لمر هېواد کې اوسم؟

خپله خـاوره پکې هـر یــو دله پلوري
زه ملنګ دې سوداګر هېواد کې اوسم
خپل وحشي هېواد په یاد ژاړم سعوده!
په نړۍ کې که زه هـر هېواد کې اوسم

**د لیکوال محمد ابراهیم نعیمي لنډه پیژندنه**

محمدابراهیم نعیمي په ۱۹۵۳ کال د کندهار په پنجوایي ولسوالۍ کې زیږیدلی دی، پلاریې ښوونکی و اوپلرنی کورنۍ یي چې د کندهارد ښکاپوربازاردی ، یوه روحانې کورنۍ وه. دپلارد دندې په وجه د هلمند ولایت د ګرشک په ولسوالی کې لوی شوی او د ابوالفتح بستي لیسه یي په ۱۹۷۱ زکال کې پای ته رسولې. په همدغه کال د کابل پوهنتون د پولیتخنیک په پوهنځۍ کې شامل شو. په ۱۹۷۶ زکال یي د کانوایستلو څانګه پای ته ورسوله اوسملاسي یې دعسکري خدمت د احتیاطو دوره پیل کړه او ترشپږمیاشتو وروسته یي ترخیص ترلاسه کړ. د۱۹۷۷ زکال په اوړي کې د پروان ولایت د فرنجل غوربند د بیرایتو په کان کې د انجیرپه توګه مقرر شو. په دغه ترتیب یي د کانو او صنایعو په وزارت کې بیلابیلې دندې ترسره کړې، د هلمند په ولایت کې د پنبې او نباتي غوړیو د فابریکې ریس شو، شپږمیاشتې د پلچرخي په زندان کې سیاسي محبوس و، د کانو او صنایعو په وزارت کې د ډبرو د سکرو د مرکزي ادارې کارکوونکی اوپه پای کې له دولتي دندې څخه ګوښه ، دوه کاله یې د شخصي کار په لړکې د ګلدوزۍ او خامکدوزي دوکان درلود، او په ۱۹۸۹زکال و ډنمارک ته کډوال شو . اوس په ډنمارک کې له خپلې کورنۍ ، میرمن او درو اولادونو سره ژوند کوي .

څو کاله کیږي چې د خپلې عادي ورځنۍ دندې ترڅنګ یې له لیکنوسره مینه پیدا کړې ده چې په دری ، پښتو او ډنمارکې ژبه یي ډیرې لیکنې په بیلابیلو ویبپاڼوکې خپرې شوې دي. همدا ډول د ډیرې مودې راهیسي یوه ویبپاڼه nahimi.dk چلوي چې په انګریزي ، ډنمارکي ، پښتو او دري ژبو سیاسي او ټولنیزې لیکنې خپروي .

**د ليکوال چاپ شوي کتابونه:**

۱ ـ (او لا ګلونه سوځي) يې لومړی کتاب و چې په ۲۰۱۲ زکال خپور شو، همدغه کتاب په ډنمارکي ژبه هم په ۲۰۱۵ زکال کې خپور شو. د کتاب منځپانګه د افغانستان د ښځو د ژوند د تاريخي بهير بيان دي.

۲ ـ په ۲۰۱۲ زکال کې د هيواد سفرنامه چې په لنډه توګه د افغانستان د حالاتو انځور په ۲۰۱۰ زکال ترسيموي.

۳ ـ (په افغانستان، عراق او ليبيا کې د ناټو جګړې) يې ژباړلي چې په دوو ټوکو کې د ۲۰۱۶ زکال کې خپور شو.

۴ ـ د پيشقل بای کيسې لومړی ټوک د طنزي کيسو مجموعه د چاپ کال مارچ ۲۰۱۶ زکال

۵ ـ په افغانستان کې د امريکا پټې موخې او لوڅ جنايتونه د چاپ کال ۲۰۱۷ زکال

۶ ـ د پيشقل بای کيسې دوهم ټوک د طنزي کيسو مجموعه د چاپ کال مارچ ۲۰۱۸ زکال

۷ ـ اوسنۍ کتاب

په درناوي ۲۰ / ۲ / ۲۰۱۸ زکال ډنمارک

**Download from:aghalibrary.cm**